# د وزیر فتح خان اود هغه
## دکورنۍ تاریخی رول په سدوزي دولت کې



وزیرفتح خان ( ۱۷۸۰- ۱۸۱۸ ز)

مؤلف: کاندید اکادمیسین اعظم سیستانی

ژباړونکی: پوهنمل حاجی محمد نوزادی او رحمت آریا

سویډن - ۲۰۱۲

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

# دهلمند سترې انا،
# د وزیر فتح خان او د هلمند د ټولو
# نومیالیو مور « لوبې ادې» ته ډالۍ !

**د کتاب ځانګړتیاوی**

د کتاب نوم : دوزیرفتح خان او د ده د کورنی تاریخی رول په سدوزی دولت کی

د لیکوال نوم : کاندید اکادیمسین محمد اعظم سیستاني

دکتاب دیزاین او تنظیم- د مؤلف لخوا

دچاپ خای- کندهار، دعلامه رشاد بابا خپرندویه موسسه

تیراژ- ۱۵۰۰ توک

د کتاب دچاپ مصرف دداکتر یعقوب وزیری لخوا ورکول سوی دی.

د مولف برېښنا لیک پته : sistani۰۱@hotmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سرلیکونو نوملړ ( فهرست )

ددی کتاب د پښتو ژباړی په اړه........................................................۷
د پوهاند خالق رشید تقریظ .........................................................۱۱
د پوهنمل حاجی محمد نوزادی تقریظ ..............................................۲۱
دمؤلف سریزه ( د ملي- تاریخي څیرود پیژندني اهمیت ) .......................۲۹
د سدوزی دولت نه دمخه، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه اوضاع ..........۳۵
د احمد شاه درانی(سدوزی) ددولت ځانګړتیاوې ......................۵۹
داحمدشاه درانی د دولت لومړیتوبونه ..................................................۶۴
داحمدشاه بابا سیاسی پوهه،لیاقت اوشخصیت ........................................۶۸

## لومړی فصل

## دسدوزیانو په دولت کی د سردار پاینده خان د کورنی رول

د درانی احمدشاه په دولت کی د حاجی جمال خان رول ...........................۷۵
دتیمورشاه په دولت کی دفتح خان د پلار پاینده خان رول .........................۸۴
دشاه زمان په واکمن کیدوکی دسردار پاینده خان رول ............................۸۸
دشاه زمان دپاره د سردارپاینده خان نظامي خدمتونه ..............................۹۱
دشاه زمان دپاره د سردارپاینده خان د میرمني لویه ادی سربښندنه .......... ۹۳
دسردارپاینده خان په وړاندی د شاه زمان بی پروایی ...............................۹۴
سردار پاینده خان او د مخفی انجمن جوړیدل ......................................۹۶
دشاه زمان په فرمان د پاینده خان او نورو قومی مشرانو وژل کیدل ......... ۹۸
دزمانشاه تیروتنی ....................................................................۱۰۱
دزمانشاه او سردارپاینده خان د نسب شجره .....................................۱۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسردار پاینده خان اولادونه ........................................................ ۱۰۶

## دوېم فصل

## د شاه محمود په حکومت کې د وزیر فتح خان تأریخي رول

وزیر فتح خان د ابومسلم خراساني د ټبر یو مېړنی ...........................۱۱۱
دزمانشاه په وړاندې دفتح خان پاڅون.................................................۱۱٦
د کندهارپه نېونګ کې دفتح خان ونډه ............................................ ۱۲۰
د کابل پرانیستنه ....................................................................... ۱۲۲
له شاه زمانه غچ اخیستنه ........................................................ ۱۲٤
شاه شجاع ته د ماتې ورکړه.......................................................... ۱۲٦
د غلجیو اله ګوله ...................................................................... ۱۲۸
له کابله د وزیر فتح خان لیرې کېدل او د شاه محمود پرځېدنه ............ ۱۳۰
د شاه محمود پر وړاندې د کابل د پرګنو سرکښي.................................. ۱۳۲
دشاه شجاع او فتح خان د پیوستون او بیلتون لاملونه ........................ ۱۳۷
د فتح خان د له منځه وړلو لپاره د قیصر او زمانشاه دسیسې ................. ۱۳۹
د زمانشاه د توطئې پر بنسټ د فتح خان زنداني کېدل ......................... ۱٤۲
د فتح خان د ژغورنې لپاره د دوست محمد خان زړورتیا ........................ ۱٤٤
فتح خان د شاه محمود د بیا واکمنولو په لټه کې ................................ ۱٤۸
د فتح خان او شاه شجاع بیا پیوستون او بیلتون ................................. ۱٤۹
د کابل له بالاحصاره د شاه محمود ژغورنه ......................................... ۱۵۲
د کابل د سلطنت پر ګدۍ د شاه محمود بیا ناسته ................................ ۱۵٤
د پېښور او کشمیر د نېولو لپاره لښکري یونونه .................................. ۱۵۸
د اټک د کلا د بیا نېولو لپاره د فتح خان لښکري یونونه ....................... ۱٦۷
د هرات پر لور د فتح خان لښکري یون او د ایرانیانو په وړاندې جګړه ... ۱۷۳
د اشرف الوزراء فتح خان د ړندولو د څرنګوالي .................................. ۱۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اشرف الوزراء فتح خان د وژلود څرنگوالي ................................ ١٨٥
د وزيرفتح خان د شخصيت پرتم ................................ ١٩٠
د وزير فتح خان اولاده ................................ ١٩٥

## دريم فصل

## دفتح خان د غچ اخيستني په موخه د بارکزي وړونو پاڅون او د سدوزيانو د دولت پای

دبارکزی وړونو پاڅون ................................ ١٩٦
ددوست محمد خان نظامي مهارت ................................ ١٩٩
ددوست محمدخان په وړاندی د شاه محمود ماته خوړل................................ ٢٠٣
د وزير فتح خان ځای ناستی سردار محمد عظيم خان ................................ ٢٠٦
په يوه ښار کي دوه پاچهان او دوه وزيران په يوه وخت ................................ ٢٠٩
د سردار محمد عظيم خان جهاد دپيښور د ازادولو پخاطر ................................ ٢١٤
د سيد احمد بريلوی جهاد دپيښور د لاس ته راوړلو پخاطر ................................ ٢١٦
دبارکزی وړونو تر منځ د هيواد د ولايتونو ويش ................................ ٢١٩

## څلورم فصل

## کندهاري سرداران او دهغوی د حاکميت سيمي

درشل ................................ ٢٢٦
د کندهاري سردارانو د نفوذ سيمه ................................ ٢٢٧
دکابل په چاروکي دکندهاري سردارانو لاسوهنه ................................ ٢٣١
پرکندهار باندی دشاه شجاع يرغل اودکندهاری وړونودفاع ................................ ٢٣٥
پر هرات باندی د ايرانيانو د بريد تکل (١٨٣٧م) ................................ ٢٣٨
دکندهاري سردارانو تلواري اقدامات ................................ ٢٤١
کندهار او کابل ته دقاجاري دولت د سفير رارسيدل ................................ ٢٤٣
کندهارته دروسي قيصر د استازي ويتکوويچ رارسيدل ................................ ٢٤٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکندهاری مشر سردار کهندل خان دپاره د قاجاری محمدشاه فرمان......... ۲۴۸
وکهندل خان ته د جنرال بروسکي لیک .................................... ۲۴۹
قاجاری شاه سره د کندهاري سردارانو ددوستي په هکله د روسیی د سفیر سیمونیچ تضمین لیک ............................................... ۲۵۰
پر افغانستان باندي د انګریزانو تیری اوایران ته د سردارانو تښتیدل ...... ۲۵۲
وطن ته دسردارانو بیا راګرځیدل او د واک بیا ترلاسه کول ................. ۲۵۳
دکندهاري سردارانو بی اتفاقي او د حاکمیت زوال یی ......................... ۲۵۴
دکندهاري سردارانو څخه پاته شوی کسان ...................................... ۲۶۲
دکندهاري سردارانو فرهنګي اړخ ته یوه کتنه ................................. ۲۶۶
سردار هارون خان ......................................................... ۲۶۷
سردارمهردلخان مشرقی ..................................................... ۲۶۸
سردار خوشدل خان کندهاری ................................................. ۲۷۲
سردار غلام محمد خان طرزي ................................................ ۲۷۳
علامه محممود طرزي ....................................................... ۲۸۰
دسراج الاخبار ځانګړتیاوی ................................................ ۲۸۱
وطن او وطنپالنه د محمود طرزی له نظره .................................... ۲۸۱
د محمود طرزی لیکلی اثار ................................................. ۲۸۹
د محمود طرزی اولادونه ................................................... ۲۹۱

## پنځم فصل

## دسدوزي او بارکزي دراني قومونو تر منځ

## ددوستي او دښمني تولیزي( کلی ) پایلی

دتیرو فصلونو لنډیز او پایله ............................................ ۲۹۲
د لیکوال لنډ پیژندلیک ................................................... ۳۰۷
دکتاب دعمومی مآخذونو فهریت.............................................. ۳۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددی کتاب د پښتو ژباړی په اړه

## پوهنمل حاجی محمد نوزادی

دخپل علمی ـ فرهنګی فعالیت په جریان کی ما ډیر کتابونه ، څیړنیزی علمی او سیاسی لیکنی ژباړلی چی پرخپل وخت خپری او تر اړوندو لوستونکو پوری رسیدلی دی . مګر ددغه کتاب چی همدا اوس ستا ګران لوستونکی مخ ته پروت او لوستلو ته دی لیخی را نغښتی دی ، و ژباړلو ته یی زه د نورو یادو شوو ژباړنو په پرتله لږ غوندی په غیرنورمال ډول اړوتلی یم .

کله چی دمحترم کاندید اکاډمیسن سیستانی صاحب د همدی اثر اصلی بڼه په دری ژبه د تقریظی ارزونی په موخه راته وسپارل شوه ، ما یی دلوستلو نه خورا خوند واخیست او په اړه می ( پردی کتاب باندی زما دزړه یو څو خبری ) تر سرلیک لاندی په لنډو کی دخپل زړه براس ورباندی و ایست چی لوستونکی به یی دکتاب په پیل کی ولولی . د کتاب د دری متن د لوستلو پر مهال پدی خبره یو څه خواشینی غوندی شوم چی کتاب یوازی په دری ژبه دی او پښتو ژبې څوان نسل به یی د لوستلو څخه دومره خوند وانخلی لکه ما چی تری نه اخیست . دنیکه مرغه ددی ډول پښتو ژبی ځوانانو شمیر چی دکتاب لوستلو او په ځانګړی توګه دخپل هیواد دتاریخ لوستلو سره مینه لری ، دا مهال مخ پرزیاتیدو دی .

کله چی می دکتاب په هکله لیکل شوی تقریظ په یو زیات شمیر افغانی انټرنیټی سایټونو کی خپور شو . لوستونکو هم پخپلو برېښنالیکونو او تلیفونی خبرو کی په دی هکله خفګان وښود چی ولی ددی کتاب پښتو بڼه نشته .

یوه ورځ کورکی وم چی دتلیفون زنګ راغی ، مقابل لوری تر سلام او ستړی مشی وروسته ځان داسی راته وپیژاندی : شریف الله دوست سروانی یم او د لښکرګاه څخه درسره ږغیږم . ماچی په انټرنیټی سایټونو کی د پښتو ژبی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دهلمند دلرغونی تاریخ په اړوند د ده څیړنیزی لیکنی لوستی وی او ډیر می غوښته دنژدی نه یی وپیژنم ، د ړغ په اروېدو یی خدای سته ډیر خوښ شوم . هغه راته د نورو تشریفاتی خبرو وروسته وویل چی دوی یوه فرهنګی ټولنه لری او هوډ یی کړیدی دسیستانی صاحب دغه کتاب چی تازه په بریښنایی توګه پرلیکه شوی وو ، وچاپی بڼی ته واړوی . ده زما نه هیله وکړه چی پښتو ژباړه یی زه پرغاړه واخلم . ما دخپلو نورو بوختیاوو او ستونزو ترڅنګ دمعذرت غوښتلو په موخه خپله اصلی ستونزه دا وښودل چی دټایپ کولو په کار کی می پښه ګوډه ده ځکه چی یوازی په یوه ګوته ټایپ کوم او ددی دومره پنډ کتاب د ژباړلو او بیا ټایپ کولوتوان راسره له بده مرغه په ځان کی نه وینم . ظاهرا ده زما معذرت قبول کړ او خدای په امانی مو سره وکړه .

څه موده وروسته یی بیا زنګ راته وواهه او دا ځل یی پدی اړوند ټینګار تر تیر ځل زیات وو . ماهم د خپلی همدغی یادی شوی ستونزی لامله داځل هم معذرت وړاندی کړ . څو ورځی وروسته پخپله سیستانی صاحب او بله ورځ بیا شریف الله جان په تلیفون کی ځان و دی خبری ته را ورساوه .

نور نو ماته بده و ایسیده چی ددغه هلمندی ځوان او هڅاند څیړونکی دهیلو اوغوښتنو څخه مخ واړوم . په پای کی می خپل دځوانی د وخت د یوه نژدی دوست ، دیپلوم انجینر محمد حق نیکزاد سره چی په لښکرګاه کی یی د بیا رغاونی په یوه موسسه کی کار کاوه ، خپله ستونزه شریکه کړه . ده په ډیره میړانه او ډاډ سره راته ځیګر وټکاوه چی د ټایپولو کارونه یی ماته پریږده او ته سر د همدی ګړی نه دنوموړی کتاب وژباړلو ته پښی را لوڅی کړه . ددی سره سم ما کار پیل کړ ، نور می هرڅه پریښودل او یوازی می دی کار ته پښی بندی کړی . مابه پر کاغذ باندی ژباړل ، په کمپیوټر کی به می سکان کول او نیکزاد صاحب ته به می په بریښنالیک کی استول . د بده مرغه ده لا شل مخه ټایپ کړی نه وه چی موسسی یی کار پریښود ، دی بیکاره ، کمپیوټر او انټرنیټ ته یی لاسرسی د لاسه ورکړ . یوه برخه یی دده په غوښتنه د نصرت الله پنامه یوه هلمندی خواړی ټایپ کړی په ایمیل کی راته راواستول چی باید له کبله یی مننه ورڅخه کړم . نیکزاد صاحب یو بل ځای خو داخل په ګرشک کی په یوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسسی کی کار ومومند . هلته ده انټرنیټ نه درلود مګر په کمپیوټر کی یی د ټایپولو امکانات لرل . ده به یوه برخه ټایپ کړه او کله چی به د اونی په پای کی لښکرګاه ته راغی ، هغه به یی راته د بریښنالیک په مټ را استول . که څه هم دکار چټکتیا سسته شوه ، خو ده خپل وس نه سپماوه .

سره لدی چی د ټایپ کولو څخه د بسکی واده جوړ سو ، خو که دنیکزاد صاحب ځیګر ټکول او نه ستړی کیدونکی مرسته نه وای ، ما یی و ژباړلو ته زړه ښه کولای نشو . لنډه داچی دده زغم او زیار ددی کتاب د ژباړلو او چاپ ته د اماده کولو په چارو کی په رښتینی توګه محرکه قوه وه . دده عمر دی ډیر او پرمټانو دی برکت وی ! دښاغلی دوست سروانی ونډه هم پدی کار کی دیادونی وړ ده چی زه یی وهڅولم او ژباړلو ته یی اړ ایستلم . پدی هکله دده هڅی د ستایلو وړ بولم .

د ژباړنی په اړه دا خبره هم د یادوونی وړ ده چی دکتاب « دپیل خبری » ( پیشګفتار ) اود دویم فصل منځپانګه لا ډیر پخوا دسیستانی صاحب د یوی بلی لیکنی په ترڅ کی د محترم رحمت آریا صاحب لخوا چی یو زبردست ژباړونکی او لیکوال دی ، ژباړل شوی او نشر شوی وو . دغه برخی پدی کتاب کی هم د لږ بدلون او زیاتونی سره راغلی دی . له همدی کبله غوره وګڼل شوه چی د کار دچټکتیا او دکتاب دښکلا پخاطر، هم هغه د آریا صاحب ژباړه دلته رانقل شی . د اریا صاحب نه غوښتنه وشوه چی د نوموړو بدلونو په پام کی نیولو سره خپله هغه ژباړه بشپیړه کړی او داخل یی په لیکدود کی کندهاری ګړدود ته لږ غوندی پام هم واړوی ، داځکه چی زما ژباړه د کندهاری ګړدود تر اغیز لاندی ترسره شوی ده . اریا صاحب په ډیره خوښی سره دا غوښتنه ومنل ، د ژباړی په لیکدود کی یی تر یوی ټاکلی کچی د کندهاری ګړدود ښنی ښنانی هم تر سترګو کیږی . پدی توګه نو د کتاب دژباړی دغه برخه دده دزیار محصول او له کبله یی مننذوی یم چی زما د اوږو بار یی تر لویه بریده راته سپک کړ .

همدارنګه زه د خپل کشر ورور ډاکتر محمد نوزادی او دهغه د هڅاند زوی ، میوند نوزادی( په کندهار کی دطب د پوهنځی محصل )، څخه مننذوی یم چی په کندهار کی یی زما دسفر پرمهال ماته د انټرنیټ اسانتیاوی برابرولی څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر کتاب باندی می کار بریالی مخته ولاړ سی . همدارنګه د ټولو هغو کسانو څخه چی پدی هکله یی د لا هڅونی په موخه خواخوږی راسره ښودلی ده ، مننه کوم . کندهار ، نوی ښارد۲۰۱۲ کال داکتوبرمیاشت

## د دی اثراغیزه پرځوانانوباندی!

د لوی کندهارڅخه ښاغلی عبدالاحد سرتیپ وروسته له هغه نه چی د وزیر فتح خان سوانح لولی پخپل ایمیل کی مولف ته داسی لیکی:

قدرمنه مشره سلام !زه هم خوشحاله یم چی ستاسی غوندی یو عالم اودانشمند دوست سره چی په سینه کی یی دوطن پالنی اورونه بل دی اړیکی پیداکوم هیله لرم چی عمر مو اوږد وی ترڅو دافغانستان ولس ستاسی له علمی پانګی نه برخمن سی .

زړه ته راتیره! کله چی ماستا د پاچا جوړونکی فتح خان لیکنه په بینوا کی وکته زه غزنی ته ولاړم دفتح خان قبرته یوساعت مکمل کښنستم اوهرلحظه دوی خبری را یادیدی لومړی دا چی کله داسی یو فولادی بشر اندامونه پری کیږی دده احساس به دغه وخت څه و کاشکی یی چاته ویلی وای دوهم ستا دقلم څوکه را یادیده چی ستا دقلم څوکی به داوښکو به عوض وینی توی کړی وی . اوستا احساس به دهری جملی دلیکلوسره څه ؤ . دغزی نه چی راوګرځیدم تاسی ته می یوایمیل هم درولیږی . خوستاسی جواب رانغلی، بیا ولاړم ګرشک دلوی ادی باغ ته اوهلته می داسی فکرکاوه چی لوی ادی ژوندی ده دلته ناسته ده او وفتح خان ته تی ورکوی چی راووتم دخان سره می فکرداو چی دا خو د سیستانی د قلم زورو چی هم یی لوی ادی اوهم یی فتح خان په تا ولیدل ... .»(۲۵ / ۸ / ۲۰۱۳)

داسی معلومیږی چی داستاد سیستانی دقلم قوت ددی سبب سوچی په ښاغلی سرتیپ باندی د وزیرفتح خان مقبره او بیا په ګرشک کی دلوی ادی باغ ووینی،اوس له دی خاطری څخه دکتاب دمرکزی شخصیت یعنی وزیرفتح خان په عظمت باندی پوهیدلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دداکتر خالق رشید تقریظ:

# د نومیالی افغان مؤرخ کاندید اکادیمیسین سیستاني پر کتاب باندې یوڅو کرښې

دهندوستان تاریخ لیکونکي دخپل تاریخ په اړه تل دا وایي چې : دهند ټول تاریخ ددغه هیواد دهنري ویاړونو ، انځورونو ، شعرونو او مجسمو پرمخ انځوردي . خو زه دخپل تاریخ په اړه دومره ویلای شم چې : زموږ تاریخ زموږ دملت دقربانیو او مقاومتونودبرخلیک پرجغرافیه باندې انځور تاریخ دی چې یوه ډیره حساسه مرحله یې زموږ دشخړییز ژوند ترټولو توده او دپاملرنې وړ برخلیک جوړونکې پیړۍ (نولسمه پیړۍ) ده چې له ډیرو خواووپوهان او تاریخ لیکونکي کولای شي دهغې په اړه ډیرڅه ولیکي اوډیرداسې څه چې تراوسه هم چا نه دي ویلی اونه یې انځورکړي ووایی . ماته د افغانستان دمعاصرتاریخ د یوه زده کونکي په توګه په یاده شوې توده اوترخه پیړۍ کې چې افغانستان له دریوخواو (شمال ، جنوب او لویدیز ) زموږ دحریصو دښمنانانو (انګریزانو ، روسانو او فارسیانو ) دپټواوښکاره معاملو ډګر شو، دوې څیرې ، دوه شهزاده ګان اوبالاخره دوه وزیران په ځانګړې توګه دیادونې او ستاینې وړ دي چې هغه لومړی اشرف الوزرا وزیرفتح خان اودویم فخرالوزرا غازي محمد اکبرخان دي . چې لومړي ته یې له نیکه مرغه دادی زموږ نومیالي مورخ کاندید اکادیمیسن درانه سیستاني صاحب دخپل ویاړلي اکادیمیک ژوند یوه برخه وقف کړه او ددغه ملی اتل اوربښتیني وزیر کارنامې ، خدمتونه او هیواد ژغورنکې مبارزه یې دخپل قلم په ژبه ددغه درانه او بې جوړې اثرچې له نیکه مرغه اوس زموږ په لاس کی دی موږ ته راپه ګوته کړه . داستاد سیستاني دغه کار په ربښتیا هم دهر انسان ، دهرهیواد پال او په آزادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مین افغان لپاره په تیره بیا په اوسنیوسختو او درنو شیبوکې چې زموږ هیواد یوځل بیا دپردیو دناپاکو هیلو او غرضونو او بي سرو پایه پټواوښکاره معاملو ډګر ګرزیدلی یوتاریخی درس ، یوه تاریخي یادونه او یو تاریخي مسوولیت دی .

## دکتاب ملی اتل وزیرفتح خان :

لکه چې مخکې هم وویل شول ، زموږ دهیواد په معاصرتاریخ کې دوه وزیران دکلیمي په ربښتیني مانا دداسې ځانګړنو خاوندان دي چې که سړی لږ ورته ځیر شي ،دوی دخپلو تاریخي کارنامو له امله زموږ دتاریخ پرمخ ترډیرو پاچهانو او واکمنانو ددرانه مقام اوملي پرتم خاوندان دي ، نومونه او کارنامې یې

زموږ دخلکو لپاره دهیواد دسرنوشت په ننګه او دفاع کې ځانګړی دروندوالی او ځانګړی پرتم له ځان سره لري .خلکوپه درانه نامه یادکړي او د ژوند تلپاتې حماسي سندرې یې د دوی ترملي سربښندنو ځارکړې دي . په ۱۹۹۷ کال کی ما او زما میرمني (پوهنملي رحیمي ) د لویدیز بنګال په شانتینکتان ( هغه ځای چې دهند وتلي شاعراو هنرمند رابیندرانات ټاګور ویشوا بهارتي پوهنتون جوړ کړی ) کي په یوه نړیوال کنفرانس کې ګډون وکړ، له دغه ښارڅخه په لږ واټن کې د ( محمد پور) نومې سیمه پرته ده ، په دغه سیمه کې مې) ۱۱۵ ( کلن پښتون تبري نیازي سپین ږیري سره کتنه وشوه ، ډیرسپین ږیری و ، په سختئ سره یې خبرې اوریدې ، ده وویل چې دي دری ځله له کلکتې ترکندهاره پلی تللی اوراغلی و ، یوسروکی یې دخپلو خبرو په ترح کې چی سم یې نه شوای اداکولای وایه ، خو دی نه پرې پوهیده چې مانا یې څه ده خو ویل یې چې دا سروکی یې پرهغه مهال چې دکندهارپه سفرراغلی و له پښتنوڅخه په افغانستان اوپښتونخواکی اوریدلی و چې دده په وینا چې ان د دوی ښځینه ووبه بیا په خپلو کورنیوکې وایه ، سروکی یې داسې راته زمزمه کړ :

«دخدای رضا دا ، چارا نشتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



«امیر دوسه مد مه خبروای چې وزیر مر دای »
«امیر دوسه مد مه خبروای چې وزیر مر دای »

سمه بڼه :
« دخدای رضاده چاره نشته
«امیردوست محمد مه خبروئ چې وزیرمړدی... »
«امیر دوست محمد مه خبروئ چې وزیر مړدی ... »

زه داڅوکاله دغه سروکي له ځان سره وایم ، فکرمي پرې کړی ، زیات په دي اند وم چې دغه سروکی به د غازي محمد اکبرخان پر مړینه خلکو ویلی وي ، خو اوس اوس له یولړڅیړنو چي په هغو کي د درانه محقق سیستاني صاحب دغه څیرنه هم راځي دا په ګوته کیږې چی کیدای شي دغه وزیر د امیردوست محمد خان نومیالی ورور وزیرفتح خان وي ،سیستاني صاحب هم دغه ټکی ته اشاره کړې چی امیردوست محمد خان دخپل دغه نومیالي ورور د ژغورنی په خاطردهغه د دردناک اوناځوانه زندانی کولو او بیا وروسته دخواشینونکې وژنې پرمحال له خورا مهمو کارواییو څخه کارواخیست خو تقدیر چي څه غوښتي ول ، هغه یې بدل نه کړل اوافغانانو د خپل تاریخ په خورا حساسه تاریخي شیبه کې دهیواد یوخورا نومیالی بچی او یو ربښتنی وزیر، اشرف الوزا سردار فتح خان د درنې او تراژیکې وژنې په ترڅ کې له لاسه ورکړ. هغه څوک ، هغه وزیرچې په خپل وخت کې یې د دراني امپراتورۍ د ختیزې پولې په ساتنه کې خپله لویه اوملي برخه اخیستنه په خورا میراني او پرتم سره ترسره او له هغې څخه یې دهغې د زوال په شپو ورځو کې تر کشمیر اوپنجاب پورې دفاع وکړه اوددغې امپراتورۍ لیوني دښمنان (انګریزان اودهغو لاسپوڅي سیکان ) یې تریوه وخته پورې پرخپل ځای کینول ، دهغوې مخه یې ونیوله چې له بده مرغه دده له مړینې وروسته نورو بی کفایته سردارانو او والیانودده په شان دمقاومت لړۍ پیاوړې نه کړه ، دهغو په وړاندي سلامی شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوله ختیزه پلوه یې دهیواد یوه خورا مهمه اوحساه برخه دخپلې بې کفایتۍ او بی اتفاقۍ له امله دیادوشویوپردیوپه واک کې ورکړه

**The murder of Wazir Fateh Khan of Kabul in A.D. ١٨١٨ provided Maharaja the desired opportunity to attempt the conquest of Peshawar as consequent to his murder the two major factions of the Afghans-The Sadazui's and Barqzai's-came to be seen at dagger's drawn with each other.(htt/www searchsikhism.com)**

(ژباړه : په ١٨١٨ کال کې دکابل د وزیر فتح خان وژنې دمهاراجا لپاره دپیښور دنیولو تلوسه راوپاروله ، دده مرگ ددې لامل شو چې افغانی دوې لویی ډلې بارکزی او سدوزی دی دیوه بل په مقابل کې تورې ته لاس واچوي) .

وزیرفتح خان له شکه پرته په محمد زیو ورونوکې داسی څوک و چې ده ترډیرویې دافغانستان دملي خپلواکۍ او افغاني هویت لپاره دپردیوپه وړاندې خپله مبارزه اومجادله دخپل سر په بیه د خپل ژوند تروروستۍ سلگۍ پورې توده وساتله ، ده دافغانستان په شرق کی د انگریزانو او سکانو دپرمختگ په وړاندې لکه چې اشاره ورته وشوه پراخه ملي جبهه جوړه کړه اوترهغه مهاله چې دی په خپل منځي توطیوکې نه و را ښکیل شوی سیکانواو دهغو مشر رنجیت سینگ دا جرات ونه کړ چې د پیښور په لور دې پرمختگ را وکړي ، همداسې یې دهیواد په لویدیزکې د فارسي یرغلگرو په وړاندې چې دانگریزانو په لمسه یې پر سلگونو توطیو باندې لاس پورې کړ دمقاومت لاره پرانیسته ، همداده چې : « فتح خان در هرات عاقلانه وعاملانه حکومت میکرد ، ومردم را ازخود راضی نگهمیداشت وایرانیها هم که ضرب شصت اورا دیده بودند؛ بزودی اقدامی نکردند. اما شهزاده کامران بن شاه محمود که از سابق برکامیابی ها وشهرت فتح خان رشک میبرد؛ وقتی که از تسخیر هرات ازدست حاجی فیروزالدین وشکست قوای ایران به دست فتح خان شنید ، بیقرار شد وآرزوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت هرات طوری دامنگیر گر دید که برای رسیدن به این مقصد بنای شکایت را گذاشت وافواه بی حرمتی رانسبت به همشیره خود دلیل آورده شاه محمود را مجبور ساخت تا از اقتدار فتح خان جلوگری کند وپشنهاد کرد که باید به زودی حکومت هرات را از کف او خارج سازد ... » ( افغانستان درقرن نزده ص ۴۰)

اشرف الوزرا فتح خان په تمامه مانا د ایراني اغراضو په وړاندې ودرید، هغه چې دوی د کامران او دهغه دپلار محمود په واسطه په افغانستان کې ترسره کول ، ان ددغه کار لپاره یې پرخپلو ورونو باندې فشار واچاوه چې دایرانیانو دمداخلی دغه لویه توطیه چې غواړی نه یوازې افغانستان له بی ثباتۍ سره مخامخ کړي ، بلکه دهند پرلوري هم د دراني امپراتورۍ لمنه ورټوله کړي دعملي کیدو مخه ونیسي ، وزیر ددغه ملی حرکت په سرکې دیوه مخکښ لاربښود په توګه ځان ودراوه اودیوه ملي مشرپه شان یې خپله دنده ترسره کړه ، پرهغه مهال چې کامران وغوښتل د وزیر د ورونو په منځ کې د بي اتفاقۍ اور ته لمنه ووهي وزیر په دغه برخه کې د دښمن دغې توطیې ته خپل ورونه متوجه کړل » : کامران پس از اینکه از جمع آوری فتح خان آگاه شد به فکر افتاد تا از ائتلاف برادران بارکزایی جلوگیری کند. برای این مقصد اولترپردل خان راکه نزد او اسیربود درنظرگرفت با او ملاقات کرد ووعده داد که اگر برادران خویش را ازمخالفت مانع شود ، لقب میربارکزایی ها به او داده خواهد شد. اما فتح خان ازمحبس برای پردل خان پیغام فرستاد که این خواهش را نپذیرد وهرطور است ازحبس فرار کند ودر نادعلی با دیگر برادران خویش به پیوندد ومتحداً برای انتقام وخارج ساختن حکومت ازکف شاه محمود وکامران اقدام کنند...» (اثریادشده ص ۴۳)

یوه خبره چې هغه دسیستانی صاحب ددغه تحقیق په اړه باید له یاده ونه باسو داده چې د وزیرفتح خان اودشاه محمود پیوستون هم هغه مهال مخ په ورانیدو شو کله چې پاچا (شاه محمود ) ځان دیوه بیواکه واکمن په څیره او دریځ کې دخلکو په وړاندې وښود، ده ترهرڅه دمخه دفارسیانو له غرضه ډک نفوذ ته په افغانستان کې اهمیت ورکړ ، هرڅه یې دهغو په قومانده ترسره کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداوه چي وزيرفتح خان دغه حالت ونه شو زغملای اوخپله لاره يې له ده او دده له اولادې څخه دخپل ژوند دقربانۍ په بيه بيله کړه.

## دکتاب اهميت او جوړښت

### ١ ـ اهميت :

دسيستانی صاحب ددغه درانه اثرنوم ( نقش تاريخی وزيرفتح خان و خاندان او در دولت سدوزايی ) دی چې دهيواد دننګيالي سردار وزيرفتح خان نوميالی مور ( لويي ادې ) ته په لاندې ډول اهدا شوی دی : « به پيشگاه مادر بزرگ هيرمند«لويه ادی»،مادر وزيرفتح خان ومادرهمه بزرگمردان هيلمندی» . کتاب يوه مقدمه او يومخکنۍ خبره لري چې په مقدمه کې دملی کرکتراوملي لاربشود په ځانګړنو،رول او رسالت باندې رڼا اچول شوې ده ، په دغه ترڅ کې د وزيرفتح خان پر شخصيت ، کارنامو او دهيواد په ملي دفاع کی دهغه په ونډه او سربښندنه باندې بشپړې خبرې راغلې دي . اوهغه يې د افغاني ځوانانو لپاره د مبارزې او تلاش ترټولو ښه او ملي څيره اوبشپړملي ايديال بللی دی . په عين حال کې په همدغه برخه کې دهيلمند په تاريخی اوجغرافيايی لرغونتيا او همداسي ددغې سيمې دنامتو شخصيتونو په معرفۍ باندې رڼا اچول شوې ده اوپه ډاګه شوې چې هيلمند دافغانستان د نولسمې پيړۍ په سياسي اډانه او ملي مقاومت کې دپاملرنې وړ او جوړونکي ځای درلود ، دلته په دغه ميراثپاله تاريخي او افسانوي سيمه کې په لسګونو ملي څيرو لکه وزيرفتح خان ددغې سيمې په نوميالیو کې داسې نوميالی شول چې د پرديو، دهغودناوړه نفوذ او غرضونو په وړاندې دملي مبارزې او ملي مقاومت په برخه کې بيلګه ييزملي کرکترونه شول. يوه خبره چي کانديد اکاديميسن سيستاني يې په دغه ترڅ کې ديوه مهم پيغام په ترڅ کې د اوسني افغان په تيره بيا هيلمندي ځوان په وړاندې ږدي هغه دحق او حقيقت او هيواد د آزادۍ په لاره کې ددوی اوسني او يوپيړۍ مخکني مبارزه ده چی بايد دخپلي ودې له ملي اوانساني پياوړتيا څخه نه ولويږي او نه بايد په آسانۍ سره له ياده وايستل شي ځکه چې دغه مبارزه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال اوهم په اوسمهال کې دیوې تلپاتې او پراخې ملي قربانی په توګه نه هیرودونکی ده . لکه چې په دغه اړه دسیستاني صاحب خپله خبره هم لولو :

« هیرمند،همانگونه که مهد تمدن های پرشکوه سیستان در ازمنهٔ باستان بوده است ، رودخانه ایست که همیشه فرزندان شجاع ودلیر ومیهن دوست مثل امواج سرکش خود، به جامعه تقدیم کرده است. در تاریخ معاصر کشور ما شاهد ظهور دلیرمردان و فاتحان و کشورگشایان بزرگی از سواحل این رودخانهٔ فیاض و زرخیزهستیم.»

په مخکنۍ خبره کې سیستاني صاحب احمدشاه بابا ، دهغه واکمنۍ ، دهغه پوهې او درایت اهلیت او حاکمیت ته کتنه کړې ، اودهغه پراهمیت باندې په پراخه توګه غږېدلی او په منظمه توګه يې دغه په علمی توګه تشریح او تحلیل کړې ده .

## ۲ -جوړښت :

د درانه مؤرخ سیستاني صاحب دغه علمی او تاریخي څیرنه په پنځو فصلوکی بشپړه شوې چې هرفصل یی دمعتبرو ماخذونو او منابعو په پام کې نیولوسره تحقیق او څیړل شوی دی ، په لومړي څپرکې يې د (نقش سردارپاینده خان وخاندانش در دولت سدوزائی) پرموضوع باندې بشپړه عالمانه رڼا اچولې ده چې په هغه کې سردارپاینده خان اودهغه کاروایی ، دشاه زمان او دهغه دپلار تیمورشاه په ګټه دده او دهغه دنومیالۍ میرمنې (لویی ادې) دراک دریځ او ونډه اوپه پای کې دهغه له منځه تګ، په خورا سیستماتیکه اومنظمه توګه ارزول شوی داسې چې دغه موضوع په دغه تحلیل او بشپړې شرحې سره زموږ ډیرو لږو مورخینو څیرلی او تحلیل کړې ده .

په دویم څپرکي زموږ نومیالي اکادیمیسن د پاینده خان د نومیالي زوی اشرف الوزرا سردار فتح خان په هلو ځلو ، شخصیت ، دهیواد په لویدیز ، مرکز او شرقی پولوکې د(نقش تاریخی وزیر فتح خان وخاندان او دردولت سدوزائی ) ترسرلیک لاندې خپله علمی اوتحلیلي لیکنه د تاریخي تسلسل اومعتبرو منابعو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پام کې نیولو سره ارزولی او څیړلی ده چې له شکه پرته دافغانستان د تاریخ ددغه څپرکي په ترڅ ډیرې نوې خبرې او نوې ګروېږنې د خپل لوستونکی په واک کې ورکوی .

دریم څپرکي کې پریوه بله مهمه موضوع چې دغه تاریخي اثراو څیړني ته ځانګړې علمي اوتاریخي اهمیت ورکوي هغه د (قیام برادران بارکزائی وفروپاشی دولت سدوزائی ) سرلیک دی، په دغه برخه کې د امیردوست محمدخان په بی ساري سیاسی استعداد ، ملی اوپوخي مهارت او کاروایی ، دنورو بارکزیو وروڼو په ځانګړو دریځونو، دهیواد پرختیزه پوله باندې د افغاني مقاومت په بیلا بیلو اړخونو او دنومیالیو سردارانو چې زیاتره یې لاهم زموږ په تاریخ کې ناپیژندل شوي پاتې دي لکه سردارمحمدعظیم خان ، دسیکانو پرمختګ اودهغه سیاسي دلایل او عوامل په خورا بې پلوي تحلیل اومیتود سره څیړل شوي دي .

دسیکانو په وړاندې دملي جهاد خبره په خپل ذات کې یوه ملی داعیه وه چې سیستاني صاحب په ټولو ملی اوتاریخی جزئیاتو سره دخپل دغه تاریخي اثر په پاڼوکې تشریح کړې او څیړلې ده .

څلورم څپرکې (سرداران قندهاری وقلمرو حاکمیت شان) را سپړي ، په دی فصل کې د قندهاري سردارانو رول ، چې د نولسمې پیړې په ټولو حوادثو کې په سیاسي ، پوځي ، او په راوروسته کې په فرهنګی لحاظ دځانګړې یادونې وړ دی په مفصله توګه څیړل شوی او تحلیل شوی دی ، دغه څپرکې موږ ته دافغانستان په سیاست او اداره کې دکندهاري سردارانو ونډه او رول داسې په ګوته شوی چې په خپل ذات کې زموږ او دسیمې دتاریخ پوهانو لپاره دپاملرنې وړجالب مواد اودپاملرنې وړ خبرې له ځان سره لري . سیستاني صاحب دافغانستان په سیاست، فرهنګ او اداره کې دکندهاري سردارانو رول او ونده ټاکونکي ، مثبته او مهمه بللې ده .

اوپه ورستي څپرکي کې لیکوال خپل بحث اوخپله څیړنه دیوه درانه علمي تیسیس په توګه د (استنتاج کلی از رفاقت ورقابت دوقبیلۀ بارکزائی وسدوزائی ) پرپایله اونتیجه باندې پای ته رسولی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پای د لیکوال په بیوګرافي باندې ښکلول شوی چې دهغه له مخې موږ د خپل دغه نومیالی د ژوند آثارو او ادکادیمیکو خدمتو پروپاړلې لړی باندې هم په ښه توګه پوهیدای شو .

## پایله :

په هرډول ، ما دغه دروند ، علمي او دتاریخ دنوې میتودلوژۍ پراساساتو برابرلیکل شوې تحقیق په پوره پاملرنې سره ولوست ، دغه اثر برسیره پردې چې زموږ دتاریخ دیوه حساس پړاو ، دیوه حساس شخصیت د ژوند اوکارنامو پرجزیاتو باندې راڅرخي ، زموږ داوسني نسل په وړاندې دیوه شعوري درس رمز او راز هم له ځان سره لري ، هغه شعوري رمز چې دهغه پربنسټ زموږ درانه لیکوال کاندید اکادیمسین سیستاني صاحب دغه تحقیق دیوه تاریخی اوملی ضرورت په توګه زموږ په واک کې راکړ، هغه شعوري ضرورت لکه چې دغه کتاب پرهغه باندې په لاندې ډول پای ته رسیدلی دي : « به هرحال افغانها تا زمانی که اتحاد و یک پارچگی خود را حفظ کرده اند، هیچ قدرتی نتوانسته است به قلمرو ایشان به چشم کج بنگرد و دست تجاوز بسوی حاکمیت ملی آنها دراز نماید، ولی همینکه بنابر دسیسه های اجانب واغراض افراد کوته نظر وخود خواه روابط برادرانه آنها برهم خورده است ومنجر به جنگ برادرکشی شده است، دشمنان در کمین نشسته فوراً دست تخطی وتجاوز دراز نموده وبا استفاده از اختلافات درونی آنان، قسمت هایی از پیکر کشور را زیرنفوذ وسلطهٔ خویش در آورده اند. مثال های زنده وغیر قابل انکار این ادعا، اختلافات وخانه جنگی های چندین سالهٔ دوخاندان بزرگ درانی (سدوزائی وبارکزائی) طی سالهای ۱۸۱۸ و۱۸۳۲ میلادی است که منجر به جدا شدن کشمیر وپشاور وملتان ازافغانستان گردید وقص الهذا ...

ګرانو لوستونکو !

راځئ چې د هیواد دنومیالی مؤرخ او ملي شخصیت درانه لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاندیداکادیمیسین سیستاني صاحب دغه بی ساری علمي تحقیق په غور او هراړخیزه توګه ولولو او ده ته په دغه ملی او تاریخي کارسره د درناوي سرټیټ کړو او ورته ووایو چی : سیستانی صاحب عمر د ډیر، نوم دې تلپاتې ، ستاد نورو ملي او افغاني ویاړونودلوستلو په هیله!

پروفیسورعبدالخالق رشید د کابل پوهنتون استاد

نوی ډیلی ـ هند ،د ۲۰۱۲ کال دمی ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیوهنمل حاجی محمد نوزادی تقریظ :

# پردی کتاب باندی زما د زړه یو څو خبری

کله ناکله سړی د خپل یولړغوښتنو او یو شمیر بیوسیو ترمنځ داسی راګیر شی چی هیڅ نه پوهیږی څه وکړی . تیره ورځ چی می کله خپل بریښنالیک پرانیست ، د یوه راغلی لیک په لوستلو سره زه د همداسی یوه حالت سره مخامخ شوم . دالیک زما دیوه ډیر محترم دوست ، وتلی افغان لیکوال ، تاریخپوه او ټولنپوه نوماند اکاډمیسن محمد اعظم سیستانی لخوا رالیږل شوی وو.سیستانی صاحب دخپل بریښنالیک سره یوه کتاب هم رالیږلی وو او زماڅخه هیله کړی وه چی ورباندی یو تقریظ په پشتو ژبه ولیکم.

سیستانی صاحب خو ما تل نازوی ، تل می لیکنی لولی ، په ایمیل یا تلیفون کی دهغوی ستاینه کوی او خونډوری یی بولی . ده هروخت زه پخپلو دی ډول ستاینو سره هڅولی یم چی له کبله یی دزړه له کومی ور څخه منندوی یم . را به شو دده دغه ننني لیک ته . زه د کابل په پولی تخنیک انستیتوت کی چی اوس پولی تخنیک پوهنتون دی ، د استادی له وخت راهیسی بیا تر اوسه پوری چی په اروپا کی اوسیږم ، ډیر ځلی رانه غوښتنی شوی اودی ته اړوتلی یم څو دکوم فرهنګی دوست پر لیکنی یا کتاب باندی د ارزونی په موخه څه نا څه یو څو کرښی ولیکم . ما هیڅکله هم ځان پدی خاطر دومره ناتوانه نه وو حس کړی لکه داځل چی دسیستانی صاحب دکتاب په وړاندی ور سره مخامخ شوم .

داکتاب یی د هیواد دیوی ډیری تاریخی سیمی هلمند دبچیانو دکارنامو او وطن ته دهغوی دخدمتونو د درناوۍ په اړه لیکلی او د ( نقش تاریخی وزیر فتح خان و خاندان اودر دولت سدوزایی ) نوم یی ورباندی ایښی دی .

دیوی خوا زه پدی باندی ډیر خوښ یم چی سیستانی صاحب ددی کار وړ ګڼلی او دا ویاړ یی راته سپارلی دی . زړه می ډیر غوښته چی په رښتیا هم ددی باور وړتیا ولرم ، قلم به می راواخیست څو خپلی ګوتی پری وازمایم . دبلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوانه چې می کله بیا د وتلی لیکوال سیستانی صاحب دقلم د زوروزو متانو په وړاندی دخپل قلم څوکه ډیره پڅه او متان کمزوری ولیدل ، نو د یو ډول پریشانه کونکی بیوسۍ او زړه خوښونکی غوښتنی ترمنځ په یوه نه لیدونکی جال کی بند پاته شوم . هیڅ نپوهیدم چی څه وکړم . قلم می بیا راواخیست خو ترکاغذه پوری نارسیدلی بی اختیاره رانه له لاسه ولوید . پدی هیښتیا کی می یوځل بیا سترګی دسیستانی صاحب پر بریښنایی لیک ولګیدی . هلته می یوه ټکی ته پام واوښت چی ورسره سم می دارامتیا ساه وکیښل . د ګران سیستانی صاحب دی کور ودان وی. ده پخپل لیک کی زما څخه د «تقریظ » لیکلو غوښتنه کړی وه نه د « نقد » . ښکاره خبره ده چی زما دپاره د تقریظ لیکل د کره کتنی ( نقد ) په پرتله په ځانګړی توګه دسیستانی صاحب دلیکنو په تړاو ، ډیر اسانه کار دی . پدی توګه باور لرم چی قلم به می د زړه دغوښتنو هرکلی وکړی ، ځکه می نو ولیکلو ته زړورتیا پیداشوه ، قلم می پلاس او کاغذ می مخ ته کښیښود . البته ددی خبری دقیق ویل به داسی وی چی کمپیوټرمی چالانه او د ورډ پروګرام می پرانیست :

دسیستانی صاحب د هغو کتابونو په ډله کی چی د افغان – جرمن پورتال لخوا نشر شویدی ، دا کتاب دشمیر له مخی ۲۶ کتاب دی چی ډیر ژر به یی د چاپ ستورۍ هم وځلیږی . دیادولو وړ ده ددغه شمیر کتابونو څخه چی نوموړی پورتال نشر کړی، یو شمیر یی تر نشر وروسته تر چاپه هم رسیدلی دی . البته د ده دکتابونو دالړۍ یی دهغو کتابونو څخه بیله ده چی په چاپی توګه راوتلی ده. په پوره باور ویلای شم چی ددی کتاب چاپ به دډیرو لوستونکو تنده ور ماته کړی .

دسیستانی صاحب پیاوړی قلم دخپل دایمی عادت سره سم ، کتاب په داسی خوږه دری ژبه لیکلی چی تر وسه وسه یی دپردی فرهنګی یرغل څخه خوندی ساتلی ده. ددی کتاب لوستل داغزن سیم پشان دی چی یو ځل څوک ورسره دلوستلو په تماس کی راشی ، بیا به نو څو پوری چی پای ته یی نه وی رسولی ، دا به ورته ډیره ګرانه وی چی په اسانۍ سره ځان تری خلاص کړی . زه کولای شم دخپلی دی خبری د پخولو په موخه یوه بیلګه وړاندی کړم : یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست می چی دلوستلو هیڅ حوصله نلری ، په انترنیتی پاڼو کی می ددی کتاب د کتلو او پرله اړولو سپارښت ورته وکړ . بله ورځ یی زنګ راته وواهه او شکایت یی وکړ چی سریه په جنجال دی واړولم . خبره داسی وه چی ده څو میاشتی مخکی دیوه اختصاصی ډاکتر نه دکتنی ( معایناتو ) دپاره وخت اخیستی وو . دتصادف له مخی دا وخت دکتاب لوستلو د ورځی سره برابر شو او دی د لوستنی په اغزن سیم کی دومره ګیر راغلی وو چی د ډاکتر سره یی ټاکل شوی وخت بیخی له یاده وتلی وو . اوس به هغه بیچاره اړ وی چی بیا بل وخت ونیسی او څو میاشتی نور انتظار ورته وباسی . دده دستونزی په اوریدو می په ټوکو سره ورته وویل چی چرت مه خرابوه ، د همدی کتاب لوستل به دی اکسیر شی او طبیب ته به نوره اړتیا پیدا نکړی .

د سیستانی صاحب لیکنیزه ژبه په تولیز ډول ډیره خوږه ده . ده ډیر کتابونه او بی شمیره مقالی لیکلی دی . هغه څه چی می دده دقلم نه ترسترګو شوی ، خامخا می لوستی او په پټو سترګو ورنه تیر شوی نه یم . نپوهیږم چی ولی خو ددغه کتاب ژبه یی ماته تر نورو زیاته خوږه ښکاره شوه . ښایی دا به ددی لامله وی چی هر پاراګراف یی ماته د خاړپوڅو کلی رایادوی او یوځل می بیا د وړوکتوب په غیږه کی للو کوی . دلته د وطن نه لیری دمهاجرت او پردیسۍ په ژوند کی د وطن دهری ترِوی یاد د زړه تسل دی ، خو کله چی دا یادونه دهغی خاوری سره تړاو نیسی چی دچا دماشومتوب دلومړنی نازکو قدمونو پلونه پری لویدلی وی ، دا په رښتیا سره هم نه هیریدونکی خوند او مزه لری .

د سیستانی صاحب دا نوی کتاب د سریزی ( مقدمی ) او لومړنیو خبرو ( پیشګفتار) پرته په پنځو څپرکو ( فصلونو ) او ټولټال ۲۶۳ مخونو کی د افغان ـ جرمن انلاین لخوا نشر شوی دی . د کتاب د منځ ټکی بیله شکه وزیر فتح خان دی لکه څنګه چی د پیل په پاڼو کی سیستانی صاحب هم پخپل دی بیت سره زما دخبری پخلی کوی :

قرن ها صبر بباید که تا مام وطن چون فتح خان وزیربازبزاید پسری

ژباړه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



و پیریو ته اړتیا ده څوچی مور ددی وطن مو
فتح خان غوندی باتوره یو بچی و زیږوی

که څه هم سیستانی صاحب ځان شاعر نه بولی مګر دابیت یی دشعر د لوړ پوخوالی ښکارندوی دی او سړی ته خوند ورکوی چی بیا بیا یی دځانه سره زمزمه کړی . ددی خبری نه که تیر شو ، دکتاب منځپانګه برسیره پر دی د سدوزیانو په دولت کی د وزیر فتح خان د کورنی دسیاسی ونډی او دلسیزو په اوږدو کی ددی کورنی هلی ځلی لکه څنګه چی یی حق وو ، برجسته کوی . سیستانی صاحب لدی نه پرته د شاه زمان د ستری تیروتنی یانی د سردار پاینده محمد خان د وژلو وروسته په افغانستان کی حالات ، د تیمورشاه د زامنو او دپاینده محمدخان د زامنو ترمنځ کړکیچمنه ترینګلتیا ، دبارکزیو وړونو پاڅون او د سدوزی شهزاده ګانو نسکوریدل ، دکندهاری سردارانو خپلمنځی ستونزی او دهغوی د واکمنی سیمی او په پای کی د سدوزی او محمدزی کورنیو تر منځ د ملګرتیاوو او دښمنیو لاملونو ته پام اړوی ، دحالاتو په نظرکی نیولو سره منطقی پایلی تر لاسه کوی . تر دی ټولو وروسته کتاب د لیکوال د پیژندلیک په وړاندی کولو سره پای ته رسیږی.

مخکی لدی نه چی اصلی خبرو ته راشم ، دلته دا یو ټکی چی ماته ډیر زړه پوری دی ، هم دیادولو وړ بولم . دسیستانی صاحب دنامه سره خو دلسیزو را پدی خوا اشنایی لرم ، مګر دمخامخ شناخت راهیسی مو هم ډیر کلونه کیږی . نن د لومړی ځل دپاره دده دبشپړ پیژندلیک په لوستلو سره خبر شوم چی دسیستانی صاحب ریښو دهلمند په اوبو وده کړی ده او نیکه ګان یی اصلا دګرشک دزنبولی له کلی نه راوتلی ، تر فراه او نیمروز پوری رسیدلی او هلته یی د روڼ اندو ډیرنسلونه ټولنی ته وړاندی کړیدی . دده دعلمی او فرهنګی ویاړونو ترڅنګ ، دده د کورنۍ خدمتونه هم دستاینی وړ او دی حق لری چی پری و ویاړی . پکار ده زه هم پدی وویاړم چی زما او دده نیکه ګانو دیوی ویالی ( هلمند رود ) نه اوبه څکلی دی .

لکه څنګه چی می وویل ، دکتاب مرکزی شخصیت وزیر فتح خان دی، خوداچی په یوازی توګه دده دکارنامو یادوونه د ټولو حالاتو څرنګندونی نشی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای ځکه نو دلته تر ده دمخه او وروسته اړوندی پیښنی یو دبل سره په منطقی تړاو راسپړل شویدی . داهغه څه دی چی ځوان نسل ته دهیواد دمعاصر تاریخ یو داسی کښنیکښنلی لندیز پلاس ورکوی چی ټولی اړینی پیښنی یی یو په بل پسی رانغښتی دی . له همدی کبله زما په اند نوموړی اثر نه یوازی اماتورو ( شوقی ) لوستونکو ته بلکه دلوړو زده کړو په بنسټونو ( پوهنتونونو) کی دزده کوونکو د پاره یو دپام وړ مرستندوی ( ممد درسی ) کتاب ګڼل کیدلای شی .

فکر کوم که هر څوک وغواړی پر دغه کتاب باندی سریزی ، تقریظ ، نقد یا نوری یادوونی ولیکی ، نو که مرکزی شخصیت یانی وزیرفتح خان له یاده وباسی ، لیکنه به یی بیله شکه نیمګړی وی . شخصیتونه د ټولنیز بهیر په هر اړخ کی خپل رول لری . د روسی دمعاصر تاریخ دیوه پیژندل شوی سیاست پوه په لیکنو کی می لوستی چی تاریخ د اولسونو مال او په اولسونوپوری اړه لری ، دی همدارنګه زیاتوی چی انقلابونه دتاریخ لوکوموتیف( خوځندونکی ماشین ) دی . پدی کی هیڅ شک نشته چی په تاریخ کی د اولس رول ټاکونکی دی خو دغه رول د غوره شخصیتونو په مټ تمثیل کیږی او ټولنیز -سیاسی اوښتونونه ( انقلابونه ) بیا هغه پیښنی دی چی دشخصیت رول پکښنی ډیر ځلیدلای شی . پدی توګه ویلای شو دشخصیت مثبت او منفی رول هریو خپله خپله پایله لری او خپلی ارزونی ته اړتیا .

وزیر فتح خان یو له هغو شخصیتونو څخه دی چی دافغانستان دمعاصر تاریخ نژدی ټولو لیکونکو یی په درنښت یادوونه کړیده . ما هم ددغه شخصیت په هکله د ښوونځی دوخت راهیسی تر دا اوسه پوری ډیر څه لوستی دی . د ابومسلم خراسانی سره دده پرتله کول چی سیستانی صاحب یی په تفصیل یادوونه کړیده ، ډیر پر ځای ښکاری . پدی اړه دیادوونی وړ ده چی ټول تاریخپوهان د شاه زمان پلاس دسردار پاینده محمد خان وژنه یوه ستره تیروتنه بولی چی د خپل کم عقله صدراعظم( رحمت الله خان پوپلزی ملقب په وفادار خان) په هڅونه ترسره شوه او فتح خان یی و دی ته اړ ایست څو دخپل پلار د وژنی لامله غچ اخیستنی ته ملا وتړی ، دا په ځانګړی توګه د افغانستان غوندی په یوه وروسته پاته فیوډالی ټولنه کی یوه طبعی کړنه ده . له بده مرغه حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشناس شاه محمود ته د بیساری اوړدو خدمتونو وروسته ، دفتح خان په وړاندی هم د شاه محمود لخوا ورته ناوړه ظالمانه عمل په ډیر فجیع او وحشانه ډول تر سره شو . دابومسلم خراسانی د ژوند تراژیدی هم دی ته ورته زړه بوګنونکی داستان لری .

دافغانستان وتلی او په لوړه کچه پیژندل شوی تاریخپوه احمدعلی کهزاد بیا د « رجال و رویداد های تاریخی افغانستان » ترنامه لاندی په خپله یوه لیکنه کی د وزیرفتح خان په هکله داسی یادوونی کوی :

« در میان ۲٤ فرزند تیمورشاه و ۲۱ پسر سردار پاینده خان که به حیث دو دسته شهزاده گان و سر داران سدوزائی و بارکزائی معاصر هم، زیست داشتند، فتح خان ملقب به شاه دوست و اشرف الوزراء تنها کسی بود که باهمه دار و دسته و شور غوغای خانواده گی در آغاز قرن ۱۹ توانست با همکاري های خود سلطنت شاه محمود را با ضعف شخص شاه و تحریک رقبای داخل و دسایس خارج نیرومند و قوی نگه دارد و کار هایی به نفع مملکت بکند. ولی شاه سست عنصر و عیاش و فرزند حسود و کم فکر او کسی را بدست خویش نا پدید کرد که بخشنده تاج و محافظت تخت آنها بود و با یک خبط جبران ناپذیر غوغای بزرگی را در مملکت براه انداخت که خساره آنرا تخمین نمیتوان کرد. درمیان پسران سردار پاینده خان مرحوم که تعداد شان به ۲۱ نفر می رسد و مؤرخین غربی بیشتر آنها را به صفت برادران بارکزائی شهرت داده اند، فتح خان از روی سن و سال و کیاست و کاروایی، تدبیر و پختگی ، فتوَت و مردم نوازی، گوی سبقت ربوده ؛ دارای روحی بود فعال، متشبث، هنگامه جو و انقلابی . تمرکز این همه مزایا با حس انتقام جوئی و تجسس منافع کشور و عقب زدن دست خارجی در او صفتی تولید کرد که انگلیس ها آنرا ( کینگ میکر ) گویند. ( پادشاه ساز). و این نیرو در وجود این سردار ملی افغانی به تمام معنا تبارز داشت .. ..»

دا یوازی احمدعلی کهزاد ندی چی د وزیرفتح خان په اړوند داډول یادوونی لری ، نورو ډیرو تاریخوالو لکه ظفرکاکاخیل « پښتانه د تاریخ په رڼا کی » دفتح خان دکارنامو تر څنګ دده د ړندولو او بیا وژلو ناخوالی په ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تراژیک شکل لیکلی دی ، دده هوښیاری او زړورتیا یی ستایلی ، پر وژنه یی افسوس کړی او یوه نه جبران کیدونکی ضایعه یی بللی ده ، سیدقاسم رشتیا « افغانستان در قرن نزده » د فتح خان دتدبیرونو او زړورتیاوو کیسی کړی دی او دی یی یو مدبر وزیر یاد کړی دی، همداسی نورو ډیرو . . . .

وزیر فتح خان ډیر غوښته د افغانستان احمدشاهی برم او دولتی عظمت یواربیا وځلیږی ، خو له بده مرغه ده دا امیدونه دیوه عیاش او بی کفایته ټولواک شاه محمود په مشرتابه سره په سرکی درلودل . داهغه شاه وو چی نه یی وملی عظمت ته پام وو ، نه یی دهیواد دپرمختیا دپاره کومه ځانګړی طرح درلوده ، ځکه یی نوهغه ستن چی دده ددولت یی په مټ ټینګیدلای شو ، له منځه یوړ . شاه محمود پخپل هرڅه کی ځان دایرانی چارواکو منتبار ګاڼه او هغوی هیڅکله هم دافغانستان ځلانده راتلونکی لیدلای نشوه نو یی دبیلابیلو لارو شاه محمود دفتح خان په وړاندی وهڅاوه ،اول یی ړوند او بیا یی دده په امرپه وحشانه ډول وواژه . پدی توګه بد بختیو را مخ کړ ، په هیواد کی د دولت د ټیکاو ریښی غوڅی او خپل منځی جنګونه پیل شوه .

دسید قاسم رشتیا دکتاب په قول شاه زمان ته خبر ورسیدی چی یو شمیر د قومونو مشران د هندی سوداګر میان غلام محمد په کور کی سره ټول شوی څو دشاه دنسکورولو ، پرځای یی دشهزاده شجاع دټاکلو ، دمیراثی شاهی دلغو کولو او پرځای یی دانتخابی شاهی سیسټم درامنځته کولو په هکله یریکړی وکړی . شاه امروکړ چی ټوله یی ونیسی او اعدام یی کړی . پدی ډله کی سردار پاینده محمدخان چی دشاه زمان تاج دده په مرسته ترلاسه شوی وو ، هم اعدام شو .

زما په اند دا دشاه زمان یوه نه بخښونکی تیروتنه وه . ده ته پکار وه چی ددغه پوټنشیال څخه خپل د پلانونو په ګټه کار واخلی او بیا که دا کار اړین وای ، نو په تدریجی ډول یی یو یو په نوبت سره کمزوری او ځان تری خلاص کړی وای . پدی توګه د پاینده محمد خان تر وژنی وروسته دده زامن دفتح خان په مشری دغچ اخیستلو په موخه مجبورا دیوه بی کفایته عیاش شهزاده محمود دملاتړ په خاطر راټول او لاس پکار شول ، هغه یی د کابل ترتخته ورسوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره سم دشاه زمان د احمدشاهی برم د را ژوندی کولو خیالونه دخاورو سره خاوری شول .

که چیری شاه زمان پدی توانیدلای وای چی دسردار پاینده محمدخان او وروسته دفتح خان ملاتړ دځان سره ولری ، احمدشاهی دبدبه او عظمت به تر اوږدو کلونو پوری د افغانانو په برخه پاته شوی وای چی له بده مرغه داسی و نشوه، د سدوزو واکمنی ړانګه ، ورسره سم بارکزو وړونو هم یو بل له ګریوانه ونیول ، په ټول هیواد کی د ملک الطوایفی د زور اخیستلو په پایله کی مرکزی دولت په بی ساری شان کمزوری او خارجی ( انګریزی ) یرغلونو ته لاره هواره شوه . لکه نیکه مرغه د اوږدو ناخوالو په پای کی ددی کورنی یو مدبر مشر امیرعبدالرحمن خان را پیدا او پدی وتوانیدی ځو یو موټی مرکزی دولت جوړ کړی خو پدی وخت کی شرایطو دومره بدلون موندلی وو چی نه یوازی احمدشاهی برم ژوندی کیدلای نشو ، بلکه دانګریزانو د زر ، زور او مکاریو په مټ د احمدشاهی امپراتوری دټولو فتح شوو سیمو برسیره دهیواد یوه لویه برخه هم دلاسه ووتل او د ډیورنډ پنامه د منحوسی کرښی زخم لاتر اوسه هم ناسور پاته دی . داټولی داسی اوږدی ترخی تجربی دی چی پر بنست یی افغانان باید پدی پوه شی چی یوازی او یوازی په یوموټی کیدو سره توانیدلای شی دغه نننی مخ په ډوبیدو کښتی وژغوری او تر ساحله یی سلامته ورسوی . دا کار باید همدا نن وشی ، سبا به ډیر ناوخته وی. دخوشال بابا په قول:

تر مغولو افغانان په تــوره ښه دی — که په پوهه افغانان وای ځه هوښیار
اولسونـه کــه تکیه یــو پــر بل وکــا — پادشاهان ورته سجود کاندی اختـیار

زه د سیستانی صاحب ددغه کتاب لوستل نه یوازی دهیواد دځوان نسل بلکه د اوسنی سیاستوالو او چارواکو دپاره هم اړین بولم ځو په ځیر او غور یی ولولی او ورځخه دعبرت درسونه واخلی . دسیستانی صاحب پر ګوتو دی برکت وی ، ده ته د انرژی نه ډک اوږد ژوند او قلم ته یی تیز نوک غواړم.

.پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۶/٤/ ۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمؤلف سریزه

( د پوهنمل نوزادی ژباړه)

## د ملي- تاریخي څیرود پیژندني اهمیت

انسان هغه موجود دی چي په ټولنه کي رازیږي، لوئیږي ، بشپړکیږي، شخصیت یی وده کوي، ځان د چاپیریال سره جوړوي او همدارنګه لکه پخپله چی پر چاپیریال باندی اغیز ښندي، انسان دخپل ژوندنی فعالیت په جریان کي د ټولني څخه د اغیز منلو او اغیز اچولو له مخی ټولنیز ارزښتونه زیږوي.

دتاریخ نه ګرځیدونکي خوځښت ددی حقیقت ښکارندوی دی چي د تاریخي، سیاسي څیرو اغیز او د ملي او مذهبي غورځنګونو د مشرانو رول د تاریخ پدی اړین خوځښت کي په ځانګړی توګه د ودي د بیلا بیلو پړاوونو څخه د تیریدو په څرنګوالي کي ډیر د پام وړ دي. دا ځکه چي دوی د خپل استعداد د کچي او د سازمان ورکولو د توان سره سم د تاریخي پیښو بر جریان باندي مثبت او منفي اغیز کولای اوهغه په سمه لاره باندی پر مخ شړلای سي.پدی توګه نو د ټولنیي په ژغورلو یا نابود کولو کي د پام وړ رول لوبوي .

له نیکه مرغه موږ د خپل هیواد په تاریخ کي ستری تاریخي ، ټولنیزي ، فرهنګي ، سیاسي او مذهبي څیری په پراخه کچه لرو چي هر یوه یی په یوه ټاکلی پړاو کي خپل رول په ښه توګه تر سره کړی دی او په ویاړسره تللي دی. ددوي د کارنامو یادول نه یوازي زموږ د پاره روزونکي او ګټور بلکه د ویاړه ډک کار هم دی.

د همدی کبله د ځلیدونکو تاریخي څیرو بیا پیژندنه ،د ملي مشرانو او شخصیتونو په ویاړمن او زړه ور ژوند لیک باندي خبریدل د وطن د بچیانو د وطنپالني احساس را ویښوي چی دا بیا د ملي حاکمیت په ساتنه او د پردیو د لاسوهنو په مخنیوي کی یو اړین توکی دی .په اوسني پړاو کي چي په وطن کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امن او سوله ، ځمکني بشپړتیا او ملي حاکمیت و ډیر زړه سوي ته اړتیا لري، د ملي او تاریخي څیرو پیژندل لا ډیر د اهمیت وړ ګڼل کیږي.

د هیواد ځوان نسل ته پکارده چي خپل تاریخ ته یوار بیا پام واړوي او په ځیر سره یی ولولي. پدی کار سره دوی په دی خبریدلای چي د وطن په ویاړمنه غیږه کي یی څومره اتلان روزل سویدي . دا هغه کسان دی چي کړنو باندی یی وطن او د وطن تاریخ نازیږي.

اوسني او راتلونکي نسلونو ته پکارده خپل تاریخي اتلان و پیژني او پخپل ژوند کي د هغوی وتلي کارنامی ځانته د الهام سرچینه وګرځوي ، خپل ددغو نیکه ګانو زړه ورتیا او تدبیر د نمونی په توګه خپل مخ ته کښیږدی او د خپل شخصیت په وده کي ور څخه کار واخلي .

که چیري په سیستان کي د منځني پیریو،د بست ، صفار او بولان د ځوانمردو عیارانو او پر ارادي مینو عدالت غوښتونکو د نوم اخیستلو څخه تیر سو،د افغانستان د معاصر تاریخ په ۱۸ او ۱۹ پیړیو کي کولای شو په لسګونو ملي، تاریخي ، سیاسي او ټولنیزي څیری یادي کړو چي د دغو څیرو څخه یوهم حاجي جمالخان هلمندی دسردار پاینده خان پلار او دوزیر فتح خان نیکه وو. دی د بارکزو قوم مشر او پخپل ټول توان سره د احمدشاه ټولواکي ومنل ، دهغه ملاتړ یی وکړ او د عمر تر پایه یی نژدی اړیکي ورسره وساتلي. احمد شاه بابا هم په خپل ټول توان سره د هغه قدر او عزت په ډیره ښه توګه وکړ. ددی کورنی دویم ملی- سیاسی شخصیت سردار پاینده خان وو چی د تیمورشاه درانی دسلطنت داستحکام دپاره توری ووهلی او دهغه په دربار کی د ډیرو عزت او قدرت خاوند وو،مګر د ده دزوی زمانشاه لخوا ،ورسره نامردانه چلند وسو اوپه پای کی په قتل ورسید. دریم سیاسی- نظامی شخصیت، وزیر فتح خان (۱۷۸۱- ۱۸۱۸م) د سردار پاینده خان زوی دی.

وزیر فتح خان د خپل پلار پشان په ۱۹ کلني کي و سیاسي ډګرته را ننوت .او د خپل لیاقت ، زړه ورتیا او سیاسي زیرکي پر بنسټ یی په ۲۱ کلني کي شاهزاده محمود سدوزي د پاچهي پر تخت کښیناوه او پخپله یی دده په سلطنت کي د اشرف الوزرا(۱۸۰۱- ۱۸۰۳، ۱۸۰۹- ۱۸۱۸م ) لوړه مقام تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه کړه . ده دومره توان اوقدرت تر لاسه کړ چې د شاه محمود لخوا یی قتل د سدوزیانو د ابدالي امپراتوري دسره پاشلو او په تاریخ کي د نوي پاڼي د پرانیستلو لامل وګرځیدی.

وزیر فتح خان د خپلي ځواني له وخته د ملي حاکمیت او ځمکني بشپړتیا په ساتلو او پر وطن باندي د پردیو د حملو په مخنیوي کي هم د خپل پلار پر څنګ او هم د هغه تر وژني وروسته ډیري سربښندني کړیدي .دی د وطن د دښمنانو او د مرکزي دولت په وړاندي د متمردو یاغیانو په مقابل تل په میرانه دریدلی دی .

له بده مرغه د وطن دغه باتوره بچي د پردیو په لمسون او د جاهل شاهزادګی (کامران میرزا) د حسادت له مخي د شاه محمود په امر چی دده د عمه زوی هم کیدی او دده په توره یی دوه ځلي د سلطنت تاج پر سر ایښی وو، په ډیروحشیانه او ناځوانمردانه ډول په قتل ورسید.

په دغه کتاب کي به موږ ددغه وتلي شخصیت د کار او مبارزی ، زړور تیا او تدبیر، جنګونو ، بریو او هغو ماتو څخه یادوني وکړو چي هیڅکله یی هم دده هڅانده روح و خپلو موخوته د رسیدو په هکله ماته او مغلوبه کړي نده. پدی توګه به موږ دده شخصیت وپیژنو او لکه څنګه چي حق یی دی ، خپلو وطنوالوته به یی ور وپیژنو.

هغه کسان چي د سدوزي دولت له پیل (۱۷۴۷م)نه بیا د (۱۹۷۸)کال د اپریل تر کودتا پوري د افغانستان د معاصر تاریخ په هکله مالومات لری، دوی به خامخا د لیکوال سره پدی اړه همږغي وي چی د وزیر فتح خان او دده د کورني ونډه هم د سدوزي دولت په تاسیس، لوړتیا او هم د احمدشاهي امپراتوري په سره پاشلو کي د پام وړ ده .

دا کتاب لکه څنګه چي په ۱۹ پیړي کی د هلمندي اتلانو د کارنامو یادونه کړی، همدارنګه د درانیانو د دوو لویو کورنیو ( سدوزیانو او بارکزیانو) د رقابتونو او سیالیو ښکارندوی هم دي. د کتاب د لوستلو په ترڅ کي به ولیدل شي چي څنګه د شاهانو او شاهزاده ګانو د ځان غوښتني ، مقام پالني او بیځایه غرور له کبله وطن په سترو بدبختیو مبتلا شوي ، ډیر وفادار او پر وطن مین

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچیان یی ددی ډول هوسونو قرباني شویدی. په سنګر کی ناستو د دوی دښمنانو به تل ددغو خپل منځي شخړو ،کورنیو جګړو او ورور وژني څخه په ګټه اخیستلو سره د هیواد یوه یوه برخه خاوره تری نه په زور او چل بیلوله. پدغسي ناوړو حالاتو کي به داسي څوک پیداکیدلای نسو چي د غیرت توره را واخلي او خپل حق د زمري له خولی نه وباسي. که به چیري داسي څوک پیداهم سو ، هغه به د خارجی دسیسو له مخي د خپلو وړونو پلاس دړي وړی کیدی او ستره بدبختي به یی را منځ ته کوله .

دیادوني وړده چي پدغه کتاب کي راغلي مطلبونه د شلمي پیړی د ۹۰- یمو کلنو په پیل کي راټول شوي او په هم هغه وخت کي د نوموړی لسیزي په پای کي زما دیوه بل کتاب سره چي ( دونابغه سیاسی – نظامي افغانستان) نومیدی، یو ځای لومړی په سویډن او وروسته په ایران او پاکستان کي چاپ شول .

اوس دادی د یوه هڅاند هلمندي څوان ښاغلي شریف الله « دوست سرواني» په غوښتنه چي د هلمند د ملي، تاریخي او سیاسي ویاړونو په را ژوندي کولو کي هلي ځلي کوي ، د کتاب دغه برخه چي د څپاند هلمند د حاصل خیزو څنډو سره نه شلیدونکي اړیکي لري، دبیا کتني او یولړ ګټورو زیاتونو سره په جلا ډول نشر ته سپارل کیږي ،هیله ده چی هلمندي ځوانان او فرهنګیان به هم د نورو وطنوالو سره ددی کتاب په لوستلو د هلمند د اغیزمنو څیرو او تاریخي پدیدو په هکله اړین مالومات تر لاسه کړي او د خپلو تاریخي ویاړلو څیرو په میرانه وویاړي او د خپل شخصیت په وده کي ورڅخه پیروي وکړي.

دهیلمند رودچي په اوستا کي د «هیتومنت » او نن د هیرمند اوهلمند په نامه یادیږي ، د پهلوي او زرتشتي مذهبی کتابونوکی ، دیره مقدسه او باشکوه یاده سوی او په اوستا کتاب کی داسی صفت سوی ده:

"هیرمند، رودی است که خیزاب های سپید برانگیزد وسرکشی کند ، بسوی دریاچه کیانسی (دریاچه هامون) روان گردد وبدان فروریزد.

هیرمند، رودی است که نیروی اسپی از آن اوست.

که نیروی اشتری از آن اوست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نیروی مرد دلیری از آن اوست.
که "فرکیانی" از آن اوست.
چندان "فرکیانی" در هیرمند است که میتواند سرزمین های انیران (دشمن) را برکند و در آب فرو برد. میتواند دشمنان را سرگشته وپریشان کند، و دچار گرسنگی وتشنگی وسرما وگرما نماید.[۱]"

هلمند لکه څنګه چی د سیستان په لمنوکي دوتلو تمدنونو زانګوپاته سوی دي ، داسی یوه رودخانه ده چي تل یی د تاریخ په اوږدو کی د خپلو یاغي موجونو پشان، زړه ور اوننګیالی بچیان ټولني ته سپارلي دي. موږ د هیواد په معاصر تاریخ کي ددی رودخاني د لمنو څخه د ډیرو زړه ورو فاتحانو او هیواد پراخونکو میرنو د را پورته کیدو شاهدان یو .

په معاصر تاریخ کي د هلمندي بچیانو په ډله کي کولای شو لږ تر لږه د دری صدراعظمانو( سردار پاینده محمد خان چي سرفراز خان یی باله د تیمورشاه دراني وزیر ، وزیر فتح خان د شاه محمود سدوزی صدراعظم او سردار محمد عظیم خان د سدوزیان د وروستي شاه ،ایوبشاه صدراعظم )او اوو تنو شاه هانو ( امیر دوست محمد خان ، امیر شیر علیخان ، امیر محمد افضل خان ، امیر محمد عظم خان ،امیر عبدالرحمن خان ، امیر حبیب الله خان او امیر امان الله خان)، او دانګیزانو دتجاوزپرضد د دوو قهرمانانو نومونه واخلو کوم چی زمونږ په تاریخ کی د وزیراکبرخان او سردار ایوب خان په نومونه یادیږی. پرسیره پردی د وزیر فتح خان پنځو تنو وړونو ۳۳کاله په مستقل ډول په کندهار او اړوندو سیمو کي د ۱۸۱۸ څخه د ۱۸۵۵م پوري واکمني چلولی ده .

د هلمند د وتلو ځیرو څخه یو هم نور محمد خان علیزی دی . ده نه یوازی د افغانی قواوو په مشري د ایرانی نادر افشار تر څنګ د ترکانو څخه د اذربائیجان اوهمدان په نیولو کی توره وهلی ده ، بلکه د هندوستان به نیولو کي یی هم د هغه سره ونډه اخیستي وه .دی د دراني احمدشاه دپاچاهی پرضد په یوه توطئه لاس پوری کړ، مګر ددی ناسنجول شوی عمل په پایله کي خپل سر د

---

[۱]ـوګ: اوستا، جلیل دوستخواه، فقرات ۶۶ ــ ۶۹ زامیادیشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه ورکړ.

دهلمند یوه بله غښتلی ځیره ، اختر محمد خان علیزی وو چي ۱۸۴۰ کي یی د انګریزانو پر ضد د هلمند په سواحلو(ځنډو) کی د پاڅون بیرق پورته کړ.هلمندیان یی ورسره ملګری ، په ګرشک کي یی انګریزان د سختو حملو لاندی ونیول. ده وکولای شوه انګریزي جنرالان لکه «نات» او « راولینسن» د اوږده وخت د پاره د زمینداوري جنګیالو سره په جنګ کی بوخت کړي. انګریزانو د دوی د ځپلو په موخه د کندهارنه د یوی توپخاني سره دوه کنډکه عسکر را وغوښتل مګر د قیام په ځپلو بریالی نه شول.ځکه په همدی وخت کی اکرم خان چي یو قومی مشروو ، دی هم د خپلو زړو تنو جنګیالو سره د قیام کونکو سره یو ځای شو. انګریزانو د سردار صفدر جنګ په مشری نوري تازه قواوي د خپلو قواوو د ملاتړ پخاطر ورسره یو ځای کړي . انګریزانو پدی کار او د خپلي قوی توپخاني په مرسته پاڅون کونکي اړایستل چی د ګرشک نه پرشا ولاړ سي. محمد اکرم خان د خپلو قواوو د بیا پوره کولو او ملاتړ پخاطر د هلمند لوړو برخو دهراود ته ولاړ، مګر انګریز پیسي په کار واچولی او هغه یی د خپلو جاسوسانو لخوا تعقیب کړ، ځو په پای کي یی په نیولو وتوانیدل. هغه یی و کندهار ته راویست او په توپ یی والوزاوه . دده با غیرته میرمني د خپل میره تر شهادت وروسته پخپله د جهاد ناره بورته کړه ، پر اس سپره شو ه او د انګریزانو په وړاندی یی خلک و پاڅون او جهاد ته راوبلل . جنرال ( ناټ) دا توریالی ښځه ونیول او د یو شمیر نورو ښځو سره یی چي ددی په ملاتړ را پاڅیدلی وی و کابل ته راولیږلی،مګر د غزني خلکو لاره ورته ونیوله ، انګریزی عسکر یی تارومار کړل ، دوطن باتوری او سربښندونکي میرمني یی د هغوی له کرغیړنو لاسو وایستلی [1].

لیکوال په دی هیله دی چی په کتاب کی به راتول شوی مالوماتونه زموږ وطنوال ولولي او پدی سره به یی د وطن دملی ویاړونو په بیا پیژندنه کی یوګام پر مخ اخیستی وي . پای

---

[1]- غبار ، درمسیر تاریخ ص ص ۵۴۴-۵۴۶

# د سدوزي[۱] دولت د تاسیس نه مخکی د سیاسي، اقتصادي اوټولنیز اوضاع ته یوه کتنه

## (پښتوژباړه، د رحمت آریا)

دا به زښته گرانه وي چې څوک دې د افغانستان له سیاسي ظهور مخکې د تېرو شپېړو پېړیو له سیاسي، اقتصادي او ټولنیز وضعیته یو روڼ او هر اړخیزه انځور په څو پاڼو مقالې کې وړاندې کړي ، په همدغو تېرو شپېړو پېړیو کې ول چې د غوریانو له واکمنۍ وروسته پر هېواد باندې د پردیو د نیواک توري وربځې خپرې شوې، د نیواک دا لړۍ له ظلم، خپلسریو، زورواکیو، ورانیو، عاموژنو، غاړو پرېکونو او مرېتوبونو سره بدرگه وه؛ مغول یرغلگرو د ۱۳ او ۱۴ پېړۍ په اوږدو کې په نیول شویو سیمو کې بې شمېره ککرې وربېلې، نارینه او ماشومان بې مرییان او ښځې بې مینځې

---

[۱] ـ افغان تأریخپوهانو له اسلام وروسته د افغانستان د تأریخي پړاوونو په تصنیف او طبقه بندیو کې د شاهي کورنیو لړۍ د توپیر او څېړنې بنسټ ټاکلی دی، لکه : د طاهریانو پړاو، د صفاریانو پړاو، د سامانیانو پړاو، د غزنویانو او غوریانو پړاونه او نور. له همدې کبله هغه پړاو چې په احمدشاه دراني او د هغه په اولادو پورې اړوند پړاونه دي او په افغانستان کې بې واکمني کړې، د " سدوزیانو" د پړاو په نامه یاد شوی دی.
احمد شاه درانی د سدو ( اسدالله خان ابدالی) کړوسی دی؛ سدو خان د ۱۰۰۰ هجري قمري کال په شا و خوا کې د کندهار په سویل کې د ابدالي قوم مشرتوب په غاړه درلود او سدوزیان د همدغه سدو خان له نسب څخه دي. موږ هم له همدغه منل شوي دود سره سم هغه دولت چې بنسټ بې احمد شاه دراني په ۱۷۴۷ ز کال کې اېښی دلته د سدوزي دولت په نامه یاد کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړلې، ورپسې د پېنځلسمې پېړۍ په ترڅ کې د ګوډ تیمور او د هغه د ځای نېوونکو غوبل او ناتار پېل سو، په هر ښار کې بې د انسانانو له ککرو څخه کوپړۍ منارونه جوړ کړل، بیا د ۱۶ او ۱۷ پېړۍ په لړ کې د اورپکو صفویانو د واکمنۍ او ناتار وار راغی ، صفویانو په نېول شویو سېمو کې خلک د خپل مذهبي فاشیزم د اور په تبۍ باندې وځپل او وېې کړول.

کېدای شي یو شمېر کسان د بې پروایۍ او یا د ورپېښې ناخبرۍ له مخې ګومان وکړي چې زموږ ګران هېواد افغانستان، ددې ټاټوبي د بچیو له سربښندنو، تورو او مېړانو پرته په خپل سر جوړ او د اوسنېو شته وو جغرافیوي پولو په اډانې بې شکل اخېستی دی؛ خو د هېواد او د ګاونډېو هېوادونو تأریخ ته ژوره کتنه په زباد رسوي چې په دې جغرافیوي چاپېریال کې استوګنو پرګنو د بېلابېلو لاملونو له کبله خپل مېړني سرونه په لاس کې نېولي او د پردېو د تېل شویو ربړو او زورواکیو پر وړاندې په پښو درېدلي دي، قربانۍ بې ورکړي او قربانۍ بې اخېستي او په پای کې د خپل برخلېک د ټاکنې او د واک واګې بې په خپل لاس کې نېولي او خپل ځانته بې خپل هېواد جوړ کړي دی، او دا بې په زباد رسولې چې بل هېڅ پردی به نور د هغوی د کړولو جرئت ونه کړي، د هغوی د لاس ییره « حاصل» او جیبونه به د « حوالې» او « بروات» او په نورو ملا ماتوونکو مالیاتي پلمو لوټ او تش نه کړي؛ خاورې، ناموس او هستۍ ته به بې څوک په سپکو او سپېرو سترګو ونه ګوري.

د دې سکالو د لا روښانولو لپاره به د سېمې تأریخ ته د ځغلندې کتنې په ترڅ کې د هېواد خونړۍ پېښې له ۱۳ تر ۱۸ ز پېړۍ پورې په ډېر لنډېز راوسپړو.

۶۱۰ هـ ق = ۱۲۱۴ ز کال وو چې خوارزمشاهیانو په افغانستان کې غوري سلطنت را وپرځاوه؛ له دې نېټې وروسته افغانستان خپل اداري او سیاسي مرکزیت له لاسه ورکړ ؛ خوارزمشاهي سلطنت هم شېږ یا اووه کاله وروسته د مغولي چنګیزخان د ورانکاره توپان په لړ کې خپل هر څه له لاسه ورکړل او پوپنا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چنګیز خان نړۍ ورانونکي یرغل او په منځنۍ آسیا، افغانستان، فارس – ژ / ایران، بین النهرین او وړوکي آسیا ( روم)، په شمالي او سویلي آذربائیجان، ګرجستان، د طرابزون او ارمنستان په یوناني پادشاهي کې، د سوریې او د قبرس د ټاپو د صلیبیونو په متصرفاتو او د وړوکي آسیا ( تورکیې) د سلجوقیانو په سلطنت کښې د مغولو د بې رحمانه وژنو لړۍ د یادو سیمو پرګنو ته بې شمیره ربړونه او کړاوونه ورپه برخې کړل [1]. جویني د چنګیزیانو یرغل په څلورو وییکو کې لنډ کړی دی : " راغلل، وې شکول، وې سوځول او یو بې وړل [2]". چنګیزي سردارانو د ښارونو د ټولو وګړو غاړې د خپلو چړو له خولو له استثنأ پرته تیرولې.

شوروي څیړونکی پطروشفسکي په مفتوحه سیمو کې د مغولو په لاس د ډلوَژنو په تړاو داسي لیکي : « مغولو به مخکې له مخکې بې وسلې شوي، بېړېدلي او ترهېدلي وګړي چې دښتو ته بې شړلي ول، په خپلو منځو کې وویشل. هر مغل سپاهي به د خپل ونډې کسان په زنګنو کښېنول، بیا به بې په تورې یا ټوکیا « ساطور» د هغوی سرونه له تنه بېل کړل، ورپسې به بې پرغمل منشیان اړ ایستل چې پرېک شوي سرونه دې وشمیري. جویني وایې په ۶۱۸ ق = ۱۲۲۱ ز کال کې په مروې کې له ډلوژنې وروسته د پرغمل شویو منشیانو د شمېرنې لړۍ ۱۳ ورځې ونیوله . [3]

د سیفي د روایت پر بنسټ مغولو په ۶۱۷ ق = ۱۲۲۰ ز کال کې د نیشاپور د نیولو پر مهال د (۷۴۷ ر ۰۰۰) نارینه وو سرونه پرېک کړل[4] . د

---

[1]- پطروشفسکي ، کشاورزي و مناسبات ارضي در ایران عهد مغول ، ۱ ټوک ، ۸۶ -۵۷ مخ

[2] - جهانګشای جویني، ۷۲ پاڼه ،

[3] - پطروشفسکي ،هماغه، ۱ ټوک ، ۵۸ پاڼه -جویني وایې: د وژل شویو کسانو د شمیرلو لړې ۱۳ ورځې ونیوله ، که په هره ورځ پینځوس زره مړي شمېرل شوي وي نو د وژل شویو کسانو شمېر باید ۶۵۰ ر۰۰۰ کسانو ته ورسیږي .

[4] - سیفي هروي (سیف بن محمدیعقوب الهروي)، تاریخنامهٔ هرات ، د پوهاند محمد زبیر صدیقي چاپ، ۱۹۶۲ قمري ، کلکته ، ۶۳ پاڼه. سیفي زیاتوي چې د خلکو د عاموژنې تر څنګ بې له هراته سل زره نجونې پرغمل یووړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن الاثیر په وینا په ۶۱۷ ق = ۱۲۲۱ ز کال کې نــېږدې اووه سوه زره وګړي د مروې له نـېول کېـدلو وروسته ووژل سول [1]. خو مستوفي حمدالله د ددغه ښار د نـېولو کېـدلو پر مهال د چنګیز خان د لمسي هلاکو خان په لاس د وژل شوېو وګړو شمېـره اته سوه زره اټکلوي [2]. د ۱۳ ز پېړۍ د یو بل روایت پر بنسټ د بلخ په ښار کې دوه سوه زرو تنو ژوند کاوه. دغه وګړي ټول په ۱۲۲۰ ز کال کې د چنګیزخان په امر له یوې مخې د چړو له خولو تېر سول. د وصاف تأریخ وایې چې چنګیز خان په بامیانو کې د خپل یوه زوی ( موتوچین) د وژل کېـدلو په تور امر ورکړ چې په دې سېـمې کې دې هېـڅ ژوندی موجود ژوندی پاتې نه سي؛ چنګیزیانو ان د میندو په ګېـدو کې ژوندي ماشومان او څاروي له یوې مخې له منځه یووړل[3] . ورپسې د غزني وار راغی.

.پر افغانستان، فارس ــژ / ایران، ماوراء النهر او نورو ځایونو باندې د مغولي لښکرو د برېد پایله د نفوسو او زیارګالو پرګنو په کمېـدلو واوښتله ، ګڼ استوګني سېـمې ځکه له وګړو تشې سوې وې چې استوګنې پرګنې یې په ډله ییزه توګې وژل شوې وې اویا یرغمل نـېول شوې وې او یا له خپل کور کهوله تښـتـېدلې وې، په نـېول شوېو هـېـوادونو کې ودان او په وګړو ډک ښارونه ټول تش شوي ول، په ځانګړې توګې د افغانستان په شمالي او شمال لوېدیزو برخو ( بلخ، مرو او هرات) کې د بشري کار د ځواک کمښت منځته راغلی وو ، له برېد مخکې ددغو سېـمو په ښـېـرازو ډَرو او ورڅـېـرمو سېـمو کې د ځمکې داسې یوه ټوټه نه موندل کېـدله چې هغه دې په کرهڼې او استوګنو وګړو ودانه نه وي، خو دلته هم بشري کاري ځواک له لاسه تللی وو.

سیفي هروي له یو شمـېر بوډاګانو سره لـېدلي چې د همدغو پـېښو حال یې په سترګو لـېدلی دی، نوموړی په خپل کتاب ( تأریخنامـهٔ هرات) کې د بوړنوونکو ورانـېو په اړوند د هغوي ژوندي یادونه را اخـېستـي چې د ( ۶۱۷

[1] - ابن اثیر ، الکامل ، ۱۲ ټوک ، ۲۵۷ پ
[2] - د حمدالله مستوفی تأریخ ګزیده ، ۵۸۰ پ،
[3] - تحریر تأریخ وصاف ، ۳۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ ۶۱۹ ق = ۱۲۲۰ ــ ۱۲۲۲ زو کلونو په لړ کې) په ټول خراسان کې د مغولو له برغل وروسته رامنځته شوي ول. نومورړو بوداګانو د کتاب لیکوال ته د خپلو سترګو د لیدلي حال په هکله ویلي چې په هرات کې نه خلک پاتې ول، نه غنم، نه خوراک او نه پوښاک [1]. لیکوال د کتاب په همدې برخې کې زیاتوي : « له اروابناد مولانا خواجه ناصرالملته والدین چشتي څخه مې واورېدل چې ویل بې : خلکو له بلخه نیولې تر دامغان پورې پوره یو کال د انسانانو، سپیانو او پیشیو غوښې ځکه خوړلې چې چنګیزخانیانو ټولې زېرمې سوځولې وې. [2] »

سیفي په بل ځای کې وایې : د ۶۱۹ هـ = ۱۲۲۲ ز کال له عاموژنې وروسته بوازې څو تنه چې ځانونه یې په نابېرۍ ژغورلي ول، ژوندي پاتې ول؛ دوی څلوېښت تنه نارینه ول چې د ټولنې په بېلا بېلو پاړکو « طبقاتو» پورې یې اړه درلودله او د یوه وران جومات په کنډوالې کې سره دېره شوي ول[3] . د هرات په ورځېرمو کلیو کې د ژوندیو پاتې شویو کسانو شمېر له سلو تنو ډېر نه وو[4] . خو په یوې بلې لوېې څلور دېوالی « حایط» کې یوه مغولي آمر نیږدې زر تنه برغمل راټول کړي ول، نومورړي په دې شرط دا زر تنه بخښلي ول چې دده رعیت واوسي. [5]

د هریرود د دَرې او د هرات د جلګې بو مخېز ورانی چې یو وخت د افغانستان بیروره « حاصلخیزه» او په وګړو ډکه سېمه وه یوازینۍ استثنأ نه وه، د مروې او طوس رغیانې او زرغون ایبلندونه هم د مغولانو له ناتار سره مخامخ شول. جویني وایې : د طوس په ښار کې ان پېنځوس کورونه جوړ نه ول پاتې، ددغو کورنیو غړي سمڅو او سوریو ته پناه وړې وه .

د ۶۱۷ ق = ۱۲۲۰ ز کال له ټولوژنو وروسته د بلخ وران وېجاړ ښار

---

[1]- سیفي هروي ،تأریخنامه هرات، د صدیقی چاپ ، ۸۳ مخ: ( در این ولایت نه مردم است و نه گندم ، نه خورش و نه پوشش.) ۱۵۲ مخ

[2]- سیفي ، ۸۷ مخ

[3]- سیفي ، ۸۳ مخ

[4]-سیفي، ۱۸۳ پ

[5]-سیفي ۱۸۳، ۲۱۵ مخونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم تر ډېرو مودو پورې همداسې وران پاتې وو. دا ښار د اتمې هجري پېړۍ تر لومړۍ نیمایۍ چې د څوارلسمې زیږدیزې پېړۍ د لومړۍ له نیمایۍ سره سمون خوري، وران وېجاړ پاتې وو.

څو لسېزې وروسته ول چې ابن بطوطه (په ٧٢٧ ق = ١٣٢٥ ز کې) د ترمز له لارې په آس سپور له بلخه تېر سو، خو دده په لارې کې پروت بلخ هماغسې وران وېجاړ پروت وو. ابن بطوطه په بلخ کې د مغولو د ورانېو له کتلو وروسته د هرات پر لور درومي. نوموړی وايي : په جبال « غرجستان» کې له اوه ورځو مزل وهلو وروسته د هرات ښار ته ورسېدلو. د لارې په اوږدو کې بهاندې اوبه او ښېرازه کلي ول. « د هرات ښار د خراسان د ودانو ښارونو په منځ کې لوی ترینه ښار دی. هرات زښت لوی ښار دی او ډېر وګړي په کې دېره دي. ددغه ټاټوبي متقي، متدینه او پاک لمني خلک په مذهب حنفي دي، په هرات کې هېڅ ډول فسق او فساد نه شته . [1] »

چنګیزي ګوډاګیانو له مطیعو رعایاوو څخه د مالیاتو او باج اخېستنه په دې ډول کوله چې ماهیتاً بې ددښمن هېواد له لوټ او د ولجو له راټولو کوم څرګند توپېر نه درلود[2].

یادو شوېو ټکېو ته په کتنې وېلای شو چې د وروسته پاتې قومونو او قبائیلو څو پراوېزو یرغلونو زموږ د ټولنې د پرمختګ پر بهیر باندې دومره مرګونی اغېز درلودلی چې د ډېرو اوږدو وختونو لپاره بې ښاري ژوند او د کرهنې د وَدې لړې له شاتګ او کیتون سره مخامخ کړې ده. علي میر فطروس وايي : « د ټینګ سیاسي ثبات نشتوالی، د حکومتونو لاس په لاس کېدنګ او د یرغلګرو په لاس د اوبو رسولو او تولیدي ځالګېو ورانی ټول ددې لامل شول چې کلېوال او کاروباري وګړې نهېلي او بې پروا سي او د تولیدي ځالګیو د بیا رغاونې مخه ډب سي. دغه یرغلونه، ورانی او د سیاسي ـ ټولنېز ټېکاو

---

[1] ـ ابن بطوطه، سفرنامه، ژباړه : ډاکټر محمدعلي موحد چاپ ١٣٤٨ ل کال ، خپرندویه ټولنه : بنګاه ترجمه و نشر کتاب ، تهران،١ ټوک ، ٤٣١ پ

[2] ـ پطروشفسکي، کشاورزی ومناسبات ارضي در ایران عهد مغول، ٢ ټوک، له٦٦٠ پاڼې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشتوالی ددې لامل شول چې « پانگواله سوداگري» دې هېڅکله « صنعتي پانگوالی» ته وده ونه کړي. موږ پرته له دې چې له خپل تېر تأريخه کومه خبرتيا ولرو او يا راتلونکي ته د هېلو سترگې وغړوو.... د پرله پسې او بېلا بېلو فرهنگي – ټولنېزو پرغلونو له کبله اړ شولو چې څوڅو ځله بې له « صفره» بيا بيا راپېل کړو. [1] »

شک نه سته چې که زموږ پر هېواد او سېمې باندې دغسې ورانکاره پرغلونه نه واى شوي، هرات، بلخ، غزني، کابل، کندهار، سيستان او نور ښارونه به د صنعت او سوداگرۍ له پرمختگ او پرتمه برخمن واى او تلپاتو تأريخي آثارو به بې نن د لېدونکو سترگې هک پک کړې واى.

## د مالياتي ځيون بڼې

د مغولو د برلاسي زورواکۍ په لومړيو کې د مالياتو د اخېستنگ په اړوند هېڅ ډول قاعدې او قانون شتون نه درلود. هر څومره بې چې غوښتل او هر څه بې چې غوښتل هغه به بې اخېستل. د رشيدي په جامع التواريخ، د نخجواني په دستور الکتاب او د وصاف په تأريخ کې وېل شوي چې وگړو به هر کال د مغولو سرانو او مأمورينو ته بېلابېلې ماليې ورکولې، ددغو کلنيو ماليو شمېر پېنځوس ډَولو ته رسېده. په دې شمېرنې، کلېوال هره اونۍ اړ ول چې په اونۍ کې بو ډول ماليه ورکړي، هغو کسانو چې ماليه نه ورکوله نو د مالياتي پور د ادايني لپاره به بې د کورنۍ غړي په مرييتوب پلورل کېدل [2].

جـُوَيني وابې : « شرف الدين بيتکچي ( د مالي چارو مأمور) ، هغه سړى وو چې لومړى بې هر څه چې له لاسه وسول، د تبريز له پرگنو څخه بې د

[1] ـ علي ميرفطروس، ديدگاه ها ، ٧٣ پ

[2] ـ پطروشيفسکي ، کشاورزي ومناسبات ارضي در عهد مغول، ژباړه: کريم کشاورز، ٢ ټوک ، له ٦٥٠ پانې وروسته ،عنايت الله شاهپوريان، ٢٥ سده ماليات، ٨٤ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالیې په نامه واخېستل[١] ، ورپسې د ۶۴۲ قمري کال د روژې په مېاشت کې قزوین ته راغی او پر کښر او مشر یې د شکنجو او ظلم کچه تر هغه برېده لوړه کړه چې د « هر چا چېغه آسمانو ختله.[٢] »

سیفي هروي هم په غور کې د شرف الدین بیتکچي د غوبل په اړوند داسې لیکي : « د زور زیاتي لاس یې له لستونې را واېست او په تَجَبُر او دیواني تَحَکُم یې د غور د غرونو مشران له خپلو کورنو او مېمنو په قلاناتو ( بیگار او شاقه کارونو)، قسماتو[٣] او عوارضاتو (گمرکاتو)، جلا کړل... [٤]»

نه یوازې مقاطعه کارو[٥] حکامو او بیتکچیانو[٦] به وګړي تر بېلا بېلو نومونو لاندې زبېښل او شاربل بلکه ایلچیانو[٧] « بکارانو / قاصدانو» به هم په بېلا بېلو پلمو د کلېو او ښارونو خلک لوټل. رشیدالدین فضل الله وایي : « اکثر رعیت یې په ناوړو تدابیراتو او اتلافاتو جلا وطن کړ ؛ په بېوزلو ولایتونو کې یې ځانته کورونه او نغري جوړ کړل. ښارونه او کلي له وګړو تش سول، هر کله به چې ایلچي د غائیبانو د راتولو لپاره ورغی نو خلک به یې ډېر سخت

---

[١]- جویني ، ۲ ټوک، ۲۷۵-۲۷٦ پاڼې

[٢]- هماغه ، ص ۲۷٦

[٣] - قسمات : دا یوه فقهي اصطلاح ده چې د شایع او ګډ حق د تعیینولو څرګندونه کوي او په حق کې ګټې او منقوله شتمني ورګډېږي ، دلته ګټه د مهاباة په نامه یادېږي. په دې کې د قسمت شرط دا دی چې یوه ګټه د بلې ګټې د له منځه تللو لامل وګرځي، د ځاه او حمام تقسیمول جایز نه ده. قسمت هغه مهال منځته راځي چې شریکان یا د شریکانو په دلې کې یو شمیر یې وغواړي له خپلې ګډې شوې شتمنی څخه ګټه تر لاسه کړي او حکم د قسمت دا دی چې د هر یوه شریک ګټه څرګنده شي. فقهي پوهان وایي چې قسمت هغه شی دی چې ټوله شتمني په اجزاء وو وویشل شي او یا ټولې اجزاوې په ګډه راټولې او یو کـُل ورڅخه جوړ سي. ـ ژ

[٤]- سیفي ،تاریخنامه هرات، ۱۷٤ پ

[٥] - مقاطعه کار : هغه څوک دی چې د یوه تړون او یا د مناقصې په غونډې کې په تړون کې د وېل شویو شرایطو پر بنسټ د هر ډول راکړې ورکړي او یا د اجناسو د پلورلو واک ورسره وي او ددغه کار په بدل کې ورته په ټاکل شوي مهال کې باړه یا مزد ورکړل شي.

[٦] - بیتکچي : مغولي وییکی یا لغت دی چې د مغولي ایلخانانو د مالیې مأمور وو. ـ ژ

[٧] - ایلچي : تورکي وییکی دی چې د لېږل شوي، بکاري یا قاصد او د سفیر په ماناوو کارول شوی دی. - ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړول، له خلکو به یې په زور د ژمنو په اخیستلو د قبچور[1] اضعاف[2] اخیستل، وګړو به نور هیڅکله خپلو ولایاتو ته د بیرته تګ زړه نه ښه کاوه، له خپلو مینو یې کرکه کوله؛ که څه هم په بېلا بېلو وختونو کې به ایلچیان د غائیبانو د راټولونګ لپاره شا و خوا لاړل خو هیڅکله یې ونه شو کولای رعیت له ځان سره خپلو اداري مقامونو ته بوزي؛ هغوی چې په ښارونو کې پاتې ول د خپلو دروازو مخو ته به یې دېرې اېښې وې یا به یې په انګړ کې دباندې تګ ته کومه تنګه سوړه کېښدلې وه او د بامونو له لارو به یې تګ راتګ کاوه ، وګړي د محصلانو « ماليې راټولونکو» له وېرې تښتېدلي ول؛ کله به چې محصلان کلیو ته لاړل که یې نارینه ګوتو ته نه ورتلل نو د هغوی ښځې به یې ونیولې او د پسونو د رَمې په شان به یې خپلو مخو ته اچولې وې او له یوې محلې څخه و بلې محلې ته به یې د محصلانو مخې ته ودرَولې، هغوی به یې له پښو وځړولې او چیغې به یې تر آسمانو ورسېدلې؛ دېرې وختونه به داسې پېښېدل چې یو محصل به د بام پر سر کوم رعیت ولید او تر هغو به یې ورپسې منډې وهلې چې دی به یې ونیو، بې وزلی رعیت به د ډېر عجز او بیچارګۍ له لاسه دېخوا اېخوا منډې وهلې چې ځان له بامه وغورځوي، محصل به ورته وررسېد او هغه به یې له لمنې تینګ ونیو چې ونه غورځېږي، په هغه به یې د خپل ترحم غږ وکړ او سوګند یې ورکاوه چې ځان له بامه ونه غورځوي چې مړ کېږې، ترهېدلي سړي به خپل واک او اختیار له لاسه ورکړی وو، له بامه به وغورځېد او پښه به یې ماته سوله. [3] »

مغول سوبمنو د « قبچور» په نامه یو ډول مالیات وضع کړل چې په لومړیو کې یې په دښتو کې له دېره وګړو په دې بڼې اخیستل چې د هرو سلو

---

[1] ـ قبچور : قبجور هم لیکل شوی دی. یو مغولي وییکی دی چې د باج یا خراج په مانا کېږي. کېدای سي د څاروېو د ماليې په مانا یې ومنو. ــ ژ

[2] ـ اضعاف : په مانا کې د دوه ځله / دوه چنده ده؛ دوه برابره، ان تر دوه وو برابرو لا دېره. په ریاضي کې اضعاف د بېلګې په توګې ۳، ۶ او ۱۲ دي او داسې نور.

[3] ـ جامع التواریخ رشیدي، ۲ توک، ۱۰۲۹ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځارویو پر سر به یې یو ځاروی ورځخه اخېست وروسته دغه مالیه له ښاریانو او کلېوالو څخه هم د نغدي او سراني مالیې په بڼې راټولېدله [۱] .

خراساني شاعر پوربهاء د هلاکو د وزیر او مؤرخ علاء الدین جویني په ستاینې کې یوه قصیده ویلې ده، نوموړی د درندو مالیاتو او د مالي چارو د مأمورینو د ناوړو ګټو د پایلې له کبله د خراسان د وګړو فقر او لوږې ته په نغوتې وایې :

همـــه جهـــان متـفـــرق شـدند و آواره
ز بی شـــــمار قِلان و زبی شمار قُبچُور

ژباړه : ټوله نړۍ د بې شمېرو قِلانو او قُبچُورو(مالیاتونو) له لاسه سربداله او لالهانده سوه.

د هغه مهال اسلامي ټولنو به له استوګنو مسیحیانو، زرتشتیانو او یهودانو څخه په اسلامي ټولنو کې د استوګنې لپاره سرانه مالیه راټولوله خو مغولو نه یوازې له مسیحیانو، زرتشیانو او یهودانو څخه سرانه مالیه اخېستله بلکه له مسلمانانو یې هم سرانه مالیه اخېستله چې دا کار نه یوازې د اسلامي شریعت خلاف وو بلکه مسلمانانو ته لوی سپکاوی هم وو. د یادو شوېو مالیاتو تر څنګ به له کلېوالو څخه نور فوق العاده مالیات جنساً او نقداً اخېستل کېدل چې په ټولېز ډول د « اخراجاتو» په نامه یادېدل او دغه اخراجات به د امیرانو، لښکریانو، لوړپوړو مأمورینو او ایلخانانو د ساتنې او پالنې د لګښتونو لپاره لګول کېدل. کلېوال اړ ول چې د لښکریانو لپاره خوراک او ډوډۍ او آسونو ته یې واښه او وربشې برابر کاني چې د « علفه» او « علوفه» په نامه یادېدل او غله او شراب « تغار » به یې وړاندې کول [۲] .

هغو کسانو چې د ۶۴۸ ـ ۶۵۹ هـ = ۱۲۴۹ ـ ۱۲۶۰ ز کلونو تر منځ خپل مالیات نه ول ورکړي د کورنۍ غړی یې په مریـیتوب وپلورل شول چې

---

[۱] ـ سیستاني،مالکیت ارضي و جنبش های دهقاني در خراسان قرون وسطی، د افغانستان د علومو اکاډیمی چاپ ، زما، ۱۶ څپرکی، د جزیې و قبچور تر سر لېک لاندې.

[۲] ـ هماغه اثر، د علفه و علوفه تر سر لېک لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مالیاتي پورونه بې طلبکارانو ته ورکړل شي [١].**

**د « بیگار» او فوق العاده مالیاتو « عوارضو» درونډ والی چې په دودېز ډول د دولت په گټې وو له مالیاتو او « برواتو [٢] » او یا هغو ته ورته مالیاتي پېښېو څخه لږ نه وو. د بېلگې په توگې د ډاگ یا پُستې په سرباري مالیاتو کې د « خره برابرول» راتلل، په کلېو کې استوگنو وگړو دنده درلوده چې د ډاگ د تمځایونو لپاره یا مېلمستیاوې په غاړه واخلي، یا د هغوی د څاروېو لپاره کورنه جوړ کړي یا دې د ایلیچیانو او د لښکر د مشرانو لپاره خره او آسونه واخلي. « بیگار» په ځانگړې مانا یو اجباري کار وو چې د اوبو د کاریزونو د بیا رغاولو او پاکولو، د کلا گانو او ماڼېو د ودانولو او د سړکونو د جوړولو لپاره د یوه درانده پېټي په توگې د کلېوالو پر اوږو بارېده. د همدغو اجباري کارونو په لړ کې به په زرگونو کلېوالو خپل ژوند له لاسه ورکاوه، د ایلیچیانو او د وړیا پُستي خدماتو په ترخ کې به ډېر څاروي هم وژل کېدل. [٣]**

**لنډه دا چې د رشیدي د جامع التواریخ، د نخجواني د دستورالکاتب او د تأریخ وصاف پر بنسټ به خلکو د مغولو سرانو او مأمورینو ته په کال کښې څه د باندې پېنځوس ډوله مالیه ورکوله. د مالیاتو یوه بڼه شرعي مالیه وه لکه: زکوة، عشر، خمس، جزیه او خراج، بله بڼه یې غیر شرعي او سېمه پیزې سر باري یا فوق العاده مالیات ول لکه: تغار [٤] ، تمغا [٥] ، تابغور [١] ، ترغو [٢]، نماری [٣]**

---

[١]- تأریخ ایران،د شوروي د یو شمېر لیکوالانو د ډلې له پلوه ، ژباړه : کشاورز، ۳۶۰ پ

[٢] - بروات : په عربي کې « براء ة » لیکل کیږي چې فارسی ته د بروات په بڼې اړول شوې ده. د بَروات یا برات پر بنسټ یو څوک بل چا ته امر کوي د دریمگړي سړي په حساب دې دومره پېسې ورکړي. هغه څوک چې د براء ة یا برات یا بروات امر ورکوي مُحَیل او هغه څوک چې باید براء ة وسپاري مّحالٌ علیه او د براء ة درلودونکی مّحالٌ لـَهُ بلل کیږي. – ژ

[٣]- مالکیت ارضی و جنبش های دهقانی ... ص ۳۸۲

[٤] - مخکې بې مانا ورکړل شوې ده - ژ

[٥] - تمغا : تورکي وییکی دی چې د مهر او نښې په مانا دی. تمغا د آس او یا نورو څارویو پر ورانه وهل کېدله. په سوداگرۍ کې د باج او خراج په مانا ده چې له یوه ښاره یا بندره یا کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، بلارغو [٤] ، آلام[٥] ، قبچور[٦] ، قلان [٧] شورپا ، شلتاق[٨] ، شناقص، شوسون[٩] شیلان بها[١٠]، ساوري [١١] ، کرکیارق، آش، بهره [١٢]، نزول [١] ، علفه و علوفه،

---

څخه تېرېدونکی سودا گر بې د راوړل شویو توکو لپاره د تېرېدلو یا حق العبور په توګه ورکوي. ــ ژ

[١] ـ تمغا : تورکي وییکی دی چې د مهر او نښې په مانا دی. تمغا د آس او یا نورو څارویو پر ورانه وهل کېدله. په سوداګرۍ کې د باج او خراج په مانا ده چې له یوه ښاره یا بندره یا کلي څخه تېرېدونکی سودا گر بې د راوړل شویو توکو لپاره د تېرېدلو یا حق العبور په توګه ورکوي. ــ ژ

[٢] ترغو : په ناظم الاطبا کې بې آذوقه او زېرمه مانا کړی دی. د د هخدا فرهنگ وایي مغولي وییکی دی چې د اطعمې او شرابو په مانا ده. ـ ژ

[٣] ـ د تورو او سپینو کرښو لرونکي شي په مانا ده. بله مانا بې هغه ځای چې هلته پسونه د لیوانو له بریده خوندي ساتل کېږي.

نمار : د فوق العاده مالیاتو په مانا. فرهنگ دهخدا او د معین فرهنگ ــ ژ

[٤] ـ د دهخدا په فرهنگ کې د طیارات تر شرحې لاندې بلارغو د تلف شویو او ورکو شویو مالونو په مانا وېل شوی دی ــ ژ

[٥] ـ آلام : دا باید « الام» وي. دا یو ډول باج وو چې پخوا به په ځینو کلېو کښې رعیت و مالیکنو ته ورکاوه. ـ ژ

[٦] قُبچور : قبجور : په دهخدا فرهنگ کې بې مغولي وییکی بللی او « خراج مقرر دیواني» بې مانا کړی دی او همدلته د رشیدي د جامع التواریخ له مخې وابې : زن و فرزند و متعلقان و لشکر های خود را بتمامت از این دره ها فرود آر تا شماره کنم و مال و قبچور خود را مقرر گردانم ــ ژ

[٧] قلان : مغولي وییکی دی او د سرانه مالیې په مانا ده ــ ژ

[٨] ـ شلتاق : د دهخدا فرهنگ شلتاق داسي مانا کړی دی : تُرکي: منازعه با کسی در باب دلایل دروغ. غیاث اللغات : جنگ و خرخشه. تهمت و نزاع شرعي. اجحاف، زور و حقه بازی، سر کسی کلاه گذاشتن و در معامله چیزی را به او قالب کردن . ــ همدا وییکی په پښتو او دري کې د چالاک او دوه مخي سړي لپاره په شفاهي ژبو کې د چټاق په ډول ویل کېږي ـ ژ

[٩] شوسون : مغول: د « تغار» مانا ته ورته چې واښه او د آس خوراکي ته بې ویل- ژ

[١٠] ـ شیلان : تورکي: د مغولو د سرانو او مشرانو دپله پېژه مېلمستیا ــ ژ

[١١] ساوري : ناظم الاطباء بې له ساو څخه په اخځ بولي چې د باج او خراج په مانا کېږي، دهخدا بې ( تورکي ــ مغولي) بولي او وابي : تحفهٔ پیشکش و آن مرکب است « آنند راج» انعامی که در ازای خدمت میدهند. ناظم الاطباء : و ساوری و علوفه و ترغو ترتیب نه کرده بودند. ـ ژ

[١٢] ـ بهره : ناظم الاطباء د سود او ربحې په مانا ویلی دی ـ ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جريمه، خانه شمار، باغ شمار، سر شمار، باج، پيشکش، سلامانه[٢] ، توقعات، تفاوت و توفير، زوايد، اخراجات، تکليفات، تخصيصات، توزيعات، قسمات، مرسوم، مال، مال و جهات، متوجهات، ديواني او سلطاني، حق الانشاء، حق التعديل، حق التقرير، حق التحصيل، حق البيمانچه، حق التوليه[٣] ، رسم الحرز، رسم الوزراء، رسم الصداره، رسم خزانه، د « شحنگی[٤] » او « داروغگی[٥] » دودېز ماليات، تسعير يا ارزَونه، تقدمه، بيگار، چريک او نور ماليات ول چې له رعيت څخه د شکنجو او زور زياتي له مخې اخېستل کېدل[٦] .

---

[١] نزول : دهخدا په خپلو يادښتونو کې قبچور د نزول په مانا هم بللی ده زما په اند دا بايد يو ډول سرانه ماليه وي چې خلکو به له يو ځايه و بل ځای ته د تگ لپاره مغولو ته ورکوله. - وگورئ قبچور ــ ژ

[٢] ـ سلامانه : دهخدا د نورو ماناوو تر څنگ د سلاماني په اړوند وايي : مالياتي که به مناسبت بار عام پادشاهان يا به سبب دريافت خبر او بپردازند. حقوق و عوارضی که برای مباشر يا مستأجر به مناسبت نخستين بازديدی که از ده می کنند از دهقان گرفته ميشود. نام نوعی از خراجی است که در سابق از قراء می گرفتند. ـ ژ

[٣]ـ حق التوليه : هغه مال چې وقفی متولي يا د کوم زيارت د جومات امام او يا د امام زوی ته ورکول کېږي ــ ژ

[٤] شحنه : هغه څوک چې سلطان په يوه ښار کې د چارو د پرمختگ او د سياست د پرمخ بيولو لپاره گومارلی وي چې پخوا به يې کوتوال او حاکم باله. په پښتو کې کوتوال دی. په پيښوری پښتو کې ورته صوبه دار وايي نورې ماناوې يې : نواب، نائب، عربي يې عسس دی؛ د ښار رئيس ، ښاروال،

[٥] ـ داروغه : تورکي ــ مغولي وييکی : په مغولي ژبې کې داروغه د رئيس په مانا ده. له احسن التواريخ څخه ښکاري چې داروغه د حاکم په مانا ده. ــ ژ

[٦]ـ د نخجوانی دستورالکاتب ، د رشيدي جامع التواريخ ، او د رشيدي مکاتبات او هم تأريخ وصاف او د « ماليکيت ارضی وشيوه های بهره برداری از زمين درخراسان درقرون وسطی» کتاب زما لېکوال د سويډن چاپ ٢٠٠٢ ز کال ديارلسم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ( ۱۴ ز پېړۍ په لومړۍ څلورېزې کې) ول چې غازان خان[1] د مغولو په مالیاتي سیستم کې بو شمېر اصلاحات رامنځته کړل چې له کبله یې د حکامو او مالیاتي مأمورینو لاسونه د کروندګرو او رعیت له غاړې د یوې لنډې مودې لپاره سست سول، خو د څوارلسمې پېړۍ له لومړۍ څلورېزې وروسته یې بېرته پخوانۍ بڼه غوره کړه او د تیمور په دورې کې یې هم هماغسې د پخوا په شان دوام وکړ. ځکه تیمور خپل ځان د چنګیز خان ځای ناستی ګاڼه او د چنګیز او د « چنګیزي یاسا[2] » په پَل نیونې یې « تزوک تیموري» یې را واېستله او پر بنسټ به یې چارې پر مخ بېولې.

تیمور به هم د هر ښار له نېولو وروسته پر ښاریانو باندې مالیه اېښودله خو پر ښاریانو باندې د تیمور د مالیې اندازه د تیموري یرغل پر وړاندې د هر ښار د مقاومت په اندازې پورې تړلې وه، ځکه هر هغه چا چې کلک مقاومت کاوه نو تیمور ته په دې مانا وو چې د پیاوړي اقتصاد ښاریان پیاوړی مقاومت کوي؛ ددې لپاره چې خلک یې ځارځپلي او ځانته ایل کړي وي نو پر هغوی به یې ملا ماتوونکي باجونه کېښېښودل، هر چا که د باج له ورکړې غاړه غړوله نو د هغوی د وژلو امر به یې ورکړ. څرګنده ده چې تیمور د هرات په سبزوار او د رزنج په مرکز سیستان او حصار طاق کې د پرګنو له همداسې ټېنګ مقاومت سره مخامخ شو، همدغو مقاومتونو به د تیمور غضب نور هم راوپاراوه، د بېلګې په توګې په سیستان کې یې امر وکړ چې د اوبو بندونه دې ونړول شي، په دې ډلې کې د هلمند پر سیند سپور د رستم نامتو بند یې چې د سیستان د ښېرازۍ، آبادۍ او سوکالۍ سرچېنه وه ونړاوه. ورپسې

---

[1] ـ غازان خان : له ۱۲۹۵ تر ۱۳۰۴ ز کال پورې د مغولو د ایلخانانو د کورنۍ په لړۍ کې د فارس سلطان وو چې په ۱۳۰۴ ز کال کې قزوین ته نېږدې کومې سیمې کې مړ شوی او قبر یې په تبریز کې دی. ـ ژ

[2] ـ یاسا : له مغولي جرړې : دود، قاعده، قانون؛ د مغولي چنګیز خان د احکامو، قوانینو او چلند ټولګه. یاسه، یسون، یاساق او یساق هم وېل شوې ده. د وصاف قاموس یې نظم او نسق، امر، حکم او فرمان بولي. دهخدا وایي: یاسه = یاساق= یساق د مغولو د قاعدې او قانون په مانا ده. چنګیزي یاسا د قوانینو او مقرراتو هغه ټولګه ده چې چنګیز خان جوړ کړي ول او مغولي واکمنو به هماغه د چنګیز په نامه پلي کول. ـ ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې امر وکړ چې د زرنج ټول وګړي دې په عام ډول ووژل سي. تیموري لښکریانو د درو وو شپو و ورځو په لړ کې د ټول ښار وګړي ووژل . تیمور په زرنج کې د انسانانو له کوپړیو څخه کوپړی منارونه جوړ کړل او په یوه دېوال کې یې دوه زره تنه ژوندي انسانان ښخ کړل. [1]

په تیموري پـَیر کې هم له وګړو څخه کټ مټ د مغولو د پـَیر مالیات اخـېستل کـېدل. ان پر هغه برسـېره یو شمـېر نور مالیات هم اخـېستل کـېدل لکه : د ښکار مالیات، د چرګانو مالیات، د زیري / د ښه خبر مالیات او د « صد یک»، « صد دو»، « صد چهار» او نور مالیات. یو شمـېر نور په پراخ ډول پلي کـېدونکي مالیاتي دودونه هم ول لکه « سیورغال »، « تیول » او د « تـَرَه خانی» دود، ( دا مجرم ته د بخښلو هغه امتیازي حق وو چې تر ۹ ځله جرم پورې به یې ورته د معافیت حق ورکاوه). په تیموري پـَیر کې د « سیورغال» لرونکي لاس دومره پراخ او خپلواک وو چې پرته له دې چې ددولت خزانې ته څه وروځځوي په خپل زړه به یې د خپلې خوښې مالیه وضع کوله. په بلې وینا په پـېنـځلسمي زېږدېزې پـېړۍ کښې ول چې د « سیورغال»، « تیول» ، « اقطاع [2] »، «موقوفاتو [3] »، خالصـه [4] « شاهي» او په نورو نومونو مالیاتي، اداري او قضایي معافیتونه د مرکزي حکومت د تضعیف لامل شول او په خپله دولت یې د باج او مالیاتو له اخـېستلو څخه بې برخې او په قضائـي محاکمو او لښکري چارو کې امیرانو، ځمکوالو او سـېمه پیزو خانانو ته برلاسی او بروالی ور په برخې شو.

ددغه پـَیر د پاتې شویو لاسندونو له مخې کولای شوې تر یوې کچې پر ځمکو او د ځمکو په څښتنانو پورې اړوند د مالیاتو په څومره والي، ډول او ډېربنت باندې پوه شو؛ مینورسکي وایي : د قاسم بن جهانګیر « سیورغال»

---

[1]- مرتضی راوندي ،تأریخ اجتماعی ایران، ۲ ټوک، ۱۹۵ پ

[2] - اقطاع : د ونو د څانګو پرېکون، د چا د ځمکې پر لور د اوبو د لارې کښنګ، یو زورور چې د چا ځمکه په زور د هغه له څښتنه د باج په ډول واخلي او بل ته یې ورکړي. ــ ژ

[3] - موقوفه : هر هغه څه چې د خدای او رسول په لارې کې وقف و قید شوې وي. - ژ

[4] خالصه : هغه سلطنتي ځمکې چې د چا په جاګیر کې نه وي. - ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وابي چې نومورې له څه دباندې څلوېښتو قلمو مالیاتو او عوارضو څخه معاف شوی وو. د همدغه لاسوند له مخې نومورې له لاندېنیو مالیاتو او عوارضو څخه بخښل شوی دی :

« مال و جهات [۱] » ( مستمره مالیات)، « اخراجات و خارجات» ( زاید مالیات): هغه فوق العاده مالیات چې د حکم او یا د حکم د بوې برخې په توګه وضع کېږي ( حکمي او غیر حکمي عوارضات)، وابنه « علوفه» ( د حکومت د مأمورانو د څارویو لپاره د وابښو حق)، « قُنُغلا» (د سفیرانو او نورو د بنه راغلاست لپاره ځانګړي مالیات)، « بیګار» ( اجباري کار)، « ښکار» ( د ښکار مالیات)، « الاغ» [ د چاپارخانو د پیکانو [۲] یا د چاپارخانو [۳] د څارویو لپاره ځانګړي مالیات]، « آلام [۴] » [ هغه بلد خلک چې د بارې یا مُزد له اخېستلو پرته به اړ ول چې ددولت د مأمورینو په چوپړ کې اوسي او هغوی ته لاره

---

[۱] مال او جهات ( مال و جهات) : دهخدا د « نقد، نقش، اسباب او اشیاء» په مانا وېلې ده. فرهنګ معین وایي : اموال، اثاث، ضیاع و عقار. د ځمکې اجاره چې مال او جهات هم وېل شوې ده. یعني عایدات او محصولات. مال : د نغدو املاکو عاید؛ جهات : د ځمکو عاید. ـ ژ

[۲] ـ پَیک : په اوستا کې پدیکا ده او مانا یې په پښتو کې لا تر اوسه د پکاري په بڼه کارَول کېږي چې قاصد یې بله بڼه ده په ځېنو پښتو قاموسونو کې د بکاري په ډول چې پ یې په ب اړولې لیکل شوې چې ښایي ټایپي تېروتنه وي. پتنګ یا کاغذ باد ته هم پیک وېل شوي دي. دلته د لیکوال موخه هماغه پکاري یا قاصد ده. ــ ژ

[۳] ـ چاپار خانه : کېدای سي په پښتو کې یې « څېره یا څېرۍ یا څېرۍ کوټه یا کوټنۍ» وبولو. په ډېرو لرغونو وختونو کې په ځانګړې توګې د کوشانیانو پر مهال د ډاګ او یا پُستي خدماتو څانګې ښه پرمختګ کړی وو چې د مرکزي دولت امرونه او لیکونه به په ډېر لنډ وخت کې د هېواد هرې برخې ته رسول کېدل؛ په دې توګې چې هر لوري ته به د آس د ځغاستې په واټن هر لور ته څېرې او د څارویو لپاره کوټې جوړې شوې وې او ډاګیانو به لیکونه او دولتي فرمانونه یو بل ته لاس په لاس ورکول او تر اړوند ځایه پورې به یې رسول. له دې کبله د چاپارخانې نوم له مانایې اړخه د پښتو له څېرۍ سره هممانېزه ده ــ ژ

[۴] ـ آلام : هماغسې چې مخکې مې په بوه لمنلیک کې وویل دا باید له مَد پرته د « الام » په ډول ولیکل سي. له مانایي اړخه هغه پیغام او لیکنې ته ویل کېږي چې په خولې او لاس ورسول شي. په مغولي کې د موضع، سیمې او ځای په مانا ده او په تورکي کې هماغسې چې مخکې مې وویل هغه ډول باج ته وېل کېده چې رعیت به ملاک ته ورکاوه. ــ ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وښيي چې له يو کلي څخه بې و بل کلي ته ورسوي]، « ساوري[١] » ( ډالۍ يا هدايا)، « ساچُـق [٢] » [ د ښه راغلاست يا پذيرايي لپاره ځانګړي ماليات]، « پيشكش» ( ډالۍ/ هدايا/ تحايف)، « زرچريک » او « پياده / پلې» ( د چريک[٣] ماليات چې اوسمهال بې د پلي او سپاره جنګيالي په مانا کاروي)، « مُشـتـَلـُق[٤] » ( هغه فوق العاده ماليات چې د يوه زيري يا ښه خبر په بدل کې به له وګړو څخه اخېستل کېدل)، « احداث » ( د نوښتونو او اختراعاتو په مانا)، « کدو شمار» ( د هر سر او هر کور پر سر ماليه)، « خانه شمار»، « دست انداز [٥] » ( دخل [٦] او انعام)، « عيدي و نوروزي» ( د نوي کال لپاره ځانګړي ماليات)، « حق السعی [٧] » ( د ماليې د مأمورينو يا د ماليه راټولوونکو د لګښت او تنخواه ماليه)، « عشر» ( بو پر لسم )، « رسم الصداره» ( د سروزير يا صدراعظم حق الزحمه)، « رسم الوزاره» ( د وزيرانو حق الزحمه)، « غله طرح» ( له رعيت څخه به بې په وچ زور غله دانه په ارزانه بيه وپېرودله او بېرته به بې په لوړې بيې ورباندې پلورله)، « ابتياعي » ( د

---

[١] ـ ساوري : توركي ـ مغولي وييكى دى مخكې بې په يوه لمن لېک کې يادونه وسوه ـ ژ

[٢] ساچُـق : توركي وييكى دى : هغه ډول دود وو چې د ښادۍ يا واده له مراسمو يوه ورځ مخكې به كوربانه د واده جامې، نقل، پټاتې، خجورې او نور ډول ډول خواږه د ناوې كهاله ته لېږل. د ماليتاو په اړوند ګومان كولای شو چې د كلي ملک به ددغه دود د ترسره كولو لپاره يا له زوم او يا د ناوې له كورنی څخه يو څه د ماليې په نامه اخېستل. ـ ژ

[٣] ـ چريک : توركي وييكى دى او د مانا له اړخه هغو جنګياليو ته ويل كېدل چې د لښكر د مرستې لپاره به له نورو ولايتونو څخه راوړل كېدل. ـ ژ

[٤] مُشـتـَلـُق : په توركي فرهنګ كې د زيري او ښه خبر او د شكرانې په مانا ده. له ژب جوړښتېز اړخه وېل كېږي چې دا يو مفغن او ګډوله يا مركب وييكى دى چې له زيري يا ( مژدې) او لق څخه د زيري د بيې يا بها په مانا جوړ شوی دی چې په لومړيو كې « مژده ليق» يا « مژده لېک» وو.

[٥] ـ دست انداز : صاحب آنندراج وايي : د بوه كار د تر سره كولو لپاره لاس او پښو ته خوځښت وركول، بله مانا بې لاسي تېرى دى. ـ ژ

[٦] ـ دخل : ګټه، تنخواه ـ ژ

[٧] ـ حق السعی : حق الزحمه ، حق العمل ـ ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېرودلو مالیه ؟)، « حُرز [۱] » ( د مالیاتو د تخمین حق)، « مساحت [۲] » ( په خپلې دودېزې مانا)، « رسم الحرز او مساحت» (حق التقویم کول او مساحت کول)، « اضافه، تفاوت او تسعیر [۳] » ( هغه مالیات چې د نرخ د تعدیل په اړوند بې تسعیر اخېست)، « تقبل» ( هر کله چې یوه مالیه ورکوونکي « مدعي یا مودي» د « تقبل» [ منلو] غوښتنه کوله چې د مالیه ټولوونکي یا محصل له پلوه ټاکل شوې مالیه به په ټاکل شوې مودې کې سپاري نو له هغه څخه به یې یو ډول ځانګړې مالیه هم اخېستله)، یو ډول نور نامتو مالیات هم ول لکه « صد یک»، « صد دو» او « صد چهار» « حقوق داروغه» ( د ښاري امن پولیس)، « کلانتر»، « ممیز »، « صاحب جمع»، « شیلان [۴] بها» (هغه مالیات چې د اخترونو د غونډو لپاره به یې اخېستل)، « سُفره بها» ( دا مالیات د هغو کسانو لپاره اخېستل کېدل چې د مېلمستیا وسایل به یې برابرول)، « اخراجات قلاع، طوابیل» او « جوقه گاه» ( دا هغه ډول مالیات ول چې د سلطاني کلاګانو او د هغه د غوجلونو او د سلطنتي ښکارځایونو د ساتنې لپاره اخېستل کېدل)، « مرغ » (دا هغه مالیات ول چې خلک د خپلو کورنیو چرګانو او نورو الوتکونکو ورکړې ته اړ ایستل کېدل)، « پسه / گوسفند» (خلک د خپلو پسونو ورکړې ته اړ ایستل کېدل)، « قلان» ( بیګاري)، « قبچور» ( د څارویو مالیات)، « تِرغو» ( هغه مالیات چې د جرایمو د پلټنې لپاره اخېستل کېدل)، « سرغو» ( ښایي « ترغو» وي)، لنډه دا چې خلک به یې د دیواني او سلطاني مالیاتو او غوښتنو او د مالیې تر نامه لاندې په هرې پلمې او نامه چې ورته شوني وه زبېښل [۵] .

---

[۱] ـ حُرز : اندازه کول، تخمینول، بر آورد ــ ژ

[۲] ـ مساحت : مساحه، د ځمکې وېش په مقیاس او د هغې د بېې او ارزښت اټکل ــ ژ

[۳] ـ تسعیر: د بېې او نرخ ټاکل، نرخ ایښودل ــ ژ

[۴] ـ شیلان : تورکي وییکی دی چې د عامي مېلمستیا په مانا ده ــ ژ

[۵]ـ میرمن لمتون، مالک وزارع درایران ، ۲۰۷ـ۲۲۸ پ ، د دغه پیر د شته وو لاسوندونو پر بنسټ یې ، سیورغال د « عطای مخلد» په ډول لوستلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا مالیاتي چلند په صفوي پیر کې له څو نورو زیاتونو سره پلی سو.
د لومړي شاه طهماسب صفوي په پیر کې د فارس – ژ / ایران ډېری برخې په غیر مستقیم ډول د ځمکوالو « مقطعانو یا تیول لرونکو» له خوا اداره کېدلې او له حکامو څخه به بې ډالۍ او باجونه اخېستل. حکامو به هم د خپل قلمرو په پولو کې له استوګنو وګړو څخه په بېلا بېلو نومونو ډول ډول مالیات او فوق العاده مالیات اخېستل. خو کله کله که کومه آسماني ټکه ، طبیعي او یا بل ډول ناورین رامنځته کېده نو وګړي به بې د مالیاتو له ورکړې څخه معاف ګڼل. خو د وېلو وړ ده چې په دغه پیر کې د ځمکو مالیات دومره درانده نه ول مګر د ظالمو مالیه ټولوونکو مأمورینو د زبېښاک له کبله به د ځمکي د مالیې کچه د هغې تر لومړۍ کچې پېنځه ځله ډېرېدله [1] .

د تیمور له مړینې وروسته افغانستان او د فارس – ژ / ایران بنستېزې برخې د تیمور د زوی شاهرخ د واکمنۍ د قلمرو برخې شولې؛ شاهرخ د رامنځته شویو ورانیو بیا رغاونې ته ریښتونې او ټېنګه ملا وتړله او د پر له پسې هڅو په ترڅ کې په دې بریالی سو چې د پلار په لاس ډېری رامنځته سوې ورانۍ بېرته سمې کړي. سره له دې چې په افغانستان کې د رستم بند وران او د هیلمند سېمه شاړه شوې وه خو له دې سره سره بیاهم افغانستان د پېنځلسمې زیږدېزې پېړۍ په اوږدو کې د منځنۍ آسیا د فرهنګ او اقتصاد په بنستېز مرکز واوښت، او له سیستان پرته د هېواد په نورو برخو کې کرهنې، اوبو لګولو او ورهنګرۍ « پیشه ورو» خپله د پرمختګ لوړه کچه درلودله.

د هرات ښار د شاهرخ د نیمې پېړۍ د واکمنۍ او ورپسې د سلطان حسین بایقرا د ۳۷ کلن سلطنت په ترڅ کې د فرهنګ او تمدن د پرمختګ او غوړېدلو لوړې کچې ته رسېدلی وو، او « د سوداګرۍ ، ورهنګرۍ او فرهنګ په داسې یوه مرکز بدل شوی وو چې د منځنۍ آسیا مرغلره او د علماوو او هنریالانو د مرجعې د ټکي په توګې ورته کتل کېدل. [2] »

---

[1]- بیست و پنج سده مالیات ، ۸٦ پ
[2]- تأریخ ایران ، د شوروي لېکوالانو د یوې ډلې لیکنه ،ژباړه کریم کشاورز، ۴۳۳- ٤۳۵ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شپاړلسمې زېږدېزې پېړۍ له پېله وروسته په افغانستان او له افغانستانه دباندې يو شمېر پېښې رامنځته شوې چې پاېلې يې زموږ د هېواد په تاوان خو په گاونډيو کې د نوبو راپورته شوېو سېمه ييزو ځواکونو په گټې واوښتلې. په بلې وېنا په ۱۵۰۰ ز کال کې په ماورالنهر کې د شيباني دولت او په ۱۵۰۲ ز کال کې په فارس – ژ / ايران کې صفوي دولت جوړ شوی وو او په ۱۵۲۵ ز کال کې په هندوستان کې بابري ( کورگاني[1]) دولت رامنځته شو. نوبو رامنځته شوېو دولتونو خپل بربېدگر لاسونه له شمال، لوېديځ او ختېځه افغانستان ته وغځول او په پای کې يې هېواد په شمالي، لوېديځو او ختېځو برخو ووېشه، او هر دولت د هېواد په ځانگړې برخې خپلې منگولې ښخې کړې. په دې توگې له ۱۵۱۰ تر ۱۷۴۷ ز کال پورې پر هېواد باندې د گاونډيو هېوادونو د واکمنۍ سېورۍ خپور وو او لړۍ يې تر نېږدې دوه نېمو پېړيو پورې وغځېدله.

که پر هېواد باندې د مغولو او تيموريانو د برلاسې پيرونه يوې خواته کښېږدو او د دوه نېمو پېړيو په اوږدو کې د هېواد تجزيې ته پاملرنه وکړو نو وبه وينو چې افغان پرگنې د ترک نژادو گاونډيو د تجزيې په ټول پير کې دومره وزبېښل او وځپل شوي لکه چې د غمنو يوه دانه دې د ژرندې په دوه وو ډبرو کې بنده پاتې شوې وي. کډوالو کېږدۍ مېشتو زور واکانو د هغوی پر ځان ، مال، پت، درنښت او آبرو په پرله پسې ډول تېري کړي دي.

د صفوي واکمنۍ پر مهال ددولت رسمي مذهب د « تشيع» مذهب وو چې له سياسي او مذهبي زور واکۍ ، خپلسريو او تولوژنو سره بدرگه وه. غير شيعه قومي او مذهبي ډلې د صفويانو له خوا په کلکه سپکېدلې، کړېدلې او ان

---

[1] کورگان : توركي – مغولي وييكی دی او هغه چا ته وبل کېږي چې نه يوازې پلار يې پاچا وي بلکه مور يې هم د پاچا لور اوسي، په ترکي کې هغه چا ته وېل کيږي چې هم يې نسب په سلاطينو پورې تړلی وي او هم د زومتوب تړاو ولري او په مغولي کې هغه چا ته وېل کېږي چې د چين د خاقان لور يې په نکاح کې وي. له بلې خوا گورگان هغه چا ته ويل کېږي چې د چړچو، عيش او سوکالۍ لياقت او وړتيا ولري. د گوډ تيمور لقب گورگان وو او هر جليل القدر پاچا ته گورگان وېل کېده. ـ ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډلوژنو سره مخامېدلې، او د وژنو، شکنجو او ځورلو له لارې تر هغو اړ کېدلې چې د خپلې شتمنې د مصادرې له وېرې خپل مذهب بدل او شيعه مذهب ومنې.

ډاکټر شفا په خپل کتاب « تولد ديگر» کې لېکي : « د صفويانو ټول پير له پېله تر پايه په وينه بهونې، بېرحمۍ، وروړ وژنې، فساد، مکر، ټگۍ برگۍ او مطلقې خپلسرۍ تېر سو چې عملاً هر ډول اخلاقي او انساني اصول يې تر پښو لاندې کړي ول... د شاه اسماعيل صفوي پر مهال داسې کسان موندل کېدل چې انسانان به يې ژوندي خوړل، دا کسان د « قورچي » په نامه ياد يدل، همدغو قورچيانو سني مذهبه وزبک شيبک خان په غاښونو ټوټې ټوټې کړ، د قورچيانو آمرينو د همدغه شيبک خان د سر کوپړۍ په سرو زرو وپوښله چې د شاه اسماعيل د شراب څښلو پياله سي. د همدغه شاه لمسي، دوېم شاه اسماعيل خپل شپږ واړه ورونه چې بوه يې لا د خپلې مور شېدې رودلې ووژل او د پېنځلس تنو سپېڅلو صوفيانو سرونه يې په بوې ورځې کې پرېک کړل. لومړي شاه عباس خپل پلار د هغه د مرگ تر وروستۍ سلگۍ پورې په زندان کې وساته، د خپل مشر زوی سر يې پرېک او د خپلو نورو دوه وو زامنو سترگې يې ړندې کړې. د هغه ځای نېوونکی شاه صفي د صفوي کورنۍ په منځ کې تر ټولو ډېر وېنې څښونکی شاه تېر سوی، نوموړي خپله مور، ښځه او شېدې رودونکی زوی او ړوند اکا ووژل او د خپلې کورنۍ لسگونه تنه غړي يې ړانده کړل. د صفوي شاهانو په منځ کې له وروستي شاه پرته نورو ټولو په شراب څښلو کې زښت ډېر افراط وکړ، څلورو تنو شاهانو خپل ژوند د ډېرو شراب څښلو له کبله له لاسه ورکړ. [1] »

د سلطان حسين صفوي د پاچاهۍ پر مهال د شيعه روحانيت مذهبي تعصبات دې کچې ته لوړ شول چې د ۱۸ پېړۍ له پېل وروسته د فارس ــ ژ / ايران په اکثريتو تابعه ولاياتو کې مذهبي لړکېو پاڅون ته لاس واچاوه او ښورښونه پېل شول. په ۱۶۹۹ ز کال کې بلوڅانو پر کرمان بريد وکړ، په

---

[1] ـ ډاکټر شفا، تولدی ديگر، ۱۹۹۹ چاپ ، ۴۳۲ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۰۱، ۱۷۰۳ او ۱۷۰۹ زو کلونو کې د کندهار پرګنو پاڅون وکړ. او په ۱۷۱۲ ز کال کې د داغستان لزګیانو او د قفقاز ارمنیانو پاڅون وکړ. په ۱۷۱۵ ز کال کې سُني کُردانو ستر پاڅون پیل کړ. په ۱۷۱۶ ز کال کې د هرات ابدالیانو او په همدغه کال کې د ختیځ ګُرجستان خلکو هم پاڅون وکړ. په ۱۷۲۱ ز کال کې لُړانو، او په ۱۷۲۲ ز کال کې د مسقط عربو د بغاوت سرونه پورته کړل. په همدغه کال کې په شیروان کې د سنیانو مذهبي غیرت په خوټېدو راغی او د حاجي داؤود مدرس تر مشرۍ لاندې د شیروان د شماخي کرسي پر ښار بې برېد وکړ، په دې پېښې کښې د څلورو تر پېنځو زور شیعه ګانو غاړې له چړو تېرې شوې او پاڅونوالو د عثماني تورکیې په ملاتړ شعارونه ورکړل. په همدغه کال کې په کرمان کې د میرزا داؤود لمسي سید احمد خان د غورځنګ مشري کوله او په بلوڅستان او بنادرو کې سلطان محمد چې په خر سوار مشهور وو، د غورځنګ د ډګر بې سارې مشر وو[۱] .

د همدغو دوه نیمو پېړیو په اوږدو کې که د صفوي دولت تر واکمنۍ لاندې د هېواد لوېدیځې برخې د مذهبي تعصب په اور کې سوځېدلې، د هېواد په ختیځو برخو کې هم د هند د بابریانو د نیواک او واکمنۍ په ټول پړاو کې د جګړې او تېریو د اور لمبې بلې وې. د بابر د کورنۍ بنسټ ایښودونکي، بابر، خپله هره بریا په سر پرېکولو او د مغلوبه قومونو په لوټ او د هغوی له ککرو څخه د کوپړۍ منارونو په جوړولو لمانځله او د خپل کتاب په یادښت لیکونو کې به یې ریکارډول تر څو خپلو ځایناستو او لمسیانو ته داسې یادونه په میراث پرېږدي چې وربانديې وویاړي؛ بابر د خپل چلند همدا لړۍ د خپلو لښکري یونونو په لړ کې له کابله تر ننګرهاره او له هغه ځایه تر سوات او باجوړه، تر غزني، کلات او مقر پورې له استثناء پرته د پښتنو پر وړاندې پلې کړه او خپلو وارثینو ته یې همدا دود په میراث پرېښود. ( وګورئ : توزُک بابري)

له ۱۵۵۷ ز تر ۱۶۳۷ ز کال او ورپسې له ۱۶۶۶ ز نیولې تر ۱۶۷۲

---

[۱] ـ لکهارت، انقراض سلسله صفویه ،تهران۱۳٦٤، ۱٤٦پ ، جی ، پی، تیت، سیستان ، ۱ ټوک ۱۵۲ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ز کال پورې قبائـیلي وګړو د بابر د ځایناستو پرمهال له کابله تر پېښوره د ۹۰ کالو یا د درو نسلونو په اوږدو کې د بابریانو د نیواک او واک پروړاندې په پرله پسې ډول توري ووهلې ؛ په دغو جګړو کې نـېږدې سلو زرو انسانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ، خو د بابري واکمني په بل اړخ په بلې وینا له کابله نـېولې تر بدخشانه او کندهار کې بابري شهزادګیو د خپل نـېواک په ټول پړاو کې د یو بل پر وړاندې د ناخـېږېو په کولو یو بل ته توطئـې جوړولې او د یو بل پر وړاندې به یې لښکرونه راوایستل؛ په دغو لښکري یونونو کې به لښکروالو د یو بل له پـېژندنې پرته د هغه یا دده شهزادګي په ګټې جګړې کولې او د خپلو سرونو په بایلودلو به د شهزادګانو د سترواکۍ د هوس د لومو بلهاریان کـېدل.

د همدغو دوه نـېمو پـېړیو په اوږدو کې افغان پرګنې که په لوېدیځ، ختـېځ، که په شمال او یا سویل کې وې ټولو په ځلونو ځلونو د پردیو د برلاسۍ او واکمنۍ پر وړاندې پاڅون کړی او سره له دې چې دولتي ځپونکي ځواکونه په څوڅو ځلو د غېر پوځي وګړو په پرتلې ځواکمن او په پیاوړو وسلو سمبال ول بیا هم له هغوی سره لاس او ګرېوان سوې دي. له دې چې دغه پاڅونونه په خپل سر ول او هـېڅ ځانګړې تګلاره او لارښوده تـئوري یې نه درلودله نو وګړي د مذهب او بـېلابـېلو مذهبي ډلو تېلو تر سیوري لاندې راټولـېدل. په دغو ډلو کې کولای سو د افغانستان په ختـېځ کې د پیر روښان تر مشرۍ لاندې له پرګنـېز غورځنګ څخه یادونه وکړو چې د درو نسلو په اوږدو کې یې خپل غورځنګ او تګلارې ته دوام ورکړ، ورپسې له ۱۶۶۷ ز کال څخه تر ۱۶۷۲ز کال پورې د مغولي دولت پر وړاندې د خوشحال خان ختک، ایمل خان مومند او دریا خان اپریدي غورځنګونه یادولای شو، دا غورځنګونه دومره پیاوړی ول چې اورنګزیب دې ته اړ سو چې په خپله د خوشحال خان پر وړاندې جګړې کې ګډون وکړي او د خپل شخصیت د دروندوالي پر بنسټ د دولتي ځواکونو جنګي مورال د غورځنګوالو پر وړاندې پیاوړی کړي؛ د هند مغولي دولت اړ سو چې د اوضاع د کنترول لپاره د پـېښور، ننګرهار او کابل په ښارونو کې خپل ځواکونه د غورځنګوالو د بـېړنۍ ځپنې لپاره د تیارسۍ په حال کې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدغو دوه نیمو پیړیو په پیر کې او د صفوي کورنۍ د وروستي پاچا، سلطان حسین صفوي د واکمنۍ پر مهال ول چې د کندهار خلکو د میرویس خان هوتکي تر مشرۍ لاندې پاڅون وکړ او د صفوي لښکر د ۳۰ زرو سر تیرو غاړې یې تر وروستي سرې پورې د چړو له خولو تیرې او د فارس- ژ / ایران د صفوي دولت له منګولو یې خپله آزادي اعلان کړه.

د همدغو دوه نیمو پیړیو په پیر کې او د همدغه پاچا سلطان حسین صفوري د واکمنۍ پر مهال ول چې د هرات خلکو د ابدالیانو تر مشرۍ لاندې پاڅون وکړ او د فارس- ژ/ ایران له صفوي دولت څخه یې خپل سیمه ییز استقلال واخیست : (۱۷۱٦-۱۷۳۱) ز کال.

د همدغو دوه نیمو پیړیو په پیر کې او د همدغه پاچا سلطان حسین صفوري د واکمنۍ پر مهال ول چې د خراسان په تون کې ملک محمود سیستاني د فارس – ژ / ایران د صفوي دولت پر وړاندې پاڅون وکړ او نه یوازې په ټولو جګړو کې یې ځپونکي دولتي ځواکونه مات کړل بلکه مشهد یې ونیو او د خپلې واکمنۍ پلازمېنه یې وټاکه او د کیانیانیو د ۲۵ پیړۍ لرغوني دود په شان یې تاج پر سر کښېښود او ځان یې د خراسان پاچا ونوماوه : (۱۷۲۲-۱۷۲۷) ز کال .

د همدغو دوه نیمو پیړیو په پیر کې او د همدغه پاچا سلطان حسین صفوري د واکمنۍ پر مهال ول چې د کندهار وګړي د شاه محمود هوتکي تر مشرۍ لاندې د اصفهان تر زړه پورې پر مخ لاړل او تر هغو پورې په پښو کښېنه ناستل چې دولت یې ورته ړنګ نه کړ: (۱۷۲۲- ۱۷۲۹) ز کال

د همدغو دوه نیمو پیړیو په پیر او د نادرشاه افشار د واکمنۍ پر مهال ول چې د بلخ، اندخوی، میمنې، غور، بادغیس، سیستان او د کابل د سیند په اوږدو کې پرتو پښتني قبائیلو د نادر افشار د ځپونکې واکمنۍ پر وړاندې پاڅون وکړ او له ځپونکو دولتي لښکرو څخه یې قرباني واخیستې او خپله یې هم قربانۍ ورکړې : (۱۷٤۰- ۱۷٤٦)

په پای کې د همدغو دوه نیمو پیړیو په لړ کې ول چې بیا هم د کندهار د پرګنو له منځه د احمد خان دراني په نامه ځوان، هوښیار او ځیرک مشر سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راپورته کړ او د خراسان د کنډوالو پر سر چې په تېرو شپږو پېړېو کې بې خپل نوم او حدود و ثغور له لاسه ورکړي ول، د افغانستان په نامه د نوي هېواد بنسټ کښېښود او زموږ خلک د خپل برخلېک د ټاکنې څښتن او واکمن شول، له بې هویتۍ وژغورل سول او خپل له لاسه تللی نوم، نښان او برم بې بېرته راژوندی کړ. دا دی اوس له هغې ورځې ۲۶۰ کال تېر شوي چې افغانستان د نړۍ د خپلواکو هېوادونو په کتار کې په لوړه غاړه ولاړ او د نړۍ په نقشې کې بې ځای د یوه اوسپنېز موټي په شان څرګند او روښانه دی.

## د احمد شاه درانی(سدوزی) ددولت ځانګړتیاوې



د اتلسمې زېږدېزې پېړۍ څلورمه او پېنځمه لسېزه د نادر شاه افشار د سلطنت له پراو سره سمون خوري. دغه پراو د ځمکوالی له وحشي زبېښناک، د پرګنو له نېغ لوټ او تالان، د مالیاتي سیستم له ځور او زور زیاتي، د زور واکۍ له بوږنوړي تاوترېخوالي او وحشتناکو وژنو، د کوپړۍ منارونو له جوړولو او نورو هر اړخېزو ورانېو سره بدرګه وو.

د ۱۷۴۰ ز کال له پېله نېولې د نادر تر مرګه (۱۷۴۷ ز کال پورې) د افغانستان د کابل د سیند د غاړو په اوږدو کې پرتو پښتنو، تاجیکو، هزاره وو، چارایماقو، وزبکو او تورکمنو قبائیلو او ټبرونو، په بلخ، کندوز، اندخوی، سرپل، شبرغان، هرات ، بادغیس او سیستان کې ډېره پرګنو د نادر پر وړاندې د پاڅون بیرغ پورته کړ؛ سره له دې چې د نادر ځپونکو ځواکونو دغه پاڅونونه په وینو کې لیت پیت کړل، مګر نادر هېڅکله په دې بریالی نه سو چې زموږ د وګړو د خپلواکی غوښتنې پیاوړې روح ځانته را ایل کړي، که په یوه ځای کې یو پاڅون د شلګرو، تورو او توپونو په زور د لند مهال لپاره غلی کېده نو په بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتې کې به بل پاڅون سر راپورته کړ او تر یوه مهاله به یې خپلسرو زورواکو واکمنو ته اوبه تر ورخه ورتیرې کړې .[1]

په دغسې په اړدوړ دکې، کړکیچنې او بې ثباتې اوضاع کې په میلیونونو پرګنو د ځمکوالي ( فیوډالي) استبداد په واکمنۍ کې د زړه له کومې بدلون غوښت ، په پای کې نادر شاه افشار د خپل دربار د سردارنو په لاس ووژل سو؛ د نادر افشار له وژل کېدو سره جوخت د هغه دولت هم و پرځېد او په سېمې کې د افغانستان وګړي لومړنۍ پرګنې وې چې د استقلال او خپلواکۍ بېرغ یې پورته او د احمد شاه ابدالي تر مشرۍ لاندې یې د خراسان پر کنډوالو چې له شپېږو پېړېو راهیسې یې خپل حدود و ثغور له لاسه ورکړي ول د افغانستان په نامه د نوي هېواد بنسټ کېښېښود؛ له همدې نېټې وروسته زموږ ولس د خپل برخلیک څښتن شو، له بې هویتۍ وژغورل سو او بېرته د له لاسه تللي نوم ونښان او عزت څښتن سو. دا دې له هغې نېټې ۲۶۰ کاله تېرېږي چې افغانستان د نړۍ د خپلواکو هېوادونو په کتار کې په لوړه غاړه ولاړ دی او د نړۍ په نقشې کې یې ځای د یوه پولادي موټي په شان څرګند او روښانه دی.

احمد شاه ابدالي په ۱۱۳۵ هجري کال کې چې له ۱۷۲۲ زیږدیز کال سره سمون خوري، په هرات کې زیږېدلی دی، یو کلنی ته لا نه وو رسېدلی چې پلار یې محمد زمانخان له نړۍ سترګې پټې کړې؛ ۸ یا ۹ کلن وو چې له خپل ورور ذوالفقار خان سره له هراته، کندهار ته راغی، کندهار ته له رسېدا سره سم له خپل ورور سره یو ځای د شاه حسین هوتکي زندان ته ولوېد چې له ۱۷۳۱ ز کاله نېولې تر ۱۷۳۸ ز کال پورې په کندهار کې زنداني وو. کله چې په ۱۷۳۸ ز کال کې نادر افشار کندهار ونېو نوموړی له خپل ورور ذوالفقار خان سره یو ځای له زندانه خلاص او مازندران ته تبعید سو. پر دغه مهال هغه ۱۶ یا ۱۷ کلن وو، سوبمن نادر له هندوستانه بېرته راستون سو او په مشهد کې یې خپلې سوبې په جشنونو ولمانځلې، (۱۱۵۳ قمري = ۱۷۴۰ ز کال ) وو

[1] - سیستاني،" قیام های مردم افغانستان بر ضد نادرافشار"، د ۱۳۶۸ ل کال چاپ . ۷ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې احمدشاه د نادر په لښکر کې ګډون وکړ،او د ارمنستان، داغستان، ایروان او آذربائیجان په ایالاتونو کې بې د نادر د سوبو په جګړو کې فعاله ګډون وکړ، د همدغه فعاله ګډون له کبله ول چې د نادر دومره پاملرنه بې ځانته راواړوله چې نادر د خپل ساتونکي ګارډ د افسر او د افغان ځواکونو د مرستیال په توګې و ګوماره.

ابدالي احمد شاه د نادر تر مړینې « ١٧٤٧ ز کال پورې» د سترواکۍ رموزونه زده کړل او د هرې ورځې په تېرېدلو د افغان ځواکونو په منځ کې بې خپل ګرانښت او منښت تر لاسه کاوه. وروسته له دې چې نادر د خپل دربار د سردارانو له خوا ( چې محمد خان قاجار او ملګرو بې هم په کې ګډون درلود) په خبوشان کې ووژل سو، دا احمد خان ابدالي او د افغان ځواکونو سران ول چې د نادر حرم بې د نورو لښکریانو له زور زیاتي او تېري څخه وژغوره، د همدغه غیرتي خدمت په بدل کې ول چې د نادر د حرم مېرمنې د « کوه نور الماس» سره له یوه بل ګران بیه فخراج سره احمدخان ته ډالۍ کړ ، له دې پېښې وروسته احمد خان د کندهار پر لور راوخوځېد.[1]

د حاجي جمالخان بارکزي، محبت خان پوپلزي، موسی خان اسحاقزي، نور محمد خان علیزي، نصرالله خان نورزي[2] په ګډون افغان مشرانو په کندهار کې د شیر سرخ په مزار کې له خپل منځه د یوه ملي مشر د ټاکلو په موخې یوه جرګه جوړه کړه؛ له دې چې د خانانو په منځ کې هر خان د واک د راخپلو په لټې کې وو نو یو بل به بې رداوه، دې جرګې تر اتو ورځو پورې دوام وکړ، خو جرګه د اتو ورځ شننو او وراشو په ترڅ کې کومې پایلې ونه رسېده، جرګې په خپلې نهمې ورځ پرېکړه وکړه چې د شیر سرخ د مزار مجاور صابر شاه چې یو روحاني سړی وو په خپلو منځو کې د حـکـم په توګې وټاکې، جرګې پتېیلې وه که صابر شاه هر څوک ټاکي نو ټول به هغه ته بیعت کوي. دا صوفي مشربه درویش هم له خپله ځایه راپورته سو، په ورڅیرمې سېمې کې بې د غنمو یو

[1] ـ ډاکتر محمود افشار یزدي ، افغاننامه ، ١ ټوک ، ١٨ پاڼه
[2] ـ تأریخ سلطاني ، ١٢٢ پ

وَړی را واخېست او بېرته د جرگې منځ ته راغی، په جرگې کې د ټولو ناستو کسانو سترگو دغه درویش ته رغړېدلې او دې ته بې کتل چې چا ته به ورنېږدې کېږي. صابر شاه چې لېدلي ول په دې جرگې کې یوازېنی ناست سړی چې ډېرې خبرې نه کوي، احمد خان دی، نو درویش هغه ته ورنېږدې سو او د غنمو وَږی یې د احمد خان پر دستار باندې کېښېښود او وېې ویل « دا ستا جیغه ده او ته دُرّانی پاچا یې!». په جرگې کې تولو ناستو کسانو د احمد شاه ټاکنه ، په خپلو مبارکیو لا پرتمینه کړله. ( د ۱۱۶۰ هجري کال د رجب مېاشت، = چې د ۱۷۴۷ ز کال د اکتوبر له مېاشتې سره سمون خوري.). هغه پر دغه مهال ۲۵ کلن وو[1] . د ابدالي سدو زو د قبیلې احمد شاه د زمانخان زوی په ۱۷۲۲ ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دی ، مور یې زرغونه نومېدله چې د عبدالغني خان الکوزي خور وه.

احمد شاه خپل کار د قومونو د مشرانو د یوې سلاکارې شورا په جوړولو پېل کړ. د احمد شاه د دولت د ادارو په مشرتابه کې یو شمېر سرانو او خانانو ځانته القاب درلودل چې دېر مهم القاب یې دا ول : اشرف الوزراء، مختارالدوله، وکیل الدوله، نظام الدوله، معتمدالدوله، مخلص الدوله، شاه دوست، شاه پسند، شاه ولي، عرض بیگي، ضبط بیگي، ایشیک اقاسي، قوللراقاسي، د خانانو خان، خان علوم او قاضي القضات، امین المک او نور .[2]

احمد شاه دُراني تر وسې وسې هڅه کوله چې ځمکوال یا فیوډالان د هغوی په قبیلوي سېمې کې په حکومتي چارو کې ونه گوماري، پر ځای به یې

---

[1] - فیض محمد کاتب، سراج التواریخ، ۱ ټوک، ۱۲ پاڼه، گنداسنگهـ، درانی احمد شاه، پښتو ژباړه ، نصرالله سوبمن ۱۳۶۶ لمریز، ۲۵ پاڼه؛ پښتانه د تأریخ په رڼا کې : د کتاب لېکوال ظفر کاکا خیل ، نوموړی د کتاب په ۸۵۷ پاڼې کې چې ۱۹۶۵ ز کې چاپ شوی وایي : « د احمد شاه د ټاکنې پرمهال پرېکړه وشوه چې پادشاهي دې د سدوزیو او وزارت « صدارت» دې د بارکزیو وي، ددې خبرې په منلو سره احمد شاه پاچا سو او ټولو مشرانو ورته مبارکي ووېله.» مگر د دراني احمد شاه د دولت پر مخ بېولو لړۍ پر دغسې یوې پرېکړه د تائید گوته نه ږدي، که داسې یوه پرېکړه ریښتیا وای نو احمد شاه نه شوای کولای د جرگې د پرېکړې برخلاف هم سلطنت او صدارت دواړه د خپلې قبیلې په منگولو کې متمرکزه کړي.

[2] - پوپلزایي، عزیزالدین وکیلي، تیمورشاه دراني،چاپ ۱۳۴۶، له ۱۳۳، ۱۲۷ پاڼو وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دولت تنخواه خواره حاکمان چې له منځنۍ پاړکې « طبقې» څخه ول په قبائیلي سېمو کې په کار ګومارل . [١]

کله چې نامتو انګرېز څېړونکي الفنستن د افغانانو په اړوند خپل تر ټولو جامع کتاب لیکه، نو د سوېل لوېدېځو افغانانو د وراشې په لړ کې احمد شاه بابا د معاصر افغانستان بنسټ اېښودونکي په نامه یادوي او وايي : « احمد شاه په خپلې لوړې پوهې د یوې سترواکۍ بنسټ کېښېښود. کله چې له دې نړۍ څخه یې سترګې پټولې د متصرفاتو لمنه یې د خراسان له لوېدېځه نېولې تر سرهند او له آمو نېولې تر هند پورې پراخه وه، هغه دا ټول متصرفات یا د ټرونونو او یا یې عملاً ( د تورې په زور) تصرف کړي ول. [٢] »

جنرال « فریه» وایي : « افغانانو د احمد شاه د سلطنت تر دَورې پورې هېڅکله د استقلال خوند نه وو لیدلی، له دې کبله ګومان کېږي چې قومي لېوالتیاوې او کښېښونه دې په همدې دَورې کې غوړېدلې وي. د بیان او عمل هغه آزادي چې افغانان یې په دغه مهال لاسته راوړي قویاً ددوی د خپلواکۍ د روحیې د وَدې او د کلیوالي غرور لامل ګرځي چې لا تر اوسه د هغوی د ځانګړتیا یوه برخه ده ـ یو قوم چې د نسلونو نسلونو په اوږدو کې محکوم وو، یو ناڅاپه په یوه حاکم قوم بدلېږي. دا سمه ده چې دغه یو ناڅاپه اوښتون او بدلون د میرمحمود پر مهال رامنځته کېږي، مګر د سدوزي احمد شاه پر مهال پراختیا مومي؛ دغه اوضاع ددې لامل ګرځي چې پر خپل ځان د ډاډ او اعتماد روحیه رامنځته او داسې یو ډول تفوق غوښتنې او لوړتیاپالنې ته لاره پرانېزي چې پخوا تردې یې شتون نه درلود؛که په لنډېز یې ووایو، دقومي تفکر شکل او بڼه رامنځته کېږي.» [٣]

## د احمد شاه دراني د دولت لومړیتوبونه :

[١] ـ غبار، افغانستان در مسیر تأریخ، ٣٥٨-٣٥٤ پاڼې

[٢] ـ الفنستن، افغانان، ژباړه : آصف فکرت، چاپ مشهد ایران، ٤٩٦ پ

[٣] ـ فریه، تأریخ افغانها،٧ څپرکی ،ژباړه : سهی ل سبزواري، سایت آریائي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د پاچا له ټاکل کېدو وروسته احمد شاه ابدالي د خپل دولت د ټېنګښت لپاره دوه مهمې مسألې تر مخ درلودلې : لومړی د قبائیلو سمبالول او د هغوی خوښ ساتل او دوېم د ملي یووالي او د افغان واکمنۍ د لمنې د پراختیا لپاره د یوه ځواکمن او سمبال اردو رامنځته کول.

دا سمه ده چې درانی احمد شاه د نادر شاه افشار د دولت په ځېر د ختېځ دوله زورواک « مستبد» دولت مډل عملاً لېدلی وو خو هغو شرایطو چې د نادر د تاج په سر کولو پر مهال په فارس –ژ/ ایران کې شتون درلود دلته په افغانستان او د افغانستان د هغه مهال په پلازمېنې کندهار کې یې شتون نه درلود.

په بلې وینا په فارس – ژ / ایران کې خلک له پېړیو پېړیو را په دېخوا په دې روږدي شوي ول چې یوه زور واکه ځمکوال نظام ته غاړه کښېږدي او نادر افشار هم د یوه ټینګ او منظم دولت پر ګدۍ پرته له کومې ستونزې او مخالفت ډډه ولګوله او همدغو شرایطو د نادر پر مخ د راتلونکو برياوو لپاره اړین امکانات پرانېستل. خو درانی احمد شاه دې ته اړ وو چې د خپل سلطنت بنسټ دداسې په آزادۍ مینو جنګیالیو پرګنو په منځ کې ټېنګ کړي چې بېلابېلې قومي – قبیلوي ځانګړتیاوې او تقریباً دسپلین نه منونکي خصوصیتونه یې درلودل او که د نادر شاه دولت ته د فارس د وګړو اطاعت پرتله کړو نو دوی د لږې تجربې خاوندان ول.

احمد شاه درانی پوهېد چې مرکزي ځواک ته په جبري اطاعت، د همداسې پرګنو اړ ایستل ددې پر ځای چې ښې او د خوښۍ وړ پایلې ولري، کېدای شي دده د دولت پر وړاندې د قبائیلو او قومونو د سرانو کرکه، انزجار او کینه راوپاروي او دا هغه څه ول چې احمد شاه ورڅخه په کلکه بېزاره وو. ځکه هغه پوهېده چې د افغانانو په منځ کې د یوه هېوادوال کینه او برلاسي د بل هېوادوال پر وړاندې په ځلونو ځلونو له هغې کرکې او کینې څخه خطرناکه ده چې د یوه بل پرَدي زورواکي حاکم پر وړاندې یې په زړه کې نیسي. له دې کبله احمد شاه له هماغې لومړۍ شېبې اړ وو چې خپله لاره غوره او وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې چې احمد شاه افغان وو، او د افغان ټولنې په قبیلوي ځانګړتیاوو او قومي غوښتنو ښه خبر وو نو په لنډې مودې کې د لومړۍ ستونزې په هواری بریالی شو. په دې مانا چې احمد شاه پوهېده چې قبائیل له خپلو اړوندو ارزښتونو څخه په کلکه دفاع کوي نو ده هم د قومونو او قبائیلو د سرانو میراثي څښتونلي چې په ډله کې یې ددوی تیول او جاګیرونه هم راتلل مجاز وبلل، د هغوی مستمرې معاشونه یې ورزیات کړ، اعزازي القاب ، ملکي او پوځي منصبونه یې د هغوی په کورنېو کې ور ډېر کړل او په دې توګې یې د هغوی ملاتړ او مینه ترلاسه کړه. د هغوی د لا خوشحالولو او راضي کېدلو لپاره یې د قومونو د مشرانو له منځه یوه نهه کسېزه شوری جوړه کړه چې د هغوی له سلا او مشورې پرته به هېڅ سیاسي او مهم پوځي ګام اوچت نه کړي.[1]

جنرال فریه وایې : احمد شاه له هغو نهو تنو سردارانو څخه یوه شوری جوړه کړې وه چې له ده سره یې یو ځای د نادر په لښکر کې خدمت کاوه او ددولتي سکالو په اړوند یې تل ور سره سلا مشوره کوله. احمد شاه هېڅ مهمه سکالو د هغوی له تصویب پرته نه پلي کوله او هغوی ته هېڅ ورکړل شوې ژمنه یې تر پښو لاندې نه کوله. لنډه دا چې د هغه د حکومت بڼه له ډېرېو اړخونو د مطلقه سلطنت په پرتله فدرالي جمهورۍ ته ورته وه. له هرې سوبې او بریا وروسته به یې د تر لاسه شویو ولجو او غنایمو ډېرې او لویه برخه د خپلو سرتېرو په منځ کې وېشله؛ هغه هېڅکله له خپلو رئیسانو سره په متکبرانه ژبې او یا پر هغوی د لوړ او برلاسي لاس په ښولو چلند نه کاوه او نه یې غوښتل د هغو کسانو د احساس د ټپي کېدلو لامل شي چې یو وخت یې ورسره برابر دریځ درلود او دی یې د شاهي ځواک ـ دریځ ته لوړ کړی وو.[2]

د سلاکارې شورى له رامنځته کولو وروسته احمد شاه دراني د یوه منظم او پیاوړي اردو د جوړولو تکل وکړ، اردو یې په دوه وو برخو ووېشله، لومړۍ

---

[1] ـ ګندا سینګهـ ،درانی احمدشاه ،ژباړه : نصرالله سوبمن،۱۳۶۶، ۴۵ـ۴۶ پ

[2] ـ فریه، تأریخ افغانها،۷ څپرکی ،ژباړه : سهیل سبزواري، سایت آریائي

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه بې دايمي او منظمه برخه وه چې له دولت څخه بې معاش اخيست او بله برخه بې غير دايمي او غير منظمه برخه په بلې وينا قومي مليشابې څواکونه ول، د قومونو او قبائيلو سرانو به دولت ته د خپلو اړوندو جاگيرونو او تيولونو په بدل کې په تاکلې شميرې جنگيالي د خدمت لپاره چمتو کول.

د دراني احمدشاه د اردو دايمي څانگه د « غلامخانی» په نامه يادېدله او له دولت څخه به بې وسله او تنخواه تر لاسه کوله ، دا څانگه به تل پوځي خدمت ته چمتو وه. احمد شاه د خپلې تگلارې دوېم عنصر د نادر شاه افشار له چلند او د هغه په اردو کې د خپلې شخصي تجربې پر بنسټ تر لاس لاندې نيولی وو. افشاري پاچا په خپل ساتندوی گارد کې غير فارسي – ژ/ ايراني قبائيل لکه افغانان، بلوڅان او وزبکان ځای پر ځای کړې ول. احمد شاه بابا هم د غلامخانې دلې له غير پښتنو دلو څخه جوړې کړې ، د نادر افشار د مهال په پوځي ښوونې او روزنې سمبال او د جگړې د ډگر هغه متجرب قزلباش سپاهيان بې د غلامخانی په دلې کې ځای پر ځال کړل چې نادر افشار په کابل او پنجاب کې پرېښنودلي ول[1] . له دغه گام څخه د احمد شاه موخه د خانانو د اغېز له کړی دباندې د سرغاړو قبيلوي رئيسانو پر وړاندې د دباو دداسې پوې هميشنی وسيلې درلودل ول چې په آسانی بې غاړه مرکزي دولت ته نه ټېټوله.

تل په وسلو سمبال قبائيل، مرکز او شاه ته د تبعيت په منلو سره سره، بيا هم د مرکزي سياسي ځواک د تجزيې بنسټيز لامل گڼل کېدل. له همدې کبله ول چې احمد شاه دراني د افغان قبائيلو او ټبرونو سران او مشران په دربار او پلازمېنې کې راټول کړل، هغوی ته بې د جاگير، تيول، اعزازي القابو، مستمري معاشونو، د دسترخوان د لگښتونو او د نورو منصبونو د ورکړې او هم د هندوستان په گټورو جگړو کې د هغوی د سمبالولو له لارې له خپل قوم، طايفې او قبيلې څخه لېرې دومره په ځان پورې راټول او تاوده وساتل چې په لنډ وخت کې بې په لوېديځ کې له نيشاپور او سيستانه نيولې په ختيځ کې تر پنجاب او کشمير پورې او په شمال کې د آمو له سينده نيولې بيا په سويل کې د

---

[1] ـ فرهنگ، مير محمدصديق، افغانستان در پنج قرن اخير، ١٣٦٧، د امريکا چاپ ، ٣٨ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمان تر سمندرګي پورې سیمې د بوې لوبې سترواکۍ په کړۍ کې د خپل قلمرو برخې وګرځولې.

خو کله چې د قبائـیلو سران او مشران د دولتي مقاماتو په بنستېـزو دریځونو کې ځای پر ځای شول، د وخت په تېـرېدلو کرار کرار هغه پخواني مشران نه ول چې نور دې د خپلې قومي او ټبرنۍ اغېـزې تر سـېوري لاندې واکمني وکړي؛ بلکه په ډېر لنډ وخت کې پر ځمکنیو تیولونو د منګولو په ښخولو او د قبائـیلو د نا وېشل شوېو ځمکو په غصبولو او نورو لوټماریو په خپله په لویو ځمکوالو او ملاکانو بدل شول، درباري امتیازات او اعزازي القاب بې په یوه بڼه نه په بله بڼه په خپلو کورنـېو کې په ارثي ډول وساتل؛ په دې توګې د سلطنتي کورنۍ تر څنګ بو شمـېر اشرافي کورنـېو سر راپورته کړ چې د فتوحاتو له پړاو وروسته بې پر مرکزي دولت ودانګل، شاهان او شهزادګان بې د خپلو غوښتنو او هېـلو د لاس او لوبې وسایل وګرځول او د دولت ځمکواله او قبیلوي خټه او تومنه بې په دې بڼې واړوله چې په پایله کې بې د سدوزیو د سترواکۍ ډېرې د پام وړ برخې له لاسه ورکړې. غبار واېې : احمد شاه بابا د قبائـیلو سران او ځمکوال په دې ډول راضي وساتل چې هغوی ته بې په ملکي او پوځي چارو کې ګډون ورکړ، په غیر مؤقتو جرګو کې به بې د هغوی نظر ته ډېره پاملرنه کوله او په دې توګې بې د اغېزمنو کسانو، خانانو او د قومونو د سرانو پښه په مهمو پوځي ـ سیاسي ګامونو کې ښکېـلوله او هغوی به بې په جنګي سفرونو کې بوخت ساتل. همدا لامل وو چې له بوې یا دوه وو پېـښنو پرته د هغوی له سرغاړۍ سره مخامخ نه سو. په ۱۷۴۹ ز کال کې بې د خپل ماما عبدالغني خان او څو تنو نورو اغېـزمنو توطئـه ګرو په اعدامولو د خپل دولت راتلونـکې له لوبو ځمکوالو سره روښانه کړله.

## د احمد شاه بابا سیاسي پوهه ، لیاقت او شخصیت :

پوهاند حبیبي د احمد شاه د شخصیت او سیاست په تړاو لـېـکي : « احمد شاه، متشرع، دیني احکامو ته پالیال، حنفي مذهبی او عالم شخصیت وو. هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل مهال دوه وو تنو عرفاوو ته ارادت درلود : شاه فقیر الله حصارکي جلال آبادي چې په شکارپور کې خاورو ته سپارل شوی او میا محمد پېښوری ( چې سترګې یې په ۱۱۹۰ قمري کال کې له نړۍ پټې کړې دي). احمد شاه تل په سیاست کې د اسلامي اخوت، نرموالي او دوستۍ پلوی وو. د خپل عسکري ځواک او اقتدار او د شهنشاهۍ له ځواکمن پرتم سره سره یې په ډهلي، بخارا، خراسان، بلوڅستان او سندهـ کې د حکامو متکرره سرغاړی چلند او سرغاړې کړه وړه بخښلي او تاجونه یې ورکړي دي، ان دا چې د بصیرت څښتانو د احمد شاه دغه پراخ لېد لوري او تاج بخښوونکي چلند ته هک پک پاتې شوې دي. شاه ولي الله ډهلوي وايي : د ابدالي شاه دغه چلند « ددې مادي دنيا د چارو په حساب نه وو.» سره له دې چې احمد شاه جهانګیر وو خو د مسلمانانو د وینو له تویولو څخه یې ډډه کوله. د سترواکۍ په چارو کې یې چلند د عدالت او انصاف په تـلې ولاړ وو، وګړي یې د خپلو بچیانو په توګې ګڼل، له همدې کبله ده چې افغانان ورته « بابا» وايي او دا هغه لقب دی چې له میرویس او رحمن پرته بل چا ته نه دی په نصیب شوی. البته چې احمد شاه یو جنګیالی او فاتح وو مګر د احمد شاه د ټولو فتوحاتو او عسکري چلند له مخې ښکاري چې ورانکاره، لوټمار، زورواکی « مستبد» او مظلوم وژونکی نه وو؛ هر هغه کار که د سولې او مصلحت پر بنسټ تر سره کېده نو له مسلمانانو سره یې جګړه نه کوله او نه یې د خپل ورور پر وړاندې توره له تېکه را ایستله. علامه اقبال د احمد شاه بابا د ځلانده شخصیت په اړوند وايي :

ازدل ودست گهر ریزی که داشت
سلطنت ها برد و بی پروا گذاشت

له همدې کبله یو شمېر لېکوالان پر هغه ګوتنیوونه کوي چې ولې یې د ډهلي د سلطنت واګې نالایقو واکمنو ته پرېښودلې؟ مګر که د ( امام الهند) شاه ولي الله ډهلوي او د هند د نورو مسلمانو واکمنو او پیاوړ شخصیتونو د لېکونو لړۍ ته له نېږدې کتنه وشي، څرګندیږي چې احمد شاه هېڅ وخت او هېڅکله هندوستان ته د جهانګیرۍ، نېواک، لوټ او تالا لپاره نه وو تللی، هند ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شاه بابا د تگ پوازېنی موخه د هند د هغو مسلمانانو ژغورنه وه چې ورڅخه یې غوښتنه کړې وه، له بلې خوا هغه نه غوښتل د خپل ملي ځواک مرکز یعنی افغانستان شا ته پرېږدي او د نورو افغان شاهي کورنېو ( خلجیو، سوریانو، لودیانو او نورو) په شان په هند کې مستهلک او له منځه لاړ شي. او یا دغه خالص دیني خدمت او في سبیل الله جهاد په دنیوي ناپاکېو او د ډهلي د شاهۍ په ضبط او د جهانگیرۍ په سولندتوب ککړ کړي، هغه لا مخکې کټ مټ همدغه چلند د افغانستان د نورو گاونډېو له حکامو سره په تکرار په بخارا، سندهـ، او بلوڅستان کې تر سره کړی وو.

احمد شاه تل د افغانستان طبیعي حدود په پام کې درلودل، که په لوېدیځ کې یې پنجاب او کشمیر تر خپلې اداري لاندې راوستي لامل یې د خپل هېواد د ساتنې لپاره وو. هغه پوهېده چې د هغه د سلطنت او ځواک سرچېنه د افغانستان خاوره او ددغه ټاټوبي پرگنې دي. له همدې کبله ده چې که د « پاني پت» د سوبې او د ډهلي د نېولو لپاره یې د خپل قدرت مرکز او سلطنت شا ته غورځولای وای او د هند په پراخ هېواد کې یې خپل انساني، فکري او اداري ځواک استهلاک کړای وای، ښایي د هغه خپل ټاټوبی، افغانستان، د سلطنت له مرکزیت څخه بې برخې شوی وای او خپلې کورنۍ ته به یې هماغه برخلېک ور په برخې کړی وای چې نورو هندي شویو افغان کورنېو ته مخکې ور په برخې شوی وو او په بشپړې توگې به له منځه تللې وای. نو ځکه د هغه سیاست دا وو چې گاونډي حکام تر خپل شهنشاهي بیرغ او د پلرنۍ وضعې تر سیوري لاندې وساتي او خپل ځان په یوه غاصب مقام کې ښکېل نه کړي او نه د یوه سولند او قهار جهانگیر په څېرې کې راڅرگند شي.»[1]

باید ووایو چې احمد شاه بابا له خپل هېواد او پلرني ټاټوبي سره دومره مېنه درلودله چې د هېواد وچ غرونه او شاړې ځمکې یې د نورو هېوادونو له جنت سره نه برابرول. د همدې ادعا شاهد د دراني احمد شاه یو غزل دی چې وایي :

[1] ـ حبیبي ، تأریخ مختصرافغانستان ، ۲٦٩ـ۲٧۱ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډیلي تخت هېـرَومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونــخوا د غرو سرونه
که تمامه دنیا یــوخوا، ته بـل خوا يې
زما خوښ دي ستــا خالي تش ډگـرونه
احمدشاه به دغـه ستا قـدر هېـرنه کا
کــه ونـيـسي د تمــام جــهان ملکــونه

عبدالحمید محتاط لـېـکي چې « احمد شاه به افغانانـو ته د معاصر افغانـستان د بنسټ اېـښودونـکي او یوه افسانوي اتـل په توگې پاتې شي، مگر احمد شاه د خپلو اهدافـو په پـرمخ بيـولو کې له هر ډول ظلم او شکنجې څخه استـفاده وکړه. د هغه د سلطنت دوران ـ د یرغلونو او وینـو بهـولو تأریخ دی. پر هر ټاټوبي یې چې گام کښېـښود هلته يې د بومي وگړو کوپړۍ منارونه / کله منارونه ( کله او چـېرې؟) جوړ کړل. ښارونه يې وران کړي او د نورو هېـوادونو تمدنونه يې ړنگ کړي او ثروتونه يې لوټلي دي[1]. محتاط زیاتوي : " له دې چې احمدشاه د افغاني قـبـيـلوي ټولـنې محصول وو، څرگنده ده چې د معاصر افغانستان په تأریخ کې يې ښکاره ونډه ولوبوله. له همدې کبله ده چې د بابا په نامه يې یادوي. له غیر افغاني اوسـېـدونـکو سره چار چلند يې ډېـر بې رحمه وو او د غیر افغاني اوسـېـدونـکو له نظره هغه بې اندازې مستبد او بې رحمه وو[2]. "

په خواشـينـۍ باید ووایم چې په لوېدیځ او ختـیـځ کې څمکوال یا فـیوډالي رژیمونـه یو شان خصلتونه لري. د ستر پـیتر او ناپیلیون په شان لويو فاتحانو، په امریکا، افریقا او آسیا کې انـگلیس ښکـېـلاکگرو ټولو د خپلو پراختیا غوښتنو او فتوحاتو په لړ کې او د خپل قلمرو د پراخولو لپاره وحشتناکو جنایاتو تـه لاس اچولی دی. له همدې کبلـه ده چې د نړۍ د اوسنۍ جغرافيې په شکل بندۍ کې زور، تاوتریخوالي او وژنو ټاکونکې ونډه لوبولې ده. د نړۍ هـېـڅ لوی او وُوړ هېـواد د عامه رائـیو پر بنسټ نه دی رامنځته شوی چې موږ دې هم پر

[1] ـعبدالحمید محتاط ، تأریخ تحلیلی افغانستان پ . ۵۲۵
[2] ـعبدالحمید محتاط ، تأریخ تحلیلی افغانستان پ . ۵۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدشاه بابا دا نېوکه وکړو چې ولې د خپلې واکمنۍ قلمرو ته یې په زور او لښکري یونونو شکل ورکړی دی.

اروابناد غبار له نادر شاه افشار سره په پرتلې د احمد شاه بابا سیاسي لیاقت ستایي او وایې : « احمد شاه د سیاسي او پوځي لیاقت په ازمېښت کې د خراساني نادر افشار په شان له بوه ځانګړې تأریخي پړاو څخه بریالی ووت. خو د نادر افشار او احمد شاه تر منځ یو زغرد او روښانه توپیر دا وو چې د احمد شاه د دولت بنسټ د نادر ددولت له بنسټ څخه زښت ډېر پوخ او خلک ورڅخه ډېر خوښ ول. حال دا چې د نادر شاه افشار ددولت بنسټ د هغه له مړینې سره جوخت ونړېد او اتباع د هغه له ظلم او ناتاره ترهېدلې او خوابدي ول.» [1]

ډاکټر ګندا سینګهـ د احمد شاه بابا په هکله وایي : « د احمد شاه تر ټولو ستر کار دا وو چې افغانان یې د بوه ملت تر کچې سره راټول او سمبال کړل او بو خپلواک هېواد یې ورته په میراث پرېښود.» نوموړی زیاتوي : « احمد شاه هغه پاچا وو چې د افغان قدرت لمنه یې پراخه کړه، له هغوی څخه یې یو موټی ملت جوړ کړ، افغاني دودونو او عنعناتو ته یې وده او پراختیا ورکړه او د همدغه احساس په لرلو یې پر آزادو او خپلواکو قبائیلو له پرغل کولو څخه ډډه وکړه... احمد شاه په څېرې ښکلی، د عظمت او پرتم خاوند او جذاب شخصیت درلود، خوښ اروا او د ورین تندي خاوند وو، په ناسته ولاړه کې ساده مګر له درنښت او وقاره ډک وو، مذهب ته لېواله، په ټولنو، غونډو، زدوکړو او پوهنې مین او روحاني وو... هڅه یې کوله چې په خپلې ژمنې پالیالي« وفا» وکړي، او د پالیالۍ روحیه وساتي، ښکار کولو ته لېواله وو. خوراک یې هم ساده وو. هغه په زباد ورسوله چې پرګنې وربانډې ډاډ لري. هغه له اړتیا پرته خپله توره له تېکه نه را اېستله، اکثره شورشیان به یې بخښل...د نورو مذهبونو او دینونو پر وړاندې یې نرمښت درلود، هندوانو او سیکهانو خپلې ټولې مذهبي آزادۍ درلودلې، مسیحي ارمنیانو ته یې په خپل ګارډ کې ځای

[1] ـ غبار، افغانستان درمسیرتأریخ، ۳۵۹ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ... سره له دې چې له مړينې يې څو سوه کاله تېرېږي مگر د ستر فاتح او ليډر يادونه لا تر اوسه د خپلواک او يو موټي افغانستان د ځوانو او زړو افغانانو او د شريفو او وياړلو پر گنو په زړونو کې هماغسې ژوندۍ پاتې ده. [1] »

احمد شاه بابا د افغانستان د خلکو له سوکالۍ، سر لوړۍ او استقلال پرته بله هيله نه درلودله، د ډېرو اوږدو ستونزمنو سفرونو او د ژوند او پت د ببلا ببلو خطرونو په گاللو د يوه سربښندويه او زړور افغان مشر او بوميا « پيشوا» او د برخلېک ټاکونکو جگړو د ډگر د برميال فاتح په توگې يې افغانانو ته وياړونه وپنځول. هېڅکله يې خپل هېواد ته خيانت ونه کړ او هېڅکله يې خپل هېوادوال خوار او سپک ونه گڼل. هېڅکله يې ځان له خپلو هېوادوالو لوړ او ډېر ونه شمېره. هېڅکله يې وخت په هوسايني او چړچو نه دی تېر کړی. هېڅکله يې له کوم بانديني ځواک څخه دستور نه دی تر لاسه نه کړی او هېڅکله يې پرَدی دستور د ملت پر تندي يې نه دی ټکوهلی. سره له دې چې احمد شاه له شاهانو تاج اخېست او تاج به يې ورکاوه خو هېڅکله يې په خپل سر تاج کښېښنبود، برعکس د خپلو نورو هېوادوالو په شان به يې پگړۍ تړله او له هغوی سره په گډه پر فرش شوې ځمکې کښېناسته او د هغوی د زړونو براس او خوږ ته به يې غوږ نېوه او د مظلومانو د کړېکو غږ ته به يې ځان رساوه. له خپلو هېوادوالو سره به يې د يوه زړه سواندي پلار په شان چلند کاوه او له همدې کبله ول چې خلکو د « بابا» په نامه ياداوه.

د همدغه درنښت له کبله دی چې الفنستن لېکي : « <u>په رښتيا هم که په آسيا کې هر هغه شاه چې د خپل ملت لياره د درناوی وړتيا ولری نو له احمد شاه پرته به شاه نه وی.</u> [2]»

هېڅ انصاف لرونکی لېکوال او تأريخپوه به نه وي چې افغانستان دې د احمد شاه بابا گرانبيه ميراث ونه شمېري او د هغه استقلال او ملي واکمنۍ ته دې درناوی ونه لري. له دې کبله ده چې احمد شاه بابا ته بايد درنښت وشي او د

[1] ـ گنداسنگه ، هماغه اثر ، ۲۴، ۴۶، ۴۶،۳۴۶،۴۶۴ پاڼې

[2] ـ الفنستون،هماغه اثر، ۳۸۱ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه له مهمو سیاسي خدمتونو څخه باید مننه وی اوسو، دا زموږ دنده ده چې د هېواد هر بچي ته د خپلو ملي او سترو مېړنیو شخصیتونو په اړوند د منښت او درنښت درسونه وښیو.

## د احمد شاه بابا مړینه :

د دراني احمد شاه پر پوزې باندې له ۱۷۶۴ ز کال وروسته د سرطان دانه څرګنده شوې وه، بابا، د د سرطان د دانې د وخامت له کبله په ۱۷۷۳ ز



په کندهار کې د دراني احمد شاه مقبره

(c) ketabton.com: The Digital Library





په کندهار کې د میرویس نیکه مقبره

کال کې د اڅکزیو په سیمې کې د توبې غرونو ته چې دوبې بې تر کندهاره سوړ دی، لاړ. تپونه یې د هر ورځې په تېرېدلو بد ترېدل، او د ۱۷۷۳ ز کال د جون د مېاشتې په لومړیو کې یې د یو پېنځوس کالو په عمر له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. جسد یې کندهار ته راوړل شو او د ځانګړي درنښت او منښت او د ناورین په څپو کې خاورو ته وسپارل شو.

د کندهار د پرګنو د وګړو په منځ کې د درانې احمد شاه آرامځای له زښت ډېر درنښته برخمن دی. تر دې چې که څوک د دښمن د غچ د وېرې له کبله هلته پناه یوسي او کښېني نو ان دولت هم دغسې مجرم ته لاس نه وروړي. که کوم بوډا او زوړ سړی له ورځنیو چارو راضي نه وي هغه ته بوه ځانګړې دعا ده چې وايي : غوارم پاتې ژوند د احمد شاه په آرامځي کې په دعا او عبادت تېر کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی فصل

## (دنوزادی ژباړه)

# دسدوزیانو په سلطنت کی د سردارپاینده خان
# د کورنی تاریخي رول

## د حاجی جمال خان رول د درانی احمدشاه په دولت کی:

دیولسمی هجري پیړی په پای کي ( د ۱۸میلادی پیړی پیل ) دهلمند په زرغونه وادي د نادعلی په کلا کی یو اغیزمن شخصیت ژوند کاوه چي د حاجی جمال خان پنامه پیژندل شوی وو. ده د بارکزو دقوم مشري پرغاړه درلوده او د وخت په تیریدو سره د (حاجي جمال نیکه) پنامه مشهور سو چی خورا زیات درناوی ورته کیدی. دقومی مشر په توګه دده شهرت دهغه مهال د هیواد د ملی قاید اومشر میرویس خان هوتکي د واکمنی دوخت سره سمون خوري . دحاجی جمال خان پلار حاجی یوسف خان ( توپچی باشی) وو چی ځان یی د (محمد نیکه) د اولادی څخه ګاڼه .محمد نیکه د ( محمدزیانو) دقوم لوی نیکه کیږي اوقبر یی د کندهار په ارغستان کی دی[1].

مرحوم پوهاند حبیبی لیکی : محمدزیان د بارکزو قوم یوښاخ دی چي د محمد نیکه څخه ریښه اخلي . دغه محمد نیکه د ابدالی قبیلی مشر ملک سدو

[1] ـ معصوم هوتک، کندهاری وړونه ۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره په یوه وخت کي ژوند کاوه .ملک سدو د کندهار په ارغستان کي د زرم هجری کال ( ۱۵۹۱م) په شاوخوا کي اوسیدی . محمد د عمر زوی د دارو اوبارک په قبیله پوري اړه درلوده چي دځړبن پښتنو د قبیلی څخه یوښاخ دی . دمحمد نیکه اولادونو په کندهار کي د بارکزی قوم مشری پرغاړه درلوده .ددوی مرکز د هلمند پرخنډو د گرشک جنوب خواته دبارکزو د ناوی په نوم یادیږي چي د (ادی کلا) پنامه ځای د دی کورنی پخوانی ټاټوبی وو.[1]

دحاجی جمالخان بارگزی داستوگنی ځای او کلا دگرشک په نادعلی کی بلل سوی ده. د نادعلی کلی دبارگزو دناوی په سرکی واقع دی. دهیلمندپه ناوه کی د"لوادی کلا" دخپل وخت دسرنوشت ساز سیاسی تصمیمونو مرکزوو او دهیواد مقدرات په همدغه کلا کی تاکل کیدل.

"لویه ادی"دسردار پاینده خان میرمن او دمشهور وزیر فتح خان مور او « دبارگزی کلان خان لوروه.[2]» په دغه کلا کی دلوی اختر دکیچړی پخول تر ډیره وخته پوری د محمدزیوپه کورنیو کی یو دود وو.ارواښاد بینوا لیکی :"دمحمدزیو په کورو کښی چه هرحای وی، دلوی اختر په ورخ ضرور او هرو مرو کیچړی خوری. د دی کیچړی په فلسفه خینی خبر نه دی او تقلیدی روان دی، او خینی ئی داسی بیان کوی، وائی: دوزیرفتح خان تر مرگ وروسته«لویی ادی» خپل نور زامن دلوی اختر په ورخ راټول کړه او کچیری ئی پوخ کړیئ و، چی ترهمدی کیچړی خورلو وروسته دوزیرفتح خان دانتقام اخیستلو په عزم ټول ملا ویتړیٍ او لویه ادی دپښتنوالی مراسم«ډیره ایښوول» پرځای کوی، خو له دی ځایه څخه دمحمدزو دکورنی دسلالی تشکیل جوړیږی...[3]»

حاجی جمالخان د نادرافشار ( ۱۷۴۷-۱۷۳۶م) او ابدالی احمدشاه ( ۱۷۷۲-۱۷۲۲م) دواکمنی پر مهال یو متنفذ اوپیژندل سوی شخصیت وو. ده

---

[1]- حبیبی، دافغانستان معاصر تاریخ۲۷۹مخ

[2]-عبدالرؤوف بینوا:پشتنی میرمنی،۱۳۷ مخ

[3]-معصوم هوتک،دناوی دانشور،دکندهارمنور،دزنگاوات مخور،د علامه رشاد خپرندویه تولنه،چاپ ۲۰۱۲/۱۳۹۱ش،ص۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسدوزی دولت په بنسټ ایښودلوکی د پام وړمرسته کړیده .

د نادر شاه افشار د لښکري يونونو په تأريخ کې راغلي کله چې نادر د کندهار د نیولو په تکل د سیستان له لارې گرشک ته ورسېد، د خپل لښکر يوه قطعه یې د زمینداور او بله یې د بُست او اړوندو سیمو د نیولو لپاره ولېږله او په خپله له هلمنده په تېرېدلو د کندهار پر لور پر مخ لاړ. د نادر سپاهيان د هلمند د سيند د غاړو له نيولو ، د ولجو او د ډېرو خوراکي توکو له راټولولو وروسته بېرته له نادر سره يو ځای سول. داسې ښکاري چې حاجي جمالخان بارکزی هم د نورو قومي مشرانو په شان يرغلگرو لښکرو ته د اطاعت له کولو وروسته د نادر په رکاب کې د چوپړ لپاره چمتو شوی او د خپلې قبيلې له کسانو سره يو ځای د نادر د سوبو په ډلې کې يو ځای او د هغه د مړينې تر شېبې پورې ورسره ملگری وو.

دسراج التواريخ د ليکونکی دنظرسرسم حاجی جمال خان دهغو ځوارلسو تنوپيژندل سووکسانوله ډلی څخه دی چي دنادر افشار په واکمنی کي يی د سرداری رتبه درلوده او لمړی کس دی چي ابدالی احمدخان يی د باچا په توگه ومنی او هغه ته يی بيعت ورکړ. په جرگه نورو کسانو هم دده پر پله قدم کښيښود او احمدشاه د هيواد د ټولواک وگڼل شو. درانی احمدشاه هم دده دخدمتونوله کبله ده ته د سرداری لقب ورکړ. مگر داچي دبيت الله شريفي طواف يی کړی وو نو حاجی جمال يی باله او د سردار په نامه نه ياديده .فيض محمد کاتب په سراج التواريخ کي د حاجی جمال خان د نصب شجره داسي يادوي: جمال خان د يوسفخان زوی د ياروخان زوی د محمد زوی ( د محمدزی قوم له ده ريښه اخلی ) دعمر زوی دحضرخان زوی د اسماعيل خان زوی د داوود خان زوی د سفيل خان زوی د نورالدين زوی دبارک زوی . د همدغه کتاب له مخي بارک ،پوپل او الکو د زيرک زامن دی. او زيرک بيا د ترين زوی او د ابدال لمسی دی چي د ابداليانو ريښه ورڅخه راغلی ده . دټولواک په توگه د ابدالی احمدشاه د ټاکلو پر وخت دکندهار شير سرخ په لويه جرگه د حاجی جمال خان د رول او اغيزی يادونه نورو تاريخپوهانواو ليکوالانو هم کړيده او ويلی يی دی چي دده مرستي ټاکونکی اغيزه درلوده .دده په هوکی سره روحانی پير صابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه داحمدشاه په سره د غنمو وږی کښیښود چې د شاهی تاج نښه وګڼل شوه اوپه جرګه کی ټولو ناستوکسانو ورته مبارکی وویله .

دښاغلی پوپلزی په قول د شیر سرخ په جرګه کې دغو کسانو ګډون درلود : سردار عبدالله خان وکیل الدوله ، بګي خان بامیزی ( په شاولیخان مشهور وو) ،سردار جهان خان ،نورمحمد خان علیزی په ( میر افغان مشهور وو) عبدالغنی خان الکوزی ، شاه پسند خان اسحاقزی، سردار مرادخان پوپلزی، قلندرخان پوپلزی ،محبت خان پوپلزی ، موسی خان اسحاقزی، میرهزارخان الکوزی او نور[1].

هېښنده ده چې ولې ښاغلي پوپلزي ددغو سردارانو په ډلې کې د حاجي جمالخان بارکزي نوم نه دی یاد کړی حال دا چې ټولو تأریخي سرچینو د شیر سرخ په جرګې کې د حاجي جمالخان له حضور، د هغه له وندې او له احمد شاه دراني د هغه له ملاتړه یادونه کړې ده.

فرانسوي جنرال، فریه، چې په ۱۸۴۶ ز کال کې یې له کندهاره لېدنه کړې او تر یوې مودې پورې د سردار کهندلخان مېلمه وو لېکي : د هغو افغان سردارانو شمېر چې د نادر په لښکر کې یې چوپړ کړی وو لس تنه ول. د همدې ډلې په جوړښت کې احمد خان سدوزی او حاجي جمالخان بارکزی او د سدو یو تن ملګری وو او د ډلې مخور او اغېزمن کسان ول.

د نادر له مړینې او کندهار ته د افغان قطعي له راستنېدو وروسته هغوی څو ورځې د خپلو هغو کورنېو او ټولنېزو سکالو د وراشې پر سر تېروي چې د ډېر اوږد وخت لپاره ورڅخه لېرې پاتې ول، او اغتشاشي روحیه یې کرارېږي؛ خو په ډېر لنډ وخت کې د خپل رئیس پر وړاندې د ناخوښی له کبله ښورښ کوي او نور محمد خان [ علیزی] یې واکه کوي[2]. د نورمحمد خان له ګوښه کولو وروسته د ابدالي او غلجیو قبائیلو لوی او بنسټېز مشران د سره شیخ « یا شیر سرخ» په مزار کې سره راټولېږي او ددې لپاره غونډه کوي چې

---

[1] ـ تیمورشاه درانی ۱۳۳۳ ش کال ۱۱۲-۱۱۱مخونه

[2] ـ مګر دغه ادعا زمونږ په نور وملی تاریخونوکی نه لیدل کیږی ، معلومه نده چی فریه ، دامالومات د کومه کړی ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپله منځه یو تن د داسې یوه رئـیس په توګې غوره کړې چې ټول هغه ته مطیع وي او په ټولو پوځي عملیاتو او اداري چارو کې ور سره مرسته وکړي، ځکه ددغه کار له کولو پرته به د استقلال د ساتنې چانس ناشوی وي. دغه جوړجاړی او همغږي له ځنډ او خنډ او د ډېرو لویو ستونزو له ګاللو پرته، په دومره آسانۍ نه دی تر لاسه شوی؛ د قبائـیلو د مشرانو تر منځ د جوړجاړي او همغږي رامنځته کول ډېر ستونزمن کار دی. هرې قبـېلې غونډې ته د تاج او تخت د نـېولو ادعا وړاندې کوله. احمد خان سدوزي چې کورنۍ یې په هرات کې استوګنه درلودله، د غونډې په اتو لانجمنو ناستو کې ګډون درلود او پرته له دې چې څه ووایي ټولو ادعاګانو ته یې په ځیر غوږ نـېولی وو. د سره شیخ ( شیخ سرخ) په مزار کې یو درویش د زیارت متولي ( مواجر) وو چې لـېد لوري او نظر ته یې تل په درندې سترګې کتل کېدل، درویش د احمد خان دغه محتاطانه چلند تر سترګو لاندې نـېولی وو، په پای کې له اته ورځـېنـېو لانجمنو او تکراري وراشو وروسته د درویش د صبر کاسه نسکوریږي او سردارانو ته د مخ په اړولو وایي : « ولې دومره ډېرې اوږدې خبرې؟ خدایتعالی احمد خان دومره ستر پیدا کړی چې له تاسو ټولو زښت ډېر ستر دی؛ هغه د افغان کورنـېو په منځ کې په نجیب ترینې کورنۍ پورې اړه لري. خپل خدای په پام کې ولرئ، که تاسو هغه له پامه وغورځوئ، نو د خدای په قهر به ککړ سئ.» درویش دغه خبرې په زښت جدي لحن وویلې او وروسته یې د غنمو یو وَږی د ورڅـېرمې سبـمې له پټي څخه وشکاوه او د احمد خان پر سر یې کښېښود او ویې ویل : « دا ستاسو تاج دی!»

حاجي جمالخان چې په دې غونډې کې تر ټولو ځواکمن سردار وو او ظاهراً د غونډو د ګډونوالو ډېرۍ رائـیې د هغه پر لور وې، ناڅاپه د احمد خان په پلوۍ له خپلې ادعا څخه تېرېږي او په خپل قانع کوونکي فصاحت د احمد خان د غوره کېدنې ملاتړ کوي، دا هغه چلند وو چې حاجي جمالخان ته یې د عمومو افغانانو په زړونو کې د منښت او درنښت دریځ ورپه برخه کړ. نورو سردارانو هم د حاجي جمالخان پر پله باندې پل کښېښود، ځکه پوهېدل چې احمد خان د ټولو سردارانو په منځ کې تر ټولو په خوله چوپ سړی دی، ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅنګ ، احمدخان هوښیار ترېنه سړی وو چې د ځان لپاره یې هېڅ ادعا نه درلودله او تر ټولو مهمه خبره دا چې دریمګړي سړي د احمد خان لپاره وړاندیز کړی وو. همدا لامل دی چې احمدخان ته د نورو ټولو په پرتلې د معتدل ترېنه، بې پَرې ترېنه او وَړَند ترېنه سړي په سترګې کتل کېدل. احمد خان په ۱۷۴۷ ز کال کې ( چې د ۱۱۶۰ قمري کال د رجب د مېاشتې یا د ۱۷۴۷ ز کال د اکتوبر له مېاشتې سره سمون خوري) د کندهار په یوه جومات کې د شاه د نامه له تر لاسه کولو وروسته تاج پر سر ږدي او د خوښېو لویه غونډه جوړېږي. د احمد خان د تاج ایښودلو غونډه زښته ډېره ساده وه: یو ډیر ستر ملا د نوي شاه پر سر د غنمو څو دانې د ډالۍ په توګې ږدي او د غونډې ګډونوالو ته وایي چې احمد شاه خدای او پرګنو غوره کړی دی. د شاهي ځواک لېږد دا ډول نښه ییز (نمادین) دود لا تر اوسه د افغان قبائیلو په منځ کې هغه مهال پلی کېږي ( کله چې یو څوک د خپل رئیس په توګې ټاکي)؛ ددغه دود مانا او مفهوم دا دی کله چې یو څوک د ځواک د امانتوال په توګې غوره کېږي نو د هغه له اقداماتو څخه سوکالي او برکتونه رامنځته کېږي.» [1]

داحمدشاه تر واکمن کیدو وروسته حاجی جمال خان د هغه په دربار د ډیر مهم او صلاحیت لرونکی مشاور (سلاکار) دنده درلوده چي احمدشاه هم په ټولو چاروکی دده سره سلا مشوری کولی . ده هم تر ۱۷۶۵م پوري د احمدشاه په ټولو لښکرکښنیو کي دخپل قومی لښکروسره ونده اخیستی اود پام وړ خدمتونه یی کړیدی. حاجی جمالخان په ۱۷۷۰م کال پخپل طبعی مرګ په کندهار کی وفات شوی دی.

الفنستون یو وتلی انګریزی افغانستان پیژندونکی دی .دی( دکابل د سلطانیت بیان ) پنامه کتاب کي چي په ۱۸۱۵ م کی یی چاپ کړیدی په افغانستان کی دقومونو د توضیح شرح کی د حاجی جمال خان دقومی قوت په اړوند لیکي : « بارګزیان د دراني قومونو یو مهم قوم دی چي شمیر یی تر

[1] ـ فریه، تأریخ افغانها، ژباړه : سهیل سبزواري، دویم څپرکی،د آریائی ویب سایت (آرشیف تاریخي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوپلزیانو خورا ډیر دی .دوی د کندهار په جنوب او جنوب ختیځ کی پاشل سویدی. ډیر یی په ارغسان او د هلمند په ناوه کی میشت دی. داچي ددغو سیمی ځمکی ډیر حاصل ورکوي نو په کرهڼه بوخت ، د رودونو او کاریزونو د اوبو په لګولو سره یی دښتونه او صحراګانی هم زرغونی کړیدی. بیا یی هم د دوی ډیره برخه یی کوچیان دی او مالداری لري. د پښتني قبیلو تر منځ ، دوی ډیر جنګیالی او زړور دی . دا ګړی وزیر فتح خان ددی قوم مشرتوب پرغاړه لري . لدی نه پرته په هیواد کي د دولتي مامورانو او لوی چارواکو ډیری ددغه قوم څخه دی . دوی خپلی ښیګڼی په وفاداری ، اتحاد او شجاعت کي ویني . د بارګزیانو شمیر تر دیرش زره کورنیو لږ ندی»[1] .

فیض محمد کاتب د(نژاد نامه افغان) پنامه پخپل یوبل کتاب کی لیکي : « دبارکزی قوم ۴۳۷۵ کورنی د کندهار په جنوبی سیمه ارغسان کی ، د هلمند پر څنډو او خشک میدان( میوند) کی میشت دی . ډیری یی ددوی څخه په کرهڼه بوخت دی اویو شمیر هم په دښتونو کی په تکلیف او مشقت سره مالداری کوي او د خپل ژوند احتیاج ( اړتیاوی) وربآندی پوره کوي . امیر دوست محمد خان له دغه قومه راوتلی او تر امان الله خان پوري دده د اولادو څخه ۷ نفره لکه : امیر شیرعلی خان ، امیر محمد افضل خان، امیر محمد اعظم خان ، امیر عبدالرحمان خان ، امیر حبیب الله خان او امیر امان الله خان د افغانستان ټولوا کان تیر سویدی . د سقاو د زوی حبیب الله ( بچه سقاو) د انقلاب په پای کي د هیواد واکمني د محمد نادرخان په لاس ورغله. محمد نادر خان د امیر دوست محمد خان د ورور سردار سلطان محمد خان د اولادی څخه دی » . د ۱۹۳۳م کال څخه بیا د ( ۱۹۷۸ م ) کال تراپریل پوری د محمدزیو کورنی چي د بارکزی قوم یو ښاخ دی د افغانستان واکمني یی پرغاړه درلوده .

دالفنستون په عقیده د اڅکزیو قوم هم د بارګزیو یو ښاخ دی او احمدشاه درانی پدی خاطر چی د بارګزو قومی زوز کم کړی ، اڅکزی یی ځانته جدا قوم وګاڼه او په لښکرو کی یی ځانته جلا ونډه ورکړه .دا قوم چی دا اوس هم ځانونه

---

[1] ـ الفنستن، د کاکر ترجمه،ج۲، ص۸۷، دفکرت ترجمه، افغانان، ۳۵۶ـ ۳۵۸مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بارگزیو تربوران بولي د کندهار په جنوب د خواجه عمران د غرونو په لمنو کي د سپین بولدک او کویټه په سیموکی میشت دی . دخواجه عمران د غرونو د زنځیر په جنوب د مرغی په مقابله خواکی د( توبه )پنامه پراخه سیمه پرته ده چي لودیز یی په اڅکزیو پوری اړه لري . په ختیز کي یی تر (ژوب) پوری غزیدلی سیمه دکاکړو ده . دمرغی په شمال کی ارغسان پروت دی.د ارغسان نوم هم په همدغه نامه د رود څخه اخیست سویدی .الفنستون زیاتوی : ارغسان یوه نسبتاً حاصل خیزه دره ده چي د گز د ونو ډکو غرونو ترمنځ پرته ده .ځیني برخی یی کرهنیزی دی چی هلته څو قعله وی د بازکزیو په خانانو پوری اړه لري . مگر اکثره اوسیدونکی دلته مالداران او چوپانان دی. دغه غرونه چی ډیر لوړ ندی په ختیځه برخه کی یی همدارنګه ابدالی درانیان میشت دی . د ارغسان رود لوړی برخي دغه سیمی خړوبوي. دلته د رمو دپاره ښه څړځایونه لري. مگر کرهنیزی مځکی یی لږ دي.[1] فیض محمد کاتب د اڅکزو کورنیو شمیر ۷۵۰۰ کورنی ښودلی دی.[2]

جنرال فریه، چي د امیر دوست محمد خان د سلطنت په دوهم ځل په ۱۸۴۶-۱۸۴۵ م په کندهار ،هلمند او هرات کي گرځیدلی دی وایی: دبارگزیانو یوشمیر د کندهاره تر هرات پوری پاشل شوی او د بارکزیانو ټول شمیر د ۴۵-۵۰ زرو کورنیو پوری رسیږي . یوازی محمد زیان ۵-۴ زروکورنی دی[3].

مرحوم علامه حبیبی یادونه کوي چي د بارگزیانو ډیره برخه د پخوا زمانو راهیسی بیا تر اوسه پوري دکندهاریه ارغسان او معروف کی ، د هلمند په گرشک او دلښکرگاه په جنوب لویدیز د بارگزیو په ناوه کي په وړو او یو بل ته نژدی پرتو کلیو کی اوسیږي. یوه د ډیرو وگړو لرونکی او شتمنه ولسوالی په هلمند کی د بارگزیو د ناوی په نامه یادیږي چي د لښکرگا او بست قلعه څخه نیولی د هلمند رود د ښی غاړه څخه پیل تر گرمسیر تر هزار جفت اودرویشانو پوري غځیږي . لدی نه پرته په فراه ، نیمروز ،سیستان ،بلوچستان ، پیښور،

---

[1] ـ الفنستن، دکاکرژباره،ج۲، ص۸۷، فکرت، افغانان، ۳۵۶ـ ۳۵۸مخونه
[2] ـ فیض محمدکاتب،نژاد نامه افغان، ۵۷مخ
[3] ـالایس پیریس،عروج بارکزایی ،۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال اباد ،ارزګان ( ترینکوټ) هرات او نورو ولایتونو کی هم بارګزیان پاشل سویدی. ښایی چی ټولیز (مجموعی) شمیر یی د ۲۰۰ زره کورنیو په شاوخوا کی وی.

لکه څنګه چی حاجی جمالخان د احمدشاهی دولت په ټینګښت او پراختیا کی د هیڅ ډول کوښښ څخه ځان ندی سپمولی ،همدارنګه احمدشاه بابا هم دده پوره درناوی کړی، دسیاسی پرمختیااووځځه به یی خبراوه او دده د امکاناتو څخه به یی ګټه اختستله. ده نسبتا اوږد عمر کړی چی په سراج التواریخ کی د مړیني کال۱۱۸٤هجری (۱۷۷۰م ) ښودل سوی او وایی چی په ۸۶ کلنی وفات شو چي د کندهار ښار په جنوب د ذاکر په کلی کی ښخ دی . که چیري دده د مړینی کال ربښتیا هم ۱۱۴۸ وی او په ۸۶ کلنی وفات شویوی ،نو باید په ۱۰۹۸م کی زیږیدلی وی(۱۶۸۷م) . مګر ښاغلی صدیق رهپو طرزی پخپله یوه لیکنه کی دده د زیږیدنی کال (۱۷۱۹م) او د مړنی کال یی (۱۷۷۰م) ښودلی چي دده د یادونی له مخي حاجی جمالخان تر هغه څه چي فیض محمد کاتب ښودلی ،۳۳ کاله لږ عمر کړیدی.

صدیق رهپو طرزی وایی دحاجی جمالخان مور د غلجی قبیلی څخه وه او د احمدشاه بابا د واکمنی پر مهال ده د ( توپچی باشی) دنده درلوده .خو ډیری نوري سرچیینی لکه ان (احمدشاهی تاریخ) دده دغه دنده یاده کړی نده. ښایی د صدیق رهپوطرزی موخه د جمال خان پلار وي چي علامه حبیبی صاحب د (توپچی باشی) پنامه یاد کړیدی. حاجی جمال خان چی ځان یی تر دی دندی لوړګاڼه ، فکر نه کیږي چی داسي دنده به یی ترسره کړی وی. ظفرکاکاخیل په خپل کتاب (پښتانه د تاریخ په رڼا کی ) راوړی دی : «داحمدخان د ټاکل کیدو پر مهال داسي پریکړه وشوه چی شاهی د سدوزیو په کورنی او صدارت به یی د بارګزو په کورنی پوری اړه لري[1]» مګر داحمدشاه د دولت په اداره کی د داسي پریکړی څرک نه تر سترګوکیږي . که داسي پریکړه مو جوړه وای بیا پخپله احمدشاه بابا نشوه کولای دواړي دندی پخپله مخته بوزی.

حاجی جمال خان،دوی میرمني درلوده چي یوه یی غلجی او بله یی

---

[1] -ظفرکاکاخیل،پشتانه د تاریخ په رناکی ، طبع ۱۹۶۵، ص ۸۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



بارګزی وه . د دواړو میرمنو ځخه یی ځلور زامن او یوه لور زیږیدلی ده . لور یی تیمورشاه ته واده شوه چي شاه محمود د هغی ځخه زیږیدلی دی. زامن یی هارون خان ، رحیمداد خان ، پاینده خان او بهادرخان وو[١].

فیض محمد کاتب بیا دده د دوولومړیو زامنو نومونه نه یادوی او پرځای یی دوه نور نومونه اخلی لکه عبدالحبیب خان او حاجی درویش خان. دی زیاتوی چی حاجی عبدالحبیب خان ډیر سخي سړی وو او دعرفان د طریقت مینه وال وو[٢].حاجی درویش خان دده سکنی ورور کیدی.

## دسردار پاینده خان رول دسدوزی په دولت کی



سردار پاینده خان(١٧٥٨ - ١٧٩٩م)

[١] ـ د پاینده محمد خان د اقتدار پر مهال د ده ورور هارون خان د ګرشک حاکم وو. دی د دری ژبی شاعر وو خو اوږد عمر یی ونکړ . دده ځخه دوه زامن پاته شوی لکه شهنوازخان او امیرالدین خان . بهادرخان بیا یو صوفی ډوله سړی وو .د دنیایی کارو سره یی مینه نه درلوده ، تل یی د خپل رب عبادت کاوه. (پیرس، ص٢١،ح ٣)

[٢] ـ فیض محمدکاتب، سراج التواریخ،ج٢، ص ١٩٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاینده محمد د حاجی جمالخان کشر زوی او د هغه د وفات پر مهال اوه کلن هلک وو . د خپل مشر ورور رحیمدادخان تر وزر لاندی لوی شو .کله چی ۱۶ کلن شو ، تیمورشاه دده د مشر ورور پر ځای د قوم مشر په توګه وټاکی او په دربار کی یی د پام وړ ځای ورکړ. رحیمداد خان د تیمورشاه په دربار کي د خپل قوم د سردار ځای درلود ، خو ددغه مقام وړتیا یی نه لرله . د نورو وړونو په خلاف دی یو ډیر متکبر او مغروره سړی وو . دی د سخاوت او میلمه پالنی سره هیڅ جوړ نه وو او غوړیدلی دسترخوان یی چا ونه لیدی .ښکاره ده چی افغانان دداسي ممسک سړی پرشاوخوا، نه راټولیږي. کرار کرار خلګو تری نفرت وکړ او د شکایت ږغونه یی پورته شول .برسیره پردی چي پخپله یی دستر خان نه وو غوړولی ، د نورو قومی مشرانو میلمستیاؤ ته هم نه ورتلی ، پدی خاطر یی قوم د اطاعت نه لاس واخیست او دده کسانو ته یی د مالیی ورکولو څخه ډډه کوله[1] .

داسی هم ویل کیده ، پدی خاطر چی رحیمداد خان د تیمورشاه همزولی وو او دواړو یوځای دماشومتوب لوبی کړی وو ، ځکه یی نو په دربار کي تشریفاتي دود او نظم په پام کی نه نیوی او تل یی د تیمورشاه او امرو ته په سپکه کتل .له دی کبله تیمورشاه د شاهي دفتر له چارو څخه لیری کړ(۱۷۷۴)، او د جلال اباد د بهسود سیمی ده ته د «تیول»(جاګیر) ه ډول ورکړ. پدی ډول یی د مرکز او دربار څخه دده لاس لنډ کړ[2]. د رحیمداد خان تر ګوښه کولو وروسته د ده وروړپاینده محمد خان دبارګزو په مشری وټاکل سو چي د ځینو روایتو له مخي ۱۶کله زلمی وو . سردار پاینده محمد خان هوښیار او زکی سړی وو ، د ټولو سره یی نیک سلوک کاوه او قوم پر راټول سو. د خپلو صادقانه خدمتونو له مخي تیمورشاه د«سرفرازخان» لقب ورکړ.

---

[1]- موهن لال، زندګی امیر دوست محمد خان د داکتره هاشمیان ژباره ، ص۶۰، پیرس،٦ مخ

[2]-عزیزالدین وکیلی پوپلزی ،تیمورشاه درانی جلد ۲، ۶۴۶مخ، دموهنلال په قول:د رحیمداد خان ترمرګ ووسته اته زامن ورڅخه پاته شول: عبدالخان ، عبدالحمید، عبدالکبیر ، عبدالسلام ، عبدالحکیم ، عبدالله ، عبدالواحد خان (موهن لال جلد ۱، ۶۰مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی کار چي د تيمورشاه پام يی د پاينده محمد خان په لور واړاوه ،هغه په کندهار کی د درانيانو د ښورښ ارامول وه چی د تيمورشاه په وړاندی يی کړی وو . دا ښورښ د احمدشاه درانی د کاکا عبدالخالق خان په مشری د کندهار څخه د کابل په لور ترسره شوی وو . پاينده محمد خان وکړای شو د ښورښ کونکو له ډلی نه مهراب خان او دلاورخان اسحاقزی (ساکزی)راجلا او د تيمورشاه په پلوی يی ودروي . پدی ډول د عبدالخالق قواوۍ ماته وخوړه او دی پخپله ونيول شو او وروسته د تيمورشاه په امر ړوند کړل شو[1] . تيمورشاه ددی بری په وړاندی ، پايند ه محمد خان ته د«سرفرازخان» او دلاورخان اسحاقزی د «مددخان» لقب ورکړ او قاضی فيض الله خان ته يی د وزارت رتبه منظوره کړه. لدی نه وروسته سرفراز خان او مدد خان د کشمير د ياغی شوی والی د ټکولو د پاره ولیږل شول . پاينده محمد خان په دومره ميراني وجنګيدی چی ډير ژر يی ياغی والی آزاد خان مغلوب کړ .کله چی دوی ددی بريالی ماموريت څخه کابل ته راغلل ، مدد خان تيمورشاه ته د پاينده خان د ميراني او زړورتوب کيسی وکړي ،ځکه نو تيمورشاه هغه په بلوچستان کی د شال او کويټی د ماليآتو و ټولولو ته توظيف کړ. ده هلته د خلګو سره دومره ښه سلوک وکړ چی هغو يی ټول د دولت څخه خوشحاله کړل، ډير ژر دده د لياقت او استعداد کيسی د هيواد تر ګوټ ګوټه پوري ورسيدی او تيمورشاه باندی دومره ګران شو چي د غلجی قبيلی مشری او اداره هم ده ته ور وسپارله او اجازه يی ورکړه تر څو د شاه تخت ته نژدی ځانته ځای وټاکي.[2]

کله چي د تيمورشاه زوی شهزاده عباس د ارسلان خان مومند په لمسون پيښورکي د خپل پلار په وړاندی بغاوت پيل کړ، پاينده محمد خان د يوه لښکر سره د هغه و مقابلی ته ولیږول شو . د کابل مست رود دواړو خواو تر منځ باډاسکی وهلی او پاينده محمد خان، ځان ورواچاوه او عسکرويی هم د هغه په پيروي داکار وکړ .له نيکه مرغه بيله تلفاتو تر رود پوري ووتل ،

[1] ـ الفنستون، دکابل سلطنت بيان ،ج۲، ۲۷۱ـ ۲۷۲مخ
[2] ـ موهن لال، زندگی اميردوست محمدخان،ددکتورهاشميان ژباره،،ج۱ ،۶۲مخ، پيرس، عروج بارکزائی، ۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدستی یی ځان و لالپورته ورساوه .هلته ارسلاخان د مقابلی توان په ځان کی ونه لیدی او په تیښته بریالی شو .ارسلاخان ددی پیښي وروسته د پیښور په شاوخوا غرونو کی سرگردانه او پاینده محمد خان کابل ته راستون شو.

لدی نه لږ موده وروسته د ازبکانو دښورښ له کبله د هیواد امنیت د خطر سره مخامخ شو. ددی ښورښ اوازه پوره جدی او ډارونکی وګڼل شوه چي تیمورشاه خپل جرئت دلاسه ورکړ او نیت یی وکړ کابل پریږدی او هرات ته ولاړ شي ، مگر پاینده محمد خان دی لدی ډارن کارنه منع کړ.هغه په کابل کی پاته شو او پاینده محمد خان د یو لښکر په مشری د بلخ په لور وخوځیدی . بلخ ته په رارسیدو سره بیله دی چي له توری کار واخلي د ازبکي مشرانو سره خبروته کښیناست او ټولي ناخوالی یی د سوله ایزی لاری حل کړي ، وروسته کابل ورغی او د شاه سره یوځای پیښورته ولاړي. پیښورته د تیمورشاه په رسیدوسره شهزاده عباس پرځان وډاریدی، د پلار په پښو کی ولویدی او بخښنه یی وغوښته. ارسلان خان مومند هم دشاه څخه د بخښنی غوښتلو په خاطر پیښورته راغی ، مگر په سبایی سر پریکړی بدن وخلگوته وروښودل سو او وروسته تیمورشاه د خپل زوی عباس سره کابل ته راوگرځیدی.[1]

څه موده وروسته یووار بیا تیمورشاه ته خبر راورسیدی چي د بخارا پادشاه شاه مراد په تحریک ازبکانو ښورښ پیل کړیدی. شاه مراد دڅه وخت راهیسي په شمال کی د درانیانو پر خاوره تیری کاوه .هغه وخت چي تیمورشاه وبهاولپورته په جنگ تللی وو، دشاه مراد تیری دومره حد ته ورسیدی چي تیمورشاه مجبورسو دخپلو شمالی سیمودساتنی په موخه پریکنده تصمیم ونیسي، ځکه چي شاه مراد لدی نه مخکی پر مرو باندی برید کړی وو او د هغه ځای شعیه وگړی یی په زوره مجبوره کړی وه چي شعیه مذهب پریږدي او سني مذهب ته را واوړي او که چیری داکار ونه کړي نو سرونه به یی غوڅ کړي. داهغه ته ورته یو کار وو چی صفوی شاه اسماعیل دخپل واک پر مهال د

---

[1] ـ موهن لال، همغه اثر، ج۱ ص ۶۴،الفنستون، همغه اثر،ج۲، ص ۲۷۷، تیمورشاه درانی،ج۲، ۶۳۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۰۲م کال وروسته د ایران د سني مذهبه وګړو اودهغو په ډله کی د مروی د سني مسلمانانو په هکله کړی وو.

د۱۷۸۹م کال په پسرلی کي تیمورشاه دیوه لښکر سره چي الفنستون يی شمير سل زره او غبار ۳۰زرو په شا وخوا کي ښودلی ، دکابل څخه دبلخ په لور روان شو . شاه څه موده په کندز کي پاته شو او وروسته د آقچي پرخوا چي ازبکانو لاندی کړیوه وځوځیدی . شاه مراد هم دآموتر رود راتير سو او کلفت ته راغی. ده خپل ورور عمر قوش بيګي دیوه واړه پوځ سره اقچی ته ولیږه . الله وردی ته یی دنده وسپارل چي پر تیمورشاه باندی د خوراکي موادو د رسولو لاره بنده کړي ، مګر د تیمورشاه پوځ چي سردار پاینده محمد خان یی محوری ټکی وو ، هر ځای چي به د دښمن سره مخامخ شو هغه به یی دړي وړی کړ. شاه مراد ډار ونیوی او یو شمیر ملایان او روحانیون د قران شریف سره تیمورشاه ته د بخښنی په خاطر ولیږل او پدی بهانه چي د مسلمانانو وینی توی نشي د سولی وړاندیز یی وکړ، پدی خبرو کی د آمـــو رود د پخوا په شان د افغانستان او بخارا تر منځ سرحد پاته شو او تیمورشاه کابل ته راوګرځیدی.[1]

دموهن لال په قول پر تیمورشاه باندی پاینده محمد خان دخپل ځان په ډول ګران وو. داسي ورځ به نه وه چي په انعام به یی نه ستایه . تیمورشاه په ۱۸۳۹م کال د می په شلمه د نړی نه سترګي پټی او په کابل کی خاوروته وسپارل سو.[2]

رښتیا خبره داده چي دبارګزیانو اقتدار دتیمورشاه په وخت په کابل کی ریښی وځغلولی او د سلطنت ترلاسه کولو پوری وغځیدلی. پاینده محمد خان به هیڅکله هم دا فکرنه وه کړي چي دده تر ټولوکشر زوی دوست محمد به یو وخت د کابل پر تخت ناست وي او د برتانیی سفیر به یی دربارته ورځي . داحمد شاه دراني هغه تاج او تخت چي د حاجی جمالخان په مرسته یی ترلاسه کړی وو

[1] ـپیرس ،عروج بارکزایی ۹ـ۸مخ ، غبار- افغانستان در مسیر تاریخ ،۳۷۶مخ ،الفنستون ـ افغان ،ترجمه فکرت تر ۵۰ مخ پورته

[2] ـ دکابل سلطنت بیان، دداکترکاکرژباره،ج۲ ، ۲۷۷مخ، موهن لال ،زندگی امیردوست محمدخان، ج۱، ۶۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



، دده د اولادی په لاس په پای کی رانسکوره شو. دا د پاینده محمد خان د هلوځلو میوه وه چي وروسته بچیانو ترلاسه کړه .

لنډه داچي سردار پاینده محمد خان د تیمورشاهی دولت په ټینګښت او ټکاو کي نه ستړی کیدونکی هلی ځلی وکړی، دده پر ضدیی هغه توطیه چي دارسلان مومند په تحریک د ده زوی شهزاده عباس په لاره اچولی وه ، د بیخه خنډ کړه. د تیمورشاه دولت مخالفان یی په پیښور، کابل ،کشمیر ،بلخ اونورو ولایتونو کی ودی ته اړایستل سوتر څو مرکزی دولت اطاعت ته غاړه کښیږدی. په پای کی پایند ه محمد خان د تیمورشاه ځای ناستی زمانشاه په امر اعدام شو.

## د پاینده محمد خان رول دشاه زمان په واکمن کیدوکی:

په ۱۷۹۳م کی کله چي تیمورشاه وفات شو ، دځان دپاره یی د ځای ناستی په هکله وصیت نه ؤ کړی . دده لویه کورنی او ډیرمیراث خوران پاته شول. دده د ۲۴ زامنو له ډلی نه شهزاده همایون په کندهار ، شهزاده محمود په هرات او شهزاده زمان چي پنځم زوی یی وو د پلار په ژوند کي د کابل صوبه دار ټاکل شوی وو. کله ناکله چي به تیمورشاه دکابل نه سفر وکړ، شهزاده زمان به یی د ولیعهد په توګه پریښود .دده اخلاق او کړه وړه درباریانو ته ډیر د منلو وړ وه . دده مور د تیمورشاه تر ټولو ګرانه ماندینه وه.[1]

دتیمورشاه تر وفات وروسته دغي ښځي د موقع نه ګټه پورته کړه، وپاینده محمد خان ته چي د تیمورشاه وزیر وو ورغله د خپل زوی لاس یی دده په لاس کی کښیښود او هیله یی تری نه وکړه چي د تخت په کښیناستلو کی مرسته ورسره وکړي .داچي پاینده محمد خان یو پښتون وو او د پښتونولی په دود ښه بلد وو ویی نه کړای شو ، دیوی ښځي هیلو ته چي هغه ملکه هم وي، منفی ځواب ووایی. پدی توګه یی ددی غوښتنه ومنل. دنورو دراني او قزلباشانو خانانو او قومی مشرانو څخه یی د شهزاده زمان د پاره یی بیعت واخیست او

---

[1] - فریه دشهزاده زمان مور دیوسفزو له قومه بللی،مګر اصف اهنګ بیا دا ښځه د چنداول د قزلباشانود قوم نه بللی ده او وایی چی ددی پر مهر باندی دابیت لکل شوی وو :

فلک رشک برد بر بزرگی جاهم --- کنیزفاطمه ومادرزمان شاهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه پر تخت کښیناست.[۱]**

**پاینده محمد خان د زمانشاه مورته د وعدی له مخي دقاضی فیض الله خان دولتشاهی هروی[۲] ، ملا عبدالغفار چي د تیمورشاه وزیران او باوری کسان وه ، ورسره یی وکتل . دوی په ګډه داسی پریکړه وکړه چی د شاه دمړینی تر اعلانولو دمخه باید ټول خانان او د قوم مشران و سلطنتی دربار ته ګویا د شاه په امر را وغوښتل شی ، کله چي دوی ټول حاضر شول ، ددربار د صالون دروازی وتړل شوی، وروسته یی دوی ته د تیمورشاه د وفات خبر اعلان کړ . پاینده محمد خان احساس کړه چی قاضی فیض الله خان په زړه کی د شهزاده عباس پلوی دی،کله چي پاینده محمد خان پدی پوه شو چي قاضی ښایی د شهزاده عباس پلوی وکړي، نو یی دخبرو لړي پخپل لاس کی واخیستله او ویی ویل :**

**« دمیت د ښخولو دمخه پکار ده چي دشاه د زامنو څخه یو نفر د پاچا په توګه وټاکل شی. دابايد داسی یوڅوک وی چي ددغه مقام لیاقت ولری او تاج وتخت وربانڈی ښکلی ښکاره سي. په یوه لاس دوی توری نسي کارول کیدلای . موږ چي شخصی اغراض او موخي نلرو ، یوازی اویوازی د هیواد ښیګڼي اوپرمختګ غواړو او د سلطنتی کورنی خیر مو ارزوده ،باید د شاهی دپاره د غسی د ښوصفتونو لرونکی څوک وټاکو. تاسی ټول چي پخپله هم د لوړی**

---

**[۱]ـپیرس، همغه اثر**

**[۲] ـ دیادونی وړده چی قاضی فیض الله خان د تیمورشاه استاد او د لمانځه امام یی هم وو ، ده په فقه او حدیثو کی لوی لاس درلود ،ډیر خوش طبیعته او زړور سړی وو . داحمد شاه بابا د مرګ نه وروسته کله چی شاولی خان خپل زوم شهزاده سلیمان پر تخت کښیناوه ، فیض الله خان پدی کار راضی نه وو او د تیمورشاه هرکلی ته چي د هراته راځوځیدلی وو، فراه ته ورغی . د احمدشاه بابا د وخت وزیر شاولیخان هم دده سره ملګری وو . په بکواکی یی هغه د نوموړی د یوه دښمن پلاس وواژه او پخپله د تیمورشاه خدمت ته حاضر شو .قاضی فیض الله پر تیمورشاه باندی ډیر ګران وو. ده په کابل او شاوخوا کی ډیری ځمکی درلودی او اوس هم ( ګذرقاضی) ا و( قلعه قاضی) سیمی دده په نوم یادیږي . د اولادو څخه یی ځینی کسان په ګذرقاضی اودکابل چاردهی کی میشت دی. دده قبر په عاشقان او عارفانو کی دی. دده ورور ملا ادریس هم یو عالم او فاضل سړی وو. ده د احمدشاه په اردو کی د قاضی دنده درلوده .یوځل هم تر شاولیخان بامیزی وروسته د ( دیوان اعلی وزارت ) مقام د څه مودی د پاره وده ته سپارل شویدی اما یو کال وروسته په ۱۱۷۹ کال کی وفات شو. (تاریخ احمدشاهی، د محمودالحسینی تالیف، ص ۴۶۵،و۵۷۴)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنی شهزاده ګان یاست باید په دغوغوښتونو کی زموږ سره همږغی اوسی . شهزاده زمان میرزا چي د ټولو دغوشمیرل شوو صفتونو اوشرطونو در لودونکی دی، دخپل علمیت ،لیاقت او په سلطنتی چارو کی د فعالیت له کبله تر خپلو نورو وږونو برلاسی دی ، باید د شاه په توګه وټآکل شي . دهمدی لامله زه پر تاسي باندی ږغ کوم چي وده ته بیعت ورکړي» .

دده تر وینا وروسته نورو وزیرانو هم هر یوه په نوبت سره د پاینده محمدخان د خبرو په تایید د زمان میرزا په پلوی نور دلایل هم چي دده دصفتونو ښکارندوی وه ، راوړل . دا ټولی خبری دناستو کسانو لخوا دتایید وړوګرځیدی او شهزاده زمان د پاچا په توګه وټآکل شو، وروسته فاتحه ولوستل شوه اود تیمورشاه دجنازی چاری پیل سوی .

پاینده محمد خان لکه څنګه چی مو ولیدل دشهزاده زمان سره پر تخت دده د کښیناستلو په چاروکی لویه مرسته وکړه ، مګر بیا هم پاینده محمد خان د شهزاده عباس لخوا بیغمه نه وو. دده دا تشویش پرځای راوخوت. د فاتحی مراسم لا پای ته نه وه رسیدلی چی شهزاده عباس ټول وږونه د چهلستون (داماڼي تیمورشاه جوړه کړی) په قصرکی راټول کړل، د هغوی څخه یی بیعت واخیست او ځان یی پاچا اعلان کړ. کله چي پاینده محمد خان او نور دزمانشاه پلوه خانان خبرشوه ، دمیر اصلان خان جوانشیر او جعفرخان جوانشیر په مشری یی یوشمیر عسکر ولیږل څو د چهلستون ماڼي محاصره کړي. شهزاده عباس یی د ټولو وږونو سره ونیوی او د شاه زمان حضورته راویستل ، زمانشاه د خپل سکنی ورور شجاع الملک پرته ( چي یوازی دری ورځی بندی وو) نور ټول وږونه تر غضب اوشکنجو لاندی ونیول. په پای کی مجبور سول چي بخښنه وغواړي او ده ته بیعت ورکړي. ده هم هغوی ټول وبخښل او په بالا حصار کی یی ځای ورکړ.[1]

## د پاینده محمد خان نظامی خدمتونه دشاه زمان دپاره:

[1] ـپیرس ،هم هغه کتاب ،۱۲۰مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چی شهزاده همایون په کندهار او شهزاده محمود په هرات کی د زمانشاه د پاچا کیدو څخه خبر شول ، هریوه ښورښ ته ملا وتړله .همایون په کندها ر کی دپاچهی اعلان اوسکه یی پخپل نوم باندی ووهل. وروسته یی د شاه زمان سره د جنګ د پاره تیاری ونیوی. شاه زمان هم د پاینده محمد خان په مشری قوتونه د کندهار په لور ولیږل . دواړی قواوی د کندهار په څلور میلی واټن کی په (باغ ببرو) نومی ځای کی سره مخامخ شوی. دهمایون د لښکرو قوماندان مهرعلی خان د مددخان اسحاقزی د میرمني ورور(دده اخښی) وو، د جنګ تر پیلیدو وړاندي پاینده محمدخان دهغه سره اړیکی ونیولي او هغه یی د خپلو منطقی خبرو تر اغیز لاندی دومره راوست چی په ډیره خوښی سره د همایون د پلوی نه واوښت او د زمانشاه د عسکرو سره یوځای شو. پدی کارسره همایون ماته وخوړل او بلوچستان ته وتښتیدی او هلته د بلوڅ نصیرخان سره یوځای شو او پر کندهار باندی د راتلونکی برید په هیله کښیناست.

سردار پاینده محمد خان کندهارته ورغی ،خانان اومشران یی اړایستل څو زمانشاه ته بیعت ورکړي. دده دغو صادقانه خدمتونو دشاه زمان په وړاندی دده قدر او درناوی نورهم زیات کړ اوده ته یی د کاله ۸۰ زره روپی معاش وټاکه . دبارکزو او غلجو برسیره یی د قزلباش د قواوو مشرتوب هم دده پر غاره واچاوه.[1]

زمانشاه د کندهار د چارو د سمون وروسته خپل وړوکی زوی قیصر چی ۷ کلن ماشوم وو، دعبدالله خان نورزی تر سرپرستی لاندی د کندهار حاکم وټاکه اوپخپله یی د قواوسره د هرات په لور حرکت وکړ. شهزاده محمود هم تسلیم شو. په هرات کی د چارو د سمون وروسته کابل ته راغی اوپه هند کی دفتوحاتو په هیله پیښورته روان شو. همایون چی د فرصت منتظر وو ، د بلوچستان څخه یی پرکندهار برید وکړ اوکندهاریی ونیوی. وړوکی قیصر یی زندان ته واچاوه ،مګر عبدالله خان دیحیی خان نسقچي باشي سره یوځای ځان

---

[1] ـموهن لال، دامیر دوست محمدخان ژوند .لومړی ټوک ، ۶۵مخ ، پیزس ــ ۱۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پیښورکی شاه زمان ته ورساوه .همایون یو وار بیا ځان پاچا اعلان اوسکه یی ووهل. په دغه وخت کی دعبدالله خان نورزی ورور احمد خان نورزی د خپلو قواوسره پر ښار حمله وکړه. مګر عبدالکریم خان(یا عبدالکبیرخان) دپاینده محمد خان د ورور رحیمدادخان زوی چي د همایون قوماندان وو، ودفاع ته راووت اوخونړی جګړه ونښته . په پای کی احمدخان زخمی اوماته یی وخوړل. دنښتی پر وخت یی ډیري وینی ضایع کړی، ضعف وربآندی راغی اود اس نه ولوید. ملا حسن درویش چی یوفقیر سړی وو وربآندی پیښ سو،کورته یی بوت اودرملنه یی ورڅخه وکړه . همایون وربآندی خبر شو، نفر یی ورپسی ولیږل اوځانته یی وغوښت. نیت یی و چي له منځه یی یوسي، مګر د یوشمیر درانی خانانو دمنځګړیتوب له مخي یی د وژلوڅخه تیرشواود خپلو قواوسرقوماندان یی وټاکه.

دهمایون لخوا دکندهار د نیولو څخه چي زمانشاه ته خبر ورسیدی ،هغه مجبورسو څو پیښور پریږدی ،کابل او وروسته بیا کندهارته حرکت وکړي. د دواو خواوو لښکری یووارېیا د کندهار په ۴۰ کروهی کی سره مخامخ سوی( ۱۷۹۴ پسرلی) . د زمانشاه د لښکروقوماندان داځل هم پاینده محمد خان وو،خو همایون بیا د شاه زمان پخوانی قوماندان احمدخان نورزی دخپلو قواوو قوماندان ټاکلی وو چي وروریی عبدالله خان نورزی دلته د شاه زمان په پلوی جنګ ته راغلی وو. داځل پاینده محمد خان جنګ بیله وینو تویولو وګټی . داحمد خان سره یی اړیکی ونیولی هغه یی خپلی خواته رامات کړ ، همایون بیا ماته وخوړل او وتښتیدی. همایون دا پلا هرات مخ ونیوی څود شهزاده محمود سره یوځای شي. فتح خان بارکزی (د پاینده محمدخان زوی) تر ګرشک پوری دهغه پسی ولاړ،خو ګیر یی نکړ او بیرته کندهارته راستون شو.[1]

شاه زمان وکندهارته د رارسیدو سره سم شهزاده محمود ته یولیک واستاوه چي همایون ونیسي او لاس تړلی یی وده ته راولي، مګر همایون د فراه څخه د ریګستان دلاری وبلوچستان ته تللی وو. دهغه ځایه دسند تر څنډو

[1] پیرس،هغه کتاب، ۱۳-۱۲ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسیدلی وو او دهغی ډلي سره مخامخ شو چی دده د نیولو د پاره ټاکل سوی وو. دلته یی ماته وخوړل اودسند و ختیځو غاړوته وتښتیدی، هلته یی ونیوی چی دشاه زمان په امرړوند کړل شو او پاته عمر یی په زندان کی تیرکړ.

## د پاینده خان د میرمنی لویه ادی سربښندنه:

لویه ادی د وزیر فتح خان مور وه چی هوښیاری او دلاوری کی تر خپل خاوند پاینده محمد خان کمه نه وه . اصلا دا د ګرشک اود نادعلی په یوی شتمنی کورنی پوری یی اړه درلوده . د نادعلی کلا د لښکرګاه لویدیز ته یوپیژندل سوی ځای دی . ددی ځای نړیدلی کلا د« ادی قلعه » پنامه یادیږي . دګرشک د لویدیز په ۱۵ کیلومتری کی د«مالګیر» پنامه کلی کی د «ادی باغ» پنامه هم یوځای هلته سته چي نړیدلی دیوالونه یی تر اوسه هم پاته دی . پدی کلی کی هم بارګزی اوسیږي .هغه مهال چی خلګو لا د جنګ د پایلو په هکله خبر نه درلود ، دغی غیرتمنی ښځي خپله بوغره ( برقع) واغوستل او توره یی تر ملا وتړل، پراس سپره شوه ، د ښار پر زندان یی برید وکړ او ۸ کلن قیصر د شاه زمان زوی یی له زندانه ازاد کړ،بیرته یی د حکومت پر یوی چوکی کښیناوه ، پدی توګه نوموړی پتمنی ښځي د شازمان سره خپل ملاتړ وښود ، د قیصر ازادول یی د جارچی د لاری د خلګو تر غوږونو ورسول.

دی میرمنی همدارنګه د جنګ د پایلی تر مالومیدو پوری د ښار امنیت ته پاملرنه وکړل چي په غلا او چپاول لاس پوری نسی، یوځل دی ته خبر ورسیدی چی ددی زوم مرتضی خان غواړی په ښار کی تجارتخانی او دکانونه چورکړي . لویی ادی هغه ددی کارنه منع کړ او اخطار یی ورکړ چي که دا کار وکړي نو سربه یی پری کړی . هغه ددی خبری ته غوږ ونه نیولی او په چور یی لاس پوری کړ .لویی ادی حمله پر وکړه او په توره یی داسي وواهه چي د مځکی راپورته کیدای نسو، وروسته یی زندان ته واچاوه . په پای کی یی دیوه روحانی سړی عبدالستار په شفاعت هغه وبخښی او له زندان نه یی راوایست. څوورځو وروسته شاه زمان د خپلو لښکرو سر د کندهار ښار ته ننوت .کله چي یی خپل وړوکی د همایون په جنګ کی زخمی سوی زوی قیصر ژوندی ولیدی ، ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحاله سو ، د لویی ادی څخه یی مننه او درناوی وکړ . قیصر یی بیا هم په کندهار کی پریښود. دا زړه وره ښځه تر اوسه هم د درناوی سره ملګری ده . دګرشک د نجونو لیسه ددی په ویاړ نومول سویده .

لویه ادی د سردار پاینده خان میرمن او دمشهور وزیر فتح خان مور او داروابښادعبدالرؤوف بینوا له لیکنی سره سم"دبارکزی کلان خان لور وه"په دغه کلا(نادعلی) کی دلوی اختر دکیچړی پخول تر ډیره وخته پوری دمحمدزیو په کورنیوکی یو دود وو. اروابښاد بینوا لیکی دی:"دمحمدزیو په کورکښی چه هرخای وی، دلوی اختر په ورځ ضرور او هرومرو کیچړی خوری. د دی کیچړی په فلسفه ځینی خبرنه دی او تقلیدی روان دی، او ځینی ئی داسی بیان کوی، وایی: دوزیرفتح خان تر مرګ وروسته "لویی ادی" خپل نور زامن دلوی اختر په ورځ راټول کړه او کیچړی ئی پوخ کړی و؛ چی ترهمدی کیچړی خوړلو وروسته د وزیرفتح خان د انتقام اخیستلو په عزم ټول ملا وی تړی او لویه ادی دپښتونوالی مراسم" دبره ایشول" پرځای کوی څو له دی ځایه څخه دمحمدزو دکورنی دسلالی تشکیل جوړیږی.»[1]

## دپاینده محمد خان په وړاندی د شاه زمان بی پروایی :

کله چی شاه زمان د کندهاره وکابل ته راستون شو اوسلطنت یی ټیکاو وموند ، دقومی مشرانو سره یی بی پروایی خپله کړه او کرار کرار یی د مطلق العنانی (زورواکی)لاره یی ونیول. شاه زمان ته چي خپل نظر ډیر پرځای ښکاریدی ،نه یی غوښته چی نور خلک پرده باندی د خپلو خدمتونوپه خاطر منت واچوی اویا داچی د خپلی قومی وندی له مخی د هیواد په اداره کی شریک او اغیز ولری. په همدی موخه یی د خپل سلطنت په دریم کال (۱۷۹۶م) کی سردار رحمت الله خا د سردار فتح خان پوبلزی زوی چی د ملتان د میشتو ابدالیانو څخه و، د افغانستان په لویو ښارونو لکه کابل ، کندهار او نورو کی یی قومی اغیز نه درلود، د«وفادارخان» په لقب سره خپل صدراعظم وټاکی. له بده

[1] ـمعصوم هوتک،دناوی دانشور، دکندهار منور،دزنګاوات مخور،ګاپ کندهار۲۰۱۲،ص ۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغه پدی وخت کی دده وزیر هم یو عصبی او بد خویه قهرجن سړی وو چی د قومی مشرانوسره یی ښه سلوک نه کاوه اوتل یی ددغو مشرانو په وړاندی شاه زمان بد بینه کاوه.[1]

ددغو سردارانو او قومی مشرانو په ډله کی یو هم پاینده محمد خان د بارګزو مشراو د دربار د نژدی کسانو څخه وو. سره لدی چي پاینده محمد خان د شاه محمود سکنی ماما وو، مګر په داخلی جنګونو کی یی د شاه زمان پلو ونیوی. ښکاره ده چي ده ددی تولو خدمتونو په خاطر هیله درلوده څو د صدارت چوکی ورکړل شی. همدارنګه قزلباش مشرانو لکه میر اصلان خان جوانشیر او جعفرخان جوانشیرچی دده د سلطنت د تینګښت په خاطر یی ډیری هلی ځلی کړی وی ، دوی هم د زمان شاه څخه ډیری هیلی درلودی.

کله چی وفادارخان پدی پوه سو چی زمانشاه یی د مکاری په جال کی ګیر شویدی ، وده ته یی د درواغو راپورونه ورکول چي ګویا پاینده محمد خان د شاه شجاع پخاطر فعالیت کوی څو پرتخت باندی یی کښینوي. پدی توګه یی شاه د تولو قومی مشرانو په ځانګړی ډول د پاینده محمد خان په هکله بد بین کړ. دا خبره تر هغه ځایه ورسیده چی شاه به په څرګنده د نوموړی کسانو په وړاندی مخالفت کاوه . د همدی کبله سرداران او قومی مشران د شاه څخه ناراضه شول او غوښتل یی په مناسب وخت کی غبرګون وښیی.

دنظر خاوندان وایی چی شاه زمان یو په بل پسی دوی سیاسی تیروتنی وکړی: لومړی داچی دکم عقل وفادارخان په دسیسه او تحریک یی فرمان صادر کړ چی له مخی یی تول بارګزیان ددولتی مقامونو او امتیازاتو څخه بی برخی کیدل، دوهم داچي هغه مقام چی د خپل خدمتونو په مقابل کی د پاینده محمد خان حق وو(وزارت اعظم) ،هغه یی وبی کفایته وفادارخان ته ورکړ.

پیرس لیکی، چی وفادارخان یو حریص او ځان غوښتونکی سړی وو، ده کوښښ کاوه چی تول د شاه اقتدار پخپل لاس کی ونیسی. دی د خپلو کښتو کسانو ( زیردستانو) په وړاندی ډیر مغرور اوتر ځان د لوړو کسانو (بالادستانو)

---

[1] ـفرهنګ، افغانستان درپنج قرن اخیر ، چاپ ایران، ۱۹۵مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړاندی ډیر نرم ،چاپلوس او ډارن وو. ده د هر چل او نیرنګ نه کار واخیست څو زمان شاه یی د خپل لاس آله وګرځاوه . لدی نه وروسته چی هر څه ده غوښته ، زمانشاه هم هغه کول.[۱]

الفنستون وایی، پدی خاطر چي شاه زمان د خپلو عزیزانو له ډلی نه یو ډیر بی کفایته سړی ته واک سپارلی وو ، دا کار هم دده د برباد کیدو لامل شو او هم یی ملت د سترو بد بختیو سره مخامخ کړ.

## سردار پاینده محمد خان او د مخفی انجمن جوړیدل :

له هغه نه وروسته چی زمانشاه پاینده محمد خان او نور قومی مشران له دندو لیری کړل، پاینده محمد خان ګرشک او په نادعلی کی د ادی قلعه ته راغی چی د شاه او د بد غوښتونکو رقیبانو څخه لیری وی. داچی ده غوښته یانه غوښته ، په هلمند کی دبارګزو د ناوی مشران به یی مجلس ته راتلل. وفادار خان داخبره و زمانشاه ته ورسول او دده ذهنیت یی لا نور هم د نوموړی په هکله خړپړ کړ.

دقومی مشرانو په اړوند دشاه دی ډول نارضایتونو هغه ولسي متل ور یاداوه چی (خدمت کرده ګناه لازم) یا ( هندو ستړی ، خدای ناراضه . ژباړ. ) . داحالت د دوی د پاره د منلو وړ نه اوباید د حل یوه لاره یی لټولی وای.

په(۱۷۹۹م) کال، کله چي شاه د خپلو لښکرو سره کندهارته راغلی وو، قومی مشرانو پخپلو کی مشوری سره کړیوی او پریکړه یی وکړه چي زمانشاه له تخته راوپرزوی او وزیر یی له منځه یوسي.

نوموړی قومی مشران د میا غلام محمد هندی په کورکی چی یو روحانی سړی وو( دځینو روایتونو له مخی دی یو هندی سوداګر وو . ژباړ. ) سره راټولیدل. دغه هندی میا غلام محمد چی په کندهار کی اوسیدی ، پاینده محمد خان دده په اجازه څو پټي جلسي د نوموړی په کورکی وکړی او لازمی پریکړی هم ونیولی شوی. ددغه پټ ( مخفی) انجمن غړی لاندی کسان وه :

---

[۱] - پیرس ، هم دغه کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ - پاینده محمد خان بارکزی ،
۲ محمد رحیم خان علیزی،
۳ - اسلام خان پوپلزی،
۴ - حکمت خان سرکانی،
۵ -سلطان خان نورزی،
۶ - میراصلانخان جوانشیر،
۷ - محمد عظیم خان الکوزی،
۸ - جعفرخان جوانشیر،
۹ - زمانخان رکاب باشي،
۱۰ - خضرخان علیزی.

دتاریخ سلطانی لیکونکی د زمان خان رکاب باشی پر ځای د یوسف علی خان خواجه سرا نوم اخلی او د زمانشاه خسر نورمحمد خان بابری چی د امین الملک لقب یی درلود هم د نومړو کسانو په ډله کی راولی [1].

دهغو پریکړو په لست کی چی دمخفی سازمان غړو د پایند ه محمد خان په مشري د هغه هندی روحانی په کورکی د جلسی په وخت کړی وی ، یوه پریکړه یی داوه چی د تاج وتخت د پاره به شاه پسله دی نه په انتخابی ډول غوره کیږی او میراثی دود به نور د منځه یوسی. بله پریکړه داوه چی دشاه انتخاب به یوازی د سردارانو حق وی او که چیری شاه بی کفایته ثابت شو، د هغه لیری کول به همدارنګه د سردارانو لخوا تر سره کیږی. دجلسي غړو د سردار پاینده محمد خان دا وړاندیز هم تایید کړ :

لومړی باید ترهرڅه دمخه ډیر ژر وفادارخان اعدام سی ،
دوهم ــ شاه زمانشاه به د سلطنت نه لیری کیږي ،
دریم ــ دزمانشاه ورور شاه شجاع به دسلطنت پر تخت کښینول کیږي.[2]
ددی پریکړو د عملی کولو د پاره سبا ورځ چي پنجشنبه وه وټاکل شوه

---

[1] - فرهنګ، هغه کتاب تر ۱۹۶مخ پوری او تاریخ سلطانی ۱۶۸ مخ
[2] -پیرس ، هغه اثر، ۲۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او محمد عظیم الکوزی ته د وفادار خان وژل ور د غاړی شوه . نوری چاری پایند ه محمد خان پرغاړه واخیستی.[۱]

## دشاه زمان په فرمان د پاینده محمد خان او نورو قومی مشرانو وژل کیدل :

دبشپړ احتیاط سره سره بیا هم د انجمن راز افشا سو. منشي باشي میرزا محمد شریف خان قزلباش چي پخپله یی هم په دغه توطیه او تړون کی لاس درلود ، ده و وزیر اعظم ته راپور ورکړ او هغه شاه ته . شاه زمان لومړی خپل ساتونکی ګارد بدل کړ او پر ځای یی نور کسان وګمارل .هر یوه ته یی یوه اندازه پیسي بخششي ورکړی چي دد ه ښه ساتنه وکړي . په راتلونکی ورځ یی د انجمن غړی یو یو په جلا ډول په شاهی ماڼي کي خپل حضورته راوغوښتل . وروسته یی دوی پدی بهانه چي د وزیر د وژلو دپاره یی پلان جوړ کړی وو، اعدام کړل او امر یی وکړ ددوی جسدونه د نورو د عبرت او ډار پخاطر د ښار په څلورلاری کی تماشا ته کښیږدی. وروسته یی هندی میا غلام محمد هم ونیوی او اعدام یی کړ. داعدام شوو مړي دری ورځي تماشا ته پراته وه او هیچا جرئت نه کاوه څو هغوی ښخ کړي. په پای کی قاضی محمد سعید خان بازګزی دشاه په اجازه د پاینده محمد خان مړی واخیست ، د ذاکر کلی ته یی یووړ او هلته یی دده د پلار حاجی جمالخان د قبر څنګ ته ښخ کړ.

تاریخ پوهان لیکي، محمد عظیم خان الکوزی ددی ډلی تر ټولو خطرناک ګنل کیدی ، دده تر نیولو وروسته یی یو صاحب منصب د پاینده محمد خان د نیول د پاره دهغه کورته واستاوه .د تصادف له مخی صاحب منصب پر فتح خان پیښ سو او صاحب منصب ته یی وویل چي پلار یی په کور کی نسته ،خو بیا به هم یوځل ولاړسي څو پوښتنه وکړي چي هغه چیری دی. کله چی فتح خان کورته ولاړ او پلار یی په موضوع پوه کړ، ده ته یی مشوره ورکړه چی وتښتی او ځان پټ کړي. فتح خان داهم ورته وویل چی زه به صاحب منصب د ورسره

---

[۱] ـ تاریخ سلطانی، ۱۶۸مخ، پښتانه د تاریخ په رڼا کي ، ۹۰۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلو ملګروسره ووژنم.[۱]

پاینده محمد خان د زوی خبره ونه منل او ویی ویل چي ښه خبره داده چي شاه ما ووژني ،نه داچي خلګ ما ډارن وبولي، بچیانوته می پیغورونه ورکړی او هغوی تل زما په خاطر خجل وګرځي. پاینده محمد خان داچي روژه یی وه او ماښام نژدی وو، د ماښام لمونځ یی وکړ او د روژه مات په خاطر یی اوبه وغوښتی . دوست محمدخان چی ۷ کلن هلک وو ،د اوبو ظرف ئی راوړه. لاسونه یی ریږدیدل ، پاینده محمد خان ظرف تری واخیسته، لږ اوبه یی و څکلی او دوست محمد ته یی د خیر دعا وکړه . وروسته دصاحب منصب سره د زمانشاه دربار ته ولاړ،هلته جلادان ورته منتظر وه اود زمانشاه په اشاره سر یی ورڅخه پریکړ.[۲]

د پاینده محمد خان او نورومشرانو اعدام اودا موضوع چي جسدونه یی دری ورځي تماشا ته پراته وه ، د هغوی کورنیو او پاته کسانو ته خورا ډیر تشویش پیداکړ.

پیرس لیکی، شاه زما ن پدی کار سره یو ډیر احمقانه عمل وکړچي د خپل یوه وزیر په خاطر یی نور قومی مشران اعدام کړل. دده دی کار دومره ناوړی پایلي درلودی چي نه یوازی یی دده له سره شاهی تاج وتخت واخیست بلکه په هیواد کی د لویی غمیزی لامل وګرځیدی.

دزمانشاه لویه تیر وتنه پدی کی وه چي د ځان څخه یی د قومی مشرانو د نارضایت دلاملونو او ریښو په هکله فکر ونکړ او دخپل دی کار پایلی یی تر اعدامولو د مخه ونه سنجولی . وروسته یی پدی خاطر چي د انتقام څخه مخنیوی وکړی، امر یی ورکړچي د بارکزو ټول سرداران او مشران ونیول سي . ددی نه یی اصلی موخه دفتح خان اود هغه د وړونو نیول وه.[۳]

په ربښتیا هم زمانشاه د پاینده محمد خان او دده د ملګرو په وژولو سره یو ناوړه او نه سنجونکی کار تر سره کړ . ځکه چی هغه داسی سړی نه وو چی

[۱]-پیرس، هغه اثر،۲۱مخ، فرهنګ هم هغه کتاب.
[۲]- سراج التواریخ ،ج۱، ۵۹ مخ، پیرس ،هم هغه کتاب ،حیات افغانی ـ۱۲۸ مخ
[۳]- پیرس ، هم هغه کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگ یی بی انتقامه پاته سي. شاه زمان او وزیر یی په بیغمه زړه سلطنت وکړي. دپاینده محمد خان قومی زور د زمانشاه تر قومی زور زیات وو .دده دغه کا ر دبارگزو ټول قوم ناراضه کړ او دده شل زامن یی چي تکړه جنگیالی وه خپل پر ضد راوپارول.

دسردار پاینده محمد خان داعدام په خبریدوسره دده زامن ، دوستان او خپلوان د کندهاره ووتل او د گرشک نادعلی ته یی ځانونه ورسول ځوپه هلمند کی د ناوی د بارگزیانو څخه د پاینده محمد خان په غچ اخیستلو کی مرسته وغواړی . دلته بارگزیانو ترهرڅه دمخه د پاینده محمد خان مشر زوی فتح خان دخپل  قوم دمشر په توگه وټاکی او وروسته یی پریکړه وکړه چي دده د هر تصمیم په عملی کولو کی به مرسته ورسره کوي. فتح خان که څه هم لا شل کلن سوی نه وو، خو ددی کار د پاره مناسب سړی او پوره وړتیایی درلوده . هغه پلان چي ده د غچ اخیستلو په موخه په پام کی درلود ، ډیر ژرییی نتیجه ورکړه . د غچ اخیستلو بشپړجزئیات به په وروستیو برخوکی ولولو. خو اوس به ښه داوي څو پخپله د پاینده محمد خان د شخصیت په اړوند ځوخبری وسي.

سردارپاینده  خان د خپل قوم یو متنفذ او پیژندل شوی سړی وو چي په ۱۶کلنی کی د قوم په مشری وټاکل شو. دخپلی پوهی او لیاقت له مخي یی د تیمورشاه په دربار کي لوړ مقام تر لاسه کړ. ده د سلطنت د ټینگښت په لاره کی ډیری سرښندنی وکړي اود تیمورشاه په وړاندی یی په کندهار ،پیښور ،کشمیر او بلخ کی دده ضد ښورښونه شنډ کړه او یاغیان یی واطاعت ته اړایستل .

دتیمورشاه تر مړینی وروسته دده  دتخت دپاره د شهزاده زمان په غوره کولو کی پوره مرسته وکړه، په کندهار، کابل او هرات کی یی دده ضد ښورښونه وځپل چی ددی ټولو خدمتونو په وړاندی یی ځان دقدر وړ مقام ته ځان مستحق گاڼه، مگر زمانشاه دا ټوله هیر کړه او د خپل صدراعظم په دسیسه یی لومړی دی د دولتی دندو څخه گوښه او وروسته یی دده د سپکاوی څځه هم مخ نه اړاوه . د زمانشاه دی ډول کړنو ، دی اړایست څو د نورو قومی مشرانو سره په گډه یوه دحل لاره پیداکړی. په پای کی تصمیم ونیول شو چی شاه راوپرځوی او پر ځای یی د هغه ورور کښینوي . له بده مرغه دا پلان افشا شو او زمانشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدی پلان کی ټول ګډ کسان په یوه نا سنجول سوی عمل سره د وفادار په تحریک سره په بیړه اعدام کړل . دی کار د زمانشاه او هیواد د پاره ډیري ناوړی پایلی درلودی. ددغو دوو لویو کورنیو (بارکزو او سدوزو) تر منځ د دښمنی او کورنی جنګ داسی اوربل سو چي نژدی دری لسیزی یی دوام وکړ. پدی اورکی نه یوازی د شاه زمان تخت وسوځیده بلکه د سدوزو د ټبر څخه سلطنت د محمد زو و کورنی ته واوښت.

## د زمانشاه تیر وتنی :

تاریخ پوهان دده لومړنی تیروتنه د صدراعظم په توګه د جاهل او بی کفایته وفادار خان ټاکل بولي چي دقومی مشرانو او سردارانو ناخوښی یی منځ ته راوستل او د شاه څخه یی دوی مړیجن کړل. دوهمه تیروتنه یی چي د نوموړي څخه ریښی اخلي ، هغه دپاینده محمد خان او نورو مشرانو بیړنی اعدام کول وه . دریمه تیروتنه یی داوه چي خراسان یی بیله دفاع څخه و فتحعلی شاه قاجارته دلاسه ورکړ. ددی ټولو تیر وتنو سرچینه هم هغه لومړی تیروتنه ده چي په پایله کی یی خپلی سترګی او سلطنت هم دلاسه ورکړ.

دالفنستون په اند زمانشاه سره ددی چی په سیاست کی تیروتنه وکړه ، که یی یو کار نه وای کړی ، دومره تاوان به ده او ملت ته رسیدلی نه وای . هغه کار داوو چي بی کفایته وفادار خان ته یی چي دده د قریبانو څخه وو ، د ډیرو صلاحیتونو او اختیارونو سپارل وه .

وفادارخان یو سدوزی سردار وو چي په مرموزو او ارامو کړو وړو سره یی کرار کرار د شاه اعتماد پر ځان باندی ترلاسه کړ. ده د شاه د اعتماد او باورڅخه دسرفرازخان( پاینده محمدخان) اود نورولوړ رتبه کسانو په کمزوری کولوکار واخیست . ښکاری چي ده د شاه روحیات درک کړی وه ، دهغه د ټول غرور سره سره به یی په غوړه ژبه او چاپلوسیو کار کاوه . دی پوهیدی چی فعالیت او هلی ځلی د شاه ډیری خوښیږي خو په چاروکی د جزئیاتو دښه تنظیمولو د پاره پوره حوصله او زغم نلری .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفادارخان ډیر ځان غوښتونکی وو. هرڅوک چی په نظر به یی حریف ورغی ، دښمنی به یی ورسره کول، مگر په مجلسونو کی یی چي کله به د خطر سره مخامخ کیدی، غرور او پرځان باور یی په ډار او بی جرئتی اوښت او پدی سره به یی حقارت او نفرت هم تر دی ځانګړتیاو برسیره شول. ومقام ته د رسیدلو وروسته ، دده د کړنو له مخي درانیان ورڅخه بیزاره شوه . ده هم داچی درانیان یی خپل حریفان ګڼل نو کوښښ یی کاوه د شاه او د درانی مشرانو ترمنځ درزونه راولی . دده حریصوالی هم دده تر ځان غوښتنی د دولت د پاره لږ تاوان نه د رلود. په دولتی ادارو او سیمه ایزو ارګانو کی به یی پخپله ګټه کار کاوه . داچی دده ګمارل شوو کسانو به تل اختلاس کاوه ، ددولت عایدات او شتمنی دومری کمی شوی چي دزمانشاه د سترو پلانو دلګښتونو دپاره بس نه وو . زمانشاه د خپل پلار په شان نه وو چي اقتصادی چاری یی ډیری ښی تنظیمولی، ځکه نو پخپلو پلانونو کی د ستونځوسره مخامخ کیدی. [1]

شاه زمان په دی توګه د خپل دربار او درانی مشرانو تر منځ واټن زیات کړ، دخراسان په ساتلو او دفاع کی یی جدی عمل ونکړ. د هند د فتوحاتو کوښښونه یی هم بی وخته وه او هم یی ښه تنظیم کړی نه وه ، ځکه یی نو په زړه پوری پایلی نه درلودی . ددی ټولو پره دده په هغه تیروتنه کی وه چی وفادارخان ته یی دده د کفایت نه لوړ صلاحیتونه ورکړی وه . شاه زمان ته په کار وه چي د قومي مشرانو اعتماد یی تر لاسه کړی وای. داکار د فتوحاتو په هکله دده سترو پلانونو ته ګټور تامیدلای شو. که یی داکار کړی وای هر څه به سم سوی وای. خراسان ته باید په خارجی سیاست کی لومړی ځای ورکړه شوی وای، ځکه چی د ایران شاه ډیر فعال سړی وو او د خراسان نیولو ته یی ملاتړلی وه . په لویدیز کی د خراسان ساتل په ختیځ هم دده د لښکرکښیو په ګټه وه. لنډه داچی ده باید د قومي مشرانو باوردلاسه نه وای ورکړی او د دربار سره یی د هغو واټن زیات کړی نه وای. خراسان یی باید په ټینګه ساتلی وای او د هند دفتوحاتو پلانونه یی ښه تنظیم کړیوای او وفادارخان ته یی ډیر صلاحیت

---

[1] ـ الفنستون، افغانان،د فکرت ترجمه، ص ۵۰۶ـ ۵۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وای ورکړي.

دامهال د احمدشاه بابا د وخت په پرتله هم په هندوستان او هم په ایران کی ډیر بدلونونه راغلي وه . په هندوستان کی فتوحاتو د اوږده وخت دپاره اوپرله پسی لښکر کښیوته اړتیا درلوده. په ډهلی کی نوری هغه خزانی پاته نه وی چی د دومره لښکر کښیو په رنځ اوعذاب وارزی . دپنجاب نیول بیا په تلوار سره اسانه کار نه وو. د احمدشاه بابا پر وخت د پنجاب سیکانو تاکتیک داسی وو، کله چی به د احمد شاه پوځ راورسیدی ،سیکان به د پنجاب نه وتښتیدل او کله چی به نوموړی پوځ تر فتحی وروسته بیرته خپل هیواد ته روان شو ، سیکان به هم بیرته راوگرځیده او پنجاب به یی لاندی کړ. پدی توگه د پنجاب ساتلودپاره یوه پوځ ته اړتیا وه چي باید هم هلته پاته او میشت اوسي. داکار هغه وخت امکان درلود چي د هیواد لویدیز سرحدونه خوندی وای او د هغه ځایه د حملو او تیریو امکان شتون نه درلودلای[1] .

تاریخ پوهان لیکی چي شاه زما ن یو زړور، مغرور او د قوي ارادی خاوند وو. ده زړه سوی نه درلود ،په بیړه به یی تصمیم نیوی او عملی کاوه به یی . « ده د بشری عاطفی او کرامت څخه لیری جزاگانی چي په هند او ایران کی رواج وی ، مگر سدوزی شاهانو په افغانستان کی نه کارولی، دلته عملی کولی. دبیلگي په توگه خپل ورور همایون یی ړوند کړ. د درة الزمان کتاب لیکوال د«تاریخ احمدشاهی » او «حسین شاهی» له قوله لیکی چی زمانشاه «به دگیډی د څیری کولو ، پزی پریکولو او سترگو کښلوجزاگانی هغو کسانو ته ورکولی چي تمرد به یی کاوه او عامه نظم به یی گډ وډ کاوه. په مذهبي چاروکی یی هم زمانشاه دومره متعصب اوسخت گیر ووچي په هر ځای کی به یی محتسبان مقرر کړیوه او امر یی کړی وو چي هندوانو ته پر اس باندی د سپریدو اجازه ورنه کړي چي په ښار اوشاوخوا سیموکی وگرځي .... اوکه چیری دوی پر اس باندی سپریږي نو د سپریدو اس یی باید زین ونلري[2]» . دده

---

[1] ـ الفنستون، افغانان،ترجمه فکرت، ص ۵۰۶ـ ۵۰۷

[2] ـ پوپلزائی، دره الزمان فی التاریخ شاه زمان، ص ۲۴۲، طبع ۱۳۳۷ش کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیودالی ضد سیاست چي په بیره یی خپل کړی وو ، دی یی د سلطتنت نه راواچاوه او د سترګو د دید څخه یی هم خلاص کړ[۱].

## دپاینده محمد خان د قبر پر تخته ویرنه ( مرثیه ) :

دهغه وخت یو معاصر شاعر د پاینده محمد مرګ یو نړیوال ماتم ، پخپله دی یی د میرانی نړی او دمرګ لامل یی د یاغیتوب یو تور بللی دی .نوموړی شعر په لاندی ډول دی :

جهان زماتم پاینده خان فغان برداشت — که آن جهان مروت جهان نواز آمد
چه خوانی آنکه زتیمورشه لقب او را — ندیم دولت سردار"سر فراز" آمد
چه بود باب وزارت وزیر شاه زمان — به او زحب ریاشد به کینه باز آمد
غرض که از پی تمهید قتل او در دل — به جمعی از امراءهم به کینه بازآمد
شهید ساخت همه را بجرم تهمت بغی — ولی چوشمع خودش نیزدرگداز آمد
بزرگوارخدایا به بی نیازی خویش — به او ببخش که سویت بصد نیاز آمد
ز سال رحلت او گفت هاتف غیبی — "شهید اکبر و پاینده سرفراز آمد"[۲]

په لوړ شعر کی د ( شهید اکبر و پاینده سرفراز امد ) نیم بیتی که د جمل په حساب وشمیرل شي نو به ۱۲۱۴ورڅخه جوړشي چی دا سنه د میلادی (۱۷۹۹) سره سمون خوری ( دجمل حساب چي ابجد یی هم بولي په شعر کی د یوی نیټی د را وړلو پخاطرکارول کیږي . پښتو ژباړونکی)علامه حبیبی د پاینده محمد خان د اعدام نیټه د همدغه ۱۲۱۴کال د روژی د میاشتی ۱۳یاد کړیده[۳] .

سردار پاینده محمد خان د مرګ پر وخت د ژوند یو څلویښتم پسرلی ته رسیدلی وو. په اوه کلنی کی د پلار د میني څخه بی برخی سو . سردار رحمدل خان دسردار پاینده محمد خان زوی په ۱۲۴۱کی دسنده راغی او په کندهار کی د خپل ورور سردار شیردلخان تر وفات وروسته په ( دهله ) کی حاکم وټاکل شو. ده د خپل بل ورور سردار مهر دلخان مشرقی څخه هیله وکړه چی د پلار د

---

[۱] ـ فرهنگ،افغانستان در پنج قرن اخیر،ج۱، ص۱۹۶ـ ۱۹۹
[۲] ـ سراج التواریخ،ج ۲،۱۹٦ مخ وروسته
[۳] ـحبیبی،تاریخ مختصر افغانستان، ص ۲۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبر پر ډبرینه تخته باندی د لیکلو په موخه یو ویرنه ( مرثیه شعر) ولیکي . سردار مهر دلخان مشرقی هم چی یو پیاوړی شاعر وو ، پنځه بیتونه یی د پلار د پاره مرثیه او دوه بیتونه یی هم د رحمدلخان په خاطر ولیکل اوده ته یی وسپارل چي پر نوموړی تخته باندی یی حک کړی . هغه بیتونه دادی:

از سعی وتلاش سرور دین پرور　　　سردار زمانه رحمدل کان هنر
شد ساخته این لوح مزار انور　　　یارب تو نگهدارش از رنج خطر

* * *

زپا فتاد چو بر خاک سرفراز جهان　　　بلند ناله و افغان شد از همه افغان
شهید خنجر بیداد ظلم گشت افسوس　　　بدور و عصر وفادارعهد شاه زمان
نشان لطف وسخاوت شدازجهان معدوم　　　نماند درهمه افغان مروت واحسان
زبهرماتم این کان جود و بحر سخا　　　سیاه پوش شدند اهل هند وترکستان
ز آتش غم رویش جگر کباب شده　　　ز شور ماتم او دیده ها بسی گریان

امیر دوست محمدخان چي د پاینده محمد خان وروستی زوی وو ، دده سلطنت پر وخت دده د سپینو زرو(نقری) په سکوکی لاندی بیت نقر شوی وو:

سیم وطلا به شمس و قمر میدهد نوید
وقت رواج سکهٔ پاینده خان رسید

پاینده خان د هغه درناوی له مخي چی د تیمورشاه په اړه یی درلود ،پرخپل مهر باندی یی یوبیت لیکلی دی چی هلته یی خپل لقب «سرفراز» د تیمورشاه نوم اوخپل نوم وریکښی یاد کړیدی:

تا که مهر طالع از اوج شرف تابنده است
«سرفراز» خدمت «تیمورشاه» پاینده است

## دزمانشاه اوسردار پاینده خان شجره نسب

زیرک

پوپل　　　الکو　　　بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| حبیب | نورالدین |
| بامی | سیفل |
| گنجی | دارو نیکه |
| بهلول | نیک |
| معروف | اسماعیل |
| عمرخان | خضرخان |
| اسدالله(سدوزی له دغه سړی نه ریشه اخلی) | |
| خواجه خضرخان | محمدخان (محمدزی له دغه سړی نه ریشه اخلی) |
| شیرینخان | اختیارخان |
| سرمستخان | یعقوب خان |
| دولتخان | سرورخان |
| محمدزمانخان | یوسف خان |
| احمدشاه بابا | حاجی جمالخان |
| تیمورشاه | پاینده خان |
| زمانشاه | وزیرفتح خان |

## دسردار پاینده خان اولادونه :

۱-وزیر فتتح خان (۱۷۸۰-۱۸۱۸م) اصلی نوم یی فتح علی وو د(نوای معارک) دکتاب له مخي دی له یوی پیښوری میرمني ښځه چي د قاضی خیلو د قوم وه دسربلند په نامه یو زوی او یوه لور درلوده . زوی یی په وړکتوب کی مړ شو او لور یی نواب زمانخان ته واده وه.

د فتح خان مور د گرشک د بارگزو دنصرت خیلو ښځه وه چی دلوی ادی په نامه مشهوره وه.

۲-تیمورقلی ( ۱۷۸۱- ۱۸۸۲-م) - دی د فتح خان سکنی ورور وو.د( تاریخ معاصر افغانستان)له مخی دده زوی سردار محمدسرورخان سیا د دری ژبی پیاوړی شاعر تیرسویدی(۱۳۰۰ش).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳-محمد عظیم خان(۱۷۸۵ - ۱۸۲۳-م) - دی هم د وزیر فتح خان سکنی ورور وو. زامن یی:حبیب الله خان ،سمندرخان،سلطان احمد خان سرکار،محمداکرم خان او محمد عمرخان. د فاروق عثمان کورنی د محمد عظیم خا په کورنی پوری تړاو لری او ډاکتر رسول زلمی د اولسمشر کرزی دخارجه چارو وزیر هم د سلطان احمد خان سرکار د زوی سردار عبد الله خان دلاری د محمد عظیم خان سره تړاو لري .

لوړ دری واړه وړونه دیوی مور څخه وه.

٤-نواب اسد خان - دده مور یی بارکزی وه، زامن یی نواب محمد زمانخان (دانګریزانو په لومړی جنګ کی د مجاهدینو مشر وو) ده دوه زامن درلوده : شکرالله او شجاع الدوله ( دا هغه شجاع الدوله دی چي په ۱۸۴۲م کال یی د انګریزانو ګوډاګی شاه شجاع دسیاه سنګ په جبه زارکي وواژه ) .شکر الله دوه زامن درلوده : جنرال غلام حسین خان او غلام علی خان.

٥- نواب عبد الصمدخان (۱۷۸۵ - ۱۸۲۷-م) - دنواب اسد خان سکنی وروردی . زامن یی : محمد غوث خان او عبدالقادرخان نومیدل . د عبدالقادر خان زوی محمد نادرخان نومیدی او دده زوی بیا عبدالرزاق حامد د ډاکتر صمد حاد پلار وو.

٦- نواب طره باز خان - ددغو درو واړو وړونو مور بازګزی وه چی د ملک دین زایی د ښاخ څخه وه.

۷- کهندلخان (۱۷۹۷- ۱۸۵۵-م) - دی په هرات کی وفات سوی اود «جامی» په مزارکی ښخ دی .(زامن یی: محمد صدیق خان ، سلطانعلی خان،محمد عثمان خان،محی الدین خان،عبد الله خان او محمد عمرخان.) ددی کورنی پاتی شونی دهلمند په ګرشک او میوند کی میشت دی. دده مور غلجی وه اود هوتکوپه قوم کی د ایدوخیلو د ښاخ څخه وه.

۸- پردلخان(۱۷۸۵- ۱۸۳۰-م) - دکهندلخان سکنی وروردی. (زامن یی : میرافضل خان، عبدالرسول خان او عبدالاحد خان دی.) سردار عبدالوهاب خان او دده زامن عبدالرحمن خان اوحبیب خان د امانی د وخت د دوهمی مشروطه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتونکو څخه وه. احمد رحمانی او رحمت رحمانی د افضل خان د اولادی څخه دی.

۹-مهردلخان(۱۷۹۳- ۱۸۳۴-م) - تخلص یی مشرقی اود فارسي ژبی تکړه شاعر اود مثنوی مولوی بیتونه یی شرح کړیدی . زامن یی خوشدلخان ،منورخان اوشیرعلی خان دی . د پردلخان سکنی وروردی .

۱۰- رحمدلخان (۱۷۹۶- ۱۸۶۰-م) - دی هم د پردلخان سکنی وروردی په فارس کی وفات شوی اوپه نجف کی ښخ سوی دی. زامن یی : محمدعلم خان ،محمدسرورخان او غلام محمد طرزی د محمودطرزی پلاردی.

۱۱- شیردلخان - دپردلخان سکنی وروردی.

۱۲-عطا محمد خان (۱۷۸۶- ۱۸۲۹-م) - دده مور الکوزی وه .

۱۳- یار محمد خان (م۱۷۹۰-۱۸۴۸-م) د عطا محمد سکنی ورور دی.

۱٤- سید محمد ( ۱۷۷۹-........) - دی یی هم سکنی وروردی.

۱۵- پیر محمد خان (۱۸۰۰- ۱۸۷۱-م) - دعطا محمد سکنی وروردی.

۱٦- سلطان محمد خان ( ۱۷۹۰- ۱۸۴۸-م) - دی په «طلایی » مشهوردی. دعطا محمد سکنی وروردی . زامن یی : یحیی خان او ۴۹ تنه نور . سرداری یحیی خان د سرداریوسف خان پلاردی. نادرخان، شاولیخان ، محمد عزیزخان ، محمد هاشم خان او غازی شاه محمود خان دیوسف خان زامن دی. وروسته نادرشا ( ۱۹۲۹- ۱۹۳۳-م) پوری او دده زوی محمدظاهرشاه (۱۹۳۳- ۱۹۷۳-م) د افغانستان پاچا وو .سردار محمد داود خان د سردار محمد عزیزخان زوی د ( ۱۹۷۳- ۱۹۷۸-م) دافغانستان لومړی جمهور رئیس تیر سویدی.

۱۷- نواب جبار خان (۱۷۸۲- ۱۸۵۴-م) - دی د پاینده محمد خان د یوی کوهستانی صورتی مینځي څځه زیږیدلی دی . زامن یی : محمداکبرخان ، محمد افضل خان ،عبدالغنی خان ،عبدالغیاث خان او حبیب الله خان دی.

۱۸- جمعه خان - موریی یوه تاجکه صورتی مینځه وه . زامن یی رحمت الله خا ن او نوردی.

۱۹- اسلم خان - مور یی یوه نورستانی صورتی مینځه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰-دوست محمد خان (۲۳ دسمبر۱۷۹۲ -۹جون ۱۸۶۳م ) - دده مور د سیا منصور فارسی د خلګو څخه وه او د هرات په (ګازرګاه ) کی خاوروته سپارل سویده. دوپنځوس اولادونه ، زامن او لورګانی یی درلودی.[1]

۲۱-امیر محمد خان - دامیر دوست محمد خان سکنی وروردی .زوی یی سردار شمس الدین خان درنجیت سنګ سره یی د جمرود په جنګ کی او د انګریزانو سره یی د افغانانو په لومړی جنګ کی ډیره میړانه کړیده. سردار محمد عزیز خان د سردار شمس الدین خان زوی په ۱۳۱۰ش کی د دری ژبی یوتکړه شاعر وو.

لکه څنګه چی موهنلال روایت کوی ، وزیرفتح خان دپاینده محمد خان لومړنی زوی وو .فتح خان ، تیمورقلی او محمد عظیم خان دری سره د بازګزی د قوم څخه دیوی مور دی . نواب اسد خان ،نواب صمد خان او نواب طره باز خان هم د بلی موردی چي همدارنګه بارګزی وه . د پاینده محمد خا ن اوم زوی عطا محمد خان وو چی یار محمد خان ،سلطان محمد خا ن ،سید محمد خان او پیر محمد خان دده سکنی وړونه دی او مور یی الکوزی وه . دوولسم زوی یی پردلخان وو .دده سکنی وړونه شیردلخان ،کهندلخان ،مهردلخان او رحمدلخان دی چی مور یی دهوتکو د ایدوخیلو څخه وه . جمعه خان هم د پاینده محمد خان بل زوی دی او دده مور هم مینځه وه .اسلام خان یی هم د یوی صورتي مینځی زوی دی ، دوست محمد خان یی شلم زوی دی او امیر محمد خان دده سکنی ورور دی چی ددوی مور د سیاه منصور د کورنی څخه ده چی د فارسی قوم یوښاخ ګڼل کیږي. ټول یی ۲۱ زامن دی.[2]

دنوموړو کسانو د نسب نوری سجری د دغو سرچینو څخه تر لاسه سویدی : سراج التواریخ، حیات افغانی، درزوایای تاریخ افغانستان ، افغانستان در قرن ۱۹، زندګی امیر دوست محمد خان ، د ښاغلی صدیق رهپو طرزی یاداښتونه ( از اعقاب سردار پاینده محمد خان بارګزي) .

---

[1] - تاریخ مختصر افغانسان،۲۸۷مخ
[2] - موهن لال، زندګی امیردوست محمدخان، ج۱، ص۷۰- ۷۱ ، ۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوېم فصل(د رحمت آریا ژباره)

# د شاه محمود په حکومت کې‌د وزیر فتح خان تأریخي رول



## وزیرفتح خان ( ۱۷۸۰- ۱۸۱۸ ز)

قرنها صبر بباید که تا مـــام وطـن
چون فتح خان وزیر باز بزاید پسری
«سیستانی»

(پیری پیری زغم و پښـخ باید وګالل سي چې د هېـواد مور ،
د وزیرفتح خان په شان زوی نړې ته راوړي )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وزیر فتح خان د ابو مسلم خراساني د تېر یو مېړنی:

وزیرفتح خان زښت فعال، نوښتگر، تېنگ، سیال، په خبره ولاړ، درونـد، پیاوړی، ژمن، هېواد پال، لاسپراخی، تورکښ او بې باکه جنگیالی شخصیت وو چې د سدوزي شاه محمود د واکمنۍ د پېر په کورنیو شخړو او جگړو کې بې په سرلوړۍ او بریالیتوب سر پورته کړی او له همدې کبله ورته د شاه محمود د پوځي څواکونو د نابغه اتل لقب ورکړل شوی دی. وزیرفتح خان د خپل بَرخَلیک له مخې له ابو مسلم خراساني ، بابُک خُرَمدین او د سپمې له نورو سترو تأریخي څېرو سره پو شمېر وَرته والي لري.

د بېلگې په توگې، ابومسلم خراساني د خپلې ځوانۍ د سباوون په شپو ورځو کې له امویانو څخه د خلافت واگې د خپلې تورې په زور واخېستلې او عباسیانو ته بې ډالۍ کړلې خو په پای کې د ناشکره عباسي خلیفه (منصور دوانیقي) په لاس په خنجر ټوټې ټوټې شو، د پولادي هوډ خاوند وزیرفتح خان هم ، دوه ځله د سلطنت واگې له شاه زمان او شاه شجاع څخه د خپلې تورې په زور واخېستلې او هغه بې د سدوزي شاه محمود په ورغوي کې کېښودلې خو په پای کې د همدغه ناشکره پاچا په لاربښوونې لومړی په دواړو سترگو ړوند او بیا بند په بند ټوټې ټوټې شو.

هماغسې چې ابومسلم خراساني په ۱۹ کلنۍ کې خپله پېښه د سیاست پر ډگر کېښېښودله او ۱۸ کاله بې د عباسي خلافت د واکمنۍ لپاره توره ووهله ، په ۳۷ کلنۍ کې بې خپل سر د دغو ټولو خدمتونو په هیداد "پاداش" کې له لاسه ورکړ، وزیرفتح خان هم کټ مټ په ۱۹ کلنۍ کې د سیاست پر ډگر پښه کېښېښودله او د سدوزیو د واکمنۍ د ټېنگښت او تمرکز لپاره بې ۱۸ کاله توره ووهله خو د کینه کښ او ناپوهه شهزادگي کامران په لاس لومړی ړوند سو، وروسې بې د خپل پلار شاه محمود په لاربښوونې د گڼیو "نیشکر" د لښتې په څېر بند په بند ټوټې ټوټې کړ. فتح خان پرته له دې چې له ستونې کومه آه را پورته او یا ځگېروی وکړي اویا د چا د زړه سواندۍ غوښتنه وکړي، مرگ بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کوکارو پرته په مېړانې پر ځان ومانه.

سره له دې چې د وزیر فتح خان مړینه د هغه د اوسپنیز پیاوړي زغم او مېړانې له اړخه په درېمې پېړۍ کې د بابُک خُرَمدین او د خُراساني خداش له مړینې سره ورته والی لري خو د هغه مړینه زموږ د هېواد او د ګاونډیو هېوادونو د تأریخ او پېښلیک د پیاوړو مخورو څېرو له مړینې څخه لا هم پرتمېنه ده. د نړۍ په تأریخ کې به داسې څوک ونه موندل شي چې د وزیرفتح خان په شان دې له انساني هېښې « طاقت » پورته د شکنجو او ځور په ګالنې او د بې ساري زغم جوګه وګرځي. د عیني شاهدانو له خولو روایت شوی : کله چې وزیرفتح خان بې واژه، د لښکر ټول بولندویان او مشران د شاه محمود په لاربنوونې په لېکه ودرېدل ، هر یوه په خپل وار لومړی د وزیرفتح خان د لاس ګوتې بیا لاسونه تر اوږو پورې او بیا پې د پښو ګوتې تر زنګنو پورې بند په بند بېلې کړلې؛ خو وزیرفتح خان دغه ټولې له هېښې او توان پورته شکنجې او ربړې په دومره مېړانې وزغملې چې له خولې بې یوه وړوکې آه هم را ونه وتله؛ خو له دومره ربړ او ځور وروسته بیا هم ژوندی وو او له دې چې ژوندی وو نو ککره بې ورته له غاړې پرېک کړه او په دې توګې بې پر ژوند د پای ټکی کښېښودل شو. له دې پېښې څو مېاشتې مخکې کامران میرزا د فتح خان په سترګو کې ځکه دوه ځله خنجر وهلی وو چې د هغه له ړوند تابه څخه ښه ډاډمن سي ؟!

ښاپې دداسې وحشي وژنې وېل په وَیکو او غونډلو « جملاتو» کې آسانه وي خو د بند په بند پرېکولو او دداسې قصابۍ په څېر د یوې شدلې پېښې انځورول زښت ګران کار دی. که د همدغې پېښې ځرنګوالی پوازې د یوې شېبې لپاره په سترګو کې را وګرځوو چې څنګه د یوه ژوندي سړي د بدن بندونه پرېک کېږي، لومړی بې یو لاس ۱۸ ځایه په چړې پرېک کېږي بیا بې بل لاس ۱۸ ځایه بند په بند له یو بله بېلېږي ؛ بیا بې وار پښو ته را ځي او هره پښه بې په پښځلسو ځایونو کې بند په بند پرېک کېږي او بیا بې د غوږونو او شونډو د پرېکولو وار رسېږي او هغه هم په ډېرې شدلتیا ورڅخه پرېک کېږي او په پای کې بې ککره د یوې چوغکې په شان له غاړې بېله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ژوند بې د پای ټکی اېښودل کېږي، نو ددغه ناتار په تل کې به د شاه محمود او شهزادګي کامران په برمانتیه ګری او شډلتابه ښه پوه سو. شرم دې وي په داسې زړه سېرولو او سخت زړی!

وزیر فتح خان د یوه زړوّر او ویاړمن انسان په توګې ژوند وکړ او د خپل اعدام پر مهال بې هم د یوه ننګیالي او سرلوړي افغان په توګې له شډلتابه او څور سره جوګه مړینه د لښکر د هغو مشرانو له لاسه په نه منونکې مېړانې او سرلوړی ومنله چې څومېاشتې مخکې بې دده تر لاس لاندې کار کاوه او په خپلې مړینې بې هغو کسانو ته چې دده د بدن غړي بې بند پر بند په خنجر وربېلول څرګنده کړه چې په خپل پیاوړي اوسپنېز زغم کولای شي ټول دردونه او ټپونه د البلو ، کوربلو او زاریو له وېلو پرته وزغمي خو هېڅکله به د شاه محمود او کامران په څېر د ناپوه پلار او زوی ځان منونکو غوښتنو ته سر ټېټ نه کړي. یوه شاعر ویلي دي:

در جهان نتوان اگر مردانه زیست
همچومردان می توان مردانه مرد

ژباړه : که دنیا کې د نارینه وو په څېر ژوند نه سو کولای؛ نو د نر په شان خو مړه کېدلای سو.

په جهان د نارینـــه دي دا دوه کاره
یا به وخوري ککری یا به کامران شي
خوشحال خان خټک بابا

بابک خرمدین، مازیار طبرستاني، خداش خراساني، استاد سیس بادغیسي او نور به د عباسي خلافت د واکمنی پر وړاندې د خپلو اوږد مهالو جګړو او هڅو په ترڅ کې نېول شوي او د پردیو عربو له پلوه به ټوټې ټوټې شوي وي، خو وزیر فتح خان هېڅکله د نېولو، ړندیدلو او د بند په بند بېلېدلو تر ورځې پورې نه د ځان او نه د خپلې کورنی لپاره د واکمنی او پاچاهی د نېولو کومه هڅه نه ده کړې ؛ فتح خان بوازې د شاه محمود د پاچاهی او د سدوزي سلطنت د قلمرو د ځمکنی بشپړتیا لپاره توره وهلې مګر ددغو ټولو سربښندنو په بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې، پرته له دې چې کومه وړوکي دوکه او خیانت پې کړی وي پوازې د دربار د یوشمېر رَخَورو "کېنه ناکو" ځانغوښتونکو او بد سترګو درباریانو په ځانګړې توګه د سردار عطا محمد خان بامیزي او شهزادګي کامران د رخي او سخې په کړس کې لومړی ړوند او بیا د خپلې ترورۍ 'عمه' د زوی شاه محمود له پلوه په ډېرې بېرحمۍ بند په بند بېل او ووژل سو.

دشمن اگرمیکشد به دوست توان گفت

با که توان گفت که دوست مرا کشت؟

(که دښمن مې وژني نو خپلو ته به ووایم / چا ته به ووایم چې خپلو ووژلم ؟)

لوېدېځو تأریخپوهانو د سردار پاینده خان زامن د بارکزیو وروڼو په نامه یاد کړي دي، د بارکزیو وروڼو په منځ کې وزیر فتح خان د مشرۍ ، پوهې، کار، هوښیارۍ ، ځیرکۍ ، میرانې، زړورتیا، لوی لاسۍ، ژمنتابه، تېـنګښت او غچ اخېستنې له اړخه چې ( د افغانانو یوه خصیصه ده) ځانګړې پوهه او وړتیا درلودله او د ټولو ورڼو په منځ کې مخکښ وو. فتح خان د فعالو او پیاوړلو روحیاتو څښتن وو، نوښتګر، له شور و ځوږه ډک هنګامه پې او انقلابي وو . دغو ټولو ځانګړتیاوو چې په ختـه کې پې هېواد پالنه ، د هېواد له ځمکنۍ بشپړتیا ننګه او د هیواد په کورنېو چارو کې د پردېو د لاسوهنې له منځه وړل اخښل شوي ول، فتح خان ته داسې مشخصات وربخښلي ول چې انګلیسانو " کینګ میکر" یا پاچا جوړونکی باله او کولای شو وزیرفتح خان " تاج بخښونکی" وبولو، په دې مانا هر چا ته چې د فتح خان زړه غوښت هغه ته پې تاج پې وربخښه او چې نه پې غوښتل تاج پې ورڅخه اخېسته. او دغه ځواک او ځانګړتیا د دغه ملي سردار په چلند کې له سره تر پایه برېښنده او روښانه وه.

د هلمند د دغه نومیالي بچي چې د خپلواکۍ غوښتنې ، سرلوړۍ او افغاني پرتم وېنه پې د هلمند د څپانده سیند د څپو په شان په هر رګ کې خوټېدله او په ختې کې پې مېړانه، زړورتیا او لوی لاسي پروت وو ، سره له دې چې نومیالیتوب پې هر چېرې په درنښت یادشوی ، بیا هم لا تر اوسه هغه په سمه نه دی پېژندل سوی. ددغه پولادي هوډمن او زغموال نومیالي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخلیـک بیا پـېـژندنه به زمونږ راتلونکو حق پېژاندو نسلونو ته له شک پرته د ستري زده کړې نوې کړکۍ پرانېـزي او پوه به شي چې د هېـواد د تأريخ او پرګنو لاربښوونکو په څومره مـېړاني او وياړ خپل ژوند تـېـر کړی دی. په دغې شننې کې به هڅه وسي چې د هېـواد د تأريخ ددغې ځلاندې او نومیالی څيرې بيا پـېـژندنه له ټولو اړخونو وکړو :

## د زمانشاه پر وړاندې د فتح خان پاڅون
## او د سلطنت پر ګدۍ د شاه محمود ناسته

مخکې مو ولـېـدل چې د قوم د مشرانو پر وړاندې د وزیر او په خپله د زمانشاه د نامطلوبه چلند له کبله د قوم د مشرانو او سردارانو په منځ کې نارضائـيتي رامنځته شوې وه؛ د زمانشاه دغه چلند نورو قومي سردارانو او مشرانو ته د منلو وړ نه وو نو له دې کبله يې په ۱۷۹۹ ز کال کې د هغه د پرځولو او د وزیر د وژلو هڅه تر لاس لاندې ونـېـوله؛ خو د مشرانو او سردارانو دا توطئـه کشف او پرته له دې چې د هغوی د نارضائـيتـېو لاملونو ته پاملرنه وشي ټول يې له یوې مخې له منځه یووړل ؛ په دې ډلې کې یو يې هم سردار پاینده محمد خان وو چې زمانشاه يې د سلطنت تر ګډۍ پورې رسولی وو او د بـېـلا بـېـلو پرګنو په ځانګړې توګې د دُراني سردارانو او د خپل قوم په منځ کې له ځانګړي ګرانښت و منښته برخمن وو.

د سردار پاینده خان د وژنې د خبر له خپرېدا سره سم زوی يې فتح خان، سره له خپلو ورونو او د بارکزیو له یو شمـېـر خانانو لکه : عبدالسلام خان، عبدالواحد خان، امین الملک محمدرحیم خان له دوه وو تنو نورو سره د اتو ساعتو په اوږدو کې د آس په سپرلۍ نادعلي ( د وزیرفتح خان مورنۍ کلا) ته چې د کندهار د لوېدیځ په ۱۵۰ کیلومتري واټن کې پرته ده ورسېدل او د بارکزیو د ټـبر نور مشران يې د ګرشک په نادعلي کې د زمانشاه له دغه ګام څخه خبر کړل. د زمانشاه ددغې وحشي کړنې پر وړاندې په ګرشک او د هلمند په ناوې کې د مـېـشتو بارکزیو په منځ کې د کرکې کچه زښته ډېره لوړه شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه نو له دې کبله ټول بارکزي له زمانشاه څخه د غچ او د پاینده محمد خان زامنو ته د مرستې لپاره چمتو ول. زمانشاه د فتح خان او د هغه د ورونو د نېولو لپاره یو شمېر سرتېري سېمې ته ولېږل خو د هغوی د هېڅ یوه په نېولو بریالي نه شول او بېرته تش لاس کندهار ته ستانه سول.

د سردارانو له وژنې وروسته د زمانشاه او د هغه د وزیر تر ټولو بد کار لا دا وو چې د بارکزیو سردارانو او د نورو د غچ له وېرې بې د ټولو بارکزي سردارانو او قومي مشرانو د نېولو حکم هم ورکړ. د دغه حکم بنسټېزه موخه فتح خان او د هغه ورونو ته نېغه وه؛ ځکه د سردار پاینده محمد خان له وژنې وروسته فتح خان د بارکزیو د قوم رئیس پېژندل کېده.

هلمند مېشتو بارکزي سردارانو د سردار پاینده محمد خان مشر زوی فتح خان د خپل قوم د رئیس په توګې وټاکه او بیا بې خپل اختیار د هغه په پرېکړې او هوډ پورې تړلی وباله. فتح خان هم د بارکزیو د قبیلې د مشرتابه له آزمېښته بریالی ووت او له شاه او وزیر څخه د غچ اخېستنې لپاره بې خپله طرحه شوې نقشه پلې کړه چې غوره پایلې بې ترلاسه کړلې.

فتح خان خپله نقشه په دې توګې ابستلې وه چې د زمانشاه ورور شهزادګي محمود دې بېرته خپل مرور ورور ته د وروری لاس وغځوي؛ شهزادګي محمود په ۱۷۹۷ز کال کې د خپل ورور پر وړاندې پاڅون کړی وو خو هغه مهال بې ماته خوړلې وه او له ماتې وروسته بخارا، خوارزم او ( فارس – ژ) ایران ته تېښتېدلی وو. الفنستن لېکي : شهزادګي محمود په لومړیو کې د خپل ورور واکمنۍ ته د وخت له غوښتنې سره سم غاړه کېښېښودله خو کله چې خپل ورور بې له کندهاره لېرې ولېد نو پاڅون ته بې لاس واچاوه او یو پیاوړی لښکر بې د کندهار پر لور وخوځاوه. زمانشاه هم د ورور پر وړاندې د یوه پېنځلس زره کسېز لښکر په مشرۍ له کابله راووت. دواړه ورونه د هلمند د روډ په دې غاړې کې د ګرشک په سېمې کې له یو بل سره مخامخ سول؛ سخته جګړه ونښتله؛ نېږدې وو چې زمانشاه ماته وخوري مګر په پای کې سوبه د هغه په برخې سوله. محمود د جګړې له ډګره وتېښتېد

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځان بې روغ رمټ هرات ته ورساوه. زمانشاه د فراه د نېولو لپاره یو ځواک ولېږه خو په خپله، لومړی کندهار او له هغه ځایه پېښور ته ستون سو.[۱]

شهزادګي محمود په ۱۷۹۷ز کال کې بـو ځل بیا پاڅون وکړ او له ماتې وروسته ( فارس – ژ) ایران ته وتښتېد او ځان بې د تهران دربار ته ورساوه چې فتح علیشاه ورته په ورین تندي تود ښه راغلاست ووېل. محمود د ۱۷۹۸زکال په پسرلي کې کاشان او له هغه ځایه اصفهان ته لاړ او د ۱۷۹۹ زکال تر پسرلي پورې په اصفهان کې پاتې شو؛ په هماغه کال کې پر خراسان د نېـري لپاره د ( فارس – ژ) ایران د پاچا بدرګه سو. له خراسانه د شاه له ستنېدا وروسته محمود په خراسان کې پاتې شو او پرهرات باندې د یرغل لپاره بې د هغه ځای د مشرانو د پام اړولو هڅه وکړه. په ترشیز او طبس کې بریالی نه شو خو وبې کولای شول د قاین او بیرجند د حاکم مهرعلیخان ملاتړ ترلاسه او د هغه له لس زرو سرتېرو سره یو ځای د هرات پر لور را ودرومي. په سبزوار کې له یوه لښکر سره مخامخ شو. دغه لښکر د زمانشاه زوی شهزادګي قیصر له کندهاره د هغه د مخنېوي لپاره لېږلی وو خو لښکر هېڅ ونشو کولای او ماته بې وخوړله او محمود په بریالیتوب پرمخ لاړ او هرات بې کلابند کړ. وفادار خان یو چل وکړ چې محمود بې پر مهرعلیخان شکمن کړ. شهزادګی د شپې په تیارې کې له لښکرکوټه وتښتېده او د بخارا پرلور بې ودرومل ؛ مهرعلیخان هم په نا چارۍ خپله مخه بېرته ونېوله او خپل قلمرو ته په شا سو.

شهزادګی محمود په بخارا کې په تودې غبرګې ومنل شو او په یوې سلطنتي مانۍ کې ورته ځای ورکړل شو. محمود تر هغه مهاله دلته دېره وو چې د بخارا د پاچا، شاه مراد دربارته د زمانشاه سفیر ورسېد؛ سفیر، د زمانشاه نېوکه شاه مراد ته ورسوله چې ولې بې محمود ته چې د خپل ولیمنعت پر وړاندې بې پاڅون کړی په خپلې غېږ کې پناه ورکړې او د محمود د سپارلو غوښتنه بې وکړه. سفیر ته د محمود د سپارلو په بدل کې د بخارا پاچا ته د ګران

[۱] ـ الفنستن ، افغانان، آصف فکرت ژباړه ، د مشهد ایران چاپ ، ۵۰۴ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېـه سوغات د ورکړې واک هم ورکړل سوی وو. ډېـري کسان په دې باوَر دي چې نـېږدې وو شاه مراد ، محمود، سفیر ته وسپاري خو محمود ووېل چې د حج د سفر تکل یې کړی او په دغې دیني پلمې یې د مذهبي پوهانو ملاتړ تر هم لاسه کړی وو، خو یـو بل روایت چې ډېـر رېښتیا برېښي وایي : شاه مراد نه غوښتل چې هم شاه زمان له ځانه خپه کړي او هم یې نه غوښتل ځان مـېلمه ته د خیانت په تور نوم بدی کړي. له دې کبله یې محمود ته په پټـه د رامنځته شوي ګواښ په اړه خبر ورکړ او ورڅخه یې وغوښتل چې په خپل تګ دې د ټولو ستونزو تېغر ټول کړي. شاه محمود له بخارا څخه خوارزم (اورګنج) ته لاړ او له هغه ځایه بیا د « فارس – ژ» ایران پر لور وخوځـېد[1]. په دغو شپو ورځو کې محمود د « فارس – ژ» ایران د کرمان په سوځندې تودوخې کې دېخوا آخوا لالهانده ګرځـېده.

فتح خان له شهزادګي محمود سره د یو ځا کـېدلو په هیلې د « فارس – ژ» ایران پر لور و خوځـېد او د سیستان له لارې یې د سیستان ـ کرمان تر منځ بې اوبو او وښو وچه دښته د اته کروه (فرسخ) په واټن ووهله او کرمان ته چې محمود په کښې دیره وو ورسـېد او هغه یې د زمانشاه پر وړاندې د سلطنت نـیولو ته وهڅاوه. دواړو د قرآن مـخته سوګند وکړ چې له یـو بل سره د همکارۍ په کولو به هـېڅـکله یو بل ته خیانت ونه کړي. له سوګند وروسته دواړه له پېـنځوس سپرو سره یو ځای د سیستان پر لور وخوځـېدل. دواړه په لنډې مودې کې د هغه وخت د سیستان مرکز ، جلال آباد ته ورسـېدل. سیستان ته په رسـېدلو د سیستان حاکم، ملک بهرام کیاني، افغانانو ته په ورین تندي غـېږه پرانـېستله او د ددوستۍ د لا زیاتـېدلو په هیلې یې خپله لور د شاه محمود زوی شهزادګي کامران ته په نـکاح ورکړه او ژمنه یې و کړه چې د کابل د سلطنتي ګدۍ په نـیولو کې به عملاً د شاه محمود ملاتړ وکړي. خو فتح خان سلا ورکړه چې په اوسمهال کې دغه ملاتړ د هغوی په ګټه نه دی او د محمود له لښکر سره د بهرام کیاني د لښکر له یـو ځای کـېدلو څخه لاس پر سر شو

[1] ـ الفنستن ،افغانان، ۵۱۱ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ملک کياني د هغوی ملا، په وسلو او پـېـسو وتړله.

## د کندهار په نـېونـګ کې د فتح خان رول:

مخکې له دې چې فتح خان وخوځـېږي خپل دوه ورونه يې له سيستانه د ۱۸ سپرو په بدرګۍ د دراني سردارانو په ځانګړې توګې د فراه د بارکزيو د ټبر د مشرانو د ملاتړ د راخپلولو لپاره فراه ته واستول. ورپسې فتح خان له محمود او کامران ميرزا سره يوځای فراه ته راغی. محمود او فتح خان د شاه زمان او د هغه د ناتار او ځانغوښتـنې په اړه د فراه مشرانو ته کـېسې وکړې؛ په پای کې د فراه د دُرانيو پـو شمـېر خلکو د فتح خان او محمود په رکاب کې د خپل چوپړ تياری ښرګند کړ.

محمود له دغو ځواکونو سره يوځای د کندهار پر لور مارش وکړ او ښرګنده ده چې د ګرشک او هلمند د ناوې د سـېمې بارکزيو هم ددغه ځواک ملا لا پياوړې کړله. کله چې محمود د بارکزي سردارانو په ملتيا کندهار ته رانـېږدې سو، د کندهار والي مهرعليخان اسحاقزي چې د شاه پسند خان په لقب هم يادېده د څلور زرو سپرو په ملتيا د کندهار دفاع ته ودرېد، خو فتح خان له داسې يـوې چلوټې کار واخـېست چې د والي ځواکونه يې د هغه پر وړاندې را وپارول او والي د خپل ځان له وېرې له ښاره وتښـتـېد. فتح خان ښار کلا بند کړ او له ۴۲ يا ۴۳ ورځو کلابندۍ وروسته يې ښار ونـيـو. شيرازي وايي چې فتح خان لومړنی سړې وو چې د ښارد دېـواله سر ته د څرمن د پـوې رسۍ په مرستې وخوت او شاهي نغاره يې په خپل بوټ و ډنګوله او په لوړ غږ يې وويل چې اوسنی دور، د محمود دور دی! دفتح خان په دغه غږ سره د ښار دروازې پرانـېستل سوې او محمود سره له خپلو سرتـېرو ښار ته ننوت او د ښار ساتونکو (ساخلو : تورکي ويی دی) محمود ته پوځي سلام وکړ [1].

[1]-تاريخ سلطاني، سلطان محمدخالص بارکزی، تاريخ سلطاني، چاپ ۱۲۸۹هجری =۱۸۸۱ز، بمبئی،۱۲۳ پ، پيرس، عروج بارکزائی، ژباړه : پژواک اوصدقي، پ ۲۴، ۳ ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو الفنستن په دې باور دی چې فتح خان په یوازې سر ښار ته ننوت او د عبدالله خان په نامه د ښار له یوه تن مشرانو څخه یې مرسته وغوښتله. عبدالله خان د محمود په پلوۍ را پورته او د ښار دروازه یې د محمود پر مخ پرانېستله او مهرعلي خان له بلې لارې وتښتېد او د کندهار د پرځېدنې خبریې په سندهـ کې شاه زمان ته ورساوه. [1]

د یو بل روایت له مخې دغه کار د یحیی خان بارکزي له پلوه ( ظاهراً د قاضي محمد سعید خان بارکزي په سلا) ترسره شو چې وختي یې ځان فتح خان ته رسولی وو او د هغه د سلا پر بنسټ ول چې فتح خان پرېمانه پوړۍ « زینې » را ټولې او بیا یې پر ښار یرغل وکړ او ښار یې په زور ونیو [2].

وزیرفتح خان پر دغه مهال ۱۹ کلن وو. شهزادگی حیدر له یارمحمد خان او د زمانشاه له نورو خانانو سره یو ځای بندیان شول. فتح خان له شاه محموده وغوښتل چې عبدالرحیم خان سدوزی او د هغه پلار دې اعدام کړي او بیا دې خبرتیا خپره کړي چې د درانیو په کړو وړو به هغه مهال ډاډمن سي چې د زمانشاه له ملاتړه لاس واخلي او خپله پالوالي یا وفا دې عملاً څرگنده کړي، شاه محمود کټ مټ همداسي وکړل . [3]

شاه محمود په دغه وخت کې فتح خان ته د وزیر څوکۍ ورکړه او د " شاه دوست" لقب یې ورته غوره کړ او د کندهار قاضي القضات، قاضي محمد سعید خان ته یې د " خان علوم" لقب [چې د پوهاندي له رتبې سره برابره ده] ډالۍ کړ. [4] د فتح خان د مُهر پسولنې ته یې په لاندیني بیت رسمیت ورکړ :

طالع محمود را نازم کزوست سرفرازملک ودولت شاهدوست
طالع محمود را نازم کزوست سرفرازفتح ونصرت شاهدوست

---

[1] - الفنستن،افغانان، دَري ژباړه فکرت، ۵۱۴ پ ، پشتو ژباړه لومړی ټوک ؛ حسن کاکر،د افغانستان د علومو د اکاډیمۍ چاپ ، ۱۳۶۱ل پ ۲۹۴
[2] - موهن لال ، حیات امیردوست محمدخان، لومړی ټوک ، ۲۷ پ
[3] - پیرس،عروج بارکزائی، ۲۴ پ
[4] - عزیزالدین وکیلي پوپلزائي،تیمورشاه دراني،۲ټوک، ۳۲۶- ۳۲۷ پ، تاریخ سلطاني له ۲۰۱ پاڼې وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د قاضی محمد سعید بارکزي مهر ته یې د لاندینۍ بیت په پسولنې :

محمدسعید از فضل حق مشهود شد قاضی القضات شاه محمود شد[۱]

## د کابل پرانیستنه:

د کندهار له نیولو وروسته شاه محمود د خپل لښکر د پیاوړي کولو لپاره پیسو ته اړتیا درلودله. ددغه کار چاره یې وزیر فتح خان ته پرېښودله. فتح خان د شاهي خزانې له ضبطولو وروسته د ښار له یو شمېر مشرانو او شتمنو څخه پیسې را ټولې او د لښکر اړتیاوې یې پرې برابرې او د خپلو جنګیالیو شمېر یې پېنځوس زرو ته لوړ کړ. [۲]

پر دغه مهال زمانشاه سنده ته نیږدې وو او پرهندوستان یې د یرغل تکل درلود خو د مهرعلیخان اسحاقزي (ساکزي) له خولې یې خبر تر لاسه کړ چې شاه محمود کندهار نیولی دی. زمانشاه خپل ورور شاه شجاع په پېښور کې پرېښود او په خپله یې د سترګو په رپ کې د کابل پر لور د خوځېدا تکل وکړ، خو کابل ته له خوځېدا مخکې یې د کشیمر د والي عبدالله خان الکوزي د غوږونو د تاوولو پرېکړه وکړه. زمانشاه د ډېرو تلفاتو په ګاللو وکولای شول عبدالله خان ونیسي او لاس او پښې یې په ځنځیر ور وتړي. د زمانشاه دغه خوځښت شاه محمود ته ګټه ورسوله، ځکه د عبدالله خان الکوزي ورور سیدال خان الکوزی په کندهار کې وو او د زمانشاه د دغه ګام په خبرېدلو له خپل ټبر سره یو ځای او د شاه محمود په چوپېر کې ودرېد [۳] .

زمانشاه په خپلې ټبر وتنې کابل ته له رسېدا وروسته پوه شو او د دُراني سردارنو په اړوند یې له خپلو ټبرو کړو وړو څخه پښېمانې څرګندوله خو اوس وار له واره ورڅخه تېر وو او د پښېمانۍ څرګندولو نوره ګټه نه درلودله. زمانشاه په ډېرې خوارۍ دوه لښکره جوړ کړل، یو لښکر یې د احمد

---

[۱] - پوپلزائي، هماغه اثر، ۶۶۵- ۶۶۷ پ

[۲] پیرس،عروج بارکزائی ،۲۴- ۲۵ پ

[۳] - الفنستن، بیان سلطنت کابل، ۲ ټوک،۲۹۴پ، پښتو ژباړه نصرالله سوبمن، دري – فارسي ژباړه فکرت، د مشهد ایران چاپ ، ۵۱۴ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان نورزي او د خپل زوی شهزادګي ناصر تر مشرۍ لاندې د کندهار پر لور او دوېم لښکر بې تر خپلې مشرۍ لاندې چې له لومړي لښکر څخه دوه منزله شا ته وو د غزني پر خوا وخوځاوه. احمد خان نورزي چې نه بې له وفادار خان څخه کوم ښه چلند لېدلی وو او نه بې له شاه زمان څخه ښه زړه درلود د کندهار لاره بې په ځمبېدو او پښېمانۍ زړه نا زړه وهله. فتح خان چې انګلیسي " پیرس " بې د " محمود د ځواک نابغه " بولي، د احمد خان په زړه او رخه ښه خبر وو، ځکه فتح خان پوهېده که د جګړې له پېښېدلو مخکې نوموړی له ځان سره یو ځای کړي نو د شاه زمان لاسونه به له شا ور و تړي، فتح خان پوهېده چې:

به شمشیری یکی تا صد توان کشت
به رأی، لشکری را بشکنی پشت

ژباړه : په توره به له یوه تر سلو ووژنې
خو په پوهې به د لښکر ملا ورماته کړې

فتح خان دغې موخې ته د رسېدا لپاره د احمد خان د ورور عبدالله خان نورزي په اړه چې اوس د شاه محمود په لښکر کې وو او په احمد خان زښت ګران وو ، سوچ وکړ او بیا بې له شاه محمود سره سلا وکړه، څرګنده ده چې شاه محمود د فتح خان ددغه سوچ ملاتړ وکړ. فتح خان په بېړې عبدالله خان په یوې پلمې بندي او داسې بې څرګنده کړه چې ګنې نوموړي، پاچا ته خیانت کاوه او ښایي چې اعدام شي ، یوازې هغه مهال د مرګ له منګولو خلاصېدای شي چې ورور بې احمد خان د زمان شاه له لېکو را بېل او له شاه محمود سره یو ځای شي. کله چې احمد خان نورزی د (غزني او مقر، قلات) ترمنځ د " سر اسپ" سېمې ته ورسېد نو د شاه محمود له ځواکونو سره مخامخ او د خپل ورور له برخلېکه خبر شو؛ احمدخان د سترګو په رپ کې له خپل لښکر سره چې شمېر بې پېنځلس زرو سرتېرو ته رسېده د فتح خان له لښکر سره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای شو؛ شهزادګي ناصر دغه خبر، د جبهې د شا د لېکې له خوا خپل پلار زمانشاه ته ورساوه [۱].

د فتح خان دغه تکتیک د زمانشاه پر روحیاتو مرګوني اغېزه وکړه؛ همدا چې د احمد خان نورزي او د هغه د زوی د تسلېمېدلو خبر ورته ورسېد، نو زمان شاه او وزیر یې وفادار خان په وېره کې ولوېدل او د ځان د ژغورنې او تېښتې په فکر کې سول. د زمانشاه لښکر هم خور و ور او وتښتېد. شاه او وزیر دواړه لومړی غزني او بیا له هغه ځایه کابل ته په شا شول چې بل ځواک راټول کړي، خو د هغوی نقشې بدلون وموند او د نوي لښکر د راټولولو پرځای چې له وزیرفتح خان سره یې جګړې ته چمتو کړي، خپل بدرګه لښکر یې هم له لاسه ورکړ. خبره ان تر دې ځایه ورسېدله چې د زمان شاه د دربار له کړۍ څخه له وفادارخان او زمان خان پوپلزي (بامیزي) او له لښکره یې له دوه سوه تنو سپرو او څلور سوه پلیو جنګیالیو پرته، نور څوک ورپاتې نه سول. زمانشاه له همدغه شمېر سره یو ځای د جلال آباد پر خوا وخوځېد.

مخکې له دې چې شاه محمود کابل ته ورسېږي لومړی یې فتح خان د دوه زورو سپرو په ملتیا کابل ته ولېږه؛ فتح خان هم د مقر ، غزني او کابل ترمنځ لاره په چټکۍ ووهله. د کابل دروازې د فتح خان پرمخ دوه وو تنو قزلباشانو : میر اصلان خان او جعفرخان جوانشیر پرانېستلې؛ دواړه قزلباشان په دې له شاه زمانه خوا بدي ول چې د هغوی دوه تنه سرکرده یې وژلي ول ځکه له دې مخکې یې له محمد زیو سره خپلوي کړې وه ؛ په دې توګې شاه محمود د کابل د بالاحصار په مانۍ کې د واکمنۍ پرګدۍ ډه ډه ووهله-۱۸۰۱زکال ، جولای. [۲]

## له شاه زمانه غچ اخیستنه :

---

[۱] - الفنستن، هماغه اثر، پ ۵۱۵

[۲]- تأریخ سلطاني،پ ۱۷۳ ، الفنستن، هماغه، پ۲۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر فتح خان ترهغو په کرار کېښې نه ناست چې شاه زمان او د هغه بد چاری وزیر وفادار خان يې د خپلو کړو وړو په سزا ونه ورَسول. وروسته له دې چې شاه محمود د کابل د واکمنۍ پرګدۍ ډه ډه ولګوله، د لښکر يوه برخه يې د زمان شاه د پَل د نيولو لپاره په زمانشاه پسي ولېږله. د شاه محمود د لښکر د مخکښ ډلګي او د شاه زمان ځواک ترمنځ د جګدلک د " وچې پانې" په سيمې کې لنډه نښته ومښتله او ځرګنده ده چې پايله يې د شاه محمود په ګټه وواښتله؛ د زمانشاه ځواک هر لور ته خور او وور او په تېښتو وتښتېد. لا لهانده زمان شاه له خپلو څو تنو پاتو ملګرو سره په ګډه د پټنځي په لټون کې وو. ملا عاشق شينواري له وفادارخان سره له پخوا پيژندګلوي درلودله او د جګدلک په سيمې کې د يوې کلا څښتن وو. بدمرغه پاچا دومره خوار شوی وو چې د لا لهاندۍ په نړۍ کې دې ته اړ شو چې د يوې شپې لپاره د ملاعاشق کلا ته پناه يوسي. ملا عاشق لومړی خپل وَر په ورين تندي د خپل مېلمه پر مخ پرانېست، خو کله چې خبرشو چې شاه محمود د کابل د واکمنی پر ګدۍ ناست دی نو د شاه زمان د نيولو په هڅې کې شو ځکه بېرېده چې سبا ورځ به شاه زمان ته د پناه ورکولو په تور د نوي پاچا د خوابدۍ او قهر تر مَتروکو لاندې وډبول سي، نو د کلا دروازه يې د شا له لورې وتړله او د شپې په اوږدو کې يې د خپلو زامنو له لارې شاه محمود ته پيغام ولېږه چې يو څوک دې ور ولېږي او خپل بندي دې دده له کلا تسليم سي [1].

زمان شاه او ملګري يې په لنډ وخت کې پوه سول چې د ملاعاشق په منګولو کې يرغمل دي. شاه زمان او ملګرو يې د خپل ځان د ژغورنې لپاره ډېره هڅه وکړه خو بريالي نه شول. نور نو رااېسار شوي شاه زمان او ملګرو يې ځانونه تقدير ته سپارلي ول او سترګو يې د هرډول پېښې د رامنځته کېدلو لارې څارلې. کله چې ددغسي نابېرې پېښې خبر کابل او پېښور ته ورسېد، له يوې خوا شاه محمود د خپل سيال د نيولو لپاره متې بډ وهلې ؛ له بلې خوا شاه شجاع د خپل ورور د ژغورنې په هڅې کې سو. له کابله د وزير فتح خان ورور

[1] - پوپلزائی، دره الزمان فی التاریخ شاه زمان، چاپ ۱۳۳۷ل ، مخ۱۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



نواب اسد خان له يوه جراح سره وخوځېد او له پېښوره عبدالکريم خان د بندي پاچا ژغورلو ته ودانگل. له دې چې د کابل او چگدلک تر منځ واټن لږ وو، نو نواب اسد خان له ټولو مخکې کلا ته ورسېد. زمانشاه د پاچاهۍ د پانگې ټول سره زر چې په هغه کې د کوه نور الماس هم وو د کلا په يوه سوري کې پټ کړل او فخراج [ د يوه ياقوت نوم وو] يې د کلا ترځنگ پوې ويالې ته وغورځاوه. د سباوون سپېدې لا نه وې چاودلې چې نواب اسد خان کلا ته ورسېد او پا چا يې ونيو او د شاه محمود په امر يې د زمانشاه سترگې ړندې کړې، ورپسې يې په سترگو ړوند سوی زمانشاه د هغه له نورو ملگرو سره يو ځای کابل ته سوټ موټ تړلی راووست. زمانشاه د کابل زندان ته ولېږل سو او د هغه وزير او ورور يې د کابل حاکم محمد خان د سردار پاينده خان په غچ کې اعدام او زمان خان پوپلزی د حاضر خان د وژنې په تورقصاص شو. [1]

دغه پېښه د ۱۸۰۱ ز کال د جولای په مېاشت کې ريکارډ شوې ده[2]. د شاه محمود د پاچاهۍ لومړی پېراو درې کاله وروسته په (۱۸۰۳زکال) کې د زمان شاه د ميرې زي شاه شجاع له پلوه پای ته ورسېد، د شاه شجاع لومړنی کار، ملا عشق شينواري ته د سزا ورکول ول، هغه يې راووست او له ستوني يې و ځړاوه او د کوه نور الماس چې تردغه دمه د ملا عاشق د کلا په سوري کې پټ ول د شاه شجاع لاس ته ولوېد او کلا يې ونړوله .[3]

## شاه شجاع ته د ماتې ورکړه :

د کندهار د ښار د دېواله پر لوړ غاښي باندې د فتح خان د پورته کېدنې له زړورتيا ډک گام او د خلکو غوږونو ته پيغام رسَول چې دا دور د محمود دی! او په پای کې د شورشيانو پر مخ د ښار د دروازو يو په بل پسې

---

[1] ـ تاريخ سلطانی، ۱۷۲ـ ۱۷۳مخ، کهزاد، رجال وروېدادهای تاريخی،۱۳مخ
[2] ـ پيرس،هماغه اثر، ۲۶ـ ۲۸ مخ
[3] ـکهزاد،رجال ورويدادهای تاريخي، پ ۱۵،عليقلی ميرزا، تاريخ وقايع وسوانح افغانستان، ۶۱ پ ، چاپ۱۳۷۶تهران

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرانېستنه ، ټول د فتح خان د لا ګرانښت او منښت لامل سول. دا د فتح خان لومړنۍ بریالۍ جګړه وه چې د زړورتیا، مېړانې او پوهې انګازې بې د شورشیانو او قومونو په منځ کې د هر چا په ژبې جاري او د شاه محمود په سلطنت کښې بې د وزارت مقام ته لوړ کړ.

که د کندهار په پرانېستنه کې د فتح خان مېړانه بوې خوا ته کښېږدو نو د مُقرُ په شاوخوا کښې د زمانشاه د ځواکونو پر وړاندې د فتح خان تدبیر باید په یاد ولرو چې څنګه بې د تورې له کارولو پرته د خپل میرځمن ځواک ځانته تسلیم او دښمن بې له محتومې ماتې سره مخامخ کړ. ورپسې بې د مقر،غزني او کابل تر منځ لاره په بېړه ووهله او د شاه محمود پر مخ بې د کابل د بالاحصار دروازې پرانېستلې او په هغې سلطنتي ګدۍ بې کښېناوه چې ژمنه بې ورسره کړې وه. د وزیر فتح خان همدغه ځېرکي او زړورتیا ده چې انګلیس تأریخپوه بې د « د محمودي ځواک د نابغې» په نامه یادوي او هر ځای د هغه له زړورتیا، پوخوالي او مېړانې څخه یادونه کوي.[1]

شاه شجاع، د کابل د پېښو له خبرتیا وروسته، د لښکر په راټولو پېل وکړ او د پېسو په زور د لسو زرو سرتېرو له برابرولو وروسته د کابل پر لور وخوځېد. کله چې شاه محمود خبر شو نو وزیر فتح خان او شهزادګی کامران بې د یوه درې زر کسیز لښکر په مشرۍ د هغه د مخنیوۍ لپاره ولېږل. دواړه لښکرې جلال آباد ته نېږدې د سُرخرود په سیمې کې له یوه بل سره مخامخ شوې. د شاه شجاع سرتېرو په دې ګومان چې ددوی شمېره د شاه محمود تر سرتېرو ډیره ده نو ځانونه بې وار له مخه برلاسي سوبمن ګڼل. خو د شاه شجاع سرتېرو د هغه پر پانګې چې له پېښوره بې له ځان سره راوړې وه ودانګل او لومړی بې غوښتل خپل پاچا لوټ کړي.

وزیر فتح خان د شاه شاع د لښکر پر دغې په خپل سرۍ او ګډوډۍ پوه شو او له همدغسې شېبې څخه په ګټې اخېستنې بې خپل لښکر ته بولنه ورکړه چې د شاه شجاع پر ګډو وډو جنګیالیو یرغل ور وړي. د شاه شجاع د

---

[1] -کهزاد، رجال وررویدادهای تاریخی، پاڼې ۲۴- ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکر لېکې د سترګو په رپ کې ماتې شوې؛ د ځان بچونې په سوچ کې ډوب شجاع د سېمې نېږدو غرونو ته په ختنې هلته پناه يو وړه،خو وسله او پانګه يې د فتح خان د ځواکونو لاس ته ورغله. فتح خان د شاه شجاع له خزانې څخه تر لاسه شوې پېسې د خپلو جنګياليو په منځو کې وويشلې او د پېښور پر لور يې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ. د پېښور دروازې په لنډې مودې کې د فتح خان د لښکر پرمخ پرانېستل سوې او له څېرمو سېمو څخه يې د مالېې راټولونه پېل کړه.

## د غلجيو اله ګوله :

وزير فتح خان په پېښور کې وو چې له کلاته تر زابله او له زابله تر لوګره مېشتو غلزيو په اله ګولې لاس پورې کړ. لومړی يې عبدالرحيم خان چې يو آرام او بې پرې سړی وو د خپل پاچا په توګه وټاکه ، ورپسې د شهاب الدين خان توخي تر مشرۍ لاندې بوې ډلې پر کندهار برېد وکړ. سره له دې چې د وزير فتح خان د تره زوی عبدالحنان خان بارکزي او سيدالخان الکوزي د ښار د ساتنې لپاره ډېر ساتونکي نه درلودل بيا هم د ښار د دفاع لپاره راووتل؛ د دواړو خواوو ترمنځ د کندهار د پل سنګی په سېمې کې نښته پېل سوه ؛ په نښتې کې له درانيو څخه دوه سوه تنه او له اله ګوله کوونکو څخه زر تنه ووژل شول، په پای کې اله ګوله کوونکي اړشول چې په شاي.[1]

د پاڅون بله ډله د عبدالرحيم خان غلجي تر مشرۍ لاندې د غزني پر لور پرمخ لاړه؛ دې ډلې د خپلې لارې په اوږدو کې پراته کورونه ، باندې، کلي او کلا ګانې لوټ او د غزني پرښار يې برېد ورووړ خو د غزني ښار له ځانه دفاع وکړه او پاڅونوال اړ شول چې د شلګرې او زرملې له لارې په لوګر واړوي. ګڼ شمير غلجي د لارې په اوږدو کې له هغوی سره ځای شول ، ويل شوي چې شمېره يې تر شلو زرو تنو ډېر وو. شاه محمود له ډېرو ستونزو وروسته درې زره تنه جنګيالي چمتو کړل او د ( شاه وليخان باميزي، د

[1] ـ کهزاد، هماغه اثر، ٣١ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدشاه دراني د سر وزير) زوی شيرمحمد خان مختارالدوله بې له بند څخه خلاص[۱] او د اله ګوله کوونکو د ټکونې لپاره بې ولېږه. دغه مجرب سړي د درو زره تنو اله ګوله کوونکو په وژلو وروسته پاڅونوال له پښو وغورځول، او د شاه محمود په امر بې د بلخ غونډۍ ته نبږدې د هغوی له ککرو څخه کوپړۍ - منارونه جوړ کړل .[۲]

د ۱۸۰۲ ز کال په مارچ کې ول چې له کلاته نېولي تر جلال آباده پورې مېشتو غلجيو بيا اله ګولې ته لاس واچاوه او په پام کې بې نېولي ول چې له درو خوا خواوو يعنی له لويديځ، سويل او سويل ختېځه پرکابل يرغل ور وړي. د اله ګوله چيانو شمېر پېنځوس زره اټکل سوی دی[۳]. وزير فتح خان او شهزادګي کامران دواړو په بېړې له پېښوره د کابل خوا ته مخه کړه؛ د وزيرفتح خان د تره زوی عبدالواحد په خپل ټول ځواک او امکان سره د کابل د اله ګوله چېانو په شا تمبولو ته ودانګل. په خپله وزيرفتح خان د غلجيو د قوم د جبارخيلو او احمدزيو د ټبرونو د جنګياليو پر وړاندې چې مشري بې محمد خان بابکرخيل کوله او شمېر بې لسو زرو ته رسېده ودرېد، او هغوی ته بې ټېنګه ماته ور کړه او بيا بې خپل پام د اله ګوله چېانو بلې ډلې ته چې مشري بې عبدالرحيم خان کوله واړاوه؛ دې ډلې غوښتل له ختېځه پرکابل يرغل وکړي. عبدالرحيم خان د خپلو لسو زرو جنګياليو په ملتيا د وزير فتح خان مخې ته ودرېد (۱۸۰۲ ز کال د مې د مېاشتې ۱۱). په دې جګړې کې وزير بيا پر خپلو مخالفينو لاس بری شو، عبدالرحيم خان سره له دوه وو زامنو ونېول شو او بيا اعدام شول .[٤]

دا د ۲۲ کلن ځوان وزير فتح خان پېنځمه بريالی جګړه وه. د درېمې ډلې د ټکولو لپاره دواړه شيرمحمد خان او احمد خان نورزی ګومارل شوي ول

---

[۱] - داسې برېښي چې له شاه شجاع سره د پټې اړيکې د لرلو په جرم نېول او بندي سوی وو. (الفنستن، ۲ ټوک ، ۳۰۱- ۳۰۴ پاڼې )

[۲] پيرس، هماغه اثر، ۳۱ پ ، الفنستن، ۲ ټوک ، ۳۰۴- ۳۰۵ پ

[۳] پيرس، هماغه ځای، پوپلزائی،درة الزمان، ۲۰۲ پ

[٤] - پيرس، هماغه اثر، ۳۲- ۳۳ پ ، الفنستن، ۲ ټوک، ۳۰۵ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کندهار او د هغه د ورځېرمو سېمو د ټېکاو خونديتوب وساتي. د لښکر دغو دوه وو مشرانو د خپلې لارې د اوږدو په دوارو غاړو کې د غلجيو ټولې کلا ګانې وېجاړې او له خارو سره بې پـَو او د غزني، کلات او کندهار ترمنځ د پرتو سېمو د ټېکاو له ټېنګولو وروسته کابل ته راستانه شول .[1]

شاه محمود خپل ټول پام د کابل د ورځېرمو سېمو خونديتابه ته اړولی وو چې شاه شجاع بېرته ځل بيا د خيبر د وګړو له منځه يو شمېر د پېسو او سوغاتونو په بدل کې ځانته راوهڅول او يو ۱۲ زرېز لښکر يې جوړ او پر پېښور يې يرغل ور ووړو خو د پېښور ساتونکو د شجاع ګڼ شمېر جنګيالي له پښو وغورځول او شاه شجاع يو ځل بيا په تېښتې و تښتېد. د همدغه ۱۸۰۲ ز کال په لړ کې ول چې د آمو د سيند د بلې غاړې وزبکو پر بلخ بريد وکړ خو د بلخ په ورځېرمو سېمو کې د وزيرفتح خان د لېږل شوي ځواک له پلوه يې ماته وخوړله او اړ سول چې بېرته د آمو د سيند بلې غاړې ته په شا سي .[2]

## له کابله د وزير فتح خان ليرې کېدل او د شاه محمود پرځېدنه :

د وزيرفتح خان پرله پسې بريالۍ د شاه محمود د دربار پر بوه نېږدې او مخـَور غړي اکرم خان الکوزي باندې ډېرې درندې پربوتلې او له وزير فتح خان سره يې تربګني پېل کړه. وروسته پرېکړه وسوه چې محمد اکرم خان دې په کابل کې پاتې سي او وزير فتح خان دې پېښور ته لاړسي. وزير فتح خان پېښور ته لاړ او د هغه ځای له پرګنو څخه يې د خپل لښکر د لګښتونو لپاره ماليه را ټوله کړله. د کشمير حاکم ورته پېنځوس زره روپۍ ولېږلې، بيا يې د

[1] ـ هماغه آثار، هماغه ځايونه
[2] ـ پيرس ،عروج بارکزائی، ۳۴ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوهاټ، بنو او دامان په لور ودرومل او له هغو ځایونو څخه یې هم مالیه را ټوله کړه ، وروسته یې د وزیرستان د نیولو تکل وکړ. د وزیرستان له نیولو وروسته، د ۱۸۰۳زکال دوبی وو چې کندهار ته ستون سو [1].

وزیر، کندهار ته د ستنیدا په لارې کې خبر سو چې شهزادگی قیصر د فارسیانو – ژ / ایرانیانو په مرستې پر کندهار د برید تکل لري ، پر دغه مهال کندهار د کامران میرزا په لاس کې وو. وزیر په بیړې ځان کندهار ته ورساوه او له شهزادګي کامران سره یې یو ځای د شهزادګي قیصر په تمبولو پیل وکړ. د دواړو خواوو ترمنځ په کوکران کې دیره کلکه خونړۍ جګړه ونښتله چې په پای کې قیصر ماته وخوړله. د قیصر د لښکر بولندوی اکرم خان په دغې جګړې کې ووژل شو، قیصر ونیول شو او کابل ته یې ولیږه. څه موده وروسته وزیرفتح خان له خپل ورور دوست محمد خان سره کابل ته راغی. شاه شجاع، کابل ته د فتح خان له ورتګ څخه په ګټې اخیستنې چې دګرېې تش لیدلی وو یو ځل بیا پر کندهار برید وکړ خو وزیر فتح خان له خپل ورور سره یو ځای د کامران ملاتړ ته ودانګل او یو ځل بیا یې شاه شجاع ته ماته ورکړه ، شاه شجاع بیرته پیښور ته وتښتید. په دغه ځای کې وزیر فتح خان د غفورخان بارکزي، سیدالخان الکوزي او خواجه محمد خان سدوزي پر پالیالۍ او صداقت باندې شکي شو او دواړه یې زندان ته ولیږل [2].

د وزیرستان د سوبې او د کندهار په کوکران کې د قیصر د ماتې په پام کې نیولو سره دا د شاه محمود د حکومت د مخالفینو پر وړاندې د وزیر فتح خان اتمه بریالۍ جګړه وه ؛ د فتح خان نهمه جګړه د کابل په قلعهٔ قاضي کې د شاه شجاع پر وړاندې وه چې د شاه محمود د ژغورنې لپاره یې تر سره کړه.

وزیر فتح خان په کندهار کې وو چې اکرم خان الکوزی په کابل کې مړ سو؛ له بلې خوا مختارالدوله شیرمحمد خان هم له شاه محموده د وزارت د څوکۍ غوښتونکی وو؛ خو شاه محمود دا څوکی د وزیر فتح خان حق ګاڼه او په

[1] ـ الفنستن، د آصف فکرت ژباړه ، ۵۲۲ پ
[2] ـ موهن لال،حیات امیر دوست محمدخان، ۱ ټوک، ۸۱ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دغې څوکۍ بې د شیرمحمد خان له ګومارنې څخه ډډه وکړه. شاه محمود خپل زړه پر قزلباشانو باندې تړلی وو او هغوی هم د خلکو پر خېټو او برخلیک باندې واک چلاوه؛ په دې توګې شاه د سنیانو په سرټکونو او شکایاتونو خپل غوږ هم نه ګراوه.

## د شاه محمود پر وړاندې د کابل د پرګنو سرکښي:

د شاه محمود او د هغه پر شا و خوا د را تاو شوېو قزلباشو پر وړاندې د خلکو نارضائیتي د هرې ورځې په تېرېدلو مخ په ډېرېدو وه. په دې لړ کې مختارالدوله شیرمحمد خان د ښار له یوه ستر روحاني سید احمد سره اړیکه ونیوله چې د شاه پر وړاندې بې راوپاروي. سید احمد د میرواعظ آغا په نامه پېژندل کېده، د هغه د علمیت او قدسیت انګازې د هېواد په هر ګوټ کې خپرې وې.

میرواعظ څو ځلې د حج په سفر تللی وو او د کابل په وګړو کې بې د یوه پاک لمني روحاني په توګې دروند نوم درلود ؛ هغه د سنیانو په منځ کې ډېره پیاوړې اغېزه درلودله؛ میرواعظ چې له پاچا وېره نه درلودله په روڼا ورځ به بې پر شاه ګوت نیونې کولې. میرواعظ به وګړو ته وېل چې پاچا له قزلباشانو څخه ملاتړ کوي او سنیان سپکوي. په دې ډول د شاه پر وړاندې د پرګنو کرکه ورځ په ورځ ډېرېدله او خبره د سنیانو او شیعه ګانو ترمنځ د ښتو او جګړو د پېل کچې ته په رسېدلو لوړه سوه.

د تأریخ سلطاني لیکوال لیکي : یوه قزلباش، یو سُني مذهبه تنکی ځوان خپل کاله ته مېلمه او وریسي بې ور سره لواطت وکړ؛ تنکی ځوان کاله ته له ستنېدا وروسته، پېښنه خپلې کورنۍ ته ووېله. د ځوان هلک پلرګنۍ شاه محمود ته د سرټـکونې لپاره خپل ګرېوان څېري او پاچا هم پېښنه د ښار قاضي ته ورسپاري. قاضي د جرم د زباد لپاره شاهدان غواړي چې دا کار د مدعي لپاره نا شونی وو، د هلک پلرګنۍ د جمعې په ورځ د پل خشتي جومات ته ځي، هلته بو ځل بیا خپل ګریوانونه څېري او له میرواعظ آغا څخه د مرستې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتنه کوي. میرواعظ د قزلباشانو پر کورنو د یرغل او د هر قزلباش د وژنې بولنه ورکوي. خلک د پل خشتي له جوماته راپاڅېږي او پرچنداول چې د قزلباشانو استوګنځی وو ور اوړي، او د چنداول په لارو او کوڅو کې چې هرڅوک بې مخې ته ورځي په تورو، چړو او سوټیو وهي ، یا یې وژني او کورونو ته یې اور ور اچوي .[1]

خو الفنستن په ۱۸۰۹ز کال کښې داسې روایت کوي : د یوه قزلباش پر لاس په روڼا ورځ د یوه تنکي کابلي ځوان وژنې، د وګړو خوابدي خپلې لوړې کچې ته ورسوله. ناورینوالو د وژل شوي هلک مړی د یوه شهید په توګې بدرګه کاوه چې د قزلباشانو یوې ډلې د مړي پر بدرګې ناورینوالو باندې ډزې وکړې ؛ دغه سپکاوي د وګړو ډېره ترخه کرکه را و پاروله او د پاچا د مریيانو (قزلباشانو) په نشتوالي کې چې د پاچا په چوپړ کې ول، د قزلباشانو پراستوګنځایونو یې برېد وکړ او د هغوی سېمه یې له لږ مقاومت وروسته لوټ کړله. په سبا ورځ یې جګړه لا توده شوه. د کابل له نورو ورخېرمو سېمو څخه خلک د سنيانو مرستې ته را ودانګل؛ په دې کې د کوهستان د پیرانو له ډلې څخه د یوه تر مشرۍ لاندې د کوهستان ګڼ شمېر توپکوال هم په همدې موخې پر کابل را مات سول. مختارالدوله او د درانیو نور مشران د رامنځته سوې اله ګولې په منځ کې لېدل کېدل چې په برالا یې خلک جګړې ته هڅول. میرواعظ خلکو ته د جنت ژمنې کولې او د مشرانو پر مخونو یې سپېڅلې اوبه (زمزم) شېندلې او سنيان يې جګړې ته هڅول. خو د کابل د دوبي د لمر د سوځندو وړانګو له کبله د جګړې دواړو سترو ستومانو خواوو لنډ مهاله اوربند غوښت. دغې خونړۍ نښتي د ۱۸۰۳ ز کال د جون د مېاشتې په ۴ او ۵ نېټې ( د غبرګولې د مېاشتې په نېماېيو کې) تر دوه وو ورځو پورې دوام وکړ. د شاه سترګو د وزیر فتح خان د راتګ لارې څارلې چې له خپل لښکر سره یو ځای له کندهاره د کابل پر لور را خوځېدلې وو، له بلې خوا د مختارالدوله سترګو د

[1] - تاریخ سلطانی، ۱۸۲- ۱۸۳ پ ، واقعات شاه شجاع، ۱۳۳۳ل، ۹- ۱۱ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه شجاع د راتګ لارې څارلې چې د پاچاهۍ د ګدۍ نېولو ته بې رابللی وو.[۱]

د غبرګولي د مېاشتې ۱۵ نېټه وه چې وزیر فتح خان کابل ته ورسېد او د هغه له راتګ سره سم د دواړو خواوو ترمنځ د جګړې د اور په وژلو، سوله وسوه. د سراج التواریخ لیکوال په دې باور دی : " کله چې د قزلباشانو د برخلیک لمر نور د ډوبېدا ژۍ ته نیږدې سو وزیرفتح خان له خپلو وروڼو سره یو ځای د سلطنت د ساتلو او د فساد د له منځه وړلولپاره ملا وتړله، د دواړو خواوو پر وړاندې بې خپلې تورې له تېکې را واېستلې او د تورې او مټ په زور بې د شرګدي اور لمبې ووژلې او قزلباشان بې د شوني ګواښ له قهرژلو لومو څخه وژغورل. "[۲]

په مجردې چې وزیر فتح خان له کابله د بامیانو پر لور د مالېې د راټولو په تکل ووت بو ځل بیا په کابل کې د شرګدي اور لمبې بلې سوې. شاه محمود د شر ګډي اور د وژلو لپاره دواړه مختارالدوله او احمدخان نورزی ولیږل؛ خو هغوی په خپله ددغه اور پر سر نورې خځلې ماتې کړلې؛ شاه محمود غوښتل چې شیرمحمد ونېسي خو نوموړی د شاه په تکل خبر سو ( د جولای ۸ ، ۱۸۰۳ ز کال) او میر واعظ ته بې د اور د بلولو لاربښوونه ورکړه او میر واعظ هم کټ مټ هماغسې چې ورته وېل سوي ول وکړل، پېنځه ورځې وروسته ( د ۱۸۰۳ ز کال د جولای په ۱۳ نېټې) شیرمحمد خان له شاه شجاع سره یو ځای کابل ته راغی.[۳]

الفنستن وایې : مختارالدوله چې په سیاست او پوځ کې بې لوړ دریځ درلود، د خپل شخصیت د ځانګړتیا له اړخه هم په خلکو ګران او منلی سړی وو. ان د هغه په وزارت کې ټیټ درېځو خلکو هم د هغه کاله یا دیوان ته په آزاده سر تګ راتګ کاوه او په آسانی بې کولای سول هغه ته ورسي. ډېري وختونه به له ساتونکو پر ته دباندې راووت، کله کله به د باندې پلی په پښو روان وو.

[۱] - الفنستن، د فکرت ژباړه ، ۵۲۴ پ
[۲] - د درة الزمان پر بنسټ، ۲۱۴ پ
[۳] - الفنستن،د فکرت ژباړه ، ۵۰۷ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـل د نورو مرستو ته چمتو وو. که يې نه سوای کولای خپل مقابل لوری په زغم و پـېـغ خوښ وساتي نو د ژمنې په ورکولو به يې کار پای ته رساوه. که له چا سره يې ژبه او ژمنه کوله نو له هغه يې د پاليالۍ يا د وفا پروا هم نه کوله. له دښمنانو سره يې ټوکي او نرمښت کاوه؛ نه يوازې د مـېـرڅمنو پخوانۍ ګناهانې به يې وربخښلې بلکه پر هغه مهال چې دده په منګولو کې ول پرته له دې چې کومه سزا ورکړي هغوی ته به يې د مزاحمت پيدا کولو شـېـبه هم ورکوله. دغو ځانګړتياوو دده پر شپول هغه کسان ځانته راکاږلي ول چې په آسانۍ يې نه سوای کولای د هغه پر ځواک ـغوښتـنې، بې انظباطۍ، د سيسه ګرۍ او چلوټو باندې پوه سي. هغه له مذهب څخه په ګټې اخـېـستـنې د اله ګولو په راپارولو کې ځانګړی استعداد درلود. نوموړی د خپل پلار شاه ولي خان له مړينې سره سم اړ شوی وو چې بلوڅستان ته پناه يوسي، خپلې ورځې او شپې يې له کور کهوله لـېرې په زده کړو تـېرې کړې وې چې وروسته د افغانانو په منځ کې نامتو عالم سو. له دُرانيو سره په پرتلې، د عباداتو په بنو کې بې پروا وو، مګر تل يې له ځانه د اهل سنت د مذهب پر وړاندې تعصب ښکاره کاوه ، يا ښاېي همداسې احساس به يې کاوه. علم او روحانيونو ته يې درناوی درلود او د " ميرواعظ" په نامه سيد احمد سره يې چې هم عالم او هم روحاني وو، ملګرتوب درلود.

مخکې له دې چې شاه محمود د رامنځته سوي کړکـېـچ پر وړاندې خپل چمتووالی ونـېـسي پر هغه باندې د ډار وربـېـځې له ورايه خپرې سوې وې. هغه د خپل ځان امن يوازې د مختارالدوله په نـېـولو کې لـېـده خو نوموړی د شاه محمود په نيت خبر سوی وو. مختارالدوله د جولای په اتمې له کابله وتـښتــېـد، خو له تـېـښـتې مخکې يې سيد احمد ته د شرګډې اور د بيا بلولو لارښونه وکړه او مير واعظ هم له لارښوونې سره هماغسې وکړل چې ورته وېل سوي ول. خو د خلکو د خښم او قهر مخه په ډېـرې هوښياری له شيعه ګانو څخه د شاه پر لور چې د هغوی ملاتړی او ساتندوی وو راتاو سوه. دا ګامونه په دومره هوښيارۍ پورته شوي ول کله چې د جولای د مـېـاشتې په ديارلسمې نـېـټې مختارالدوله له شجاع الملک سره يوځای کابل ته راستون سو نو شاه محمود

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې په بالاحصار کې د خلکو د کلابندۍ په کړۍ کې ولېد. خو نه دی او نه شاه شجاع کابل ته ننوتل .[۱]

په خپله شاه شجاع وايي : " لومړی مې د بابُر په بڼ کې استوګنه غوره کړه وریپسي قلعهٔ مدد خان ته لاړم. شاه محمود مې په بالاحصار کښې کلابند کړ." مګر شاه شجاع دې ته اړ وو چې لومړی له وزیر فتح خان سره خپل زور وازمايي او بیا دې د کابل پر سلطنتي ګدۍ ډډه ووهي، وزیر فتح خان په دې مهال بامیانو او ډایکنډۍ ته د مالیاتو د راټولو لپاره تللی او د راستنېدا په درشل کې وو. وزیر فتح خان د خپل ورور دوست محمد خان په ملتیا د اتو زور سپرو په بدرګې له بامیانو او ډایکنډۍ څخه د کابل پر لور راروان وو؛ کله چې د کابل د ښار په ( څلور مایلۍ واټن کې) د قلعهٔ قاضي سېمې ته ورسېد د شاه شجاع له ځواکونو سره مخامخ سو. د دواړو خواوو تر منځ خونړۍ جګړه ونښتله، دا جګړه د سباوون له سپېده دمه تر ماښامه روانه وه، داسې بریښېدله چې سوبه د فتح خان د لښکر په برخې ده، ځکه د جګړې په وروستېو شېبو کې فتح خان له خپلې ځلاندې تورې سره راووت او پر دښمن بې یرغل ورووړ، دښمن ونه سو کولای ځان ټېنګ کړي، نو فتح خان او د هغه بدرګه جنګیالیو ته بې لاره ورکړه او د ښار پر لور بې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ، خو په همدې لړ کې د فتح خان د لښکر یوه مشر د جبهې له شا د شاه شجاع په پلوۍ د فتح خان له لېکو ووت او د فتح خان د لښکر شاتینۍ برخه له ګډوډۍ سره مخامخ سوه. کله چې وزیر د نوموړي افسر له خیانته خبر سو دې ته اړ سو چې له خپلو ورونو او یو شمېر بدرګه ملګرو سره په ګډه ددښمن لېکه د تورې په زور ماته او د کندهار پر خوا وخوځېږي .[۲]

که څه هم وزیر فتح خان په دې جګړې کې ماتې وخوړله مګر دې ماتې ونه شو کولای د هغه پر پېاوړو روحیاتو او ټېنګ هوډ باندې کومه ناوړه اغېزه وشېندي، ځکه فتح خان د پېاوړو روحیاتو څښتن وو او دې ماتې ونه

[۱] ـ الفنستن،افغانان،ژباړه فکرت، ۵۰۷ پ

[۲] ـ الفنستن، افغانان، ژباړه فکرت، ۵۲۵ پ ، واقعات شاه شجاع، ۱۱ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو کولای د واکمنۍ په بیا لاسته راوړنه کې بې نهیلی کړي.

شاه محمود د وزیر فتح خان د تورې او تدبیر تر سیوري لاندې د درو کالو لپاره په بالا حصار کې سلطنت وکړ خو له دې چې نوموړی چرچه مار، آرام خوښی او ضعیف النفسه سلطان وو، وګړي د وزیر فتح خان په نشتوالي کې د هغه پر وړاندې راپاڅېدل او شاه شجاع بې د پاچهی پرګدی کښېناوه (۱۸۰۳زکال ، جولای)

په هغه مهال کې چې وزیر په پېښور او کندهار کې وو، د هغه په نشتوالي کې پرګنو له شاه څخه دومره کرکه کوله چې د هغه په کړی پورې له څو تنو په ګټو مینو او شرګډو راتاو وو کسانو پرته بل هېڅ چا له شاه څخه ښه زړه نه درلود. له همدې کبله بې شاه شجاع په شور او ږوږ د سلطنت پر ګدی کښېناوه او مختارالدوله شیر محمد خان د هغه د وزیر په توګه وګومارل سو. شاه محمود زندان ته ولوېد او شاه شجاع پرېکړه وکړه چې د شاه زمان د ړندولو په جرم نوموړی هم ړوند کړي خو شاه محمود د ځان د شفاعت لپاره قرآن وړاندې کړ او له شاه شجاع بې د بخښنې غوښتنه وکړه. شاه شجاع هم د مختارالدوله شیرمحمد په منځګړېتوب له خپلې کړې پرېکړې څخه لاس په سر سو او د کابل په بالاحصار کې بې د شاه محمود پر حبس بسنه وکړه .[1]

## د سلطنت پر ګدۍ د شاه شجاع ناسته او له فتح خان سره د هغه د پیوستون او بیلتون لاملونه :

شاه شجاع له ډېرو کړانوونو، جګړو او ماتو وروسته د لومړي ځل لپاره د کابل د سلطنت پر ګدۍ ډه ډه ولګوله اوتر شپږو کالو له ۱۸۰۳ز تر ۱۸۰۹ز کال پوری بې سلطنت وکړ. د هغه لومړنی ګام د ملاعاشق شینواري او د هغه د نېږدو خپلوانو او اندیوالانو نیول ول. ملا عاشق بې اعدام کړ او ورپسې بې د کوه نور د الماسو د تر لاسه کولو لپاره د ملا عاشق کلا ونړوله او الماس بې

[1] ـ تاریخ سلطاني، ۱۸۴ پ ،کهزاد،بالاحصارکابل، ۲ ټوک، ۱۴۲ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړ. د فتح خان ورور نواب اسد خان چې د زمانشاه د نېولو دنده يې په غاړه درلودله، بندي سو. خو د شاه شجاع د وزير مختارالدوله شيرمحمد خان لومړنی کار دا وو چې له شاه غوښتنه وکړي چې نواب اسد خان له بنده خوشې کړي. دهغه غوښتنه ومنل سوه او نواب اسد خان د وزير له پلوه په ډېر درنښت اودرناوي وپالل شو. وزير غوښتل د بارکزيو او سدوزيو د دوه وو سترو کورنيو ترمنځ د کېنې پر اور باندې د پای د ټکي په ايښودلو دښمني ورکه کړي نو په همدې هېلې يې د دوست محمد خان خور (وفا بيگم) د شاه شجاع په نکاح کې راوستله. خپلوي رامنځته سوه ، شاه شجاع له نواب اسد خان او د خپل د وزير له ورور گل محمد خان څخه وغوښتل چې کندهار ته لاړ سي او فتح خان کابل ته راولي او ورته وايي چې د شاه شجاع په دربار کې به د خپل پلار په شان له سرلوړی او درنښته برخمن اوسې. په دې پلاوي کې شهزادگي حيدر، احمدخان نورزي او عطامحمد خان بارکزي هم گډون درلود ، شاه شجاع د وزيرفتح خان د ډاډينې لپاره يو ژمنلېک هم د پلاوي په لاس ولېږه.

کله چې پلاوی په کندهار کې دېره فتح خان ته ورسېد او د شاه شجاع د درنښت او هېلوسلامونه يې ورته وړاندې کړل نو فتح خان هم کابل ته مخه کړه او د کابل پر لور راوخوځېد؛ له بلې خوا کامران ميرزا د وزير فتح خان دغه گام د اړيکو د پرېکون په توگې وگاڼه او دهرات پرلور وتښتېد او د هغه پرځای د زمانشاه زوی قيصر د کندهار د حاکم په توگه وټاکل شو.[1]

له دې خوا، وزير شير محمد خان واورېدل چې وزيرفتح خان د کابل په تکل را خوځېدلی نو د هغه مخې ته تر غزني پورې د ښه راغلاست لپاره ورغی او وزير فتح خان يې په ډېر تاوده هرکلي کابل ته د پاچا دربار ته راووست. خو شاه شجاع له خپلې کړې ژبې او ژمنې پښېمانه او منکر سو. په ځانگړې توگې شاه شجاع هغه مهال له خپلې ژبې واوښت چې گوري فتح خان له وزير شيرمحمد خان سره په يوه کور کې ژوند کوي. اکرم خان چې د شاه

[1] ـ الفنستن،هماغه، ۵۲۷ پ ، پيرس، عروج بارکزائی، ۴۷ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شجاع بل وزیر دی، پاچا ته وړاندېز کوي چې دی دې پېښور ته ولېږي؛ شیر محمد خان او فتح خان به هم له ځان سره بوزي او دی به یې هلته بندیان وساتي او په دې توګې به شاه د هغوی له سرخوږی خلاص سي. شاه شجاع هم دغه وړاندېز ومانه او پېښور ته د تګ او تابیا امر یې ورکړ. خو شیرمحمدخان له هر سوري چې وو خبر شوی وو چې پاچا ورته کوم پخلی په پام کي نېولي دی؛ شیر محمد دغه خبره له فتح خان سره ګډه کړه او پرېکړه وسوه چې فتح خان دې په کابل کي د پاتې کېدلو لپاره یوه پلمه جوړه کړي او د پاچا د نه شکمنېدلو لپاره به شیرمحمد خان له اکرم خان سره پېښور ته لاړ سي.

شیر محمد خان له فتح خان سره ژمنه وکړه چې د وزیر فتح خان دوست به دده دوست او دښمن به یې دده دښمن وي او تل به له یو بل سره په سلا ددښمن پر وړاندې په ګډه جنګېږي. بیا یې وزیر فتح خان ته اویا زره روپۍ ورکړې چې د خپلو موخو د پلي کولو په لارې کي یې د اړتیا پر مهال ولګوي. شاه شجاع تیزین ته رسېدلی وو چې د خپل وزیر له دروهې "دسیسې" څخه خبر سو او وبېرېد چې ښایي یاده دسیسه د وزیر فتح خان له پلوه پلي نه سي.

شاه د خپلو سرتېرو یوه ډله په بېړه کابل ته ولېږله چې فتح خان له نورو سردارانو سره په ده پسې د بندي په توګې پېښور ته راولي. کله چې فتح خان د پاچا له دغه ګام څخه خبرېږي د سترګو په رپ کې بندي سرداران له زندانه خلاصوي او له هغوی سره یو ځای د لوګر له لارې د کندهار پر لور خوځېږي.[1]

## د فتح خان د له منځه وړلو لپاره د قیصر او زمانشاه دسیسې:

د شپې په نېماېیو کې ول چې وزیر کندهار ته ورسېد، کله چې د ښار دروازې یې تړلې ولېدلې نو د دروازې ساتکونو ته یې بدې ورکړې او د

[1]- موهن لال، زندگی امیردوست محمدخان، ۱ ټوک ، ۸۷ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزادگي قصیر له خواجه سرای " آغا ادراک" سره یې ولیږدل. خواجه سرای په بېړې قیصر ته ورغی او له خپلې کتنې څخه یې قیصر ته کیسه وکړه؛ وزیر غوښتل چې د کابل د واکمنۍ د ګدۍ په نیولو کې له قیصر سره مرسته وکړي. شهزادګی د دغه په زړه پورې خبر په اورېدلو د فتح خان مخې ته د ښه راغلاست لپاره د ښار دروازې ته ورغی او ور سره یې ولیږدل.

فتح خان له قیصر سره په دې شرط ژمنه وکړه چې که له احمد خان نورزي څخه لاس پر سر او ژمنه و سپارې نو فتح خان به د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د شهزادګي په ګټه جګړه وکړي او که شهزادګی د ده له مرستې ډډه وکړي نو له کامران میرزا سره به یوځای سي. شهزادګی قیصر له دغې ژمنې ډیر خوښ شو. وروسته فتح خان امر وکړچې د دوست محمد خان تر مشرۍ لاندې دې دوه زره سرتېري چمتوکړي او احمد خان دې ونیسي. په خوب بیده احمدخان تر تلتک لاندې خرناس واهه چې کور یې کلا بند اولاس او پښې تړلی یې په څښېدلو د قیصر د دروازې شا ته ودراوه. کله چې د احمد خان سترګې پر وزیر فتح خان ولګېدلې پوه شو چې له وزیر سره د ماتې شوې ژمنې او ژبې په سزا له هغه څخه غچ اخیستل کیږي. احمد خان د قیصر زندان ته ولوېد او په سبا سهار چې سردارانو او خانانو فتح خان د قیصر تر څنګ تر ټولو نېږدې ولید نو په خپلو ځانونو وډار سول او له هرې لارې چې ورته شونې ول قیصر یې له وزیر فتح خان سره له یو ځای کیدنې وډار کړ او هغه یې و هڅاوه چې وزیر فتح خان ونیسي. قیصر هم خپله د پرون شپې کړې ژمنه هېره کړه او بو پلان یې جوړ کړ؛ قیصر ، فتح خان ته وویل چې خانان غواړي په یوه بڼ کې ستا مېلمانه سي ؛ قیصر د همدې مېلمستیا په پلمې د فتح خان د نیولو تابیا ونیوله. فتح خان چې د قیصر په کړو وړو شکمن شوی وو د مېلمستیا د چمتووالي لپاره یې دوه ورځې وغوښتلې ؛ له دغه ځنډ څخه د هغه موخه دا وه چې د ځان او د خپلو ورونو د ژغورنې لپاره لاره ویلټي. له دې کبله یې سردار دوست محمد خان ته دنده وسپارله چې ښه تکړه ساتونکي برابر او د مېلمستیا د سبمالښت چارې په خپله په لاس کې واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمدخان هم د ښه خرپ او درب مېلمستیا تابیا په لاس کې ونیوله او ځان یې له سره تر پښو په وسلوسمبال او د پېنځه سوه وسله والو مشري یې په لاس کې واخېستله او د شهزادګي قیصر تر سترګو لاندې یې مېلمنو ته ښه راغلاست ووېل. د هغه همدغه هوښیاري او وېښتوب بس وو چې شهزادګی قیصر پوه کړي چې هغوی د هر ډول پېښې د رامنځته کېدلو لپار بشپړ چمتووالی لري. له دې کبله شهزادګي او ملګرو یې وزیر فتح خان ته په ډاګه کړه چې د احمد خان نورزي د خلاصون په بدل کې به ورته سل زره روپۍ ورکړي. فتح خان دغه وړاندېز ومانه او بیا یې د خانانو د یوه وړاندیز پر بنسټ د بندي احمد خان یوه لور قیصر ته ور په نکاح کړه او احمد خان له زندانه خلاص شو او یو ځل بیا د کندهار د ښار د ساتنې په دندې و ګومارل سو.

له هغه وروسته شهزادګی قیصر، فتح خان ، دوست محمد خان، خواجه محمد خان او عطا محمد خان نورزی له خپلو لښکرو سره په ګډه د کابل پر لور وخوځېدل، خو کله چې کلات غلزائـي ته ورسېدل، عطا محمد خان نورزی له یو شمېر نورو خانانو سره بېرته کندهار ته ستون سو؛ فتح خان له دغه ناڅاپه بېلتانه او ژمنې ماتېدنې څخه ونه بېرېد او د کابل پر لور یې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ. پر دغه مهال شاه شجاع له پېښوره بېرته کابل ستون سوی وو او د کابل په قلعه قاضي کې یې د کندهار د لښکر د راتګ لپاره لاره څارله. کله چې فتح خان د توپ کلا ته ورسېد د شپې په نېماېی کې د فیض الله خان پوپلزي په نامه یو بل ځمکوال، سره له خپلو پېنځو زرو جنګېالیو د فتح خان له لښکره جلا او له شاه شجاع سره یو ځای سو. دغې پېښې د فتح خان پر لښکر بده اغېزه وکړه او د خپل ورور دوست محمد خان په سلا یې پرېکړه وکړه چې بېرته کندهار ته ستانه سي. خو کله چې ښار ته نېږدې سو، ورته خبر ورسېد چې کامران میرزا پرښار منګولې ښخې کړي او ښار یې په لاس کې دی، له دې کبله فتح خان اړ سو چې بېرته کامران ته ورسي. کامران یا دلېوتتوب یا د ناپوهي او یا د کېنې له مخې د فتح خان او د هغه د ورونو په سپکاوي پېل وکړ. دغه چال چلند فتح خان کلک خوا بدی کړ ، دلته بیا فتح خان د قیصر په ګټې له خپلې وړتیا څخه کار واخېست او دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـېـاشتې وروسته ، فتح خان ، کامران ميرزا، له ښاره تـېـښتې ته اړ کړ او د هغه پر ځای يې قيصر د ښار حاکم کړ.

لږ وخت وروسته شاه شجاع د يوه ځواک په مشرئ د کندهار پر لور وخوځـېد ؛ کله چې د چشمـهٔ شادي کلي ته ورسـېـد، فتح خان او ورونه يې فراه ته په شا سول، قيصر لومړی په ډ َهلې ( ډالې) کې او له هغه ځايه يې مرکزي غرونو ته پناه يـوړه. شاه شجاع د کندهار ښار ته راغی ؛ ډېـره هڅه يې وکړه چې قيصر ونـېسي، خو ګوتو ته ورنغی. په پای کې شاه شجاع له بارکزيو ورونو سره سوله غوره وبلله او فتح خان او ورونو ته يې پيغام ولـېږه چې له هغه سره دې يوځای سي. فتح خان او دوست محمد خان بـېـرته کندهار ته را ستانه سول اوله هغه ځايه د پـېـښـور د ياغيانو د ټکولو په تکل د پـېـښـور پر لور يې خوځـېـدا پـېـل کړه. د ۱۸۰۵ز کال په اپريل کې پـېـښـور ر ته ورسـېـدل، په دغه وخت کې شاه شجاع د غازيخان په ډېـرې کې ميرعلم خان له واکمنئ ګوښـه او پر ځای يې عطا محمد خان نورزی وګماره. فتح خان د پاچا مخې ته ودرېـد او وېې غوښتل چې دا کار ونـه کړي خو پاچا ونـه منله. د پاچا دغه کار بارکزي ورونه خوا بدي کړل او په خوابدي زړه د هرات پر لور وخوځـېـدل. د هرات والي حاجي فيروزالدين داسې سړی نه وو چې په کابل کې د سلطنت د نـېـولو لپاره ملا وتړي، له دې کبله فتح خان او ورور يې دوست محمد خان يو ځل بيا کندهار ته ، قيصر ته ورغلل .[1]

دا ځل قيصر د خپل ړانده پلار زمانشاه په لارښوونې د هغوی د له منځه وړلو هڅه وکړه. ددې توطئـې داستان هم په زړه پورې دی چې په ګډه به يې ولولو.

## د زمانشاه د توطئـې پر بنسټ د فتح خان زنداني کـېـدل:

مخکې مو وويل چې وزير فتح خان او دوست محمد خان دواړه له

---

[1] ـ موهن لال،حيات اميردوست محمدخان،ژباړه داکترهاشميان، ۱ ټوک، ۹۰ـ ۹۳ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هراته، کندهار ته قیصر ته ورغلل خو دا ځل فتح خان او دوست محمد خان د قصیر په دربار کې د خواجه محمد او میرعلم خان له پلوه سپک او سپېره سول. دغه ژبنۍ شخړه او سړه جګړه د قیصر د پلار د زمانشاه ددسېسي له کبله په لاره اچول سوې وه. له دې کاره د زمانشاه موخه د فتح خان د نېولو لپاره د لارې چارې جوړل ول. زمانشاه میرعلم خان او شهنواز اڅکزي ته دنده سپارلې وه چې فتح خان ته ووایي چې شهزادګی غواړي د هغه مېلمانه شي، خو چابک دوست محمدخان دومره بې خبره نه وو چې د شاه له دې پلانه دې ناخبرې پاتې سي. دواړو وروڼو وکولای سول ددې فرمایشي مېلمستیا په اړوند د شاه د رالېږلي پلاوي پر وړاندې خپله بدګوماني پټه وساتي ؛ هغوی ظاهراً پلاوي ته څرګنده کړه چې دوی به د شاه له دغې پاملرنې او پېرزوینې څخه زښت خوښ سي.

وروسته وروڼو درې اړخېزه تیارۍ ونېولې. یوه برخه دواړو (فتح خان او دوست محمد خان) ته سپارل کېدله. دوېمه بې نواب اسد خان ته او درېمه بې محمد عظیم خان ته وسپارل سوه. فتح خان د ملېمستیا تابیا د مرجان په ښاېسته بڼ کې ونېوله. دوست محمد خان د خپل ځان او د فتح خان د ساتنې او څارنې دنده په غاړه واخېستله. له دې کبله بې د پېاوړي ګارډ د ځواک را ټولولو ته متې بډ وهلې ؛ په دې لړ کې بې د نابلل شویو مېلمنو خوځښت تر څارلاندې ونېو. دوست محمد خان په مېلمستیا کې له دومره ځېروالي او احتیاط څخه کارواخېست چې د شهزادګي قیصر او زمانشاه دواړو زړونه ډاډه او پوره سول چې د زوی او پلار راز نور بربنډ سوی دی. له دې کبله له هرې هغې هڅې څخه لاس پر سر شول چې دواړو ورڼو ته بې په پام کې نېولې وې؛ زوی او پلار داسې وښودله چې د هغوی په دوستۍ او ملګرتوب کې د بو بڅرکي په اندازې خرخښنه او شک نه سته. ددې خبرې د زباد لپاره پرځېدلي شاه هغوی ته شاهانه خلعتونه ورکړل ؛ شاه په تش لاس او خوږین زړه بېرته ستون سو، خو زمانشاه او قیصر د بلې لارې چارې په لټه کې سول.

د مېلمستیا په سبانۍ ورځ بې امر وسو چې وروسته له دې هېڅ څوک نه سي کولای مانۍ ته له پېنځو تنو ساتونکو زیات کسان له ځانه سره راولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له دې سره سره فتح خان د شاه د امر پروا ونکړه او تر شلو ورځو پورې له سلو تنو ساتونکو سره یو ځای ماڼۍ ته ور روان وو. د زمانشاه اوبه له ترخځه وواښتلې او د بلې دروهې په لټه کې سو. هغه خپل ساتونکي د ماڼۍ د ونو په یوې گوښې کې ځای پرځای کړل او بیا یې امر وکړ چې قومي سران او مشران دې د شاهي احترام او سلام لپاره د شاه لېدنې ته راسي. کله چې د فتح خان وار ورسېد او د ماڼۍ دننه یې په درشل پښه کښېښودله، نو سیف الدوله میرعالم خان د شا له لوري پر فتح خان را ودانگل او پرځمکه یې ووېشت. د ونو تر شا پټو کسانو د سترگو په رپ کې په فتح خان برېد وکړ، فتح خان په زړورتیا د ځان دفاع او مقاومت کاوه. په دغه اخ ودب کې د فتح خان دوه غابښونه مات سول. نواب اسد خان او د فتح خان ملگري میرزا محمد رضا او آقا مهدي چې له فتح خان وروسته ماڼۍ ته ننوتلي ول هغوی هم د فتح خان په برخلېک واوښتل او زندان ته ولوېدل.

## د فتح خان د ژغورنې لپاره د دوست محمد خان زړورتیا :

دوست محمد خان چې پوه او هوښیار وېښ زلمی وو، له خپل مشر ورور سره یوځای د پاچا لېدنې ته لاړ نه سو او خپل تگ یې لږ شاته وغورځاوه؛ د دوست محمد خان دغه لېرلېد او عاقبت سنجونه د هغه د ځان او د پېنځو سوو نورو بدرگه ملگرو د ژوند د ژغورنې لامل شو. کله چې دوست محمد خان د خپل ورور د نېولو له دروهې خبرشو، خپل بدرگه ملگري یې د فتح خان ژغورنې ته وهڅول او د یو زړور او بې باکه برېد په ترڅ کې چې د ماڼۍ له هرې لوړې څنډې پرې پرله پسې ډزې کېدلې وکولای شول د ماڼۍ لومړۍ دروازې ته دننه لاره ومومي، فتح خان د زندان په دېوالونو کې د ډېرو ساتکونکو تر څار لاندې وو او ساتونکو د ماڼې له کنگرو څخه په پرله پسې ډول پر دوست محمد خان ډزې کولې، نو ځکه اړ شو چې کرار کرار شا ته سي. خو ماڼۍ یې تر کلابندۍ لاندې ونېوله؛ په دې لړ کې قیصر، خواجه محمد خان او نورو کسانو ته دنده وسپارله چې د ښار ټولې دروازې دې وتړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتونکي دې په کلکه د ټولو دروازو ساتنه او څارنه وکړي ، ورپسې دې دوست محمد خان او د هغه بدرګه ملګري ونېسي.

محمد عظیم خان د خپل یوه ملګري له لارې خپل ورور دوست محمد خان ته د قیصر له دغه ګامه خبر ورکړی وو. دغه خبر د دوست محمد خان په پیاوړو روحیاتو هېڅ اغېزه ونه کړه او په داسې ګواښجنې شېبې کې یې خپله زړورتیا له لاسه ورنه کړه. خپل ورونه او ملګري یې را وغوښتل او ورته یې وویل : اوس موږ په خپله کلابند یو، د مانۍ کلا بندي نه زموږ په ګټه ده او نه زموږ د ورور فتح خان د ژغورنې لپاره کومه ګټه کولای سي. له دې چې قیصر زموږ د تباهۍ او یا د نېولو تکل لري نو یوازېنی کار چې کولای سو دا دی چې د خپل ځان د خلاصون لپاره له سرښندنې ډک یوه کار ته لاس واچوو او هغه دا چې په ډله یېزه توګه به د ښار پر دروازې یرغل وروړو او هر څومره ساتونکي چې زموږ د لارې خنډ ګرځي باید د خپلو تورو او چړو له خولو څخه تېر او بیا به د ګرشک پر لور وخوځېږو.

د دوست محمدخان ملګرو د هغه خبره ومنله؛ ورپسې دوست محمد خان خپله توره له تېکي را وایستله او په خپل ټول زور او زړورتیا د خپلو انډیوالانو په سر کې ودرېد او د ښار پربوې دروازې یې برېد وکړ. د هغه بدرګه انډیوالانو هم په ګډه له ساتونکو سره د لاس او ګریوان جګړه پېل کړه. دوست محمد خان چې د ۱۵ ــ ۱۶ کلونو ځوان وو، د ښار د دروازې څو تنه ساتونکي له چړو تېر کړل ، په پای کې په دې بریالی شو چې دروازې پرانېزي او له هماغې دروازې یې د ګرشک پرلور تېښته وکړه.[1]

زمانشاه چې د فتح خان او د هغه د ورونو د نېولو لپاره خپل پلان نېمګړی ولېد، نو قیصر ته یې امر وکړ چې فتح خان دې دهغه د پاچاهي د رنګولو او د سترګو د ړندولو په غچ کې ووژنی، خو د هغه وزیر، مختارالدوله شیرمحمد خان، ددغه کار مخه ونېوله او قیصر یې ددغه بې باکه ګام له پایلو

---

[1] ـ موهن لال،حیات امیردوست محمدخان،ژباړه داکترهاشمیان، ۱ ټوک ، ۹۰ـ ۹۳ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه خبر کړ او ورته یې ووېل چې ښايي په راتلونکي کې د فتح خان د ورونو له ورته غچ سره به مخامخ سي او اړ به کړ چې د دغسې ناسنجول سوي ګام له اوچتولو څخه لاس پر سر سي.

دوست محمدخان او ورونه یې په ګرشک کې د خپل مشر ورور د ژغورني په لټه کې ول خو د لښکر د برابرولو لپاره یې پېسې نه درلودلې. یوه ورځ د هغوی له بخته یو کاروان له فارسه د کندهار پر لور روان وو چې باید له ګرشکه تېر سوی وای. دوست محمد خان له خپل ورور محمد عظیم خان سره سلا وکړه چې په داسې یوې تنګسې کې داسې ناڅاپه غیبي پانګه یوازې خدای دوی ته ورکړې او باید را خپله یې کړي، دواړه ورونه په یوې سبمې کې په پټه کابو کښېنستل او ناڅاپه یې پرکتار چاپه ووهله او له هغه څخه یې ځلورلکه روپۍ وشکولې.[1]

دوست محمد خان په همدغو پېسو یو لښکر جوړ کړ او د کندهار پر لور وخوځېد او ښار یې کلابند کړ. کلابندي تر درو مېاشتو پورې وغځېدله ؛ د ښاریانو او د قیصر د سرتېرو تولې زیرمې پای ته ورسېدلې. شهزادګی قیصر له روان کلابند حالته اَوتر اَوتر وو ؛ نه پوهېده چې د ځان او د ښاریانو د خلاصون لپاره څه وکړي؟ وزیر شیر محمد خان قیصر ته سلا ورکړه چې که فتح خان له بنده خلاص کړئ نو ښار به له کلابندۍ وژغورل سي ، پرته له هغې به دوست محمد خان ټول ښار دړې وړې کړي. همدا ډول شیرمحمد خان شاه شجاع ته خبر ورکړ چې قیصر ته دې د فتح خان د خوشې کېدلو امر ورکړي. شاه شجاع شرط کښېښود چې دا کار هغه مهال شونی ګرځي که محمد عظیم خان او غلامخان دواړه کابل ته د تضمین په ډول ورولېږل سي؛ په دې توګې فتح خان له بنده خوشې سو.[2]

خو الفنستن په دې باور دی چې فتح خان قیصر په یوې غونډې کې ولېد او د خپلو پخوانیو خدمتونو په یادونې او د راتلونکو ژمنو په کولو، قیصر

---

[1] پیرس، عروج بارکزائی، ۴۸ پ

[2] ـ الفنستن، ژباړه فکرت، ۵۲۹ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې دومره تر خپلې اغېزې لاندې راووست چې نه یوازې هغه بې له زندانه خوشې کړ بلکه خپلې ټولې پخوانۍ اړیکې بې له سره ورسره ژوندۍ کړلې. د فتح خان په خلاصېدلو د کندهار ښار هم له کلابندۍ خلاص سو او فتح خان له خپلو ورونو سره یو ځای ګرشک ته لاړ چې له شاه شجاع سره د یوې بلې جګړې لپاره د چمتووالي لـه نـېولو وروسته پر کابل یرغل وروړي. کله چې ټولې چارې سمې او سمبال شوې، فتح خان د کندهار پر خوا وخوځېد، کندهار ته له رسېدا سره سم پـوه شو چې (سیف الدوله) میرعلم خان پرکابل باندې د برېد لپاره د قیصر سوچ او دریځ په بل مخې اړولی دی. فتح خان د قیصر له ژبې ماتولو ځخه خوابدی سو او پرېکړه بې وکړه چې کامران له فراه ځخه را وغواړي او د قیصر پر ځای بې کېښـېنـوي.

فتح خان، د کندهار نـېولو ته کامران راوباله او کامران هم د کندهار پر لور په خوځېدو سو. په دې ترڅ کې یوه شپه یوه هېښنده پېښه رامنځته سوه چې پېښنو ته بې بل رنګ ورکړ. قیصر چې د کندهار پر لور د کامران په خوځېدا او له فتح خان سره په یوځای کېدا خبر سوی وو ، غوښتل وتښتي. قیصر د شپې په تـیـارې کې د یوه شهلیت (مشال) له څنګه په پټه تښتـېده ، په همدې شـېبـې کې فتح خان هم نابېره له همدغه ځایه تیرېده. په لومړیو کې بې یو بل وپېژندل او د ښکنځلو، سپکو او سپورو په وېلو بې یو بل ته ښه راغلاست ووېل خو کله چې د تراخې ژبې او سپکو سپورو د وېلو له اوره ساړه سول، خبرې بې تودې او یـو بل ته په ګېلو سول.

قیصر، فتح خان ته ووېل آیا په دې ارزي چې بـوازې د خپل ځان د ژغورنې او د کامران په ملاتړ کولو، ما تـېښتې ته اړ کړې؟ فتح خان د قیصر پر مخ د هغه ژمنه او ژبه ماتول او د هغه ډارنـتوب را واېست. قیصر دا ځل بیا سوګند او لوړه وکړه چې نور به د فتح خان له نظر او سلا ځخه پرته بل هېڅ کار ونه کړي او اوس هر ځه چې دی وابې هماغسې به وکړي. په دې توګې دښمني او کېنه په سولې او پخلاېنې واوښتله او قیصر ته بې ډاډ ورکړ چې د کندهار د حکومت واګې به بـېرته ده ته ورستـنې کړي. ډېره موده لا نه وه تـېره سوې چې کامران میرزا د ښار د دروازو شا ته لښکرکوټ واچاوه. فتح

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان کامران ته خبر ورکړ چې له خپلې پخوانۍ پرېکړې لاس پر سر شوې او دی باید بېرته فراه ته ستون سي، کامران د فتح خان خبره ونه منله نو ځکه فتح خان اړ شو چې پر کامران برېد وکړي؛ له کامرانه لاره او ګودر دواړه ورک وول ، د فراه لاره ورڅخه هېره سوې وه چې کوم لور ته ده، لنډه دا چې کامران له ډېرو ستونزو او کړاوونو وروسته ځان فراه ته ورساوه. [1]

## فتح خان د شاه محمود د بیا واکمنولو په لټه کې :

فتح خان چې قیصر تېکنی او زړه نا زړه ولېږد نو بو ځل بیا بې کامران ته د پیغام په لېږلو نوموړی پر کندهار او کابل برېد ته وهڅاوه. کامران میرزا چې د فتح خان په پوهې او پیاوړتیا ډاډمن وو، لومړی بې په هرات کې له خپل اکا څخه مرسته وغوښتله، اکا بې هم خپل زوی ملک قاسم د درو زرو جنګیالیو په بدرګې کامران ته ولېږه. کامران او فتح خان له خپلو ځواکونو سره یو ځای د کندهار پر لور وخوځېدل. د کندهار له لوري، قیصر هم له خپلو څلورو زورو جنګیالیو سره یو ځای ددوی مخې ته راووت. دواړه ځواکونه د محمد عظیم خان د کلا په شا وخوا کې له یو بل سره مخامخ سول او خونړۍ جګړه پېل سوه؛ قیصر په داسې حال کې د جګړې له ډګره وتښتېد چې د دواړو لورو دوه زره وژل شوي جنګیالي د ځمکې پر مخ پراته ول، په دې توګې قیصر ماته وخوړله او کندهار د کامران منګولو ته ورغی.

ددې پېښې خبر په لنډ وخت کې په پېښور کې شاه شجاع ته ورسېد. شاه شجاع نوی له کشمیره راستون شوی وو؛ شاه شجاع د مختارالدوله شیرمحمد خان په لاس، کشمیر د عبدالله خان الکوزي له منګولو ( چې د یار محمد خان الکوزي پلار وو) خلاص کړی وو؛ شاه شجاع کندهار ته د تګ لپاره خپل وزیر شیر محمد خان ته پیغام ورکړ چې ډېر ژر دې له خپلو ځواکونو سره یو ځای د کابل پر لور وخوځېږي. خو وزیر په هره خبره چې ول له دغه لښکري یون څخه غاړه وغړوله او شاه شجاع اړ سو چې په بوازې سر د

[1] ـموهن لال، زندګی امیردوست محمدخان،۱ ټوک، ۵۷ـ ۵۸ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار پر خوا وخوځېږي. [۱] .

په دې مهال کې فتح خان او د کندهار لښکر ټولو په ګډ غږ وړاندېز وکړ له دې چې دوست محمد خان په جنګي عملیاتو کې له ځانه زښته ډېره وړتیا ښودلې نو د لښکر د بولندوی په توګې دې وګومارل سي، او بیا دې د کابل پر لور مارش وکړي. دواړه لښکرې د غزني په قره باغ کې له يو بل سره مخامخ سوې. يوه بې باکه او تېښـګه جګړه ومښتله ؛ ګڼ شمیر جنګیالي په وېنو او خاورو کې لیت پیت رغښتلي ول چې يو ناڅاپه دواړه ځواکونه د يو بل پر وړاندې چوپ او ساړه ودرېدل. لامل يې دا وو چې ( فارسیانو – ژ) ایرانیانو پر هرات بريد کړی وو او د هرات په دفاع کې د هرات حاکم فیروزالدین خان د فارسیانو پر وړاندې د خپل لېږل شوي لښکر د ملاتړ لپاره له کندهاره مرستندوی لښکر ته کلکه اړتیا درلودله؛ له دې کبله خپل زوی ملک قاسم ته يې د پیغام د لېږلو په ترڅ کې امر کړی وو چې ژر تر ژره دې هرات ته راستون سي. نوموړي بګاري/ قاصد د هرات د حاکم پیام د غزني په قره باغ کې د هغه زوی ته ورساوه او ملک قاسم هم له خپلو ځواکونو سره يو ځای د هرات پر لور وخوځېد. په همدې لړ کې احمد خان نورزی هم له خپلو ځواکونو سره يو ځای د جګړې له ډګره ووت. څرګنده ده چې دوست محمد خان او فتح خان هم د لږو ورپاتې شويو جنګيالیو په مټ نه شوای کولای کوم کار تر سره کړي، له دې کبله اړ سول چې خپل پلرني ټاټوبي ګرشک ته په بېرته ستنېدلو بلې شونې شېبې ته شپې - ورځې وشماري. په دې توګې شاه شجاع پرته له کوم خنډه کندهار ته راغی، او وروسته له دې چې د کندهار اداري چارې يې د زمانشاه بل زوی محمد یونس ته وسپارلې خپله له قیصر سره يو ځای کابل ته ستون سو.

## <u>د فتح خان او شاه شجاع بیا پیوستون او بیلتون:</u>

شاه شجاع له کندهاره کابل ته په رسېدلو پوه سو چې وزير يې شير

---

[۱] ـ الفنستن،افغانان ، د فکرت ژباړه، له ۵۱۳ پاڼې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد خان د ښار له نامتو روحاني میرواعظ سره په ګډه د هغه پر ضد د پردې تر شا کار کوي. له دې کبله شاه شجاع د فتح محمد خان او دوست محمد خان د همکارۍ په فکر کې سو او د مدد خان اسحق زي (ساکزي) او احمد خان نورزي په ګډون د شاهي کورنۍ د یو شمېر غړو په بدرګې یې یو پلاوی په دې هیلې فتح محمد خان ته ګرشک ته ولېږه چې ګرشک ته له رسېدا سره سم بارکزي ورونه له ځان سره راګډ کړي. له کابله رالېږل شوی پلاوی له یو شمېر خانانو او مخورو سره د بارکزیو ورونو د ډاډمنولو لپاره کندهار ته لاړ او د فتح خان په مشرۍ یې له بارکزیو ورونو سره وکتل؛ پلاوي ژمنه وسپارله چې هېڅکله به له بارکزیو ورونو څخه خپل ملګرتوب او همغږي ونه سپموي او د دغه هوډمن تکل د رښتونولی په موخې فتح خان یې " د سردارانو سردار" ونوماوه او دوست محمد خان ته یې یوه جوړه ویاړمنې خلعتې، د سرو زور له لاښۍ ( یراق) سره یو ځای یو خاصه آس، او یو لک نغدې روپۍ د لګښت لپاره ورکړې . [1]

وزیر فتح خان چې یو ځل بیا له شاه سره یو ځای شوی وو، شاه ته یې سلا ورکړه چې که غواړي د افغانانو په منځ کې درنښت او ګرانښت ومومي نو فعاله پوځي ژوند دې غوره کړي، مګر شیر محمد خان د فتح خان ددغه لېدلوري مخالف وو. هرګوره، شاه د فتح خان وړاندیز تائید کړ او له بارکزیو ورونو او ( د شیر محمد خان له بل مخالف) سردار محمد اکرم خان سره یو ځای د پېښور پر لور وخوځېد چې د سندهـ له آمرینو او نورو سېمو څخه مالیه راټوله کړي.

په کابل کې پاتې سوی شیرمحمد خان په دې لټه کې سو چې د قیصر په زړه کښې د کابل د سلطنت د واګو د راخپلولو هیلې او غوټۍ وغوړوي، له دې کبله د شاه شجاع پر ضد یې په کارونو کې د خنډ او ځنډ په رامنځته کولو پیل وکړ. کله چې شاه شجاع سندهـ ته ورسېد سندهیان چمتو ول چې یوازې پینځه

[1] ـ موهن لال، زندگی امیردوست محمدخان،د علمی ژباړه ،۱ ټوک، ۵۷ـ ۵۸ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه روپۍ ورکړي او له هغه پورته د مالیې ورکړه بې رد او د شاه شجاع پر وړاندې بې مقاومت پېل کړ او د شاه د ټاکل شوې مالېې له ورکړې څخه بې غاړه وغړوله.

اکرم خان شاه ته سلا ورکړه چې له سندهیانو څخه دې ( د پخوانۍ ټاکل سوې مالیې) د پېنځو لکو روپېو په اخېستنې بسنه وکړي او له جګړې دې ډډه وکړي، مګر فتح خان او دوست محمد خان د اکرم خان د نظر مخالف ول او له شاه بې وغوښتل چې دا خبره دې د هغوی زړورتیا او پوهې ته ورپرېږدي چې له سنده څخه به دیرش لکه روپۍ د وسلې له کارولو پرته ترلاسه کړي، مګر شاه د اکرم خان په سلا عمل وکړ او هغه ته بې اجازه ورکړه چې له سندهیانو سره خبرو اترو ته کښېني. اکرم خان د سندهیانو کمپ ته لاړ او بېرته پېنځه لکه روپۍ په لاس راستون سو.

وروسته له دې چې د فتح خان ګټوره سلا د شاه له خوا ونه منل سوه، فتح خان له شاه خوابدی او کندهار ته د بېرته ستنېدا په فکر کې سو. بارکزیو ورونو حیدر آباد ته په رسېدا خپله لاره د شکارپور پر لور کږه کړه. شاه شجاع له خپلې تېروتنې پښېمانه سوی وو او شکارپور ته لاړ، په شکارپور کې بې له بارکزیو ورونو څخه بخښنه وغوښتله او یو ځل بیا بې ژمنه وکړه چې د هغوی له سلا مشورو څخه به غاړه ونه غړوي. د دوست محمد خان زړه چې په مېړانې مین وو د شاه له دغه المتاس او بخښنې څخه په ولولو سو او وبې منله چې د شاه په چوپړ کې به پاتې سي. شاه له شکارپوره خپله پاملرنه د غازیخان د دېرې پر خوا واړوله. په همدغه ځای کې شاه واورېدل چې د شیر محمد خان او قیصر کسان د شاه پر ضد پاڅېدلي او پېښور د هغوی لاس ته لوېدلی دی. په دې لړ کې شیر محمد خان، فتح خان ته یو لېک و لېکه او په لېک کې بې له خپلې پخوانۍ ملګرتیا او د شاه شجاع له لاسۍ / بدژمنۍ څخه یادونه کړې وه. له دې کبله ول چې فتح خان او ورونو د کندهار لاره ونېوله او د کندهار پر لور وخوځېدل. شاه شجاع هم د خپل بخت په ازمویلو په پېښور برېد وکړ او پېښور بې بېرته ونېو. (۱۸۰۸ ز کال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کابل له بالاحصاره د شاه محمود ژغورنه :

وزيرفتح خان ځو ځله له شاه شجاع سره يو ځای شو او بيا يې ورسره پرېکون وکړ. هېڅ شک نشته چې له دغو يوځای کېدنو او پريکونونو څخه د وزير موخه د سدوزيو په کورنی کې د داسې يوه وړ او پوه سړی موندنه وه چې د احمد شاه دُراني په څېر د هېواد د چارو د پرمخ بيولو لپاره پياوړي وړتيا په کښې نغښتې وي. او دا هغه ځانګړتياوې وې چې نه د شاه شجاع ، نه د کامران ، نه د قيصر او نه د حاجي فيروزالدين خان په ځان کښې لېدل کېدلې. له دې کبله د کار چاره يې د شاه شجاع له زندانه د شاه محمود په خلاصون او يو ځل بيا د کابل پر ګدۍ د هغه په کښېنولو کې ولېدله.

وزيرفتح خان هېڅکله ستړيا نه منله او خپلې موخې ته د رسېدا په لارې کې يې د هر راز ګواښ په منلو وېره نه درلودله، له همدې کبله د شاه محمود له پرځېدا وروسته، وزير په يوه ځای کې نه تم کېده. کله به کابل، کله کندهار، کله فراه او هرات او کله پېښور، سندهـ او شکارپور ته د آس پرشا لالهانده په تګ راتګ وو؛ د همدغه تګ راتګ په لړ کې به کله له لښکر او کله به له خپلو ورونو او ملګرو سره د کابل او فراه ترمنځ خندونه د خپلې لارې له سره لېرې کول؛ په پای کښې يې محمود له زندانه خلاص کړ او د کابل پر تخت يې کښېناوه. فتح خان، پرته له دې چې د سلطنت په لاس ته راوړنه کې خپله وړتيا او ځواک د ځان لپاره په کار واچوي ، خپل ټول ځواک او توان يې د سدوزيو د سلطنت د ټېنګښت په لارې کې په کار اچولی وو ، تر دې چې په همدې لارې کې يې خپل سر هم بايلود.

په هغو شپوورځو کې چې د مختارالدوله شير محمد خان له لاسه د چارو واګې واخېستل سوې او ګوښه په کور کښېنول سو او له ميرواعظ سره يو ځای د شاه شجاع د راپرځولو لپاره يې هلې ځلې پېل کړې وې، فتح خان خپل ورور شيردل خان ته دنده وسپارله چې د قزلباشانو په مرستې دې د کابل له بالاحصاره د شاه محمود د ژغورنې په لارې کښې کوښښ وکړي. څرګنده ده چې له بالاحصاره د شاه ژغورنه دومره آسانه نه وه او زښتې ډېرې چابکۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـېـرکۍ ته يې اړتيا درلودله.

د بارکزيو ورونړو په منځ کې له وزيرفتح خان وروسته شيردلخان په ډېرې پوهې، پوخوالي او ځيرکتابه سمبال وو، هغه وکولای شول د ۸ ساعتو په اوږدو کې د کارپوهو ورهنګرو " ماهرو کاسبينو" په مرستې، د کابل تر بالاحصار لاندې يـو کـينـدوَی / نقب ووهي او بندي پاچا ورځخه را خلاص کړي. شاه محمود تر يـوې مودې پورې په شهدای صالحين کې د يـوې مقبرې تر څنګ تر هغې شـېبې پورې پټ سو چې ښاري ګزمه د هغه له لټون ځخه نومـېده شوه. شاه محمود د شپـې په تـيـارې کې پر آس کښېناست او له ځو تنو سره يې يو ځای په تـېښتـې د هرات پر لور ودانګل. شاه محمود ته په هرات کې د هغه ورور فيروزالدين په خوښۍ ښه راغلاست ووايـه، خو ورور يې په لنډ وخت کې خپل چلند بدل کړ؛ ښايي فيروزالدين په ځان بيرېدلی وي چې ورور يې هرات دده له منګولو ونه باسي.

شاه محمود د خپل ورور په چلند کې د بدلون په لـيـدلو له هراته فراه ته راغی او په کندهار کې د فتح خان او د هغه د ورونړو د راتلونـکي په پام کې نـيـول سوي ګام اوچتولو ته سترګې په لارې کښېـنـاست. په حقيقت کې بارکزيو ورونړو په کندهار کې د ځواک له راټولولو سره سم شاه محمود ته پيغام ولـېږه چې کندهار ته راسي، بيا يې د کابل پر لور تـګ ته ملا وتړلـه. کابل ته د لارې په اوږدو کې په کلات کې له شاه محمود سره د بدرګه لښکر په منځ کې بـېلتون رامنځته سو، نورمحمد خان او عطامحمد خان باميزی د شاه محمود له لښکره بـېـل سول؛ له شاه محمود سره يوازې فتح خان او دوست محمد خان سره له خپلو نورو ورونړو پاتې شول، بارکزي ورونړه پوه سول چې له لښکر پرته نه شي کولای کوم کار تر سره کړي، له دې کبله دوی هم خپله مخه بـېـرته د ګرشک خواتـه تاو او په ګرشک کې دېره سول.

شاه شجاع چې تر کلاته مخته راغلی وو، له هماغه ځايه بـېـرته پـېـښور ته لاړ چې د الفنستن تر مشرۍ لاندې انګليسي پلاوي ته ښه راغلاست ووايـې. انګريز پلاوی د ۱۸۰۹ ز کال د فبرورۍ د مـيـاشتې په ۲۵ نـېـټـې پـېـښور ته ورسـېـد او د شاه شجاع له پلوه ورته په تودو ولولو هرکلی ووېـل سو، پلاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه راغلی وو چې شاه د روسيې او فرانسې له نوې ګډې ټلوالې څخه خبر کړي ؛ له همدې کبله ول چې د بريتانوي هند او د کابل د سلطنت تر منځ لومړنی ګډ دفاعي تړون لاسليک شو ؛ د تړون تر ټولو مهمه موخه دا وه چې د کابل له لارې دې هند ته د فرانسويانو د ورتګ مخه ونيول شي .[1]

په ۱۸۰۹ ز کال کې ول چې شاه محمود يو ځل بيا د وزيرفتح خان د زړورتيا، پالپالی او کارپوهۍ او د هغه د ورونو دوست محمد خان او شيردلخان په ميراني اوورتيا په مټ په دې بريالی شو چې د دويم ځل لپاره د واکمنۍ پرګدۍ ډه ډه ووهي. لومړنی ګام يې دا وو چې فتح خان او د هغه ورور محمد عظيم خان دې د کابل پر لور د شاه شجاع مخه ډب کړي. د محمد عظيم خان د لښکر شميره لږ وه او د جلال آباد په بالاباغ کې د شاه شجاع له ځواک سره مخامخ شو، مقاومت يې ونه شو وکولای او بېرته په شا سو.

## د کابل د سلطنت پر ګدۍ د شاه محمود بيا ناسته:

شاه شجاع په پېښور کې وو چې بارکزي ورونه له ګرشکه تر فراه او سبزوار پورې پرمخ لاړل؛ په سېمې کې دېره بارکزيو او دُرانيو قومونو ته د مخ په اړولو يې نېږدې درې زره جنګيالي راټول کړل، بيا يې په خاشروډ کې په درو کاروانونو چاپه ووهله او له لاسته راغلو پېسو يې خپل جنګيالي په وسلو سمبال او د کندهار پر خوا يې مارش وکړ. د کندهار والي شهزادګی يوسف وتښتېد او د کندهار عسکري بولندوي ميرعلم خان تسليم سو. له هغه وروسته يې د فتح خان ورور پردلخان د کندهار د والي په توګې و ګوماره او د کابل پر لور پر مخ لاړل. په کابل کې هم له کوم مقاومت سره مخامخ نه شول او شاه محمود د ۱۸۰۹ ز کال د اپريل د مياشتې په ۱۷ نېټې د کابل بالاحصار ته راغی او د دويم ځل لپاره يې خپل سلطنت اعلان کړ.[2]

په دې توګې شاه محمود په ۱۸۰۹ ز کال کې يو ځل بيا د وزير فتح خان

---

[1] - الفنستن،افغانان، د فکرت ژباړه، ۵۳۴ پ

[2] -پيرس، پ ۶۱، الفنستن،ت پشتو ژباړه، ۲ ټوک، ۳۲۳ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه د ورونو دوست محمد خان او شیردلخان د پالیالی، زړورتیا او کارپوهنې په مټ د کابل د سلطنت د تاج او گدی په بیا نیولو بریالی شو. د فتح خان لومړنی کار د شاه شجاع پر وړاندې د خپل ورور سردار محمد عظیم خان لېږل ول چې کابل ته د هغه د راتگ مخه ونیسي. مگر سره له دې چې محمد عظیم خان مرستندویه ځواک په خپل واک کې درلود، د جلال آباد په بالاباغ کې دده او د شاه شجاع د ځواکونو په لومړنی نښتې کې بې مقاومت ونه شو کولای او اړ شو چې بېرته په شا شي.

د شاه محمود د ځواکونو شمېره له درو زورو پورته نه وه، مگر د شاه شجاع د سرتېرو شمېر ۲۵ زرو تنو ته رسېد چې په یوې توپخانې هم سمبال ول. دوست محمد خان په کابل کې د شاه محمود د پوځي ځواک د بولندوی په توگې وگومارل شو. موهن لال وایې : فتح خان، دوست محمدخان او د پوځ څو تنو نورو مشرانو د شاه محمود په کېږدی کې یوه غونډه جوړه کړله. دوست محمد خان چې " په تـَـدَبـُر ، سیاست او زړورتیا بې تل داډمنه ډېه لگول کېدله "[1] مشرانو ته وړاندیز وکړ : تر هغه مهاله چې دښمن په بشپړ ډول نه وي خوځېدلی او نه وي رانېږدی شوی، باید په وَړو ډلو ونه وېشل شي، ددښمن پوځ باید بو ځای او په بو بل راټول وي او نه دې پر دښمن د لوټ او تالا برېد وشي، ځکه دا کار زموږ په لښکر کې هم زړه نازړه توب او گډوډي رامنځته کوي او دښمن له دغه حالته گټه اخلي. هغه زیاته کړه که دښمن تر دوی برلاسی ښکاري دوی نه باید له دې خبرې کومه وېره ولري او نه دې له دښمن سره بـو ځای سي، که څوک له دښمن سره یو ځای کېږي نه یوازې ځان او خپل قوم شرموي بلکه زموږ د لښکر روحیاتو ته به هم کلک تاوان ورسوي. موږ باید پـېـاوړی ایمان ولرو او ومنو چې زموږ لښکر به گټونکی او سوبمن سي. ددوست محمد خان ویناوې او سلاوې د شاه محمود، فتح خان او په غونډې کې د نورو ناستو خانانو له خوا په خوښی ومنل سوي او د سولې او

[1] ـ موهن لال، زندگی امیردوست محمدخان، ژباړه، داکتر هاشمیان، ۱ ټوک، ۱۰۰پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې دډګر ټولې چارې یې هغه ته وسپارلې." دشاه شجاع د لښکر پر چنداول/ پیشقراول باندې د ګندمک په ورځېرمو سېمو کې د دوست محمد خان له پلوه څو پرله پسې برېدونه تر سره سول او درونډ تاوان یې ور واړاوه.

موهن لال وایي : " د جګړې په ډګر کې ښکېلو کسانو را ته ویل : په دغسې سترې جګړې کې د دوست محمد خان د پوځي پوهې ستاینه لکه چابکي، هوښیاري، زړورتیا، ټېنګوالی او مقاومت، لاربښوونه او سرمشري دومره ډېره ده چې هر څوک به یې په ستاینې ستړی سي. جنګیالیو په سترګو لیدل چې دوست محمد خان به د دښمن پر یوه کتار ور ننوت، ددښمن نفودي لیکه به یې ماته او بېرته به په شا سو او خپل جنګیالي به یې بېرغل او جګړې ته هڅول. بله شیبه به مو لیدل چې دوست محمد خان به د یو شمېر بې دسپلینو سرتېرو په بیا سمبالولو بوخت وو او د یوه لارښود او مشر په توګې به یې کار کاوه. مدد خان او اعظم خان چې د لسو زرو سرتېرو مشري یې په غاړه وه، په خپل لښکر کې د خپل پوځي مقام او دریځ نري والي ته په پاملرنې په وحشت کې لوېدلي ول چې څنګه دوست محمد خان د دښمن د لښکر ډېر سرتېري وژل. په پای کې دوست محمد خان په دې بریالی شو چې د دښمن سرلښکرې او مخکښه برخه دړې وړې او شا تګ ته یې په دې توګې اړباسي چې د پوځي توکو او ځاني تلفاتو د شمېر له اړخه یې درانده تاوانونه ور رسولي ول." [1]

ورپسې جګړه په نملې کې رامنځته شوه په دې جګړې کې فتح خان په خپله دومره زړورتیا او مېړانه وښودله چې شاه شجاع ته یې ماتې ورکړه او شجاع یې تېښتې ته اړ ایست، د هغه وزیر اکرم خان ووژل شو او د شاه شجاع ټول پوځي توکي د فتح خان د لښکر لاس ته ورغلل، هغه سره زر او د ګرانبیو کاڼو او ډبرو پانګه چې د فتح خان د ځواک لاس ته ورغلې وه دوه

[1] - موهن لال،زندګی امیردوست محمدخان ، ۱ ټوک، ۱۰۱ پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلیون پـوَنده اټکل شوې ده.[۱]

له هغه وروسته فتح خان جلال آباد ته لاړ او خپل ورور محمد عظیم خان ته یې چې لومړۍ دنده وسپارله له شهزادګي کامران سره یو ځای پېښور ته تګ وو چې د شاه شجاع له منګولو یې خلاص او مالیه راټوله کړي. محمد عظیم خان او شهزادګی کامران د پېښور پر لور لاړل او ښار یې ونـیو. محمد عظیم خان د پېښور د حاکم په توګې پاتې اوشهزادګی کامران کابل ته راستون سو. په دغه ټول اړودوړ کې فتح خان د یوې شـېبې لپاره د خپل لښکر له پالنې او غمخورۍ څخه بې خبره نه وو، د همدې پالنې او ساتنې په مټ ول چې د کورنـیو مخالفانو او باندنـیو دښمنانو پر وړاندې اکثریتو جګړو کې بریا دده په برخې وه.

شاه شجاع په نملې کې له ماتې خوړولو وروسته د خـېبر پرلور وتښتـېد ، موده وروسته یې د لښکر د راټولولو تکل وکړ چې پرکندهار برېد وکړي. شاه شجاع همداسې وکړل؛ د نورزیو له خانانو سره یو ځای یې پرکندهار برېد وروړ؛ په دغو خانانو کې د میرعلم خان پلار، عبدالله خان هم وو چې د شاه محمود له پلوه زنداني او بیا وژل شوی وو. سره له دې چې پردلخان د کندهار له ښاره په زړورتیا دفاع وکړه بیا هم ښار د شاه شجاع لاس ته ورغی، له دې پېښې وروسته د وزیر فتح خان په امر پـو لښکر د شهزادګي کامران په ملتیا په لنډ وخت کې د کندهار پرلور وخوځـېد؛ د دواړو خواوو ترمنځ جګړه ونښتله، په پای کې شاه شجاع د وزیرفتح خان له لاسه بیا ماتې وخوړله او شجاع راولپنډۍ ته وتښتـېد. وروسته د کشمیر حاکم عطا محمد خان چې د کوه نور الماسو ته یې سترګې غلې کړې وې شاه شجاع ته ژمنه وکړه چې پېښور به بـېرته د محمد عظیم خان له منګولو څخه خلاص او ده ته به یې وسپاري، سره له دې چې پېښور د یوې لنډې مودې لپاره د محمد عظیم خان له منګولو ووت مګر محمد عظیم خان وکولای سول بـېرته پېښور د شاه شجاع له لاسه وژغوري.

---

[۱] پیرس، هماغه اثر، ۶۱ـ ۶۲ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شک نشته چې که د کابل د واکمنۍ پرګدۍ مین شاه شجاع چې د هغه لپاره یې بې شمیره لالهاندۍ او سربدلاۍ ولیدلې ، د شاه محمود له بندي کېدلو او له وزیر فتح خان سره له یوځای کېدنې وروسته، وزیر فتح خان یې له ځانه نه وای خوا بدی کړای او پرېیښې نه وای چې وزیر فتح خان د هغه له دښمنانو او سیالانو سره یو ځای شي، نو شاه شجاع کولای سوای د کابل د سلطنت واګې تر ډېرې اوږدې مودې پورې په لاس کې ولري. خو شاه شجاع ګومان کاوه چې کولای سي فتح خان په آسانه وغولوي او ددې پرځای چې فتح خان ته ارزښت ورکړي، بارکزي خانان یې له ځانه خوابدي کړل چې ددغه سیاست ببه په خپله شاه شجاع ته ګرانه پرېوتله.

خو شاه محمود چې د خپل سلطنت دویم پړاو یې هم د فتح خان او د هغه د ورونو د هڅو په مټ ګټلی وو، د هیواد د اداري ټولې واګې یې وزیر فتح خان او دهغه ورونو ته چې ورته د ډېر ډاډ وړ کسان ول، وسپارلې. شاه محمود، وزیرفتح خان د سر وزیر په توګې وټاکه او له درنښت ډک د (اشرف الوزراء) لقب یې ورکړ. د پاچا د همدغه ډاډ له کبله بارکزیو ورونو هم تر وسې وسې هڅه وکړه چې د افغانستان د ستر احمد شاه بابا د پړاو ځواک، برم و پرتم بېرته راژوندی کړي. دغې مو خې ته د رسېدا لپاره وزیر فتح خان د افغانستان د ګڼ شمېر ولایتونو د ولایتي چارو واګې د خپلو ورونو په منځ کې چې خپل ټول ژوند یې د شاه محمود د سلطنت د بیا ترلاسه کولو په لاره کې په سرښندنې ډالۍ کړی وو وسپارلې، هغوی هم په نه ستړې کېدونکې توګې د هېواد اړوندې چارې په زړورتیا پر مخ بوتللې.

پردلخان د کندهار د ولایت والي، سلطان محمد خان د پېښور والي، شیردلخان او کهندل خان د بامیانو او غزني والیان، رحمدلخان چې ډېري وختونه په شکارپور کې اوسېده د بلوڅستان د ولایت د والي په توګې وټاکل سول. نور ورونه یا د نوموړو والیانو تر لاس لاندې او یا د مشر ورور فتح خان تر لاس لاندې په کابل کې په کار بوخت شول. دوست محمد خان چې د مېړانې ، زړورتیا او تېښګوالي ځانګړې ځانګړتیاوې یې درلودلې او په جنګي چارو کې د جلا خصوصیاتو لرونکو نوښتګر جنرال وو او د چارو په اداري او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښو په وړاند وییني ، متانت او سیاست کې د نورو ورونو په منځ کې ممتاز وو، له وزیر وروسته رتبه یې درلودله، په کابل کې د وزیر د چارو اداره، او د سردار محمد عظیم خان، نواب اسد خان او د نواب جبارخان د کورنېو د پالنې او ساتنې چارې ده ته ور په غاړې وې.

هرات یوازینی ولایت وو چې د سدوزیو له کورنۍ څخه د شهزادگي فیروزالدین په لاس کې پاتې وو او هغه هم له دې کبله ول چې د فتح خان ځواک په ختېځو ولایتونو کې د ټیکاو او امن او د چارو په بیا سمبالولو بوخت وو ځکه تل د شاه شجاع او رنجیت سنگهـ له پلوه پکې خندونه رامنځته کېدل.

## د پېښوراو کشمیر د نـېولو لپاره لښکري یونونه:

شاه شجاع خپل د سلطنت لومړی پړاو له ۱۸۰۳ تر ۱۸۰۹ ز کال پورې پرمخ بوت او په (۱۸۰۹ ز / ۱۲۲۴ ق) کې د نملې په جگړې کې یې ماته وخوړله؛ د شجاع له دې ماتې وروسته شاه محمود د وزیر فتح خان د سربښندیو هڅو په مټ د کابل د سلطنت د چارو واگې د دویم ځل لپاره په لاس کې واخېستلې. چرچه مار شاه محمود چې خپله ناوړیتا یې د خپل سلطنت په لومړي پړاو کې په زباد رسولې وه، د دویم ځل لپاره د سلطنت د واگو له اخېستلو سره سم یې یو وار بیا یو شمېر خلک له ځانه خوابدي کړل او د سلطنت پر وړاندې یې ودرېدل. د هغه سیال، شاه شجاع چې د نملې له ماتې وروسته د ختیکو کوهستان ته تښتېدلی وو د کابل د نـېولو لپاره د کندهار له لارې را وړاندې سو (۱۸۱۰ ز- ۱۲۲۵ ق)، خو بیا یې د وزیر فتح خان له لاسه ماتې وخوړله او هند ته لاړ او له هغه ځایه یې پر پېښور برېد وکړ او پېښور یې د څو مېاشتو لپاره په منگولو کې ونـېو، خو د وزیر فتح خان ورور، سردار محمد عظیم خان بېرته پېښور د شجاع له لاسه خلاص کړ. شاه شجاع دا ځل د ملتان، راولپنډۍ او لاهور پر خوا لاړ او شاه محمود یو ځل بیا په چرچو بوخت سو او فتح خان اړ سو چې د هېواد ټولې چارې هم له اداري او هم له پوځي اړخه پر مخ یوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزيرفتح خان هم، په خپلې پوهې او ځيرکوالي د افغانستان د چارو په سم پرمخ بېولو بوخت شو او د هېوادنيو چارو په پرمخ بېونه کې ډير ښه وځلېد. د وزير فتح خان د بريا اړخ د هغه په پوهې ، سياست، ليرلېد او په خپلو ورونو په ډاډ او دوه اړخېز درناوي پورې تړلی وو، نورو ورونو ورته د مشر ورور په سترګو ډېر درناوی کاوه او خبرو ته يې غاړه ايښودله.

هېوادنی چارې په دې ډول پرمخ تللې خو په کشمير کې عطا محمد خان باميزي د ځو کلنې واکمنۍ له شامِـته ځان د پياوړي واکمن په هېنداره کښې لېده، هغه دومره ځان پـېاوړې ګاڼه چې شاه محمود ته يې د درناوي سر نه ټيټاوه او کابل ته يې د مالـېې له رالـېږلو ډه ډه کوله، نوموړی ان په دې فکر کې هم ولولـېد چې پـېښور د شاه محمود له سلطنتي کړۍ څخه بېل او ځان خپلواکه سلطان اعلان کړي. له دې کبله فتح خان خپل وروڼه سمندرخان او جهانداد خان د يوه درې زره کسېزلښکر په مشرۍ پـېښور ته ولـېږل چې پـېښور ونـېسي، د دواړو خواوو تر منځ جګړه ونښتله، عطا محمد خان ماته وخوړله او پـېښور بـېرته د سمندرخان او جهانداد خان لاس ته ورغی.

د يادونې وړ ده چې عطا محمد خان باميزي د کشمير د ځوکلن حکومت واګې د شاه شجاع د فرمان له امله ترلاسه کړې وې مګر اوس هغه مهال رسېدلی وو چې نوره د شاه شجاع واکمني ړنګه او بې نوم او بې نښانه په لاهور کې لالهانده ګرځېده، خو عطا محمد خان لا تر دې دمه د کشمير خپلسرې او خپلـچاری والي وو. کېدای شوای چې شاه شجاع او عطامحمد خان يو بل ته نـږدې سوي وای خو د دواړو ترمنځ د پلاروژنې تربګني پرته وه، د عطا محمد خان پلار مختارالدوله شيرمحمدخان او تره يې خواجه محمد خان د قصير د اله ګولې پر مهال په پـېښور کې د شاه شجاع په لاس وژل شوي ول.

هر ګوره، له يادې شوې تربګنۍ سره سره عطامحمد خان د يوه لـېک په لـېږلو، شجاع الملک و هڅاوه چې له لاهوره ووځي او د پـېښور تاج او تخت دې ونـېسي. شاه شجاع هم د سلطنت د نـېولو په هېلې پـېښور ته راغی، خو عطا محمد خان، سمندرخان او جهانداد خان ته يې په پټه خبر ورکړ چې د هغه د پلار وژونکی، شاه شجاع دې بندي او کشمير ته دې لاس او پښې تړلی وروليږ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا وو چې هغوی هم شاه شجاع د یوې مېلمستیا په ترڅ کې ونېو او عطا محمد خان ته یې ور ولېږه؛ عطا محمد خان، شاه شجاع د کشمېر په بالاحصار کې بندي کړ. (۱۸۱۲ز) [۱]

په نملې کې د شاه شجاع له ماتې نېولې، په بالاحصار کې د هغه د بندي کېدلو تر پړاوه پورې د پېښور د واکمنۍ دریځ په درو ټکیو د درو ځواکونو : د شاه محمود ځواک ( مرکزي دولت)، د ( کشمیر د حاکم) عطا محمد خان بامیزی او ( په لاهور او راولپنډۍ کې) د لالهانده شاه شجاع تر منځ پېښلې اوبدل سوی وو او تل له ادلون بدلون سره مخامخ وو؛ له دې کبله دلته غواړم همدغې سکالو ته د « واقعات شاه شجاع» د لېکوال له انده په لنډېز یوه کتنه وکړم.

شاه شجاع په نملې کې له ماتې خوړلو وروسته پېښور ته په شا تګ وکړ او له هغه ځایه د کندهار پر لور وخوځېد؛ شهزادګي ایوب خان او اسد خان بارکزي د شاه شجاع پر وړاندې مقاومت ونه شو کولای، شاه شجاع ښار ونېو، خو د ښار له نېولو وروسته کندهار ته ورځېرمه د چکان د سېمې په جګړې کې یې بیا ماتې وخوړله او له هغه ځایه دېره جات ته په شا سو او له دېره جاته یې د راولپنډۍ پر لوړ مخه تاو کړه. دلته یو شمېر بلوڅ خانان لکه خان اڅکزي، یحیی خان بامیـزي او غلام احمـــد خان، شاه شجاع ته وایې چې پېښور د سردار محمد عظیم خان له منګولو چې د شاه محمود له خوا هلته حاکم ګومارل شوی، په آسانه نېول کېدای شي، ان غلام محمد خان له خپل ورور عطا محمد خان څخه له کشمېره زر تنه سپاره راغواړي او د پېښور پر لور خوځېږي او له یوې لنډې جګړې وروسته پېښور نېسي. شجاع پېښور ته راځي خو محمد عظیم خان له کابله له خپل نوي ځواک سره راځي او شاه شجاع یو ځل بیا له پېښوره شړي او اړ کېږي چې د راولپنډۍ لاره ونېسي. دا ځل د عطامحمد خان بل ورور جهانداد خان او سمندر خان بامیزی له درو زرو سپرو سره شاه شجاع ته راځي او د پېښور نېولو ته یې هڅوي،

---
[۱] ـنوای معارک، ۸ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شجاع د سردار محمد عظیم خان له ځواکونو سره مخامخ کېږي، د سردار محمد عظیم خان ورور عطا محمد خان بامیزی په دې نښته کې وژل کېږي، له دې سره سره شجاع د پېښور په نېولو نه بریالی کېږي او له ماتې وروسته بېرته د راولپنډۍ پر خوا تښتي.

د کشمیر ناظم عطا محمد خان بامیزی یو ځل بیا خپل ورور غلام محمد خان له خپل معتمد نوکر آنندرام سیکهـ سره د دوه نیم زرو سپرو او پلیو جنګیالیو په ملتیا شاه شجاع ته ورلېږي. د شجاع او سردار محمد عظیم خان تر منځ جګړه نښلي او په دې جګړې کې سردار محمد عظیم خان ماته خوري او د کوهاټ او بنګښو له لارې کابل ته راځي، په دې توګې پېښور ظاهراً د شاه شجاع لاس ته ورلوېږي خو عملي واګې یې د کشمیر د حاکم د عطا محمد خان د واک او اغېزو په کړۍ کې پاتې کېږي. شاه شجاع خپل زوی شهزادګی حیدر دېره جات ته د نواب جبار خان پر وړاندې جګړې ته لېږي، په دغې شپېبې کې چې د شجاع زوی حیدر خان  په دېره جات کې په جګړې بوختېږي جهانداد خان او سمندر خان بامیزی د کشمیر د حاکم عطا محمد خان په لارښوونې او امر شاه شجاع بندي کوي، لومړی یې د اټک کلا ته راولي او له هغه ځایه یې کشمیر ته لېږي او د کشمیر د کوه ماران په کلا کې بندي کېږي .[1]

په دې توګې د بارکزیو ورونو او شاه محمود پر وړاندې عطامحمد خان دریم لاس شمېرل کېده او ځرګنده ده چې عطامحمدخان له خپل شته پیاوړي دربځ ښخه په ګټه اخېستلو کابل ته د مالېې له ورکړې ښخه غاړه غړوي. وزیر فتح خان د ولایتونو د حاکمانو په چارو په ځانګړې توګې د هغو ولایتونو په چارو کې چې د پردېو اغېزو ته نېږدې پراته ول زښت ډېر حساس وو؛ وزیر فتح خان د عطا محمد خان په لاس د شاه شجاع د بندي کېدلو خبره د شاه له غوږه تېروي او په پای کې شاه هم دې ته چمتو کېږي چې له وزیر فتح خان سره په ګډه د یوه ستر لښکر په ملتیا د کشمیر پر لور وخوځېږي.

ددغه خبر په اورېدلو جهانداد خان او سمندرخان وتښتېدل او شاه

---

[1] ـ واقعات شاه شجاع، چاپ ۱۳۳۳، ٤٠ ـ ٥٠ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود پېښور ته راغی. کله چې د کشمیر والي د شاه محمود له پرېکړې خبر شو، پاچا ته یې پیغام ولېږه چې د کشمیر د والي د پاتې کېدو په آړ/شرط ، په کال کې د درو لکو روپېو د مالیې ورکړې ته چمتو دی. پاچا او وزیر دواړو دغه وړاندیز ومانه او د مالیې د راوړلو لپاره یې خپل کسان کشمیر ته ولېږل. د پاچا کسان بېرته په تشو لاسونو راغلل او د عطا محمد خان له ناوړې، ناخوښي او سرغاړې چلنده یې وزیر فتح خان ته سرټکونه وکړه. په دغه وخت کې پاچا په ملتان کې وو او کله چې د عطا محمد خان چال چلند یې د خپلو کسانو له خولې واورېد، هک پک شول، له دې کبله پرېکړه وشوه چې کشمیر ته لاړ شي او د عطا محمد غوړونه کلک ور تاو کړي.[1]

په هغوشېبو کې چې لښکر د اټک پر لور د خوځښت په حال کې وو، نابېره هر څه سرنسکوره شول، ځکه خبر ورسېد چې سید اشرف او سید عطا د کوهستان له یو شمېر وګړو سره د شاه محمود د ورور شهزادګي عباس ګرد چاپېره را ټول او د هغه د پاچاهۍ غوښتونکي دي، ځرګنده ده چې دغه خبر د کشیمر پر لور د تللو پر وړاندې خنډ را منځته کړ. د هغه ترځنګ د شاه محمود د سرتېرو په منځ کې ګنګوسې خپرې شوې وې چې د شیعه ګانو او سنیانو ترمنځ جګړې رامنځته شوي ده؛ د دغه خبر په اورېدلو په لښکر کې د قزلباشو سرتېرو برخه سخته وېرېدلې وه او له پاچا یې وغوښتل چې بېرته دې کابل ته ستانه شي تر څو له خپلو کورنیو سره مرسته وکړي.

په پای کې پرېکړه وشوه چې پاچا او وزیر به پېښور ته لاړسي او دوست محمد خان او محمد عظیم خان دې د اله ګولې د غلې کولولپاره کابل ته وخوځېږي. دوست محمد خان او محمد عظیم خان دواړه په شوني چټک وخت کې کابل ته ورسېدل، شهزاد ګی عباس یې زندان ته واچاوه او د لسو ورځو په لړ کې یې ښورښ غلی کړ. سید اشرف او سید عطا چې د اله ګوله پاروونکو پېژندل شوې څېرې وې ونېول شول او د فیل تر پښو لاندې ووژل شول.

دا دوېم ځل دی چې پاچا د کشمیر د والي د را پرځولو او له هغه سره د

---

[1] ـ همان اثر، ۶۶ـ ۶۷ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب او کتاب د چاڼولو لپاره له کابله خوځېږي او تر پېښوره رسېږي خو د هېواد په پلازمېنه کې د ناڅاپو پېښو د رامنځته کېدلو له کبله بېرته پلازمېنې ته په ستنېدلو اړ کېږي. لومړی ځل کشمیر ته د خوځېدلو خبره د شاه شجاع او امین الملک محمد اکرم له پلوه وه خو هغه مهال و ځنډول شوه چې کابل د فتح خان په لاس وپرځېد او شاه محمود پاچا شو، مګر دا دې دا ځل شاه محمود او وزیر فتح خان په خپله د شهزادګي عباس د ستونزې له کبله اړ کېږي چې د عطا محمد خان خبره په کشمیر کې پر خپل حال پرېږدي او بېرته د هېواد پلازمېنې ته راستانه شي.[1]

په لومړي ځل شاه شجاع او امین الملک محمد اکرم خان، هغه مهال کشمیر ته د تګ خبره وځنډوله چې کابل د فتح خان په لاس راوپرځول سو او د کابل په ګندمک کې شاه محمود د سلطنت پر ګدۍ کېښېناست. دا ځل دا دی شاه محمود او فتح خان د شهزادګي عباس د ستونزې له کبله اړ کېږي چې د کشمیر خبره شاه ته پرېږدي او پلازمېنې ته راستانه سي. کله چې وزیر فتح خان کابل ته ورسېد سرغاړو اله ګوله کوونکو ته یې سزا په لاس ورکړه او پلازمېنه خپل عادي حالت ته وګرځېدله، مګر بیا هم په کوهستان کې اوضاع نا آرامه وه. وزیر فتح خپله پاملرنه د یوه لښکر په مشرۍ کوهستان ته واړوله. وزیر لومړی د نرمښت ، د پېسو، انعام او اعزازي القابو د ورکړې د هڅې له لارې له خلکو وغوښتل چې آرامه سي، مګر کله چې دا چلند اغېزمن او ګټور ونه خوت، نو دوست محمد خان یې د کوهستان د حاکم په توګې وګوماره او خپل بل ورور نواب اسد خان یې له دوست محمد خان سره په نوې دندې ولېږه.

دوست محمد خان په دې سېمې کې د ټېکاو د ټېنګښت په لارې کې خپله ټوله وسه په کار واچوله، د نرمښت، لوَر او پېرزوېنې، پېسو، بخشش، سوګند، ودونو او خپلوۍ او قهر له لارې وکولای سول په کوهستان کې امن

[1] - پیرس ، هماغه اثر، ۷۴- ۷۵ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېـنګ کړي. [1]

په بل کال یې (۱۸۱۲ز) وزیرفتح خان او دوست محمد خان د یوه ۸ زره کسېز لښکر په مشرۍ د کشمیر د ستونزې د هوارلو لپاره له کابله د کشمیر پر لور وخوځېدل. د ۱۸۱۲ز کال د نوامبر په وروستېو کې افغان لښکر د اندس له سېنده تېر شو. وزیر له هرڅه لومړی له رنجیت سینګهـ سره د خپلو اړیکو ښه کول اړین بلل. له دې کبله یې له خپلو ورونوسره چې شمېر یې ۱۸ تنو ته رسیده سلا ـ مشوره پېل کړه. د وزیر یوه ورور وړاندېز وکړ چې د رنجیت سینګهـ تګر دې په هماغې لومړۍ شونې شېبې کې ورټول کړي خو وزیر وړاندېز ونه مانه او هغه یې د یوه ناسم او بې سنجشه ګام په ګڼلو د کشمیر پر لور د خپلې نقشې پر وړاندې یوه ګواښجنه کړنه وبلله. وروسته یې د خبرو اترو لپاره یو بګارۍ /قاصد رنجیت سینګهـ ته ولېږه. رنجیت سینګهـ خبرو اترو ته د چمتووالي په ښودلو د افغان لوري خبرو ته غوږ ونیو او هېله یې څرګنده کړه چې خبرې اترې به د پام وړ پایلې ته ورسېږي. خبرې پېل سوې او رنجیت سینګهـ ومنله چې د سیکهانو تر ولکې لاندې سېمو کې افغان لښکر ته د تېرېدلو د آسانتیاوو د برابرولو تر څنګ به د خپل پوځ یوه برخه د افغانانو د مرستې لپاره په افغان لښکر کې ورګډه کړي خو شرط یې دا دی چې د کشمیر له سوبې وروسته دې د کشمیر د مالېې یوه پر دریمه برخه سیکهانو ته ورکړل شي. په عاقبت پوه او ځیرک وزیر د اوسمهال لپاره د دغه وړاندېز په منلو د کشمیر د نېولو په موخې د کشمیر پر لور وخوځېد. [2]

وزیر فتح خان د سیکهانو بدرګه لښکر ته سترګې په لاره پاتې نه شو او د ۱۸۱۳ز کال په فبرورۍ کې کشمیر ته ورسېد. د دواړو خواوو تر منځ څو خونړۍ جګړې ونښتلې، په پای کې عطا محمد خان " د بامیزیو د خانانو په سلا د خپل ځان د ژغورنې لپاره ، د سپېڅلي او مجید قرآن مصحفات شفیع راوړل،

[1] - موهن لال ،زندګی امیر دوست محمدخان، ۱ ټوک ، ۵۷- ۵۸ پاڼې
[2] - موهن لال، هماغه اثر، ۵۷- ۵۸ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لوښ او بربنډ سر ، رسی په غاړې او توره په لاس د فیض دستور (شاه شجاع) حضور ته ودرېد او د عرض اقدس غوږ ته یې ورسول چې قبله عالم او عالمیان دې د همدغه الهي کلام په تصدیق او پیرزوینې ددغه خطار کار عذر په خپل فیض خپروونکي نظر منظور کړي. "[1]

هر ګوره، عطا محمد خان ځان وسپاره او وزیر فتح خان د عطا محمد خان د پلار مختارالدوله شیرمحمد خان د هغو مرستو په بدل کې چې په کندهار کې یې د قیصر پر لاس د ده د وژلو مخه نیولې وه، وبخښه او تاوان یې ور ونه رساوه او هم د قوم د مشرانو په شفاعت او په خپله د شاه شجاع د مختورتوب په پېښې یې آزاده پرېښود او ورته یې وویل چې هرچېرته چې ځي، لاړ دې شي. لنډه دا چې عطا محمد خان له کشمیره ووت او د دېره جات له لارې په کندهار کې کامران ته ورغی او د هغه په زړه کې یې د نومیالي وزیر پر وړاندې د رخې او سخې اور دوه ځله نور بل کړ؛ د نوموړي راتلونکې کړه وړه څرګندوي چې په هېوادنیو چارو کې د یوګړو کسانو لاسوهنه او رخه او سخه تر کومې کچې په خپله هغه ته او د هېواد ګټو ته تاوان ورساوه.

د کشمیر د چارو له سمبالولو وروسته اشرف الوزراء فتح خان ، محمد عظیم خان چې په جګړو کې د وزیر ترخنګ ولاړ وو، د کشمیر د والي په توګې وټاکه او سیکهـ سرتېري یې چې د کشمیر د سره ژمي  په واورو پوښلو غرونو کې هېڅ کار نه وو تر سره کړی، د سوغاتونو په ورکولو رخصت کړل. رنجیت سینګهـ چې ژمنې شوې وندې ته سترګې په لارې وو څه ترلاسه نه کړل نو د یوه لک روپېو په بدل کې یې د اټک کلا د عطا محمد خان بامیزي له ورور جهانداد خان څخه وپېرودله او سیکه سرتېري یې هلته ځای پرځای کړل.[2]

وزیرفتح خان، شاه شجاع ته وړاندېز وکړ چې شاه محمود ته غاړه کښېږدي او یو ځای دې کابل ته ورسره لاړ سي، خو بد مرغه پاچا د افغان

---

[1] - تاریخ سلطاني، ۱۹۳- ۱۹۵ پاڼې

[2] - واقعات شاه شجاع، ۴۲ پ ،کهزاد، در زوایای تاریخ معاصر افغانستان، ۴۰ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزير دغه وړاندېزو نه مانه او د سيکهانو له سرتېرو سره يو ځای لاهور ته لاړ. کله چې شجاع لاهور ته ورسېد، د رنجيت سينګهـ منګولو ته ورغی او ښه بې وزبيښه چې د عطا محمد خان له زندانه د هغه د ژغورنې په بدل کې دې د کوه نور الماس ده ته د سوغات په توګې وروسپاري چې تر دغه دمه د ده يا هغه د ميرمنې په ولکه کې وو. خو شجاع د کوه نور د الماسو له ورکړې ډه ډه وکړه. رنجيت سينګهـ شاه شجاع ته د مرګ د ګواښونو او شهزادګي تيمور ته د وهلو او ټکولو تر څنګ ژمنه وکړه چې په پنجاب کې به ورته جاګير ورکړي او د کابل د سلطنت په لاس ته راوړلو کې به ورسره مرسته وکړي؛ په دې توګې بې د کوه نور الماس ورڅخه واخېست. په دې ډول شاه شجاع په لاهور کې د يوه نـيـمه يرغمل په توګې شپې ورځې سبا کولې او رنجيت سينګهـ هڅه کوله چې له شاه شجاع څخه پاتې د سرو زرو پانګه او پېسې چې له سوداګرو سره وې، راخپله کړي. په پای کې شاه شجاع په دې وتوانېد چې خپله ميرمن له لاهوره، لودهـيـانې ته ولـېـږي او په خپله د يو هندي جوګي په جامو کې له لاهوره ووت او د کشمير او تبت له لارې لودهيانې ته لاړ. (۱۸۱۶زکال) [۱]

## د اټک د کلا د بيا نيولـو لپاره د فتح خان لښکري يونونه:

په هغو شېبو کې چې د سيکهانو د لښکر سردار ملکهم چند له وزير فتح خانه د کشمير له سوبې وروسته بېلـېـده هـېـله وښودله چې د عطا محمد خان ورور، غلام محمد خان پوپلزي ته دې اجازه ورکړي چې له ده سره لاهور ته لاړ شي. فتح خان د سيکهانو د سرلښکر دغه غوښتنه و منله او هغه بې خوشې کړ، خو دوست محمد خان د غلام محمد خان په خوشې کېدلو خوښ نه وو او پايـله بې وزير ته ګواښنجنه بلله. د دوست محمد خان دغه اټکل پر ځای وو، ځکه، کله چې غلام محمد خان خپل ورور، د اټک د کلا حاکم، جهان داد خان ته ورسـېـده، هغه بې وهڅاوه چې د اټک کلا دې د جاګيري ( تيول) په بدل کې پر سيکهانو و پلوري. هغه هم کټ مټ همدغسې وکړل او رنجيت سينګهـ د

---

[۱] - پيرس، عروج بارکزائی، ۷۹ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اټک کلا د یو لک روپیو په بدل کې ونیوله. د اټک د کلا د بیا نیولو لپاره د وزیر فتح خان د لښکري خوځښت په تړاو د تأریخي سرچینو خبرې تر یوه بریده له یو بله توپیر لري. پیرس، د "عروج بارکزائي" کتاب لیکوال په دې باور دی چې فتح خان د کشمیر له سوبې وروسته، پېښور ته د راستنېدلو په لارې کې، د رنجیت سینگهـ له دغې معاملې په خبرېدلو، گواښ کوي چې د وسلو له کارولو مخکې دې سیکهان بېرته د اټک کلا افغانانو ته ورپرېږدي، خو سیکهانو د لوی لښکر په راټولولو ځانونه جگړې ته چمتو کړي ول. افغان لښکر د اټک کلا ته نېږدې د لښکر کوټ په اچولو کلا تر تېـنگې کلابندۍ لاندې ونیوله. رنجیت سینگهـ د اټک د کلا بولندوی ته بولنه ورکړه چې له کلا دې دباندې ووځي. د جولای د میاشتې پر ۱۲ نېټې سیکهان د اټک له کلا ووتل او د اټک د سیند د غاړې په څنډو کې یې خپل خوځښت ته دوام ورکړ.

وزیر فتح خان خپل ورور دوست محمد خان ته دنده وسپارله چې د دوه زرو افغان ملیشو تر مشرۍ لاندې دې د سیکهـ د لښکر

پر چنډاول/ پیش قراول یرغل ور وړي. دوست محمد خان حیدر آباد ته نېږدې د سیکهانو پر لښکر پیاوړی یرغل ور ووړ چې له تېـنگې ماتې وروسته یې تېښتې ته اړ کړ. یو شمېر وسلې د دوست محمد خان لاس ته ورغلې. افغانان په دې گومان چې بشپړه سوبه یې ورپه برخه شوې، نو د ولجو په را ټولولو بوخت شول. په دې شېبې کې چې افغان جنگیالي د ولجو په راټولولو بوخت دي د سیکهانو د لښکر سردار چې دوه توپک یې په لاس او پر فیل باندې سپور وو پر افغانانو گولۍ و وَرَولې. د توپک د ډزو له کبله د دوست محمد خان ځواک خور و وور شو.

دوست محمد خان خپل ورور ته چې اټک ته نېږدې وو پیغام ولېږه او د مرستې غوښتنه یې وکړه. بگاري / قاصد لاره ورکه کړه او خبر هېځکله وزیر ته ونه رسېد. له بلې خوا وزیر ته خبر راغی چې دوست محمد خان او افغان جنگیالي وژل شوي دي. وزیر هم د پېښور د هماغې ورځې د بوړنوونکي تودوخې په ترخ کې د دښمن د نابېره برید له کبله په شا شو. له بلې خوا دوست محمد خان ته خبر ورسېد چې وزیر وژل شوی دی. هغه هم په لنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې ځان د خپل ورور لښکرکوټ ته ورساوه. له دې چې د افغان لښکر وسلې او بارونه د اور د لمبو او لوګیو په منځ کې له منځه تللي ول، دوست محمد خان هم د څو دانو وسلو په را اخېستلو کابل ته وخوځېد. دواړه ورونه د لارې په اوږدو کې د رنجیت سینګهـ له چلوټې خبر شول؛ له دې چې دواړه ژوندي ول، بیا هم خوښ ول او له رنجیت سینګهـ څخه د غچ اخېستنې چاره یې بل وخت ته په شا وغورځوله ؛ کله چې کابل ته ورسېدل، شاه محمود ور ته تود ښه راغلاست وواېه.[1]

په راتلونکي کال یې چې رنجیت سینګهـ د کشمېر نېولو ته شونډې څټلې، د مالېـې د یوې برخې د اخېستلو په پلمې یې د ۱۸۱۴زکال د جولای (۱۲۳۰ ل) په مېاشت کې د سردار محمد عظیم خان پروړاندې لښکر راوایست. په لومړي یرغل کې چې په یادې پورتنۍ نېټې وشو، شپږ زره سیکهان ووژل شول؛ ورپسې د سیکهانو یو یا دوه نور برېدونه هم په شا و تمبول شول او په کشمیر کې د سردار محمد عظیم خان حکومت پیاوړی سو. وزیر فتح خان چې د رنجیت سینګهـ د پراختیا غوښتنې له نقشې څخه خبر وو د اټک د کلا نېونه یې د افغانستان په خاوره کې یوه لاسوهنه بلله.

فتح خان د یوه ملي ولسي مشر په توګې د بهرنیو لاسوهنو په وړاندې تـل د ډېـرو کوټلو او عملي ګامونو اوچتولو ته چمتو وو او په خپلې خاورې کې یې د پردېـو یوه وَړوکي لاسوهنه نه سوای زغملای. د اټک پر کلا باندې د سیکهانو برلاسي د هغه تر پښو لاندې سور اور بل کړی وو او سترګو یې د وَړندې شپېې لپاره لارې څارلې، تر څو چې پر کشمیر باندې د رنجیت سینګهـ د برېد خبر یې تر غوږو سو.

وزیرفتح خان یو ځل بیا په ۱۸۱۴ز کال کې، له رنجیت سینګهـ سره د جګړې په موخې لښکر چمتو او تر ملتانه پرمخ لاړ؛ د غازیخان په دېرې کې شاه شجاع ته له ماتې ورکولو او د غازیخان د دېرې د حاکم په توګې د خپل

[1] ـ فرهنگ، افغانستان درپنج قرن اخیر، ۱۴۹ پانه ،نوای معارک، ۱۰ـ ۱۱ پانې ـپیرس ، ۸۶ پانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور نواب جبار خان له گومارلو وروسته بې د اټک کلا ته د نېولو په تکل مخه تاو کړه. مگر له دې چې غړغړانده سیند په څپو وو افغان جنگېالیو ته له سینده تېرېدل ناشوني وو؛ له دې کبله پرته له دې چې جنگېالي بې د رنجیت سینگهـ له لښکر سره مخامخ شي، بېـرته کابل ته ستون سو.[1]

وزیر فتح خان په ۱۸۱۶ زکال کې د افغانستان په خاورې کې د رنجیت سینگهـ لاسوهنه د اغېزمنو مخورو قومي مشرانو مخې ته کښېښودله او له هغو مشرانو بې چې د مرستې هېله درلودله، د مرستې غوښتنه وکړه. دا سکالو د هغه لېک له مخې ښه څرگنده ده چې وزیرفتح خان نائب امین الله خان لوگری بې د لېک د لېږلو له لارې مرکز ته د قومي جنگېالیو په استولو او په ملي او دیني جگړې کې د ونډې اخېستلو لپاره رابللی دی؛ د لېک د کلماتو له مخې کولای سو ددغه ملي لاربنود په ملي احساساتو ښه پوه سو. دا دی نائب امین الله خان لوگري ته د وزیر فتح خان لېک :

" عالیجاه رفیع جایگاه دوستی آگاه امین الله خان، قرین صحت وعافیت بوده به کام باشد. بعد ها مشهود میدارد که چون رنجیت سنگ نقض عهد ومیثاق نموده مصدر فساد وتعدی مسلمانها شده، محض حمایت ورعایت مسلمین کمر همت برتخت بتان کفر ضلال وانهدام اساس مخالفان شقاوت خصال بسته در جمع آوری مردم ولشکر اطراف وجوانب ساعی می باشم.از آنجا که آن عالیجاه مسلمان وننگ دین براو لازم است باید کمر همت ومردانگی بسته موازی سیصدسوار وچهارصد پیاده از طایفه لهوگردی جوانان قچاق مکمل یراق اسپ واسلحه وتفنگچی کاری زبده سرانجام موجود ومهیا نموده به زودی به اتفاق عالیجاهان رفیع پایگاه هان اخوی ام طره بازخان وارجمندی محمدزمان خان که بادیگر لشکر طلب حضورنموده ایم روانه نماید که بدون ملاحظهٔ گرما وسرما خود را برسانند که وقت همت ومردانگی ودوستی وخدمت واخلاص همین وقت است واز این وقت بهتری به دست آن عالیجاه نخواهد آمد که هم نفع دنیا وهم ثواب آخرت هردو حاصل وعاید او خواهد شد

---

[1] - تأریخ سلطاني، ۱۹۷ پ ،پیرس،۸۷ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودر فرستادن این مردم آنچه آن عالیجاه خرچ کند وبدهد به او مجری داده خواهد شد ودرعوض این خدمت به نوعی به او مهربانی وشفقت خواهیم نمود که بین الامثال والاقران سرفرازخواهد شد ودراین باب به هیچ وجه اهمال ومسامحه وخود داری ننمایئد وبه همه وجوه مطمئن وخاطرجمع باشید،زیاده چه قلمی گردد.مهر شاه دوست." [1]

ژباړه :

" هېله مند یم په دوستۍ خبر ښاغلی امین الله خان دې روغ رمټ او بریالی اوسئ. غواړم ور څرګنده کړم له دې چې رنجیت سینګهـ ژبه او ژمنه ماته کړې او پر مسلمانانو یې تېري او ناتارونه پېل کړي نو ما د لار ورکو کفارو او د شقاوت خصالو مخالفانو د بنسټ د ړنګولو لپاره ملاتړلې ده او له هرې خوا د پرګنو او لښکر د راټولو په لارې کې هڅې کوم. له دې چې تاسو ښاغلی مسلمان یاست او د دین ننګ پر تاسو لازم دی باید د همت او مېړانې ملا وتړئ او ورسره د لهوګردي طایفې له منځه درې سوه سپاره او څلور سوه زړور ځوانان چې اسونه یې په بشپړ یراق سمبال وي، زبده توپک وپشتونکي راټول او چمتو کړئ او ډېر ژر یې زما ښاغلو او منلو وروڼو طره باز خان او ګران محمد زمان خان ته چې له هغوی مې نور لښکرونه غوښتي دي راولېږئ او سرې او تودې هوا ته په نه کتلو دې ځانونه راورسوي، همدا وخت د زړورتیا، مېړانې، دوستۍ، چوپړ او اخلاص دی او تاسو ښاغلي ته به تر دې بل ښه وخت په لاس در نه شي چې هم به د دنیا او هم به د آخرت ګټه او ثواب در په برخې شي؛ ددغو خلکو په لېږلو کې که هر څومره لګښت تاسو ښاغلی لګوئ د هغه مجری به درکړل شي او ددغه چوپړ په بدل کې به په دې ډول پر تاسو پېرزوینه او مهرباني وکړل شي چې بین الامثال والاقران به سرلوړي شئ او په دې اړوند هېڅ ډول ناغیري او ځان سپمونه ونه کړئ او له هرې خوا ډاډه او زړه پوره اوسئ، نور څه د لیکلو نه سته. د شاه دوست مُهر."

---

[1] ـ کهزاد، در زوایای تاریخ معاصر افغانستا، چاپ ۱۳۳۱ ل، ۴۷ پ، چې په افغان جرمن آنلاین انترنتي متن کې له ۴۴ پاڼې سره سمون خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې لړ کې وزیر فتح خان، د رنجیت سینګه بریدونه او د کشمیر د حاکم د سردار محمد عظیم خان پر وړاندې د هغه له دښمنۍ ډک ګامونه " ژمنې و ژبې / عهد و میثاق" ماتونه بللې او د هېواد له ګوټ ګوټه د لښکر په راټولو کې د هغه د هڅو ځرګندونه کوي. وزیر فتح خان او دوست محمد خان دا لوی لښکر له ځان سره واخیست او د پېښور پر لور وخوځېدل.

پېښور ته له رسېدا سره سم وزیر فتح خان د خپل لښکر د لا سمبالښت او چمتو کولو په موخې نواب اسد خان کشمیر ته د مالیې د راټولونګ لپاره چې شمېر یې څه له پاسه شلو لکو روپیو ته رسېده ولېږه او ورته ووېل شول چې د مالیې له راټولونګ وروسته دې ډېر ژر راستون سي. سردار محمد عظیم خان د رنجیت سینګه پر وړاندې جګړه پلمه او د مالیې له ورکړې څخه یې ډډه وکړه؛ دې خبرې نېږدې وو د دواړو ورونو ترمنځ وروري خرابه کړي؛ له دې کبله یې سردار دوست محمد خان ته له کشمیره د مالیې د راوړلو دنده وسپارله. دوست محمد خان هم کشمیر ته لاړ او له خپل ورور سردار محمد عظیم خان څخه یې۱۳ لکه روپۍ ترلاسه او بېرته پېښور ته راستون سو. وزیر فتح خان د خپل لښکر له رغښت او پیاوړي کولو وروسته بولنه ورکړه چې د اټک کلا دې په هره بېې چې وي د سیکهانو له منګولو خلاصه کړي. زښته خونړۍ جګړه ونښتله او سیکهانو ته درانده تاوانونه واوښتل، سیکهان اړ شول چې د اټک کلا افغان ځواک ته تشه کړي. له همدغې جګړې وروسته رنجیت سینګه تر هغه مهاله چې وزیر فتح خان ژوندی وو، بیا یې دا زړه ونه کړ چې بیا دې پر اټک یا کشمیر برېد وکړي، خو همدا چې په ۱۸۱۸زکال کې یې د شاه محمود په لاس د وزیرفتح خان د وژل کېدا خبر تر لاسه کړ نو سمدلاسه یې پر کشمیر برېد وکړ او هغه یې د محمد عظیم خان د ورور سردار نواب خان له منګولو راخپل او وېې نیو (۱۸۱۹ز/۱۲۳۵ ل).[۱] او پر دغه ښکلي ټاټوبي یې د وروستني افغان واکمن دواکمنۍ لاس لنډ کړ.

---

[۱] - هماغه اثر، هماغلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هرات پر لور د فتح خان لښکري یون او د ( فارسیانو) پر وړاندې جګړه :

کله چې وزیرفتح خان د هیواد (ختیځه دروازه) د سیکهانو له منګولو بېرته ونېوله، فارسیانو -ژ /ایرانیانو د هېواد پر (لویدېځې دروازې) د یرغل په لړ کې د هرات د نېولو تکل کړی وو. وزیرفتح خان په چټکۍ ځان له خېټځو پولو د هېواد لوېدېځو پولو ته ورساوه، د هرات والي حاجی فیروزالدین یې له کاره ګوښه اوهرات یې له کابل سره ونښلاوه او په غوریانو کې یې د ایرانیانو مخه ډب کړه.

ددې پېښې جزئیات په دې ډول دي چې پر کال ۱۸۱۸ز/۱۲۳۳ل کښې ایرانیانو یوځل بیا هرات کلابند کړ. د هرات والي د شاه محمود ورور حاجي فیروزالدین ایرانیانو ته د غوریانو د کلا په ورسپارلو ، د یو شمېر غراماتو په ورکړې او د فارس د شاه « فتح علیشاه قاجار» په نامه د سکې او خطبې په منلو غوښتل فارسیان د هرات د ښار له کلابندۍ څخه منصرف کړي. حاجي فیروزالدین خپل ورور شاه محمود ته مخه کړه او له فارسیانو څخه د غوریانو د کلا په بېرته اخېستنه کې یې ورځخه د مرستې غوښتنه وکړه شاه محمود د هرات د مرستې لپاره وزیر فتح خان ولېږه.

وزیر فتح خان د یوه ۱۲ زره کسېز لښکر په ملتیا د هرات پر لور وخوځېد؛ په کندهار کې له لنډې تم کېدنې او شهزادګي کامران سره د اړیکو له نېولو وروسته یې خپل خوځښت ته د هرات پر لور دوام ورکړ؛ کله چې هرات ته ورسېد، د ښار په دوه مایلي واټن کې یې کېږدۍ ووهله. حاجي فیروزالدین چې له وزیرڅخه په ډېره وېره کې وو، په چټکۍ وزیر او د هغه ملګرو ته د تاوده ښه راغلاست وېلو لپاره راووت. د وزیر فتح خان لس ورځې ، له ښاره د باندې، د هرات له مشرانو او خانانو سره د " فارسانو- ژ" / ایرانیانو پر وړاندې د جګړې د څرنګوالي په اړوند په خبرو اترو ولګېدلې.

وزیر چې لا مخکې یې د همداسې یوه لښکري خوځښت موخه ټاکلې وه، یوه شپه یې د هرات ټول خانان او د حاجي فیروزالدین پـَـلـَویان خپلې کېږدۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته را وبلل. کله چې خانان محرمې او د وزیر ځانګړې کېږدې ته وروستل سول ، وزیر فتح خان، دوست محمد خان او نور ورونه یې له یو شمېر جنګیالیو سره د ښار پر لور وخوځېدل ؛ کله چې د حاجي فیروزالدین مانۍ ته ورسېدل نو د هغه ساتونکو ته یې وویل چې د حاجي فیروزالدین د لېدنې او د هغه د مېلمه پالنې د مننې لپاره دده مانۍ ته راغلي دي. کله چې وزیر او ملګرو ته یې مانۍ ته د ننوتلو اجازه ورکړل شوه، حاجي فیروزالدین اسیر او مانۍ د وزیر د کسانو ګوتو ته ورغله.

دوست محمد خان او څو تنه خدمتګاران یې چې "جایي سنګ" هم ورسره ملګری وو، د حاجي فیروزالدین په حرمسرای ننوتل او د حرمسرای ښځې یې لوټ کړلې [۱]. له دې کار وروسته، پرته له دې چې له خپلو عملیاتو څخه وزیر ته خبرورکړي، د وزیر له وېرې له خپلو څو تنو خدمتګارانو او له هغو شیانو سره یو ځای چې له حرمسرای څخه یې ترلاسه کړي ول د کشمیر پر لور وتښتېد. کله چې وزیر د خپل ورور له ناپوهۍ ډک کار څخه خبر شو نو ډېر سخت په قهر شو او خپل ورور سردار محمد عظیم ته یې لیک ولېږه چې دوست محمد خان ونېسي او زندان ته یې وغورځوي. سردارمحمد عظیم هم همدغسې وکړل او دوست محمد خان یې دکشمیر د ماران پزندان کې بندي کړ [۲] .

د حاجي فیروزالدین په نېولو او کابل ته د هغه په رالېږلو ، د وزیر فتح خان لومړنۍ هېله چې کابل سره د هرات نښلونګ وو تر سره سوه. ورپسې، وزیر له فارسانو ــ ژ / ایرانیانوسره د جګړې لپاره د جنګي وسایلو په راټولو تیاری ونېو او په بېړه یې په ترخې تدافعي ژبې فارسانو / ایرانیانو ته خبر

---

[۱] ـ پیرس، عروج بارکزائی، ۸۸ پ، وېل شوي چې دوست محمد خان هغه سره ګانه چې د حاجي فیروزالدین ښځو، لونو او ننګورې د شهزادګي کامران خور د ( ملک قاسم ښځې) رقیه بیګم اغوستې وه واخېستله او ان د رقیه بیګم له ملا څخه یې یو دانه نښانه کمربند چې ارزښت یېنځوس زره تومانه کېده خلاص کړ، جامې ورڅېرلې وې او سپکاوي یې کړی وو.

[۲] ـ میرمحمدصدیق فرهنګ،افغانستان درپنج قرن اخیر، د امریکا چاپ ۱۴۹ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړ چې شاه محمود هغه یوازینی پاچا دی چې په هرات کې به سکه په خپل نامه وهي او مالیه به راټولوي او په خطبو کې به یې نوم یادیږي نه د فارس/ ایران د پاچا او یا د بل چا نوم... !

د مشهد حاکم، شجاع السطنه حسن علي میرزا، دغه خبره د جګړې د رابلنې په توګه وګڼله او له مشهده د یوه ۱۴ زریز لښکر په مشرۍ د هرات د غوریانو پر لور راوخوځېد. له دې خوا وزیر فتح خان له خپل دیرش زره کسیز لښکر سره یو ځای د غوریانو پر خوا وخوځېد[۱] . کله چې شهزاد ګی حسن علي د هرات پولو ته ورسېد، خپل یو بګاری / قاصد یې وزیر فتح خان ته چې لا وختي غوریانو ته رسېدلی وو ولېږه او له وزیر فتح خانه یې وغوښتل هغه شرایط چې مخکې حاجي فیروزالدین منلي ول، دی دې هم ومني؛ مګر وزیر فتح خان په کلکه وغندل. وروسته، دواړه لښکرونه رامخته شول او د کهسان د کلي په څنډو کې یې د یو بل پر وړاندې مورچلونه ونیول.

وزیرفتح خان چې توری جامې یې اغوستې او پر یوه مست غښتلي آس ناست وو، د لښکر په زړه کې و دریږد ، له بل لوري شهزادګی حسن علي په سلطنتي جامو کې د خپل لښکر په منځ کې ځای پرځای شو. مخکې له دې چې جګړه پېل سي، وزیر د عمل نوښت په لاس کې واخېست او حسن علي میرزا ته یې خپل بګاری ولېږه او ورته یې وویل چې که د غوریانو له کلا څخه په شا شي، نو دی به ورسره جګړه ونه کړي. ټولو فارسي – ژ / ایراني مشرانو له ذوالفقار خان پرته ، دغه وړاندیز ومانه، د هغوی له منځه یو تن د میرزا عبدالوهاب په نامه وویل موږ ټول موافق یو. وزیر ته یې دا ځواب راووړ، وریسي وزیر فتح خان قاجاریانو ته بل پیغام ولېږه او هېله یې وکړه چې قاجاري سرتېري دې له مورچلونوڅخه هم په شا شي. بیا هم میرزا عبدالوهاب ځواب ورکړ چې باید همداسې وشي. خو ذوالفقار خان له دغو خبر

---

[۱] - کله چې وزیرفتح خان د جنګ په موخې د هرات له ښاره دباندې وت ، د ښار کیلي یې د حیدر آباد د حاکمانو وکیل میراسماعیل اوحاجی شیرمحمدخان د سندهـ د حاکمانو وکیل ته وسپارله.(نوای معارک، ۶۵ پ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تنگ راغی او په ترخه ژبه یې ووېل چې دا د فارسیانو ننگ او پرتم ته سپکاوی دی او (افغانانو ته د څو سپکو سپورو) او ښکنځلو په وېلو یې قاجاري توپچي ځواک ته د افغانانو پر وړاندې د اور د ډزو بولنه ورکړه. له څلورو قاجاري توپونو څخه د ډزو غړمبهار پیل سو او بگاری په چټکۍ افغانانو ته راستون سو. څرگنده ده چې افغان لوري هم قاجاري لوري ته په ډزو ځواب ورکړ او د سترگو په رپ کې جگړه پیل شوه. سردار شیردلخان، سردار کهندلخان، او سردار پردلخان له سردار یار محمد خان الکوزي سره یو ځای، هر یو د افغان لښکر په مشرۍ کې د تاللندې او برېښنا په څېر او په ځلاندو تورو د قاجاري لښکر پر کېڼې ډډې باندې چې ذوالفقار خان یې مشري کوله برید وکړ او د وینې بهوونکي اخ و ډب یوه ویرَونکې نندارہ یې رامنځته کړله. قاجاري توپچي ځواک مدافعه پیل او یوشمېر افغانان یې له پښو وغورځول. خو د قاجاري توپچي ځواک گولۍ خلاصې شوې او لاره ورڅخه ورکه سوه. د نوای معارک په وینا، شیردلخان د یوه قهرژلي زمري په شان د دښمن پر لېکو برید وکړ او د هغوی څو توپونه یې ونېول.[۱]

د قاجاري لښکر ښی اړخ د افغان ځواکونو د سپاره ځواک د برید له امله خور او وور شو او په تېښتې یې لاس پورې کړ. د شهزادگي حسن علي آس ټپي شوی وو او ژغورنه یې تر ډېرو بېرکي گواښ لاندې راغلې وه ؛ سره له دې چې نوموړي د خپلو سرتېرو د تېښتې په مخنېوي کې ډېره هڅه وکړه ،خو هېڅ گټه یې ونه کړه. په پای کې یو قاجاري سرتېرې د هغه د ژغورنې لپاره راغی ، خپل آس یې ورته ورکړ او شهزادگي هم په تېښتې ځان مشهد ته ورساوه.

افغان سپاره ځواک د مخ په تېښتې قاجاري لښکر شا ونېوله،د جگړې په دې غاړې کې یوه خواشېنوونکي پېښه رامنځته سوه، یوه ناځاپه گولۍ

[۱] ـ میرزا عطا محمد شکارپوری، نوای معارک ،چاپ ۱۳۳۱ ۲۰ پ ، پیرس، ۹۶ـ ۹۷ پاڼې د سلطاني تأریخ په ( ۱۹۹ پاڼې کې ) د جگړې د پیل نېټه د ۱۲۳۳ هـ ل کال د ذی الجی د مېاشتې ۲۸ ورځ ښیي چې د ۱۸۱۸ ز کال د اکتوبر له ۲۹ سره سمون خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ددوست یا د دښمن وه د وزیر فتح خان په خوله کې ومښتله ؛ وزیر د ګولۍ د نابېره درانده ټکان له کبله بې هوښه سو او د زین له سره پرځمکه پرېوت. د افغان جنګیالیو جرئت په دې ګومان کم سو چې ګڼې لاربښود بې ووژل سو او د دښمن له تعقیب او جګړې څخه لاس په سر سول، مخه یې د هرات پر لور راتاو او وتښتېدل.

په دی توګی د افغانانو د سوبې څرګنده او ځلانده فضا د ماتې او تېښتې په تتو وریځو کې توره او ډوبه سوه. وزیر فتح خان څو شېبې وروسته بېرته په هوښ راغی او د خپلې تورې په ښورولو یې خپل جنګیالي او سرتېري جګړې او مقاومت ته را وبلل خو هېڅ چا هغه ته پام ونه کړ ؛ هغه هم له ناچارۍ ښار ته راغی او د قاجاریانو د ماتې او د افغانانو د سوبې خبر یې هراتیانو ته راووړ.

سره له دې چې له قاجاري لښکر څخه د جګړې د ډګر پر مخ لس زره مړي پاتې ول نورو تښتېدلو جنګیالیو په مشهد کې د بریا په نامه جشنونه ونیول؛ په هرات کې هم بېرې او وحشت خپل ځای، خوښي، اتڼونو او خوشالیو ته پرېښود، اوښار یې د سوبې د لمانځنې په څراغونو روښانه کړ[1]. ددغې بریا زېری شاه محمود ته ورسول سو او هغه هم له کابله د هرات په تکل وخوځېد. وزیر فتح خان هم پوه شو چې نور نو قاجاریانو د فارس له دولت سره د هرات د نښلولو په اړوند خپل فکر بدل کړی دی، له دې کبله یې خپله پاملرنه د ښار د استحکاماتو ټېنګولو او د اداري او مالي چارو سمون ته واړوله.

افغان څېړونکي باري جهاني په خپل کتاب کې په دې اړوند داسي لیکي :" فریر چې د فارسانو ـ ژ / ایرانیانو پر وړاندې له جګړې څو کاله وروسته هرات ته تللی وو ددغې جګړې په تړاو یې له وزیر فتح خان او عیني شاهدانو سره مخامخ خبرې اترې کړي ، او د وزیر د شخصیت په اړه داسي واېي : هغه چې یو منور او عادل حکمران وو په لنډې مودې کې یې د هرات د پرګنو زړونه

[1] ـ پیرس، ۱۹۷ پ تأریخ سلطاني، ۱۹۹ پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ته راوړل. ما له هغو هراتیانو سره خبرې اترې کړي چې وزیر یې له نږدې پېژانده، هغوی ټولو خپل وزیر په زښت درنښت یاداوه. هماغومره چې نوموړی زړه ور او توریالی وو، هماغومره سپېڅلی، پاک لاسی او پاک لمنی هم وو. خپل ټول ژوند یې د هېواد د ګټو، پرتم او سرلوړی لپاره ځار کړی وو. پر فارسانو ــ ژ / ایرانیانو باندې د هغه وروستی بریا د وزیر نومیالیتوب تر آسمانونو لوړ کړ او د خراسان د سوبې لپاره یې ځان چمتو کاوه. خو په خواشینی یوې بوږنوونکې پېښې افغانستان د یوه پوه او وړ انسان له شتون څخه بې برخې کړ او هغه عالي نقشه چې ده د هیواد لپاره په پام کې درلودله، له منځه لاړه. که د فتح خان نقشه پلې شوې وای نو افغانستان به یو ځل بیا د احمد شاه بابا د دور پرتم او عظمت ته رسېدلی وای.[1] "

انګلیس څیړونکی پیرس وایي : د هرات له پرګنو سره د وزیر فتح خان ښه چلند او د هغه د ادارې او واکمنۍ د چلَولو ښه له دومره دروندوالي او وقار سره ملګرې وه چې ډېر ژر یې د هرات د قدر پېژاندو پرګنو په زړونو کې لاره موندله ؛ هراتیانو وزیر ته د هېواد د بې سارې سربښندویه بچې په سترګو کتل او د هغه اوامرو ته یې د زړه له تله غاړه ایښودله. وزیر د قاجاریانو پر وړاندې د بلې جګړې په فکر کې ولوېد غوښتل یې د فارس له دولته د خراسان په بېرته نیولو کې خپله توره او بخت وازمیي، ددغې موخې د ترسره کېدا لپاره یې لښکر را ټول او هوډ یې کړی وو چې ډېر ژر به د خراسان او مشهد پر لور مارش وکړي ؛ خو په خواشینی چې بخت له افغانانو سره یاري ونه کړه، شاه محمود په کندهار کې د حاجي فیروزالدین له خولې د هغې کرغېړنې پېښې په هکله خبر شو چې د دوست محمد خان له پلوه د هغه کورنی ته ور اوښتي وه او ورته څرګنده شوه چې د فتح خان ورور د نغدو او ښځینه وو سرو ګاڼو د تر لاسه کولو لپاره د شاه محمود لور د رقیه بیګم په ګډون یې د فیروزالدین د حرم کالي له ځانه ایستلي ول. ددغه خبر په اورېدلو شاه وترهېد او شهزادګي کامران ته یې امر ورکړ چې هرات ته لاړ سي او وزیر ته سزا

[1] ـ عبدالباری جهانی، هرات، پښتانه او ستره لوبه ، ۲۲۷ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي [۱].

## د اشرف الوزراء فتح خان د ړندېدلو ځرنګوالی :

کامران میرزا چې له پخوا بې د وزیرفتح خان پر وړاندې له کېنې ډک خوړین زړه درلود او هغه بې د خپل پرمختګ او ځانغوښتنې پر وړاندې یو خنډ ګاڼه ژر تر ژره د هرات پر لور وخوځېد؛ هرات ته له رسېدا سم بې له شاهي ارګه دباندې ، باغ شاه ( شاه لمار) کې استوګنځی غوره کړ، وزیر فتح خان به هره ورځ د درناوي د دود د پرځای کولو او لاربښوونو لپاره لېدلو ته ورته. سره له دې چې وزیر ته د خپلو پلویانو له خوا توصیه کېدله چې له شهزادګي کامران څخه دې ځان لیرې ساتي، خو وزیر د خپلو دوستانو خبرو ته غوږ نه نېوه او پرله پسې به د خپل درناوي د وړاندې کولو او د لاربښوونو د ترلاسه کولو لپاره هره ورځ د کامران لېدلو ته ورته؛ وزیر د خپلو لېدنو کتنو او خبرو له لارې غوښتل شهزادګي ته ډاډېنه ورکړي چې دده له صادقانه سربښندنو څخه موخه د سدوزیو د کورنۍ له لوړوالي او پیاوړتیا پرته بله موخه نه لري، مګر برعکس د کامران له پلوه بې لړ درناوی لېده.

په همدې لړ کې کامران د خراسان له والي شجاع السطنه (حسن علي میرزا) سره د لېکونو د راکړې ورکړې لاره پرانېستله او د منصور خان په نامه بې یو تن حسن علي میرزا ته ولېږه او پیغام بې ولېږه چې د « فارس ــ ژ» ایران د دولت پر وړاندې وروستنۍ جګړه د شاه محمود له رضائیته پرته د وزیر په نوبښت تر سره شوې ده. اوس پاچا چمتو دی چې هغه سکښنده / جبران او د « فارس ــژ» ایران له دولته بخښنه وغواړي. فتح علیشاه قاجار چې په دې وخت کې مشهد ته راغلی وو د کامران بګاری بې رخصت او په ځواب کې بې کامران ته پیغام ورکړ چې د دښمنۍ د پای ته رسولو لپاره دې وزیر فتح خان چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د جګړې پازوال دی یا دې

[۱] ـ تأریخ سلطاني، ۲۰۰ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبوساً د « فارس ــژ» ایران دربار ته راولېږل سي او یا دې هماغلته په افغانستان کې دواړه سترگې ور ړندې سي.[۱]

کامران همدغه غوښتنه پلمه کړله؛ په هرات کې له درې مېاشتېنی استوگنې وروسته، یوه ورځ چې وزیر فتح خان دده لېدو ته راته، په بې خبری کې ونېو او د (ایران د پاچا په غوښتنې او لارښوونې) بې د هغه دواړه سترگې ړندې کړلې.[۲]

د (عروج بارکزائي) د کتاب لېکوال پیرس لېکي : " وزیر فتح خان د پخوا په شان د خپل درناوي د وړاندې کولو لپاره د کامران لېدلو ته ورغلی وو، عطا محمد خان ( د کشمیر پخوانی حاکم چې د وزیر فتح خان په لاس خلع شوی وو) هم هلته وو. خبرې اترې پېل سوې او په ترڅ کې د « فارسیانو» / ایرانیانو پر وړاندې د جگړې خبره رامنځته سوه. د سردارانو په منځ کې یو تن په سپکه ژبه د جگړې له ډگر څخه د وزیرفتح خان د تېښتې خبره د فتح خان پر مخ ووېــشتله او پیغور بې ورکړ، بل سردار هم د لومړي سردار خبره تائید او نورو، کامران ته خپله غوړه مالي په خندا او مسخرو څرگنده کړه.

وزیر چې هره شېبه بې وقار او حیثیت ته سپکاوی کېده هر یوه ته په توندو او ترخو کتل او سپکې او سپورې بې زغملې. په دې لړ کې کامران راوړاندې سو او وزیر ته بې په پېــغور وویل : څنگه دې د یوه بېرېــدونکي لښکر پر وړاندې چې ستا تر لښکر کم زوری او کم جرئـته وو د افغان نـژاد نوم پر ځمکه وواهه؟ وزیر د شهزادگي ځواب په ډېرې ترخې ژبې ورکړ او ورته څرگنده بې کړه چې هېڅکله بې د افغانانو نوم پر ځمکه نه دې وېشـتلی او د افغانانو د تېښتې او هغوی ته د رسېدلي تاوان پازوالي یا مسوؤلیت هم نه لري. وزیر په ترخې او قهرژلې ژبې شهزاد گي ته په ځواب ویلو ووېل هېڅکله بې د افغانانو پت او حیثیت پر ځمکه نه دی غورځولی او د افغانانو د تلفاتو اوتېښتې پازوال هم نه دی. وزیر شهزادگي ته ور په یاد کړه چې د

---

[۱] ـ فیض محمد کاتب، سراج التواریخ، ۱ ټوک ، ۹۷ پاڼه

[۲] ـ فرهنگ، هماغه اثر، ۱۴۷ پ ،سراج التواریخ،۱ ټوک، ۹۷ پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیصر پر وړاندې د کورنیو جګړو په لړ کې یې ځینې وختونه د کامران په وړاندې کله نا کله جګړه کړي خو په ډېریو وختونو کې یې خپله توره دده او د هغه د پلار په ساتنه کې وهلې ده. دغو یادونو او پېغورونو کامران را وپاراوه او د وزیر د نیولو بولنه یې ورکړه. ټول، کامران ـ پلوي سرداران یو ناڅاپه په یوه وار راپورته او د برید په لړ کې یې وزیر ونیو. عطا محمد خان د کامران په نغوتې را وړاندې او خپل خنجر یې د وزیر په سترګو کې ننه ایست[1] ( یو کال وروسته د عطا محمد خان سترګې په کابل کې د دوست محمد خان په امر د وزیر فتح خان د سترګو په غچ کې له ګاتې را وایستل سوې) [2].

تأریخ د کامران د جنایت دغه نېټه ۱۲۳۳ ل/ ۱۸۱۸ ز کال ریکارډ کړې ده [3]. کامران میرزا د خپل ژوند په ورستیو کې د خپل وزیر یارمحمد خان په لاس ډېر دردناک وهل، ځورول او ټکول ولیدل، په داسې حال کې چې دده په ژوند ښځې او لونې یې د دولت د مشرانو تر منځ ووېشل شوې او ورباندې تیري وسول، دې په خپله له ډېرو شکنجو او وزیر یار محمد الکوزي ته د خپلې پانګې او شتمنۍ له ښودلو وروسته د هرات د ارګ په زندان کې له ستوني زندۍ او د شاه محمود د کورنۍ ټغر هم ورټول سو [4].

د وزیر فتح خان د ړندېدلو پر مهال، پردلخان او شیردلخان دواړه د هرات د شاهي مانۍ په چارباغ کې د شطرنج په لوبې بوخت ول چې پر وروړ باندې یې د راغلي ناورین خبر د هغوی د یو تن خدمتګار له پلوه راوړل سو. د دې خبر په اړوند د وروڼو باور لا نه وو بشپړ شوی چې د کامران کسانو د هغوی د نیولو لپاره د چارباغ او شاهي مانۍ چاپېره سیمې په چټکۍ کلابندې کړلې. د وروڼو په لاسونو کې یوازې یوه توره او سَتوه « پیش قبضه» وه او په کلک شدت یې په ګډه پرساتونکو چې ددوی د نیولو تکل یې

[1] ـ پیرس، هماغه اثر، ۹۹ـ ۱۱۰ پاڼې
[2] ـ پیرس، هماغه اثر ، ۱۰۱ـ ۱۱۰ پاڼې
[3] ـ پیرس، هماغه اثر ، ۱۰۱ـ ۱۱۰ پاڼې
[4] ـ پیرس، هماغه ، ۱۰۱ـ ۱۱۰ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلود بربېد وکړ او په دې ډول یې ځانته د مانۍ تر یوه کوره د تېښتې لاره پرانېستله. ورپسې یې ځانونه په بېړې په وسلو سمبال او پر ګړندیو آسونو کښېناستل او له ښاره د وتلو د دروازې پر لور یې ودانګل؛ خو هلته د کامران میرزا له یوې دوسوه کسېزې ډلې سره مخامخ شول چې ددوې د نېولو لپاره یې لېکه جوړه کړې وه. پرته له دې چې د هر سپاره زړه ته کومه خرخښنه او وېره ولوېږي یا د یو بل شا ته سي، په ګډه یې د کامران میرزا پرسرتېرو یرغل ور ووړ، ددوی په منځ کښې یوازې پردلخان چې لږشانته ناروغه وو د روان اخ وډب په دوړو کې یې آس د توپک په ګولۍ ټپي سو ، آس یې پرځمکه پریوت او دی په خپله یرغمل سو؛ مګر پاتي دوه تنو ورونو د خپلې تورې او مېړانې په ځرګندونې ځانونه وژغورل او خپل مورني ټاټوبي ، د ګرشک لویدیځ د ناد علي کلا ته وتښتېدل.

یرغمل سوی پردلخان د کامران مخې ته ودرول سو، لومړی بندي او بیا خوشې شو خو خوشې کېدل یې د کامران د ځانګړو شرطونو پر بنسټ ول، مګر پردلخان هم چې غیرت او همت یې د خپل ورور وزیر فتح خان خبرو راپاراوه وکولای شول له هراته وتښتي او له خپلو ورونو سره په هلمند کې یو ځای شي.

فریه لېکي : « شیردلخان او ورور یې له هراته په تېښتې وروسته، ځان د ګرشک په ۲۳ مایلي واټن کې د نادعلي پیاوړي ستراتیژیک کلا ته، چې د وزیر فتح خان د مور، لویې ادې استوګنځی دی، رسوي. دواړه ورونه له همدغه ځایه د سېمې ټولو قومونو ته چابک او ګړندي بکارۍ (پیکونه[1]) لېږي چې د شاه محمود او کامران میرزا پر وړاندې پاڅون وکړي. ګڼ شمېر بارکزي د هغوی غوښتنې ته مثبت ځواب واېي او د یوه وَړوکي لښکر هسته جوړوي، د شاهي ځواک له لېکو څخه ډېري سرتېري تښتي او د نوموړې لښکري هستې کړی لا پسې پراخوي.

[1] پیک : په اوستا کې پدیکا ویل شوې چې د پلي یا پیاده تلونکي په مانا ده. او مجازاً د بکاري یا قاصد په مانا هم کارَول کېږي. که د پښتني شاعر له سترګو ورته ووینو نو پتنګ یا کاغذ باد ته یې هم پیک ویلي دي. - ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې لړ کې شهزادګی کامران په چل او دوکې پښه وړاندې کوي، پردلخان له بنده خلاصوي او ورته وايي چې د وزير لوړ مقام به ورته ورکړي خو په دې شرط چې شيردلخان او کهندلخان يو ځل بيا خدمت ته چمتو شي. پردلخان د شهزادګی کامران له دې وعدې څخه مننه کوي خو پر شهزادګي شک لري چې ورباندې ډاډ وکړي؛ له دې سره سره پردلخان خپله بشپړه پاليالي شهزادګي ته څرګندوي او داسې ښيي چې ګڼې په خپلې ژبې او ژمنې ولاړ دی مګر دوه ورځې وروسته تښتي او په ناد علي کې له خپلو ورونو سره يو ځای کېږي. هلمند ته د پردلخان رسېدل د پاڅوانوالو د روحيې د لا پياوړي کېدلو لامل ګرځي او د پاينده خان په زامنو کې ورته د لوړ استعداد او د لوړې وړتيا د خاوند په سترګه ګوري؛ هرکله که د قومونو تر منځ کومه ناندرۍ يا شخړه رامنځته کېدله نو پردلخان به تل د يوه منځګړي په توګې پښه وړاندې کوله. په همدې لړ کې د حاجي فيروزالدين خان وزير مير افضل اسحاقزی نوی له پارسه هلمند ته راستون شوی وو او په هلمند کې د خپلو قومونو تر منځ بې « خان نشين» ته نېږدې ژوند کاوه، د ميرافضل اسحاقزي او د پردلخان د مشر ورور تر منځ پخوانی دښمني پرته وه، پردلخان پرته له دې چې له دغې دښمنی کومه انديښنه په زړه کې ولري، ميرافضل اسحاقزي ته ورځي او ورڅخه مرسته غواړي، ميرافضل خان هم دغه غوښتنه مني او له محمدزيو سره يو ځای کېږي. [1] »

کله چې کامران د پردلخان په تېښتې خبرېږي، تر پښو لاندې بې سور اور بلېږي او د خپل غضب د اور د سړولو لپاره امر کوي چې د وزير فتح خان په سترګو کې دې چې ټپونه بې لړ مخ په ښه کېدو راغلي ول يو ځل بيا خنجر ووهي او هغه غوښې چې دده د سترګو په ګاټو کې پاتې دي را ودې باسي. ددغه جنايت دنده د قاسم په نامه يوه تن ته وسپارل شوه ؛ هغه هم خپل خنجر د وزير په ټپي سترګو کې بيا دننه ور ووړ او د سترګو له ګاټو څخه بې پاتې غوښتې را واپــستلې.

---

[1] ـ فريه، تأريخ افغانـها، ژباړه : سهيل سبزواري، دولسم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیرس لیکي :

" ننګیالي او پیښیالي (صبور) وزیر خپل برخلیک ته په چوپه خوله ، پرته له دې چې کومه آه له خولې وباسي او یا یې یو وییکی یا کلمه له خولې ووځي، هر کلی وواپه." [1]

له دغه جنایت وروسته، کامران وزیر فتح خان او د هغه وراره امین الملک له ځانه سره کندهار ته راووستل. د تأریخ سلطاني د لیکوال په وینا، په کندهار کې نامتو خانِ علوم قاضي القضات (ملا محمد سعید خان بارکزي) د هغه پالنه کوله.

له بلې خوا کله چې شاه محمود پوه شو چې په کابل کې د وزیر ورونه د هغه د حکومت د راپرځولو لپاره ټینګه پرېکړه کړې نو د یو لوی لښکر په ملتیا له کندهاره د کابل پر لور وخوځېد. همدا چې شاه محمود له خپل لښکر سره د کندهار له ښاره ووت بارکزیو ورونو له خپلو ځواکونو سره یوځای د کندهار پر ښار برېد وکړ. د کندهار والي ګل محمد خان پوپلزي ، بارکزیو ورونو ته وړاندیز وکړ چې لږ تر لږه دې د کابل د برخلیک تر ټرګندېدلو پورې ورته وخت ورکړي، که پاچا کوم بریالیتوب تر لاسه نه کړ نو ښار به له جنګ و جګړو پرته دوی ته ور وسپاري. د وزیر ورونو دغه وړاندیز ظاهرأ ومانه او تر یوې لنډې مودې پورې سترګې په لاره پاتې سول خو پر کلا باندې یې د برېد هڅه وکړه.

وروسته له دې چې د وزیر ورونو د ښار پر دېوالونو او لوړو مورچلونو باندې د پورته کېدلو لپاره پرېمانه پوړۍ یا زینی کښېښودلې، نو ناڅاپه یې یوه شپه پر کلا کلک برېد وکړ او د سترګو په رپ کې یې د ښار دېوالونه ونیول. لومړنی تن چې د کلا پرسر وخوت میرداد خان نومېده، چې د بارکزیانو په شاه برج پورته وخوت او ورپسې نور ورشېوه سول. کله چې والي ګل محمد خان له رامنځته شوې پېښې خبر شو پرته له دې چې مقاومت وکړي ، وتښتېد او ځان یې په غزني کې شاه محمود ته ورساوه او هغه یې د

[1] پیرس، هماغه، ۹۹- ۱۰۰ پاڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کندهار له پېښې خبر کړ. شیردلخان د کندهار د چارو واګې پر غاړه واخېستلې او میرداد خان ته چې له ځانه ېې مېړانه او سربښندنه څرګنده کړې وه، د ایشیک اقاسي[۱] لقب ورکړ[۲] . دغه سړی وروسته له امیر دوست محمد خان سره بخارا ته لاړ خو هېواد ته د راستنېدا پرمهال د بخارا د پاچا له سرتېرو سره په یوې نښتې کې ووژل شو[۳]. نوموړی د کابل د شاغاسیانو غور نېکه دی.

## د اشرف الوزراء فتح خان د وژل کېدلو څرنګوالی:

کله چې شاه محمود د وزیر د وروڼو له پاڅون او په کابل او کندهار کې د هغوی له برياوو څخه خبر شو د کابل او غزني د لارې په اوږدو کې ېې هڅه وکړه چې وزیر فتح خان روغې جوړې ته اړ باسي. له دې کبله شاه او شهزادګي دواړو وزیر تر دباو لاندې ونېو چې په کابل او کندهار کې دې خپلو وروڼو ته لاربښوونه وکړي چې له جګړې او پاڅون څخه لاس واخلي، مګر وزیر چې زړور او مغرور سړی وو د شاه او د هغه د زوی د ژمنو او د ربړجن زېېښ پر وړاندې مقاومت وکړ او ځواب ېې ورکړ چې دی نور ددنیا او سیاست له چارو سره کومه لېوالتیا نه لري او نه له خپل مرګ او عقوبت څخه کومه وېره.

کله چې شاه او لښکر ېې د ودرګو سعید اباد ته ورسېدل یو ځل بیا ېې وزیرفتح خان تر زېېښ او کړاو لاندې ونېو چې خپلو وروڼو ته لېک ولېکي او له جنګ او مخالفت څخه ېې منع کړي. شاه ژمنه کوله چې ده او وروڼو ته به ېې هماغه پخواني دربځونه او منصبونه ورکړي او خپلو پخوانېو حکومتونو ته به ېې ولېږي. وزیر د پاچا په ځواب کې وویل :" ته هغوی ته

---

[۱] ـ ایشیک اقاسي چې ایشک اقاسي هم لېکل کېږي یو ګډوله تورکي وییکی دی چې ایشیک د دروازې او اقاسي د سردار په مانا کېږي. او له ایشیک اقاسي څخه موخه د باندنۍ دروازې رئیس یا د دربار حاجب ده. ژ

[۲] ـ فیض محمد،سراج التواریخ،۱ ټوک، ۱۰۲ پاڼه

[۳] حمید کشمیری،اکبرنامه،۱۳۳۰، له ۱۶۵ پاڼې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څه ورکوې چې ستا په لاس کې نه دي ، او نه ستا مال دی، خو په دوه وو سترګو ټپ ړوند سړی يې کولای ټول مال خپل کړي. مخکې له دې چې د وزير فتح خان سترګې دې له رڼا بې برخې کړې وای تا يې بايد عاقبت سنجولی وای، او هغه څه چې ته اوس کوئ ، د هغه توپان لپاره چې تا په خپله راپارولی دی څه ګټه کوي؟ خو ما له هرڅه او له هرې پايلي چې را منځته کيږي نور لاس مينځلی او هغه څه به په ورين تندي ومنم چې په تقدير کې مې ليکل شوي وي." [1]

ورپسې شاه امر ورکړ چې د لښکر ټول سرلښکر او مشران دې د وزير فتح خان په وژنه کې برخه واخلي او هر يو دې په خپل وار د وزير فتح خان د بدن يو يو غړی له هر بند څخه پرېک کړي. شاه په خپل دغه کار غوښتل چې سرداران له بارکزيو ورونو سره له هر ډول نيږدې والي څخه لېرې وساتي او د هغوی ترمنځ د دښمني ابدي تخم وکري. کېدای شي يو شمېر سردارانو په خپلو زړونو کې له وزير څخه څه ناڅه خوابدي درلودله او يو شمېر يې ښايي د وزير په وړاندې هيڅ ډول کينه ، خوابدي يا زړه بد والی نه درلود ؛ کېدای سي يوازې د حُب ذات د سائقې له کبله يې په دغسې يې ساري تأريخي جنايت کې برخه اخيستې وي. [2]

د تأريخ سلطاني ليکوال ليکي : " کله چې شاه محمود د دوست محمد خان له پلوه د کابل په نيولو خبر سو نو ډېر نهيلی سو او له ځان سره يې فکر وکړ داسې نه سي چې له دوست محمد خان سره د مخامخ کېدلو پر مهال ځينې قومي مشران او د لښکر يو شمېر سران وزير فتح خان وژغوري او دوست محمد خان ته يې وسپاري او له دښمن سره يو ځای سي. له همدې کبله او ددې لپاره چې د بارکزيو ورونو او د لښکر د مشرانو تر منځ يې ابدي کينه رامنځته او ددښمني تخم يې شيندلی وي، د لښکر ټول مشران، که چا غوښتل يا يې نه غوښتل، راټول او هغوی يې د وزيرفتح خان وژني ته اړ ايستل. يې

---

[1] - پيرس، عروج بارکزائی، ۱۰۹ پ

[2] - سراج التواريخ، ۱ ټوک ، ۱۰۰ پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساری وزیر بې، د ګنیو ( نیشکرو) د لښتې په شان بند پر بند پرېک کړ خو زړَوُر زمري له خپل ډېره غیرته ان یوه آه له خولې را ونه اېستله او د شهادت او د طیبې د سپڅلي کلمې په وېلو بې خپله خوله جاري وساتله او د شهادت درجه ور په برخې سوه.[1]

پیرس وایي : " فتح خان په میرانې ، زړورتیا او زغم دغو شکنجو او ځورونو ته ځان وسپاره او د مرګ تر دمه بې یوه وړوکې آه له خولې ونه وتله او نه بې له چا بخښنه وغوښتله او نه بې په خپلې سزا کې د کمښت غوښتنه وکړه او له سره تر پایه بې خپل وقار او پرتم تر پښو لاندې نه کړ او د خدای له نامه پرته بې بل څه ونه ویل او د ویاړلي مرګ غېږې ته بې ځان وسپاره.[2] "

« فریه » وایي : « د فتح خان سترګې د هغه له وژنې اته مـیاشتې مخکې له ګاټو اېستل شوې وې» کله چې شاه محمود د ړانده فتح خان د وژلو امر ورکوي نو کامران میرزا تر ټولو لومړی پرې وردانګي، او د وزیر پر ځان خپل خنجر ننه باسي، له هغه وروسته، نور هم خپل خنجرونه راباسي او زښته ډېر شکنجه ورکوي. هغوی فتح خان ژوند له پوسته کړ، د بدن غړي بې یو په یو له تنه ور پرېک کړل، په پای کې د هغه سر له تنه بېلوي او په دې توګې د هغه پر رنځ او کړاو د پای ټکی ږدي. د هغه جسد چې د بدن له پرېک شویو غړو پرته بل څه نه وو عمومي جلادانو ته سپارل کـېږي چې نور بې هم ټوټې ټوټې کړي، بیا بې په یوه جوال کې اچوي او غزني ته بې لـېږدوي او خاورو ته بې سپاري. فتح خان د دغو ټولو وحشتناکو شکنجو په لړ کښې له خپلې خولې د یوې آه په اندازې کومه چیغه نه باسي او نه کوم شکایت کوي؛ فتح خان دغه ټولې شکنجې د یوه اتل په زړه ورتیا او د سپـېڅلي وجدان په آرامی زغمي.

ددغه ستر مـېړني د وژونکو پر وړاندې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د عمومي خښم کرېکې پورته کـېږي ، هغه کسان چې سدوزیو ته پالیاله پاتي

[1] سلطان محمدخالص بارکزائی، تأریخ سلطاني، چاپ۱۲۸۹ هجری =۱۸۸۱ ز، بمبئی، ۲۰۳ پ

[2] پیرس، هماغه اثر، ۱۰۹ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي ول، هغوی هم ورته شا کوي؛ ان د شاه د شخصي دوستانو « زړه سواندي هم راپارېږي» او دداسې پالیاله سرې په دې ډول وژنې ځانونه له شاه لېرې او یوازې یې پرېږدي؛ یوازې څو تنه سرداران پاتې ول چې رخه او سخه یې د فتح خان د ژوند په داسې دردناکه پای باندې بیا هم پای ته نه وه رسېدلې «.[۱]

د " حیات امیردوست محمد خان" د کتاب لیکوال موهن لال لیکي چې : " زموږ په پېر کې هېڅ بله داسې تراژیکه پېښه نه سته چې په خپلې شدلتیا او وحشت کې دې د وزیرفتح خان له وژنې سره پرتله سي. ړوند ، بې وسه او کړېدلی وزیر یې په تړلو لاسونو، ځنځیرونو کې پېچلی او په غرب او غُراب تړلی د شاه محمود دربار ته راووست- دی هماغه وزیر وو چې همدغه پاچا یې د سلطنت پرگدۍ کښېنولی وو- پاچا وزیر ته امر وکړ چې خپلو سرغاړو او باغي ورونو ته ولیکي چې پاچا ته غاړه کښېږدي. وزیر په جرئت د پاچا غوښتنه وغندله او ویې ویل: زه اوس ړوند او یرغمل یم او پر خپلو ورونو هم کومه وسه او کنترول نه لرم. شاه محمود قهرژلی سو او امر یې وکړ چې ودې وژل شي. له دې سره سم د [ پاچا او شهزادگي په مخکښې ویل شوې نغوتې] سلطنتي درباریانو، وزیر فتح خان په ډېرې شدلتیا په داسې بڼې قصابي کړ چې لومړی یې د لاس گوتې، بیا یې لاسونه او پښې بند په بند ور بېل کړل ، بیا یې غوږونه، پوزه او شونډې ور پرېک کړې. د وزیر مېړانه او زورتیا دومره لوړه وه چې نه یې د زجر او درد له کبله کوم ځگېروی وکېښ او نه یې له قصابانو څخه د زړه سوي غوښتنه وکړه، او په همدې ډول یې تر هغو وکړاوه چې له توټې توټې بدن څخه یې سر هم جلا کړ. "[۲]

په دې توگې یې بې وسې او کړېدلی وزیر بند پر بند توټې توټې کړ؛ له دې چې په دې هم وزیر په دغه کار مړ نه سو، نو د ټول بدن پاتې برخې یې د

---

[۱]- فریه، تأریخ افغانها، ژباړه : سهیل سبزواري، دولسم څپرکی

[۲] - موهن لال،حیات امیردوست محمدخان، ۱ ټوک، ۱۲۶ پانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوه پسه په شان له یو بل څخه بېلې او ټوټې ېې په یوې لوېې کڅوړې کښې واچولې. د وزیر ټوټي ټوټې شوی مړی د (علومي د کورنۍ د نېکه) قاضي محمد سعید له پلوه [1] غزني ته یووړل سو او د شیخ رضی الدین علي لالا د زیارت ترڅنګ خاورو ته وسپارل سو.[2]**

## د وزیرفتح خان د شخصیت پرتم:

---

[1] - د وزیر فتح خان د پلار جسد هم همدغه قاضي محمد سعید خان بارکزي د زمانشاه په اجازې د کندهار ذاکر ته یووړ او خاورو ته ېې وسپاره. فرهنګ، ۱۳۳ پ)

[2] - د وزیر فتح خان د مزار د ډبر لېکي پر مخ یو شمیر شعري بیتونه کېندل شوي چې د هغه د ژوند د تأریخ د لوړو ژورو څرګندونه کوي او والامقامه شهید اکبر ېې بللی دی. دغه ابیات دا دي :

آه از جـور فـلـک که نـواب فـتـح خـان      ساخت سـاقی اجـل آخـرزمرگش تلخ کام
بـود بـارکـزائی و درانی وسـردار قـوم      چـون پـدر بُـد پادشاه و بود از نسل کرام
ساخت چون بعدازپدرمحمودشه راشهزمان      از هـرات آواره و صبح امیدش شد تمام
آن وزیرنامـورانـدرعراق و فـارس بـود      در بـدر صحرا بصحرا در رکاب او مـدام
آخـر ازتـائید حـق آن مصدر فتح و ظفـر      آمـد و آورد شـه را در مقـام انـتـقـام
قـنـدهار و کابل و سـنـد وخراسان راهمه      بستد از اعـدا به تیغ و داد ازعدل انتظام
شاهمحمودش وزیراعظم وشهدوست خواند      کرد ایاز خاص موسومش ز روی احترام
بهـر ده سال دگـر از بهـر تسخیر عراق      در حـدود مشهـد آمـد با کمـال احتشام
بخششی در آن ولایت کـرد آن کـان عـطا      کـز زبان ها نام حاتـم محو شد مالاکلام
کـرد با قـاجاریان حـربی که اهـل آن دیـار      نـام رسـتم را نـمی گیـرند مادام الـقیام
با غنایم بـعد فتـح آمـد چـو در ملک هرات      دشمنان بـد درون تـیـره روز خـیـره فام
ساختند از تـهـمت طغیان به بغیـش متهم      الغـرض شهـزاده از گفـتار از اهل اهتمام
هردو چشم اوکشیدازخدمتش پوشیده چشم      بخـت سودای دوام سلطنـت زان فکر خام
همـره آوردش به نـابینایی انـدر چشم شاه      در سعید آباد از مشهد شهـادت یافت کام
داشت نواب صمد خان و از احوالـش خبـر      آنکه باشد با محمـددوست در کابـل مدام
یارب آن جاچشم او بگشای با دیدارخویش      جا دهـش از مـرحمت درسایۀ خیـر الانام
سال فـوتـش هاتـف غیـبـی بمـد آه گـفـت      شد بسان آب شهید اکبرآن والامقام(۱۲۳۴
آن اسـیـرنادر و این نـادره تـاریـخ او      کس ندید وکس نگویددرجهان خاص وعام

(دونابغه سیاسی- نظامی افغانستان، ۱۱۵ پ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر فتح خان په ۱۹ کلنۍ کې د خپل پلار سردار پاینده محمد خان له وژل کېدلو وروسته د سیاست ډګر ته راودانګل او په ۳۸ کلنۍ کې ووژل سو. په دې شمېرنې، وزیر فتح خان د خپلو سربښندوېو هلو ځلو په لړ کې ۱۹ کاله د هېواد د ټېنګښت او پرتم لپاره زښت اړین کارونه تر سره کړل. په ټول هېواد کې یې ټیکاو یو ځل بیا ژوندی کړ؛ د بلوڅستان، سندهـ، کشمیر او هرات په څېر د لېرې پرتو ولایتونو والیان یې اړ کړل چې مرکز ته غاړه کښېږدي او له مالیاتي ګټو څخه دې د مرکز ونډه مرکز ته ولېږي.

وزیر فتح خان د ملي واکمنۍ د ټېنګښت او د هېوادنۍ ځمکنۍ بشپړتیا په لارې کې سربښندویه هلې ځلې کړي دي؛ هر کله چې د هېواد پر سپېڅلي حریم باندې د پردیو د لاسوهنو، د هېواد د دفاع او د ولس د ننګ او شرف خبره را پورته شوې نو خپله توره یې د هېواد د دښمنانو، یاغیانو او باغیانو پر وړاندې په مېړانې له تېکه را اېستلې چې له کشمیر، سندهـ او بلوڅښتانه نېولې د هرات تر وروستېو پولو پورې سېمې، د هېوادنۍ ځمکنۍ بشپړتیا او د ملي ګټو د خوندېتابه په لارې کې، دده د ځلاندې تورې ډګر او د هغه د مېړانې زانګو وه.

د وزیر فتح خان په شخصیت کې د مېړانې او لوی لاسۍ/ سخاوت دوې ځانګړتیاوې را ټولې وې، پرګنې یې تر دې کچې ځانته راوکاږلې وې چې ان د پاچا او د هغه د کورنۍ نوم، پرتم او دربځ یې پېکه کړی وو. د " فریه" په وینا د فتح خان نوم په منځنۍ آسیا کې د پرګنو په ژبو خپور وو، افغانانو فتح خان ته ځانګړې لېوالتیا درلودله، خوپه بل اړخ کې یې پاچا ته په سپکو کتل.[1]

وزیر فتح خان هېڅکله د سلطنت ادعا ونه کړه خو دومره واک او ځواک یې درلود چې یا به یې پاچاهان د سلطنت پرګدۍ کښېنول یا به یې را کوزول. شک نسته چې د هغه د بریاوو یوه برخه ، د بارکزیو د سردار په توګې د هغه په ټولنېز دربځ پورې اړه لري چې د خپل شمېر او اهمیت له مخې د درانیو یو ډېر مهم ټبر دی؛ مګر د وزیر فتح خان شخصي ځانګړتیاو او

[1] - پیرس، ۶۶ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصايلو هم د هغه په بريا او ولسمنلي دربځ باندې بنستېزه اغېزه شېندلې وه.

وزيرفتح خان چې د سلطنت گدۍ ته د شاه محمود په رسونه کې لومړنۍ او بنستېزه ونډه لوبولې وه د وزارت مقام يې د ځان او خپلې کورنۍ څرگند او پرېکند حق گاڼه. ددې ترڅنگ، له دې چې ډېر فعال، ځيرک او ټولمنلی مشر وو نو د شاه له چړچه مارۍ او لټ توب څخه په گټې اخېستنې يې سلطنتي ځواک وزارت ته را ولېږداوه . وزير هڅه کوله هغه پرتمين ځواک بېرته راژوندی کړي چې هېواد د احمدشاه په پېر کې درلود .

نوميالی پوه ارواښاد علامه حبيبي د وزيرفتح خان د شخصيت په اړه لېکي :" فتح خان يو غښتلی ، هوښيار او اغېزمن شخصيت وو چې د دُرانيو د قبائيلو په منځ کې له فراه تر کندهاره پورې يوازېنی غښتلی تورکښ او د پرگنېز ځواک خاوند بلل کېده. فتح خان، گڼ شمېر ورونه درلودل، فعال وو ، له شاهي کورنۍ وروسته، د افغاني ځواک يوازېنۍ سرچېنه وه. [1] "

انگليسی الفنستن چې له وزير فتح خان سره هممهاله تېر سوی، د هغه په اړه داسې لېکي : د عالي روح څښتن وزير فتح خان، د لوړې مېړانې او افغاني غرور خاوند دی او تر دې دمه د دُرانيو په ټولو وزيرانو کې تر ټولو نوميالی او مخور مشر دی. له دې چې په يوه کار کې ناکامي وزير نه نهيلی کوي او اطاعت ته يې نه اړ باسي، نو تل د پېاوړو معنوياتو په لرلو په اعلی حد خوځښت او فعاليت سمبال دی. ټول د هغه په کفايت، اهليت او جرئت اعتراف کوي، پلويان يې په ځوانۍ ، مېړانې او سخاوت کې د حاتم طائي په نامه يادوي ؛ له دې چې د خپلې ډلې پر اوړو باندې هېڅ ډول خنډ او بندېز په زوره نه باروَي نو هغوی يې زښت ډېر ځانته نېږدې کړي دي. هېڅکله د خپلې ډلې په گټو کې بې پروايي نه کوي او که داسې پېښ هم شي نو په چټکۍ يې په سکينده / جبرانولو کې هڅه کوي. وېل کېږي چې ډنگر، د لوړې ونې خاوند او زښته ښکلې څېره لري، نرم او له تواضع ډک چلند لري، دغه

[1] - حبيبی، تاريخ مختصرافغانستان، ۱۳۴۹کابل، ۲ ټوک ، ۱۰۴ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړتیا د هغه له کره طبیعت اوختې څخه چې له وېرې، شرم او حیا سره پردیتوب کوي تضاد لري.[۱]

د تأریخ سلطاني د کتاب لیکوال چې له امیردوست محمد خان سره هممهاله تېر سوی، د وزیرفتح خان د سربښندنو او سخاوت په اړوند داسې لیکلي : " نیک چاری وزیر فتح خان په خپلې زړوتیا کې دومره بې ساری وو چې د مقاتلې په مقابله کې بې زال رستم ورته د زال په شان ښکارېده، هر کله چې د بخشش او سخاوت لاس بې پرانیسته، هماغسې چې په زباد رسېدلې څېرنې ښیي، هرات ته د هغه سفر چې تګ او راتګ بې د هلال نهه مېاشتې ونیولې، د سرتېرو پر تاکلې مېاشتېنی تنخوا سربېره د هغه د سخاوت د لګښتونو شمېر، چې محاسبانو د وزیرفتح خان له بندي کېدلو وروسته د شهزادګي کامران په فرمان ولیکل، ۹۹ لکه روپۍ او دوه مثقاله سول.[۲] "

فریه، د وزیرفتح خان په اړه لیکي :" د لوړې وړتیا ښتن وزیرفتح خان د فوق العاده نبوغ ترڅنګ د حکومت کولو او جنګېدلو وَړ توب هم درلود... په فعالیت کې بې ساری نه درلود... افغانانو، فتح خان ته په خورا درندو سترګو کتل، حال دا چې خپل شاه ته بې په سپکو کتل."[۳]

افغان شاعر او څېړونکی ښاغلی باري جهاني د وزیرفتح خان د شخصیت په اړه لیکي : " فتح خان په افغانستان کې هوښیار ترینه مشر تېر سوی دی. هغه یو زړور جنرال وو او له هغې ورځې چې د عمل پر ډګر او د تأریخ پرپاڼې بې ګام ایښی بوه ورځ په کرار نه دی ناست. هغه د خپل پلار ( پاینده خان) ټول اوصاف په ځان کې په ارث راغونډ کړي ول او د پلار په شان د هوښیارۍ ، زړورتیا او خپل وَړتوب په ګناه ووژل سو. فتح خان د یوه افغان هېواد پال په توګې ، ښه پوهېده چې د هغه د هېواد کره دښمن د فارس /

---

[۱] ـ الفنسن، بیان سلطنت کابل ۲ ټوک ،۲۹۹ پاڼه

[۲] ـ تأریخ سلطانی، ۲۰۳ پ، خو سراج التواریخ د ۱ ټوک ، په ۹۲ پاڼې کې دغه شمېره ۹۶ لکه روپۍ ریکارډ کړې ده

[۳] ـ پیرس، عروج بارکزائی، ۶۶ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران دولت دی. او فارس ـ ژ / ایران هم د شاه محمود په بی کفایته دربار کې خپل دښمن ښه پـېـژندلی وو؛ له همدې کبله ول چې په لومړنۍ ممکنې شېبې کې بې له شهزادګي کامرانه وغوښتل چې سترګې یې د روڼا له نعمته بې برخې کړي او یا دې په بندي ډول مشهد ته ور واستوي. کامران دغسې يوه پلمه له خدایه غوښتله او د فتح خان په ړندولو یې په حقیقت کې افغانستان له هغو دوه وو ځـلانــدو سترګو بې برخې کړ چې د ډېرو لړو افغانانو په سترګو کې ځلېدلې.

باري جهاني د فرير له قوله لیکي : " شاه محمود پوهېده چې دوه ځله د وزير فتح خان د تورې په شرنګ د سلطنت پر ګدۍ ناست دی، له دې کبله له پاچا کېدلو سره سم یې د دولت د پوځي او اداري چارو واګې د هغه په لاس کې ورکړې او په خپله د چړچو او بنداړونو پر تـغر په چړچو، خوندونو او شخوندونو کښېناست او ځان یې له نورو چارو بې غمه کړ. څومره چې وسه یې کېدله هماغومره یې په چړچو کې ان د یوې شېبې لپاره هم بسنه ونه کړه. سره له دې چې د جنګ او سیاست چارې دواړه د فتح خان په لاس کې وې، خو وزير هېڅکله د ځان په ګټې ورڅخه ناوړه ګټه پورته نه کړه. فتح خان په لنډ وخت کې هېـواد د احمدشاه بابا د مهال پرتم او ځواکمنتیا ته چې د تیمورشاه له وخته مخ په ځوړ روان وو، ورساوه. د فتح خان نومیالی نوم په ډېر لږ وخت کې په ټولې منځنۍ آسیا کې خپور سو او هر افغان د هغه نوم په ډېـر درنښت یاداوه او پاچا ته یې په سپکو سترګو کتل. خو په هغو وختو کې سدوزیو ته دومره په درنښت کتل کېدل چې هېڅ چا د شاه د پرځېدلو او د هغه د لایق سپهسالار د ځای ناستي کېدلو فکر هم کاوه. ځېنې کسان وايي چې فتح خان يو څوکۍ پال او ځانمنونکی سړی وو، خو کله چې فتح خان شاه ته اطاعت کاوه نو په خپل اطاعت کې صادق وو او په ټـېـنګې ګروهنې یې اطاعت کاوه او په هر هغه مقام قانع وو چې شاه ورته ورکاوه. که وزير فتح خان پاچا سوی هم وای نو له نامه پرته یې بل څه نه تر لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول، ددې پر ځای به یې ځانته نورې سختې رابوټولې وای، هر
ځومره چې واک یې ډېرېده هماغومره یې دښمنان هم ډېرېدل." [۱]

جهاني د خپلې دغې وراشې «بحث» په دوام زیاتوي " .... که شاه محمود د افغانستان د پاچا کېدلو حق درلود ، نو فتح خان چې له پاچا سره په پرتلې کې په عقل، تدبیر او تورې کې سل ځله لایقه وو ولې دا حق نه درلود؟ په افغانستان کې د ډیموکراسۍ رژیم واکمن نه وو چې فتح خان تر ټاکنو پورې سترګې په لارې ناست وای. په افغانستان کې واک د تورې په شرنګ اخېستل کېده، او د فتح خان توره تر هر چا تېره وه او په عقل او تدبیر کې هم تر هر چا زښت ډېر هوښیار وو. د هغه د ورونو په منځ کې لږ تر لږه شپږ تنه یې هغه کسان ول چې خپل لیاقت او خپله وړتیا یې د جګړې او ژبې په ډګر کې په زباد رسولې وه . فتح خان خپل لیاقت په هر ځای کې د امن او ټیکاو په ټېنګښت، د مالي چارو په سمبالښت، او د مخالفانو د اله ګولو په ټکولو کې په زباد رسولی وو او په پای کې د همدغه لیاقت او صداقت په جرم ووژل شو." [۲]

وزیرفتح خان د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا او د ملي واکمنۍ د ټېنګښت لپاره خپل ځان ، ورونه او پلویان له کشمیره تر سندهـ او له بلوڅستانه د هرات تر وروستېو پولو پورې ډال ګرځولي ول چې هېواد له تباهۍ او د تجزیې له ګواښه وژغوري او د سدوزي دولت مخالفان او باغیان یې سره پورته کولو ته نه پرېښودل ؛ ان د افغانانو پخواني دښمن رنجیت سینهګ تر هغو چې فتح خان ژوندی وو دا جرئت نه درلود چې دُراني قلمر ته دې د طمعې او بدو په سترګو وګوري. په خواشېنۍ چې د هېواد دغسې یو ملي او تأریخي شخصیت د یوه ناپوهه شهزادګي د رخې او سخې او کېنې له کبله په ډېرې بېرې ړوند او بیا د هغه د پلار په لاس ووژل شو او په دې توګې پر هېواد باندې د سدوزیو د اتیا کلن سلطنت غوړېدلی ټغر هم نور ټول سو.

[۱] ـ باري جهاني، هماغه اثر، ۲۳۱ـ ۲۳۲ پ
[۲] ـ باري جهاني، هماغه اثر، ۲۳۱ـ ۲۳۲ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وزیر فتح خان اولاده :

وزیر فتح خان درې مېرمنې درلودلې، دوې یې د پېښور پښتنې او درېمه یې د کابل فارسي ژبه ( قزلباشه) وه. له درېواړو مېرمنو یې پېنځه زامن او پوه لور درلودله. د وزیر فتح خان لور د نواب محمد زمان خان ماندینه وه او د زامنو نومونه یې په لاندې ډول ول :

۱ ــ محمد قلیخان ( درې زامن درلودل او نومونه یې دا دي : سردار محمد یوسف خان، سردار محمد سرور خان او سردار محمد حسن خان)

۲ ــ سربلند خان

۳ ــ شاه سرور خان ( په ځوانه ځوانۍ کې مړ سو)

۴ ــ انشاء باز خان

۵ ــ احمدقلیخان، د تور محمد حسن خان په نامه یې یو زوی درلود، تور محمد حسن خان شعري استعداد هم درلود او د یو وخت لپاره د جلال آباد حاکم هم وو. ( محمد حسن خان د محمد رضا خان وزیري او محمد صدیق خان وزیري په نومونو دوه زامن) درلودل. محمد صدیق خان وزیري په ۱۹۵۹ ز کال کې د سردار محمد داؤود خان د صدرات په پېر کې د کندهار والي وو، نوموړي درې زامن او څلور لوڼې درلودلې، چې نومونه یې په لاندې ډول دي :

۱ ــ محمد امین خان وزیري

۲ ــ ډاکټر عتیق وزیري

۳ ــ رفیق خان وزیري

او د لوڼو نومونه یې دا دي : مهریه، نوریه، برېښــکۍ او فوزیه چې ټــولې د بچیانو مېندې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم فصل

## (د نوزادی، ژباړه)

# دفتح خان د غچ اخیستني په موخه د بارکزي وړونو پاڅون او د سدوزیانو د دولت پای

## دبارکزی وړونوپاڅون:

د حاجي جمال خان او سردار پاینده محمد خان په کورنی کي وزیر فتح خان او دده شل تنه وړونه د هیواد د هغو ملي او تاریخي شخصیتونو په ډله کي راځي چي په ۱۹ او ۲۰ پیړیو کي یی د هیواد په تاریخ او سیاسي جغرافیه کي د پام وړ رول لوبولی دی .همدا دوی ول چي د هلمند نه تر سینده پوري ،د کشمیر د شنو درو څخه تر هرات پوري یی د هلمندي ، کندهاری او کابلي جنګیالیو په رابللو او د وطن و دفاع ته د هغوي د اماده کولو په کار کي یی پوره زیار ګاللی دی.

وزیر فتح خان د خپلي زیرکی ، زړورتیا او جنګیالي توب له مخي د خپلو ټولو وړونو او د وخت د سیالانو په سرکي ځای درلود. دده او یو شمیر نورو وړنو د خاړپوڅو ځای د هلمند د پښت رود سیمه یاني ګرشک [1] دی.

---

[1] ـ دالاتر اوسه مالومه نده چي چا او کله دی سیمي ته د ګرشک نوم ورکړیدی. ښایی چي دا به یوه فارسي کلمه وی چي د ایراني صفویانو د اشغال پر مهال دا نوم ایښودل شوی وی .کیدلای سی چي اصلا دا کلمه «ګیرش کن» وی،خو د وخت په تیریدو سره په « ګرشک » باندی بدلون موندلی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسیمه تل د علم او توری والا سیاسي ـنظامي ځیرو زانګووه .

دسراج التواریخ د لیکوال له قوله ، نورمحمد خان علیزی او حاجي جمال خان بارکزی د هغو ځوارلسو وتلو او پیژندل شوو شخصیتونوپه ډله کی راغلل چي په ۱۷۳۵ م کال کي دنادرافشار په مټ د کندهار د نیولو وروسته ورته د سردارۍ او جنرا لي رتبی ورکړل شوي.درانی احمدشاه هم ددغه نورمحمد خان علیزی تر نظر لاندی چي په میر افغان مشهور وو،د نادرافشار تر څنګ د لښکرکښني او د هیواد د اداری چاري زده کړی دي .

نادرافشار د هوتکي سلطنت د نسکورولو وروسته ، ددغي کورني او د هغه حکومت مشرانو ځمکي او جایدادونه د افغاني لښکرو قوماندانانوته چي د دده پر څنګ دریدلی وه د «تیول»(جاګیر) په نامه ورکړی، داسي ښکاري چي ددغه وخت څخه به نور محمد خان میرافغان او حاجي جمال خان د هوتکي کورني د مشرانو د ځمکو د تر لاسه کولو وروسته په کندهارکي میشت سوی وی. د دوی قومونه د هلمند پر څنډو د موسي قلعه ( موسی کلا) او د با رکزیانو د ناوی په سیمو کي میشت پاته شول.

مرحوم علامه حبیبي د خپلی ( شل مقالی) نومي لیکني په (۵۳) مخ کی وایی چي د حاجي جمال خان بارکزي د کورني د خاړپوځو ځای د هلمند رود څنډی او په ځانګړی ډول د بارکزو ناوه او د نادعلی تاریخی کلا ده[1]. پدی توګه ویلای شو چي بارکزی سرداران کومو چي وروسته د محمدزو پاچهي په کابل کی جوړه کړه ، د هلمند د سیمي سربښندونکی بچیان وه .

کله چي د زمانشاه د واکمنی پر مهال سردار پاینده محمد خان د شاه د نظره ولوید او پر کورکښیناست ، ډیر وخت په ګرشک او د لویه ادي په کلا کي میشت وو. همدارنکه کله چی د زمانشاه ، شاه محمود او شاه شجاع تر منځ وا ک لاس په لاس کیدی ، د لښکرو د کمښت د پوره کولو د پاره به وزیر فتح خان ګرشک ته ځان را ورساوه ، ځوانان به یی ورسره مل او پر کندها به یی یرغلونه کول.

---

[1] ـ معصوم هوتکی ، کندهاری ورونه دریم مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چي به وروسته هم ووینو ، دا ډول پیښي ډیری تکرارسوی ، مګر یوځل هم داسي ندی شوی چی ده به د خپلو قواوو د پوره کولو په موخه د ارغستان یا معروف خپلوانو ته مخ اړولی وي.

په هر حال د سردار پاینده محمد خان زامن معمولاً د بارکزي وړونو په نامه یاد شویدی. ددوی د پلار تر وژلو او په ځانګړی ډول د فتح خان تر ویرجني وژني وروسته ، کله چی یی د سدوزی واکمنانو سره لکه شاه محمود ، کامران او شاه شجاع سره په کابل ، کندهار او هرات کي شخړی وی ، کرار کرار یی د خپلی کورني رقیبان له منځه وایستل تر څو د سدوزو واکمني یوازی په هرات کی راټوله شوه او نور ولایتونه لکه فراه ، هلمند ، کندهار ، زابل ، کابل ، پیښور او ان تر کشمیره پوري د بارکزو وړونو په لاس کښیوتل ( ۱۸۱۹ م).

هغه مهال چی واکمني په غیر محسوس ډول د یوی کورني څخه تربلی پوري لاس پر لاس کیده ، بارکزی وړونه تر ډیره په درو سیمو کی لکه کندهار ، کابل او پیښورکی سره را ټول او هري ډلی یی د ښار په څنډوکی ځانته د واکمنی بنسټ کښیښود. دا کار داسي پر مخ ولاړ چي یو شمیر یی لکه کهندل خان ، پردل خان ، شیردل خان ، رحمدل خان او مهردل خان د غلجي مور ( هوتکی ) زامن د کندهاری سردارانو ، یارمحمدخان ، سلطان محمد خان ، پیر محمد خان ، محمد سعید خان او عطامحمد خان د یوسفزی مور زامن د پیښوری سردارانو به نامه شهرت و موند. کابل چی ددی دوو سیمو تر منځ بروت وو ، د فتح خان او سردار محمد عظیم خان د نفوذ سیمه وګرځیدل کوم چی د بارکزی مور زامن وه . برسیره پر دي سردار دوست محمدخان ، نواب جبار خان ، نواب صمد خان او نواب اسد خان هم کابل له نظره نه ایستی .د ټولو هغو وړونو په منځ کی چی په کابل کی راټول وه ، تر فتح حان وروسته محمد عظیم خان او دوست محمد خان تر ټولو فعال او تکړه وه.

د ایرانی لښکرو تر شړلو وروسته ، کله چي فتح خان د عاقبت نه سنجونکي او کم عقل شاهزاده کامران په لاس ړوند او په ۱۸۱۸م کال د وردګو په سید اباد کي د شاه محمود په لاس په ظالمانه ډول ووژل سو ، وړونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يی دده د غچ اخيستلو پخاطر ښورښونه پيل کړل ، په دی کار سره دوی داسي اور بل کړ چي له کندهاره تر کابله ، د کابله تر پيښوره او د پيښوره تر کشميره پوري يی د سدوزويانو امپراتوری په لمبو کی وسوزيدل.

وزير فتح خان د هيواد د زيرکو او زړه ورو کسانو له ډلي څخه وو چي د خپل پلار پاينده محمد خان په شان يی د سدوزويو د دولت په ټينګښت کی د هر ډول سرښندنو څخه ځان نه سپماوه . سره ددی چي د زمانشاه په تيروتنه سردار پاينده محمد خان ووژل سو او نژدی وو د بارکزي وړونو د پاڅون له مخي د سدوزو دولت له پښو ولويږي، مګر د فتح خان د هوشياری له برکته يوار بيا د هيواد د ښه اداره کولو د پاره د همکاری او ګډ کار امکانات برابر شول. خو له بده مرغه د شاه محمود د بی کفايتي او د شاهزاده کامران د کم عقلي او حسادت له کبله چی د وزير فتح خان ړندول او بيا وژل يی پايله شوه ، نه يوازي د سدوزو واکمني ړنګه شوه بلکه ټوله غوړيدلي امبراتوري يی هم دړی وړی او په سنګر کي ناستو دښمنانو ( سيکانو او بيا انګريزانو)هر يوه ځانته خپله برخه تری نه بيله کړه.

د وزير فتح خان سکه ورور ، سردار محمد عظيم خان د کشمير والی کله چي د کامران په لاس د فتح خان د ړندولو له فاجعی نه خبر سو،د سردار دوست محمد خان په مشری يی لښکر د کابل په لور وليږل او پخپله يی هم د کشمير د چارو د سمولو وروسته په هغه پسی حرکت وکړ. دوست محمد خان په چټکی سره ځان کابل ته ورساوه . لومړی کار چي بايد کړی يی وای ، هغه د عطا محمد خان باميزی څخه غچ اخيستل وه ، خو دا کار بايد څنګه تر سره سوی وای ؟

## ددوست محمد خان نظامی مهارت:

په بارکزو وړونو کي تر فتح خان وروسته ، دوست محمد خان تر ټولو وړونو فعال ،زړه ور او جنګيالی وو چي له هيچانه يی ډار نه درلود او د مخالفانو په وړاندي دده دغه صفتونه ددی لامل ګرځيدل چي د جنګ په ډګر کي پر هغو باندی بريالی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موهن لال لیکي چې دوست محمد خان د ١٤-١٥ کلنی څخه جنګي مهارت اوتاکتیکونه زده کړل: « هغه وخت چي وزیر فتح خان په هیواد کی د ښورښونود ارامولو په کار بوخت وو،دوست محمد خان به تل دده سره ملګریتوب کاوه. دده استعداد ، ابتکارونه او زیرکي د فتح خان لپاره د ستاینې وړ وه.همدغه د فتح خان سره دده نژدی والی دنورو وړونو حسادت را وپاراوه. دی دا مهال ۱۴ کلن وو .لکه څرنګه چي دده زړه ورتیا د جنګیالیو خوښیدل،همدارنګه یی هوښیارتوب او ظاهری ښکلا هم د هغه وخت د میرنیو د پاره د پام وړ وه. [1] ».

ددراني سردارانو یوه ځانګړتیا داوه چي خپل نوي ځوانان به یی د ۸ کلنې وروسته د جنګ ډګرته دځان سره بیول ، تر څو جنګی وړتیا او زړه ورتیا تر لاسه او دا توان په ځانو کی و روزی چي تل پر دښمن باندی بری وموموي. دبیلګي په توګه دراني احمدشاه خپل ۸کلن ځوی تیمورشاه د پاني پت په جګړه کي له ځانه سره اخیسیتي ووچي په ډګر کی د جنګ تماشا وکړي.

همدارنګه وزیر فتح خان د شاه محمود د پاچهی له پیل نه خپل وړوکی ورور دوست محمد خان چي ښایی ۸- ۹ کلن به وو ، تل یی د جنګ ډګر ته له ځانه سره بیوه (۱۸۰۱م) . وروسته امیر دوست محمد خان هم د خپلو ځامنو په هکله همدا کار کاوه.

په دی توګه دوست محمد خان د ۱۴- ۱۵ کلنې عمر څخه جنګي شجاعت زده کړ او فتح خان ددی کارنه ډیر راضي وو. موهنلال دخپلو لیکنو په یوه بل ځای کي دوست محمدخان (د فیلډ مارشال) په نامه یاد کړي او د شاه شجاع سره یی په جنګو کي د ډګر یو وتلی جنګیالی بللی دی.دی لیکي : « فیلډ مارشال دوست محمدخان په خوش خویی، تینګار او تدبیر سره لښکر د شاه شجاع په وړاندي ولیږل چي د غزني په قره باغ کي د هغه د لښکرو سره مخامخ شوه . سخت جنګ پیل سو او دواړي خواوي په ډار او تشویش سره جنګیدلی، مګر د شاه شجاع د لښکرو قوماندان سردار احمد خان نورزی

---

[1] - موهن لال، زندګی امیردوست محمدخان،ج۱، ص ۸۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځګړیتوب وکړ. ددی په پایله کي میدان یو دم په دوستي واوښت. دوست محمد خان د کندهار او شاه شجاع د کابل په لور وخوځیدل. داپیښه تر هغه وروسته منځته راغله چي دوست محمد خان د کندهار والی شاهزاده قیصر په یوه بل جنګ کي د محمد اعظم خان قلعه ته نژدی مات کړي ا و د ۲۰۰۰تنو جنګیالو د وینو په تویولو سره یی کندهار د شاهزاده قیصردلاسه ایستی وو »[1]

موهنلال بیا هم د شاه شجاع په وړاندي په یوه نابرابر جنګ کی د دوست محمد خان د بری یادونه کوي چي د فتح خان او وړونو په لاس یی د کندهار او کابل د بیا نیولو وروسته چي شاه محمود یی د دوهم ځل لپاره پر تخت کښیناوه ، شاه شجاع د ۲۵۰۰۰نفری لښکر په مشری د پیښورڅخه دکابل په لوروخوځیدی. فتح خان د خپل وررور محمد عظیم خان په قوماندانۍ یو شمیر عسکرد شاه شجاع مقابلی ته ورولیږل.محمد عظیم خان د شاه شجاع د لوی لښکر سره د جګړی توان په ځان کی ونه لید او د سیمی غروته یې پناه یووړه چي کابل یی د حاله خبر کړ. فتح خان او دوست محمد خان د یو شمیر قومي مشرانو او قوماندانانو سره د شاه محمود په حضور کي په سرخاب کی یوه مشورتي غونډه وکړه. دوی وویل چي زموږ اوردو یوازي درو زرو تنو ته رسیږي او د شاه شجاع پوځ ۲۵۰۰۰ تنه دی، یوه د سپرو او یوه هم د توپچي فرقه لري، ځکه د هغوی په وړاندي دریدل عاقلانه کار ندی. دوی دا هم یاده کړه: ددی د پاره چی زمو ږ د جګړه ایز توان وشهرت ته تاوان ونه رسیږي، باید د مخامخ جنګ نه لاس واخلو او په احتیاط سره پټي حملی ورباندی وکړو.

دوست محمد خان چي تل یی د زړه ورتیا اوسیاسي تدبیرنه کار اخیست، قوماندانانو ته یی وړاندیز وکړ:ترڅوچي دښمن رانژدی سوی نه وي، موږ باید په وړو دلګیو ونه ویشل شو اوسره یوځای پاته شو.همدارنګه موږ باید ددښمن سره د جنګ پر وخت ځانونه د دوی د مالونو په چورولو او غارت بوخت نه کړو. ځکه چي دا کار زموږ په خپل منځ کي جنجالونه را زیږوي او دښمن تری ناوړه ګټه پورته کولای سي . ده زیاته کړه ، پدی خاطر چي ددښمن توان ډیر

[1] ـدموهنلال همدغه اثر،لمړی ج ،۹۴ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، موږ نه باید ددوی نه دومره وډاریږو چي د هغوی خواته ور واوړو.که د هر قوم استازی دا کار وکړي نو به هم د خپل قوم نوم بد کړي او هم به د پاتي لښکر ومورال ته زیان ورسوي . موږ باید پدي باور او ایمان جنګ ته ولاړ شو چي بری مو په برخه دی.

موهنلال زیاتوي: « ددوست محمد خان وړاندیزونه او مشوری د شاه محمودخان ،فتح خان او نورو خانانو د تایید وړوګرځیدی او په اوږدو چکچکو بدرګه شوی .وروسته یی د جنګ او سولی ټولی چاري وده ته وسپارلی. دوست محمد خان لدی وروسته ټوله ورځ د ونو او لوخو په منځ کی ځان پټ کړ.کله چي شپه راورسیده خپل لښکرته یی د حرکت امر ورکړ. دشپی په تیاره کي یی اوږد واټن وواهه. دسهار نژدی پنځه بجی وی چی د سردار مددخان ، اعظم خان او غفور خان پر پوځ یی برید وکړ. دا پوځ د دښمن د پیشقراول ډله وه چي لس زره عسکر یی د سپرو د فرقی سره یوځای درلودل. هغه کسان چي په جګړه کي حاضر وه، ما ( موهنلال) ته یی کیسه وکړه چي ددوست محمد خان زړه ورتوب، چټکي، ټینګار او جګړه ییزه وړتیا دومره لوړه وه چي د هیچا ژبه به یی د صفت توان ونه لري.سپاهیانو ولیدل چي دوست محمد خان به په یوه حمله ددښمن په لوی قطار کي درز راوست او له پښنو به یی واچاوه، وروسته به راوګرځیدی او پوځ به یی وبلی حملی ته و هڅاوه . مددخان او اعظم خان خپل نازک حالت ته چي دوست محمد خان یی ډیری عسکر وژلي وه ،پام واړاوه او وارخطا شول.پدی ډول دوست محمد خان وتوانیدی د دښمن پیشقراول د خپلو ټولوامکاناتو سره تیت او پرک کړي .[1]» کله چي شاه شجاع له دی پیښنی نه خبر شو،ډیر په تشویش کی ولوید او د خپل وزیر اکرم ځان څخه یی چې ۱۵۰۰۰لښکر یی درلود ، چاره وغوښته . هغه شاه ته اطمنان ورکړ چي دوست محمد خان به د خپلو دری زره تنو سره دړي وړي کړي. دیادوني وړده چي دوست محمدخان د جنګ میدان تل ګټي او یوازی یی هغه وخت میدان پریښودی

[1]-هم هغه کتاب، ۱۰۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي سیاسي او نظامي مصلحت به دا غوښتنه کول.[۱]

شاه شجاع اکرم خان پوه کړ چي « ترڅو دوست محمدخان نیول شوی نه وی،دبري هیله کمه ده اودشاهي تاج به دده پر سر ارام ونه لري »[۲] . په پای کی د مخا مخ کیدو وخت راورسیدی. په یوی خونړۍ جګړی کي په سل ګونو کسانو چي هیڅکله یی یو بل هیڅ لیدلی هم نه وه ژوند د لاسه ورکړ. اکرم خان د دوست محمد خان د توري له واری نه پر مځکه پریوت او عسکر یی هري خواته سره وپاشل سوه.پدی جنګ کي هم شاه شجاع ماته وخوړل . پسله دی نه شاه خپلي پښنی سپکی او وتښتیدی.عسکرو یی ددی حالت په لیدو سره د هغه د خزانو په لوټولو لاس پوری کړ.تردی ماتی وروسته فتح خان او دوست محمد خان دبری په ترلاسه کولو سره کابل ته راغلل او لوی جشن یی جوړ کړ.[۳]

## ددوست محمدخان په وړاندی د شاه محمود ماته خوړل:

کله چي دوست محمدخان د خپل ورور فتح خان د ړندولو د غچ اخیستني په موخه کابل ته راورسیدی، ترهرڅه دمخه یی د عطا محمد خان بامیزی څخه د سترګو روښنا یی واخیستله او هغه یی ړوند کړ.

عطا محمد خان د کامران د زوی او شاه محمود د لمسی جهانګیر شاهزاده د لښکرو قوماندان وو. د فتح خان د ړندولو وروسته کابل ته راولیږل سو چي د فتح خان وړونه تا رومار کړي، مګر پخپله د دوست محمد خان په لاس ورغی او د سترګو لید یی د لاسه ورکړ.

هغه وخت چی دوست محمد خان د پیښور څخه د جلال اباد په لور وخوځیدی د شیر محمد خان مختارالدوله زوی عطا محمد خان ته یی پیغام واستاوه او ښه غوړي وعدی یی ورکړی. ده هغه ته ولیکل چي موخه یی د خپل ورور غچ اخیستنه ده او که چیري دی د شاهزاده نه لاس واخلي او دده سره

---

[۱] ـ موهن لال، همان ،ج۱،ص ۱۰۱

[۲] ـ موهن لال، همان ،ج۱،ص ۱۰۲

[۳] ـ موهن لال، همان ،ج۱،ص ۱۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته وکړي ،نو تر بری وروسته به کابل ده ته وسپاري او پخپله به د کندهار په لوردشاه محمود سره جنګ ته ورودانګي.

وجلال اباد ته په رارسیدوسره د عطا محمد خان د هوکړي ځواب ورته راورسیدی او بیله ځنډه یی د کابل په لورحرکت وکړ. کابل ته په رارسیدو سره،وخواجه رواش ته راغی او ددی ځای نه یی بیا عطا محمد خان سره اړیکي تینګي کړی. په برج وزیر کی یی چي د کابل په چارباغ کی پروت دی،د عطا محمد خان سره د لیدو وعده وټاکل. کله چي هغه و نوموړي ځای ته راورسیدی، ددوست محمد خان وړونو دستي حمله پر وکړه،دده په امر یی هغه ړوندکړ اوبیا یی زندان ته واچاوه څو په راتلونکي کي بیا هم دده د شتون نه ګټه واخلي . باید وویل سی چي دا هغه عطا محمد خان دی چي یو کال مخکي یی په خپل خنجرسره د وزیر فتح خا ن سترګي ړندی کړي وی.

له دی نه وروسته دوست محمد خان د کابل بالاحصار محاصره کړ، دکامران زوي شاهزاده جهانګیرد غزني پر خوا وتښتیدی او بالا حصار د دوست محمد خان په لاس ورغی. دوست محمد خان خبر سو چي شاه محمود د کندهاره دکابل په لور راخوځیدلی دی. په کار وه چي د ښار څخه د باندي د هغه مخنیوی وسي نه د شیر دروازی د غره په لمنو کي. دی د خپل هغه وړوکي لښکر سره چي ورته پاته وو د ښاره ووت او په قلعه قاضی کی یی دشاه محمود د مخنیوی دپاره سنګر ونیوی. کله چي شاه محمود ددی کارنه خبر سو،هغه بله لار ونیوله اود اوزبک آباد د لاري یی ځان و چاراسیاب ته ورساوه او هلته ځای پر ځای شو.

دوست محمد خان هم د قلعه قاضي څخه د چهلستون هندکي ته راغي، یوه ورځ وروسته د دوی تر منځ یو وړوکی جنګ منځ ته راغی چي هیڅ یوه هم بری نه درلود. دلته دوست محمد خان د یوه جنګي چل نه کار واخیست. د ړانده سوی عطا محمد خان له خوا یی د هغه د ورور غلام احمد خان په قلم یو لیک شاه محمود خان ته ولیکي . په لیک کي یادونه شوی وه چي دده د مالوماتو له مخي د شاه محمود قوماندانانو د دوست محمد خان سره داسي جوړجاړی کړی چي د هغه سره یوځای کیږی ، شاه او شاهزاده به دجنګ نه وړاندي ونیسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمد خان ته به یی لاس ترلی وسپاري . په دی لیک کي یی هغه ته مشوره ورکړی وه چي هرڅه ژر ځانونه وباسي او دا جنګ بل مناسب وخت ته پریږدي . په لیک داسی ښودل شوی وه چی عطا محمدخان ګویا دالیک یی یوازي د هغه درناوی له مخي چی د شاه کورني ته یی لري، وده ته لیکلی دي. دوست محمد خان دا لیک د شپی په تیاره کي د خپل یوه باوری نوکر پلاس شاه ته ولیږه او هغه یی پوه کړ چي د هغي لاری د کمپ خوا ته ورسي څو د پیشقراول د عسکرولخوا ونیول شي. نوکر همداسي وکړه او ونیول شو.عسکرو دده څخه نوموړی لیک ترلاسه او بیله ځنده یی شاهزاده کامران ته یووړاو په حال یی خبر کړ. شاه او شاهزاده دواړه وارخطا او پر خپلو لښکرو بدګومانه شول.[1]

دبلی خوا نه صالو خان چی په شاه پسند باندي مشهور وو،ودوست محمد خان ته یی امیدواري پیدا سوی وه ، وشاه محمود خان ته یی خبر ورکړچي دده د خوا دراني خانان غواړي د دوست محمد خان سره یوځای شي ، ځکه به نو دده دپاره ښه دا وي مخکي له دی نه چي د دوست محمد خان په لاس ورسي، باید لدی ځای نه ځان و باسي. په همدی وخت کی چي شاه محمود لاس او پښه وو، شاغاسی دلاورخان د یوشمیر نورو خانانو سره لکه نوروز خان او اکبر خان د خپلو کسانو په ملګرتیا چي شمیر یی دری زرو نفرو ته رسیدی د شاه محمود خان څخه جلا او د دوست محمد خان سره یوځای شول.[2] دی کارد رارسیدلی لیک اغیز نورهم زیا ت کړ. کامران هم امر وکړ چي شاهي اسونه هر څه ژر زین او د خیمی څنګ ته یی تیار کړي. په دی توګه د شپی په تیاره کي بیله دی نه چي خانان او سرداران خبر کړي، پلار او زوی د خپل څو خاصو نوکرانوسره وتښتیدل او دجنوب پرخوا ولاړل. سهار مهال نورو خانانو

---

[1] ـ دیوه بل روایت له مخي، دوست محمد خان څوجعلي لیکونه د خپلو باوري کسانو پلاس د شاه محمود تر نظام قراول پوري ورسول. هلته ویل شوی وه چي شاه محمود او زوی یی دخپلو قوماندانانو د خوا نیول شوی دي . دالیکونه تر شاه محمود پوری رسیدلي اوکله چي هغه له موضوع نه خبر شو، په ډارکی ولویدی، پر خپلو لښکرو بی باوره شواو دخپل ځان له ډاره یی تیښته غوره وګڼل)(سراج التواریخ،لمړی ټوک ۱۰۱مخ،تاریخ سلطانی ۲۰۶مخ)

[2] ـموهنلال،هم هغه کتاب ۱۰۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او قوماندانانو هم دده لار غوره کړه او ځانونه يی وايستل. په غزني کي دوی د عياش شاه محمود او کم عقل شاهزاده سره يوځای شول اوروسته پدی وپوهيدل چي دوست محمد خان دوی غولولي وه. پدی توګه د شاه محمود ټول تجهيزات او مهمات د دوست محمد خان په لاس ورغلل اوپه بريالیتوب سره دکابل خواته راوګرځيدي .

دوست محمد خان په کابل کي د تيمورشاه يو نوم ورکی زوی چي چنداني چا نه پيژندی ، شاهزاده سلطان علي پر تخت کښيناوه او پخپله يی دده د وزير په توګه دچارو واګي تر لاسه کړي. دبلی خوانه سردار محمد عظيم خان د کشمير څخه د کابل په لور په لاره کي دشاهزاده ايوب په نامه د تيمورشاه يوبل زوی دکابل د تخت د پاره وټاکه. کله چي کابل ته راورسيدی ،دوست محمد خان يی اړايست څو د وزارت څخه تير سي اود غزني په والی توب باندی غاړه وباسي .ايوبشاه يی پر تخت کښيناوه اوپه خپله يی د وزارت دنده پرغاړه واخيسته.

کله چي شاه محمود او زوی يی قلات ته را ورسيدل ،پدی پوه سول چي نور کندهار هم ورته د امن کور ندی. ځکه نو د روزکان د لاري هرات ته ولاړل. کامران په هرات کي خپل پلار تهديد کړاو پخپله يی د حکومت چاري پر غاړه واخيستی او يار محمد الکوزی يی خپل وزيرو ټاکه. کامران څه موده په هرات کی حکمرانی وکړه او وروسته د خپل وزير يارمحمد خان پلاس چي د کشمير د پخواني والي عبدالله خان الکوزی زوی وو، د قدرت نه ليری اوله منځه ولاړ، پدی کار سره د هرات حکمراني د يار محمدخان پلاس ورغله، ترڅو چي په ۱۸۵۰م کي وفات شو.

## د وزير فتح خان ځای ناستی سردار محمد عظيم خان:

ترفتح خان وروسته دده سکنی ورور سردار محمد عظيم خان د کشمير حکمران اود پيښور حاکم د بارکزي وړونو ترمنځ يو پوخ او د تجربی سړی ګڼل کيدی. دا امکان ووچي د کابل په نيولوسره پر تخت کښيني. مګر سرداردوست

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد خان چي یو موقع پیژندونکی اوهڅاند سړی وو، دځان دپاره یی د لاری پرانیستلو تکل درلود .

ترهغه وخته چي فتح خان ژوندی وو، محمد عظیم خان اودوست محمد خان دواړو د هغه د لاربښووني سره سم کار کاوه. کله چي فتح خان و شاه محمود خان ته ددوهم ځل پاچاهي نیولو نیت وکړ، سردار محمدعظیم خان یی د پیښور خواته ولیږه چي شاه شجاع د ۱۵ زره کسیز پوځ په وړاندي و دریږی ، مګر ده د دریدلو توان له لاسه ورکړ او دسپین غره پر خوا وتښتیدی. وروسته فتح خان او دوست محمد خان د شاه محمود سره ځانونه راورسول، شاه شجاع ته یی په نمله کی ماته ورکړه او شاه محمود د دوهم ځل لپاره سلطنت تر لاسه کړ .

شاه محمود د سلطنت ټولي چاري فتح خان خپل اشرف الوزرا ته وسپارلی او هغه هم دده سره د مرستي پخاطر ټول مهم کارونه او د ولایتونو حکومتونه د خپلو وړونو پلاس ورکړل.سردار محمد عظیم خان د پیښور حاکم وټاکل سو. پدی وخت کي پیښور د سدوزو د حکومت ډیر مهم ولایت ګڼل کیدی. ځکه چي د یوه طرفه عطا محمد خان بامیزی د کشمیر حکمران دومره اقتدار په لاس راوړی وو چي غوښته یی پیښور هم د کشمیر سره وتړي. دبلي خوا د سدوزو بی تخت او تاجه پاچا ، شاه شجاع چي په لاهور کي کډوال وو،تل یی د کشمیر د حکمران په هڅونه د پیښور د نیولو د پاره حملی کولی.

شاه شجاع یوځل هم وکړای سوه ،چي د بامیزیانو په مرسته لکه د عطا محمد خان ورور غلام محمد خان او یحیی خان ،پیښور د ۴ میشاتو دپاره ونیسي. سردار محمد عظیم خان د نورو قوماندانانو سره د شاه محمود دولت له خوادپیښورد بیرته نیولو په نیت حرکت وکړ.که څه هم د ده ورور عطا محمد خان بارکزی په جنګ کی ووژل شو، خو پیښوریی بیرته پلاس راوړ.بامیزیانو د شاه شجاع په مرسته بیا پر پیښور حمله وکړه،محمد عظیم خان ماته وخوړل،د کوهاټ او بنګښ د لاري کابل ته راستون شو. پیښور که په ښکاره د شاه شجاع په لاس کښنووت،مګر په حقیقت کي د غلام محمد خان ، سمندرخان اوجهانداد خان بامیزي په واک کي وو. وروسته یی د عطا محمد خان په امر شاه شجاع

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونيوى او زنداني يى كشمير ته وليږى. پدى توګه د عطامحمد خان واک دكشميرنه ترپيښور پوري پراختيا وموندە.[۱]

وزير فتح خان دياغي حكمران عطا محمد خان دا ړول كړني د هيواد د لوړوګټوسره په تضاد كي ګڼلى . دشاه او خپلو وړونو محمدعظيم خان او دوست محمد خان په ګډون يى دوه ځله د كشمير پر خوا د حركت عزم وكړ. په لمړي ځل يى يوازى پيښور اوپه دوهم ځل يى په ۱۸۱۳م كال كشمير هم د عطا محمد خان باميزي له واكه وايست. داچي پدى جنګ كي سردار محمدعظيم خان ميړانه ښودلى وه ، نويى هغه يى د كشمير د حاكم او ناظم په توګه وګمارل. له دى نه وروسته باميزيانو په يوه خوراشرمونكي كار لاس پوري كړ. دعطا محمد خان ورور جهانداد خان د اټک قلعه په يو لک روپيو پر رنجيت سنګ باندي خرڅه او سيكانو وكړاى شوه د سدوزى دولت په ختيځو برخو كي يوه حساسه سوق الجيشي سيمه پلاس راوړي. په پايله كي د ۱۸۱۴م كال د جولاى په مياشت كي رنجيت سنګ د كشمير په ښكلى دره كي د محمد عظيم خان په وړاندى تقويه شو.

دى كار د سيكانو د مداخلى د پاره د هغوى زړورتيا ورځ تر بلي زياتوله ، چى فتح خان ته نور د زغملو نه وه . په ۱۸۱۶م كال دكابل نه د مالياتو د ټولولو په نيت ووت. د خپل ورور محمد عظيم خان څخه يى د كشمير د ماليى په خاطر ۱۶لكه روپي وغوښتى. داچي هغه ددى پيسو وركول وځنډول، نو نژدى وه چي ددواړو وړونو تر منځ مناسبات خراب شي. ددوست محمد خان په منځګړيتوب داستونزه په ښه توګه حل او محمد عظيم خان د۱۳ لكو روپيو په وركولو سره پر خپله دنده په كشمير كي پاته شو. دغي دندي يى تر هغه وخته دوام وموند، ترڅو چي وزيرفتح خان يى ړوند كړ.

پدى توګه د فتح خان په ړند ولو اوژلو سره د باركزواوسدوزو كورنيو تر منځ مناسبات يو وار بيا په ۱۸۱۸م كال كي خراب شول. دباركزي وړونود غچ اخيستني په پاڅون سره ، شاه محمود او زوى يى كامران لكه څنګه چى

[۱] ـميرزا محمدخان ښكارپورى نواى معارک،۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاده شوه د چهلستون په هندکي سیمه او قلعه قاضي کي بیله دی چي جنګ پیل سي ماته وخوړل او تیښته یی تر پاته کیدو غوره وګڼل. په همدی وخت کي پردل خان او وړونو یی دشاه محمود خان د حاکم ګل محمد خان پوپلزي د لاسه کندهار هم وایست. شاه محمود خان او زوی یی مجبور شول د ارزګان او فراه د لاری هرات ته ولاړسي. دا هغه وخت دی چي شاه محمود په هرات کي حاکم او شاه شجاع د وطن نه بهر په لودیانه کي سرګردانه ګرځي. پدی سره د سدوزو واکمني عملا ختمه اود محمدزو(بارکزو) واکمني پیل شوه.

## په یوه ښار کي دوه پاچهان او دوه وزیران په یوه وخت کي:

سردار محمد عظیم خان چي د وزیر فتح خان وروسته ځان تر ټولو حقدار ګاڼه، نواب جبار خان ته یی د کشمیر چاري وسپارلي. دا چي د کابل وزارت خپل حق باله، دیو شمیر عسکروسره پیښورته راغی او د هغه ځای نه یی دوست محمد خان ته یو لیک ولیږه چي سلطان علي لیري، کابل وده او شاهزاده ایوب ته چي له پیښوره یی له ځان سره اخیستی وو، پریږدي. دوست محمد خان هم دده غوښتنه ومنل. ددی سره سم یی شاهزاده ایوب پر تخت کښیناوه.سردار محمد عظیم یی وزیر او دوست محمدخان ته یی د غزني حکومت وسپاری.

محمد عظیم خان چي هغه وخت لاپه کشمیر کي وو، دپیښور پر خوا د حرکت نه مخکي و نایب امین الله خان لوګري ته دری لیکونه واستول او د هغه نه یی وغوښتل څو د فتح خان د قاتلانو په وړاندی د بارکزي وړونو تر څنګ ودریږي، له نیکه مرغه دا دری واړه لیکونه اوس هم پاته دی چي یو یی د بیلګي په توګه رانقلوو :

« عالیجاه رفیع جایګاه دوستی وموالات آګاه خصوصیت نشان، امین الله خان قرین جمعیت فروان باشد. بعد از شوق موفور واضح آنکه حقایق و روداد آن حدود به نحوی است که دراین نزدیکی متواتر و متوالی به قلم آمده از آن قرار حالی آن عالیجاه خواهد بود. حال این صورت دارد که عالیجاه امیر الامراء

(c) ketabton.com: The Digital Library



العظام اخوی ارجمند دوست محمدخان با جمعیت بسیاری روانۀ الکای پشاور که وارد آنجا گردیده باشد و نیز مقرر است که ار جمندی نواب جبار خان را با سوار لشکر و پیاده دراین چند یوم مرخص و مامور آن حدود خواهیم نمود، لازم که آن عالیجاه حق اشرف الوزرا را مرعی داشته در رفاقت عالیجاهان مذکور بدل وجان سعی موفور بکار برده با بچۀ خود یا برادر با جمعیت شایان روانۀ پشاورنموده وخود آن عالیجاه کمر همت و مردانگی وغیرت و فرزانگی را برمیان جانان بسته منتظر هرگونه نامه و پیام عالیجاه اخوی یار محمدخان و دوست محمدخان بوده باشند، زیرا که این وقت وقت خدمت و اظهار حسن اخلاص است و بندگان اشرف الوزراء برای چنین روزی دوستان وهواخواهان خود را می خواست وبرخود شما معلوم است که اشرف الوزرا از گروه برادران خاطر داری شما را می فرمود. الحمدالله، اگر یک وزیر گرفتاراست صد وزیر دیگر موجود و برای جان نثاری آماده وحاضر، به همه باب خاطر جمع داشته بنده درگاه را با تمام برادران به جان ومال دراین مقدمه سرگرم وساعی دانسته ان شاء الله تعالی عنقریب مخالفان را شرمندگی و ندامت حاصل وخاطر هواخواهان اشرف الوزرا از گرد و کلفت مصفی خواهد گردید و آن عالیجاه خدمت های خود را ضایع و بیجا ندانسته هرسعی و اهتمامی که دارند در خدمت و جانفشانی به ظهورمی رساند و احوالات با هرگونه مرجوعات به قلم آرید چون بعد از روانه شدن اخوی نواب جبار خان خود بنده درگاه عازم آن حدود و به فضل خدا در این نزدیکی وارد آنجا خواهد گردید. دوستان و اخلاص کیشان را فراخور خدمت و غمخواری ها، مورد اشفاق وعنایت دانسته در خیر و خوبی آنها به وجهی کوتاهی نخواهد بود وبه همه باب خاطر جمع داشته سرگرم دوستی بوده باشد.» [مهر یا عظیم] »

دوه نور لیکونه یی هم یوبل ته ورته منځپانګه لري چي ښاغلي کهزاد د خپل (درزوایای تاریخ معاصر افغانستان)نومي کتاب په ۱۴-۱۲مخونو کي راوړي دي.

کله چي دوست محمد خان د خپل ناسکه ورور، سردار محمد عظیم خان په امر دشاه محمود څخه د غچ اخیستلو په نیت د کشمیر څخه د پیښوراو کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لور روان وو، په پيښور کي يې شاهزاده ايوب د تيمور شاه زوی د خپل طرف نه پادشا وټاکه او پخبله د کابل پر خوا وخوځيدی.له دی نه وروسته شاه شجاع د محمد عظيم خان په بلنه پيښور ته راغي ، سمدستی يی ايوب شاه يی وشاړه او دهغه ځای يی اشغال کړ . هغه وخت چي محمد عظم خان پيښورته راورسيدی، دشاهزاده ايوب ملاتړ يی وکړ.

دوست محمد خان چي کابل د کامران د زوی شاهزاده جهانګير نه ونيوی، بيله ځنډه يی د تيمورشاه بل زوی شاهزاده سلطان علي پر تخت کښيناوه او ځان يی د هغه وزير اعلان کړ. دغه شاه او وزير لکه څنګه چي وويل شوه، شاه محمود او کامران يی د چاراسياب نه د غزني په لورتيښتي ته مجبورکړل او پدی سره يی په کابل او غزنی کی خپل نفوذ تينګ کړ. سردار محمد عظيم خان کابل ته په رارسيدو سره، شاهزاده ايوب د پاچا په توګه راويست او خپل ځان د هغه وزير وټاکه . پدی توګه نو د تيمورشاه دوه نوم ورکي زامن شاهان وه او دوه بارکزي وړونو په همدغه ښار کي د وزيرانو په نامه حکمونه چلول.

ددی کار چي له نيکه مرغه ډير وخت دوام ونه موند، لامل داوو، چي بارکزي وړونو پدی هکله د پخوا نه جوړه شوی طرحه او پلان نه درلوده ، دوی يوازی د غڅ اخيستلو په موخه پاڅون کړی وو او خپلو ځانونو ته لا د واکمني په فکر کي نه وه . يوبل ډير مهم لامل داهم وو چي د پاينده محمد خان د زامنو څخه هره ډله سکني وړونه د خپلي مور د قومي اړيکو له مخي سره يوځای وه ، بلي ډلي ته يی دومره اهميت نه ورکاوه ،ځکه نو دوی د د لوړ مقام پر ټاکلو باندي يو دبل سره واحد نظر ته رسيدلای نشوه چی دخپل منځ نه يو پوه سړی د شاه په توګه وټاکی .

سردار عظيم خان چي له فتخ خان وروسته تر ټولو وړونو مشر او تر ټولو ثروتمند وو، په کابل کي يی وزارت خپل انکار نه منونکی حق ګاڼه. سردار دوست محمد خان چي د فتح خان په لاس روزلی شوی ، په سياست او د هيواد په اداره کولوکي پوه او تر نورو وړونو زيرک وو، ځان يی تر ټولو مستحق ګاڼه. په ښکاره يی خپله دا غوښتنه پټه ساتله خو د پردی شاته يی دواک تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه کولو پخاطر شپه او ورځ هلي ځلي کولی. ودی موخي ته یی د رسیدو د پاره دسیاسي ډګر نه د سردار محمد عظیم خان دلیري کولو پخاطر فعالیت کاوه. پدی ډول دواړو وړونوغوښته چي د سدوزو د کورنی څخه یوبیکاره شاهزاده د شاه په نامه پر تخت کښینوي او دهغه تر سیوری لاندي د چارو واګي پخپل لاس کي ونیسي. دغو دواړو د شاه په نامه ټاکل شوو شاهزادګانو دخپلو وزیرانو په ملاتړ یو دبل په وړاندي تحریکات کول . په پای کي سلطان علي شاه د ایوب شاه د زوی محمد اسماعیل پلاس دکابل په بالاحصار کي د خپل خوب په خونه کی خفه او ووژل شو. پدی سره دیوه لاسپوځي تش پنامه شاه ټغر ټول سو. محمد عظیم خان دخپل کښینول شوی شاه تر سیوري لاندی څه موده حکمراني وکړه. دوست محمد خان ته یی د غزني حکومت وسپاره. خو دهغه ټول کړه وړه یی تر نطر لاندي نیولي وه. محمد عظیم خان مجبور وو چي د هیواد په ختیځ او لویدیځ کی جنګي سوقیات هم وکړي. دا یوداسي نازک حالت وو چي د سدوزو د کورني واکمني د نړیدو په حالت کي وه او بارکزي وړونه لا هم تر اوسه پوری پدی توانیدلی نه وه چي له خپل منځ نه یو شخصیت د بدیل په توګه راوړاندي کړي. ددغه ناوړه حالت نه په ګټه اخیستلو سره رنجیت سنګ وکړای شوه چي کشمیر د نواب جبار خان څخه ونیسی(۱۸۲۳ م کال) او د پیښور ونیولو ته ځان تیار کړي.

دپیښور حاکم سردار یار محمدخان د کابل نه مرسته وغوښتل. سردار محمد عظیم چي بی شمیره ثروت یی ټول کړی وو، پر هیڅا باندی یی دهغه د پریښودلو اعتماد نه درلود، نو مجبور وو هری خواته چی سفر کوي، باید ورسره نقل یی کړي او تر خپل نظر لاندی یی وساتی. دهمدی لامله ده ونه کړای شوه دخپلو ورور و مرستي ته ورودانګي او د رنجیت سنګ له شره یی وژغوري. دبل پلوه رنجیت سنګ ویار محمد خان ته وعدی ورکړي وی چي که پیښور ده ته وسپاري، نو دی به د پخوا په شان همدلته حاکم پاته شي. دی کار هم د نوموړی سردار ایمان متزلزل کړی وو او په ټینګه یی دفاع نه کول.

د وزیر فتح خان وژل او پر کشمیراو پیښور باندی د رنجیت سنګ واکمني تر هغه وخته چي فتح خان ژوندی وو ،د پنجاب واکمن رنجیت سنګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان کی دا توان نه لیده چي دافغانستان د ځینو برخو و نیولو ته زړه ښه کړي. د فتح خان تر وژولو او دده د ورونو تر پاڅون وروسته په افغانستان کي ګډوډی او اړو دوړ رامنځ ته شو. رنجیت سنګ ددی موقع نه په ۱۸۱۸م کي ګټه پورته کړه او پر ملتان یی برید وکړ. په ملتان کي افغانی حاکم مظفر خان د ملتان په قلعه کي دوی میاشتي مقاومت وکړ. په پای کي دی او زامن یی د رنجیت سنګ پلاس ورغلل او ووژل شول. ملتان د سیکانو په لاس کښیووت. تر ملتان وروسته رنجیت سنګ د پیښور د نیولو په هیله شو . له دی نه یی وړاندي د سفید رود په لودیز کي د خیر اباد قلعه هم نیولی وه . پر پیښور یی حمله وکړه ، سردار یارمحمد خان چي دده د مقابلی توان یی نه درلود ، نو یی د یوسفزو قبایلو ته پناه وروړه او پیښوریی رنجیت سنګ ته پریښود. رنجیت سینګ هم د پیښور اداره ویوه افغان ته وسپارل او پخپله پنجاب ته ستون شو. دده تر وتلو وروسته یار محمد خان بیرته پیښور ونیوی.

یوکال وروسته په ۱۸۱۹م کي رنجیت سنګ پر کشمیر حمله وکړه او دا ولایت یی د نواب جبار خان څخه ونیوی . دوه کاله یی پس په (۱۸۲۱م) کي دغازیخان دیره د نواب زمانخان څخه تر لاسه کړه او بیا یی د اسماعیلخان دیره هم ونیول. پدی توګه د وزیر فتح خان تر وژني وروسته د دروکالو په موده کي دسند د پوري غاړي ټولي سیمي چي د سدوزو د امپراطورۍ برخي وی د پنجابي سیکانو پلاس ورغلی.

انګریزانو پدی وخت کي د خپلو قواوو یوه ټولګې د دریایی غلو د نیولو په پلمه سند ته ولیږل. د سند میران د انګریزانو دی خوځښت وډارول او د افغانستان څخه د مرستي په فکر سول. پدی موخه یی هم د شاه شجاع او هم د سردار محمد عظیم نه مرسته وغوښته . محمد عظیم خان د دوی غوښتنه ومنل او د خپلو قواووسره د کابله د کندهار په لور وخوځیدی. د غزني څخه یی دوست محمد خان هم ورسره واخیست او په کندهار کي کندهاري وړونه ورسره ملګري او د سند په لور روان شول. پدی وخت کي انګریزان د سند څخه وتلي وه اود افغانانو مرسته په کار نه شوه. د سند میرانو یوه اندازه پیسی د خرڅ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جبرانولو په موخه ،افغاني سردارانو ته ورکړي ، شاه شجاع بیرته هند ته ولاړ او نور سرداران افغانستان ته راوګرځیدل.

په ۱۸۲۲م کال محمد عظیم خان د سیکانو مقابلی ته پیښورته ولاړ ،مګر د خپل هیواد داخلي پیښنو دی ته اړ ایست چي په چټکې سره ځان بیرته کابل ته راورسوي. ددی خبر په اوریدو سره رنجیت سنګ د پیښور په نیت حرکت وکړ. یارمحمدخان یی تهدید کړ چي د پیښور مالیات هغه ته ورکړي . یار محمد خان څو راسه ډیر اعلی اسونه وده ته سوغات ور کړل . هغه هم د ا سوغات و مانه او بیرته پنجاب ته ولاړ. کله چی سردار محمد عظیم خان ددی سوغات نه خبر سو ، ډیر په قهر سره بیرته د پیښور پر خوا را روان شو. یارمحمد خان وډاریدی او د سوات په دره کي یی یوسفزیو ته پناه یووړه .

## د سردار محمد عظیم خان جهاد دپیښور د ازادولو پخاطر:

سردار محمد عظیم خان په ۱۸۲۳م کال د سیکانو په وړاندي د جهاد ناره پورته او د قبایلو ډیری کسان ورسره یوځای شول. رنجیت سنګ هم د خپلو منظمو قواوو سره چی د اروپایی ماهرانو لخوا روزل شوی وه ، د سند تر رود را تیر شو. افغاني قواوی د کابل رود پر دووبرخو ویشلي وی .قبایلي قوتونه چي شمیر یی تر شلو زرو تنو پوري رسیدی د سید اکبر پاچا په مشری چی د پیربابا (سیدعلي ترمذی) داولاده څخه وو ، د رود په شمالي غاړو یی سنګر ونیوی. افغاني دولتی قواوی د محمد عظیم خان او دده د وړونو په مشري نوښار ته نژدی ځای پر ځای شوی وی.رنجیت سنګ پر قبایلو باندی حمله وکړه او سخت جنګ و نښت. د محمد عظیم خان قواوی ددی پرځای چي تر رود ور واوړي او د قبایلو سره مرسته وکړي ، د تماشاچیانو په توګه یی سیل کاوه .

قبایلیان که څه هم په میراني وجنګیدل او ډیر تلفات یی ورکړل ، مګر ماته یی وخوړل .لدی نه وروسته محمد عظیم خان بیله دی نه چي جنګ ته ورودانګي، د پیښور نه ځان وکیښ اوله هغه ځایه یی د کابل پر خوا پښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپکي کړی. [۱] د محمد عظیم خان ددی ناوړه عمل علت هغه غلط خبر وو چي سردار یار محمد خان ده ته ورکړی وو. هغه ده ته خبر ورکړ چي د رنجیت سنګ لښکرو په مچینی قلعه کي دده پر خزانو هجوم وړی دی. سردار د خپلو شخصي خزانو د ساتلو په نیت چي تل به یی د ځانه سره ګرځولی، د جنګ نه لاس واخیست او میدان یی سیکانو ته پریښود. سردار محمد عظیم خان د پیښور څخه د کابل خواته پر لاري ناروغ سو او په ۳۸ کلني کی یی له دی دنیا نه سترګي پټی کړی چي بی شمیره خزانو یی هیڅ درد دوانه کړ. [۲] دده زوی حبیب الله خان چي یو بی باکه او عیاش ځوان وو ، دده پر ځای کښیناست.

په هر حال دغه جنګ د پیښور راتلونکي سرنوشت وټاکه ، رنجیت سنګ پیښور او اشنغر ونیول او ددی ځای د چارو واګي یی د سردار یارمحمد خا ن او سلطان محمد خان پلاس ورکړی[۳].

محمد عظیم خان د خپل ژوند په وروستیو ورځوکي خپل زوی حبیب الله خان را وغوښت او خپله شتمني یی چي څه باندی دوه میلیونه سکو ته رسیدل ، وده ته وسپارل .دده نه یی دا وعده واخیستل چي دا ټولي پیسی به دده د ماتي خوړلو په غچ اخیستنه باندي لګوي چي د رنجیت سنګ څخه یی خوړلی وه . دی پدی پوهیدی چي زوی یی ددی کار توان او لیاقت نلري نو یی خپل ورور نواب جبار دده د پاره وصي وټاکه . دده تر مرګ وروسته دده عیاش او لیونی ډول زوی هیڅکله هم دده وصیت ته پام وانه ړاوه او تر سره یی نکړ[٤]. د همدغي نیتی نه پیښور د تل لپاره د کابل له واکه ووت (۱۸۲۴م). په (۱۸۲۵م کال) کي د سند میرانو د سردار رحمدل خان په وړاندي ښورښ وکړ او هغه

[۱]- صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر .ج ۱، ۲۳مخ. پښتانه (پټانز)د اولاف کارو اثر،د جنرال شیر محمد کریمي پښتو ژباړه ، ۱۳۷۸ش کال ، پیښور، ۴۴۳-۴۴۲ مخونه .

[۲]-سردارمحمد عظیم خان د لته بند په کوتل کي ومړ(۱۸۲۳م کال).د هغه مړی یی کابل ته راوړ اوپه عاشقان وعارفان مزار کي ښخ سو.

[۳] - غبار، افغانستان درمسیرتاریخ،ج۱، ص ۵۱۲

[٤]-عروج بارکزایی، د ۱۲۸ مخ وروسته، د دپیرس په قول،سردار حبیب الله لیونتوب تر هغه ځایه ورسید چي خپله میرمن ، اولادونه او ټول خپلوان یی د سند رود ته واچول او له منځه یی یووړه ( پیرس،عروج بارکزایی) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبور سو چي کندهار نه ځان وباسي .

پدی توګه د فتح خان تر وژل کیدو وروسته او د هغه د وروڼو د پاڅون په نتیجه کي د درانیانو هغه ویاړلی امپراطوری چي د ابدالي احمد شاه بابا په مټ جوړه شوی وه ، سره وپاشل شوه او له منځه ولاړه .ددی سره سم مرکزي حکومت هم له منځه ولاړ، یوه ناوړه ملوک الطوایفی منځته راغله . هرولایت د سیمه ایزو امیرانو لخوا اداره کیدی چي یوبل ته یی تن نه ورکاوه .پدی وخت کي هرات د سدوزي شاه محمود او کامران پلاس کي و ،د هندوکش شمال خوا بلخ او اړوندي سیمي یی دهم هغي سیمي د امیرانو پلاس کښیوتي .کابل ، غزنی او جلال اباد د امیر دوست محمد خان لاس ته ورغلي او کندهار د کندهاري وروڼو سره پاته سو.

## د سید احمد بریلوی جهاد دپیښور د لاس ته راوړلو پخاطر

د ۱۸۲۰م کال په شاوخوا کي لمړی نظامي دوله مذهبي وهابي غورځنګ د هند د نیمي وچي په شمال لویدیز سرحد کی د مسلمانانو تر منځ د سیکانو پر ضد راوټوکیدی چي مشری یی سید احمد بریلوی ( ۱۸۷۶-۱۸۳۱م ) کول . دسید احمد موخه داوه چي د انګریزانو سره ترجنګ وړاندي باید په شمال لویدیزو سرحدونو کي دپښتنو په منځ کي پایګاوي جوړی سي. بریلوی پدی موخه د عربستان څخه راوګرځیدی. وروسته یی کندهار او کابل ته سفرونه وکړل. سرداران یی د سیکانو پر ضد و جهاد ته راوبلل . داچي ددوی څخه یی هوکړه تر لاسه نکړه نو پخپله یی د قبایلو تر منځ د جهاد د پاره د تبلیغ کار پیل کړ. ده پدی نیت د (جماعت ) په نامه یو ګوند هم جوړ کړ چي د خلکو تر منځ یی تبلیغات کول اصلی موخه وه . ده په دغو تبلیغاتو کي خلګ ووسله وال جهاد ته رابلل. پدی توګه د لومړي ځل د پاره قبایلی مشرانو لخوا پرته د عام ولس نه جهاد اعلان سو.

پدی جهاد سره لومړی وسله وال پاڅون، د رنجیت سنګ او سیکانو په وړاندي په (۱۸۲۷م ) ترسره سو . مګر د یو شمیر خانانو د خیانت له مخي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ د ماتی سر مخامخ شو. دځو نورو جنګونو په ترڅ کي، بریلوی یوځل پدی وتوانیدی چي په (۱۸۳۱م) کي د سیکانو څخه پیښور ونیسي، خو رنجیت سنګ حمله پر وکړه او په جنګ کي سید احمد بریلوي ووژل سو[1].

غلام محمد غبار لیکي : بریلوي په ۱۸۲۲ م د حج په سفر عربستان ته ولاړ. څلورکاله وروسته ډهلي ته راستون او د خلګو د رابللو په موخه یوسفزي قبایلو ته ولاړ . په ۱۸۲۷م کال کی ده وکړای شوه ، په بنګښ ، سوات او تیرا کي د رنجیت سنګ پر ضد خلګ راوپاروي ، مګر دا ښورښ د رنجیت سنګ د قواوو له خوا و ځپل سو. بریلوي« پنجتار » ته وتښتیدی. د رنجیت سنګ قوماندانانو د پیښور د خلګو د مالیاتو کچه لوړه کړه او د لاهور پر خوا وخوځیدل. په ۱۸۲۹م کال کی بریلوی د یوسفزیو، خلیلو او مهمندو قبیلو په مرسته پر سردار محمد سعید خان حمله وکړه . وروسته یی پر سردارسلطان محمد خان باندی هم حمله وکړه ، پیښور یی د سیکانو د واکه وایست، خو سلطان محمد خان یی پریښود. مګر د رنجیت سنګ د زوی شیرسنګ په مشری سیکانو په (۱۸۳۰م ) حمله وکړه . د «هزاره » په جنګ کی یی د بریلوی د نفرو څخه شپږ زر تنه مړه او په پایله کي یی پیښور او اشنغر بیرته ونیول[2].

د پیښور د آزادولو پخاطر ، بریلوي ځوځلی جنګونه وکړل تر څو چي د (۱۳۳۰م ) کال په مني کي یی دا ښار بیرته ونیوی. دوی میاشتي دده په مشری غازیانو دلته د حکومت او مستقل حاکمیت دعوا کول چي د سید احمدشاه عادل په نوم یی د بریلوی پنامه سکه هم نشر کړه . قبالو سره له دی چي په جنګ کي یی دده ملا وتړل ، مګر داچی دی یو هندوستا نی وو ، پښتنو دده مشری ځانته یو ډول توهین او سپکاوی باله ، نو یی د زغم وړنه وو.

دده د بریالیتوب لوی لامل داوو چي ده د کافرو سیکانو څخه د خلګو د نجات په موخه هغوی ته تبلیغ کاوه او را پاڅول یی . د پیر بابا د کورني څخه د سید اکبر پاچا سره دده دوستي او راشه درشه کیدلای سي دده د بریالیتوب یوبل لامل وي ځکه چی یوسفزیوهغه ته ډیر اخلاص درلود او خپل پیرخانه یی ګڼل.

---

[1]-اولیور روی ، اسلا م ونو ګراتي سیاسي در دفغانستان ، ۹۱-۹۰ مخونه
[2]-غبار افغانستان در مسیر تاریخ ، ج ۱، ۵۱۵مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی دواړو یوبل ته صمیمیت او درناوی درلود . ښایی چي دواړه به ښه خلګ وه ، خو ددوی دغي دوستي ترپایه پوری دوام ونه موند .

کله چي بریلوي د جنګي چارو د تنظیمولو د پاره د خلګو څخه د عشر او زکات عوښتنه وکړه، ملکانو او د قبیلو مشرانو چي پدی کارکی یی خپله ګټه نه لیدل نو یی د شکایت ناری پورته شوي. لدی نه وروسته چي کله بریلوی خلګ د نجونو په واده کولو کی د ولور پنامه د پیسو د اخیستلو څخه منع کول او ویل یی چي دا کار د انسان پلورل دي ، هم د مخالفتونو او شکا یتونوسره مخامخ شو، ځکه چي قبایلو دا کار د خپل دود په خلاف ګاڼه . ددوی په نظر ، د ولور د پاره چي هر څومره ډیری پیسي وغوښتلی سی، دا کار په واده کي د نجونو قدراو عزت زیاتوي . د پیسو نه اخیستل یا لږاخیستل یی د خپلو نجونو د پاره سپکاوی باله او د نجلی کورنی ته یی یوه د شرم خبره بلل .

دهمدی کبله په قبایلي پښتنو کي دا اوس هم د ولور اخیستل یو ښه او پر ځای کار بریښي . دلته پر سید احمد بریلوي باندی دا تورونه ولګول شول چي ګویا دی غواړی پدی توګه دخپلو هندوستاني مریدانو د پاره لاره خلاصه کړي تر څو د قبایلو پښتنی نجوني په مجاني ډول ورته واده کړی . ځکه نو خلګو دده څخه مخ واړاوه . بریلوي دا ځل پیښور دیو لړ امتیازونو په بدل کي سردار سلطان محمد خان ته پریښود او په قبایلو کی د (هزاره ) سیمي ته ولاړ. هلته یی د سیکانو پر ضد څو نور جنګونه وکړل. سید احمد بریلوی په (۱۸۳۱م) د سیکانو سره د بالاکوټ په جنګ کي مړ شواو مریدان یی سید اکبر پاچا د سوات په (سیتا کلا ) کی ځای پر ځای کړه او د هري سنګ د حملو څخه یی وژغورل . پخپله سید اکبر پاچا هم د (۱۸۵۷م) کال د می په ۱۱ نیټه په سوات کي وفات سو.[1]

په ( ۱۸۳۴) کي رنجیت سنګ و توانیدی چي پیښور دتل د پاره د افغانستان له خاوري نه بیل کړي او د سند د رود د دواړو غاړو ټولی سیمی په پنجاب پوری وتړي . سردار سلطان محمد خان د سیکانو د مامور په توګه د

---

[1] ـاولف کارو ، پښتانه ، ۵۴۰-۴۵۶، ۴۵۷ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيښور حاکم وټاکل شو. دوست محمد خان دا وخت پر کابل باندی حکمراني کول او په کندهار کی وشاه سجاع ته تر ماتي ورکولو وروسته ، بريالی راګرځيدلي وو . ده د رنجيت سنګ سره د جنګ تکل وکړ چي به راتلونکی فصل کي به يی بشپړه يادونه وشي .

## دبارکزی وړونو تر منځ د هيواد د ولايتونو ويش:

دمحمد عظيم خان تر مړني وروسته ، زوی يی سردار حبيب خان دده ځای ناستی سو. ايوب شاه چی تر اوسه لا پرتخت ناست وو، حبيب الله خان ته يی د رقيب په سترګه وکتل. دوی دواړه يو دبل د له منځه وړلو په فکر کی وه . داهغه وخت دی چی د بارکزو يو شمير وړونه لکه يارمحمد خان او سلطان محمد خان د سيکانو په خدمت کی پر پيښور حکومت کاوه او دوست محمد خان د دوی تر سيوری لاندي هلته شپی تيرولی . کندهاری وړونو بيا د کندهار څخه پر سدوزی واکدارانو باندي په هرات کي حملی کولی خو لايی په مغلوبولو باندی بريالی سوی نه وه .

د حبيب الله خان او ايوب شاه اړيکي نوری هم وراني شوی . ايوب شاه پدی نيت شو چی خپل زورور او شتمن رقيب د خپل زوی شاهزاده اسماعيل پلاس له منځه يوسي، مګرپردل خان پر ښه وخت د کندهاره کابل ته راورسيدی او خبره يی داسی حل کړه چی ايوب شاه يی له تخته ليري او دده زوی اسماعيل يی ووژه . پدی توګه حبيب الله خان په اسانی سره د کابل حکمران وټاکل شو او ورسره سم د هيواد په مرکز کي د سدوزو حاکميت بيخي له منځه ولاړ.

اوس نو د محمدزو د سلطنت د پاره شرايط په بشپړ ډول اماده او هيڅ خنډ شتون نه درلود، ځکه چي دهرات ولايت نه پرته ټول هيواد د بارکزي وړونو پلاس کی وو. سردار پردل خان ددی پر ځای چي په کابل کی د يوه متمرکز سلطنت خښته کښيږدی ، د حبيب الله خان د شتمنيو څخه يی خپله يوه برخه پيسي تر لاسه او پدی يی بسنه وکړه ، بيرته د کندهار پرخوا وخوځيدی . حبيب الله خان په خپلو پيسو سره يوازی عياشی کوله. ده د سرداری او

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمراني وړتیا اصلا نه درلوده . برسیره پردی ده داسي لایق اشخاص لکه نواب جبارخان خپل کاکا او نایب امین الله خان لوګری د اداری چارو څخه لیری کړل . هغه وو چي سرداردوست محمد خان د پیښورنه کابل ته پدی نیت راغی چي دحبیب الله خان قدرت او ثروت دواړه ورنه تر لاسه کړي.

دکاکا او وراره اړیکو ډیري لوړی ژوري ولیدی. په ښکاره یی یو د بل درناوی کاوه خوپه پټه هر یوه دبل د ړندولو او وژلو په فکر کی وو. څو واره یی یو دبل سره شخړي هم وکړی. په پای کي د دوست محمد خان پلویان زیات شول ځکه چي نواب جبار خان او امین الله خان لوګري هم دده پر خوا ودریدل. په هغو شیبو کي پر حبیب الله خان باندی د دوست محمدخان بری حتمی ګڼل کیدی . یووار بیا د حبیب الله خان د ورور سردار اکرم خان د زاریو له مخي پردل خان د کندهار څخه د کابل په سیاسي ډګر کي راښکاره سو. مګربیله دی څخه چي ستونزه حل شي هغه بیرته کندهارته ولاړ. د دوست محمدخان او حبیب الله خان تر منځ ستونزی د ساړه او تاوده جنګ په شکل دوام وموند . هغه وو چي سردار شیردل خان کابل ته راغی . دی تر پردل خان د ستونزو په حل کي جدي او مصمم ښکاریدی. ده غوښته چي د دواړو پر نقشو خط وکاږي او د کابل واک پخپل لاس کي ونیسي . دا کاریی هم وکړ او پدی هڅه کي شو چي حبیب الله خان د کابله تبعید او لوګړ ته یی ولیږي، دوست محمد خان به د غزني ، کوهستان او میدان سیمو د حکومت په ورکولو او یو مقدار پیسو باندي ارام کړي. له دی نه وروسته یی په نیت کي وه چي د ټولو سردارانو یوه جرګه جوړه کړي او هلته فیصله وکړي چی ټول باید پخپلو حکومتونو او جاګریو ( تیول) باندی قناعت وکړي ،یود بل سره شخړي پریږدی او د خارجي حملو په وړاندي یو موټی پاته شي .

دده دا پلان عملي جامه وانه غوستل . دده او دوست محمد خان تر منځ د بالا حصار، شاه شهید ، بیني نیزار او مرنجان په سیمو کي جګړی وشوی. هغه وخت چی د دوی دواړو پلویانو یو بل تر ګریوان نیولي وه ،نور وړونه د نواب محمدزمان په خیمه کی سره را ټول سول ، تر ډیر بحث وروسته یی د پریکړی اخیرۍ خبره نواب صمد خان ته پریښودل . په پای کي یی سردار شیردل خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو بارکزي وړونو د مشر او رییس په توګه وټاکل سو او د پاته وړونو د واک سیمي په لاندی ډول ومنلي شوي :

داچي پیښور د پنځو تنو پیښوری سردارانو لپاره کفایت نه کاوه، نو یار محمد خان او سلطان محمد خان د کابل په حکومت کي شریک سول،عطا محمد خان او سعید محمد خان ته پیښور او اړوندی سیمي ورکړل شوی . دوست محمد خان ته کوهستان ، دده سکني ورور امیر محمد خان ته غزني، نواب جبار خان ته لغمان ، نواب اسد خان ته د دیره جاتو دحکومت پا تی برخي ، شیردل خان ، بردل خان ،کهندل خان او مهردل خان ته په ګډه کندهار او اړوندي سیمي یی ، رحمدل خان ته سند ، د نواب اسد زوی نواب محمد زمان خان ته جلال اباد او په پای کي حبیب الله خان ته د لوګر حکومت وسپارل سو [۱] .

تر دی پریکړی وروسته سردار شیردل خان د کندهار په لور روان او یار محمد خان د کابل حکومت چاري پر غاړه واخیستی. پدی وخت کی سردار عطامحمد خان د پیښور حاکم وفات او یار محمد خان او سلطان محمد خان کابل اداره کاوه . سندیانو بیا ښورښونه پیل کړه . اول رحمدل خان او ورپسی یی شیردل خان د سند پر خوا حرکت وکړ . مخکي لدی چي شیردل خان هلته ورسیږي ، ورور یی د حکومت چاری ویوه افغان یاني د الله داد خان زوی نایب سلطان محمد خان ته وسپارلي او حالات آرا م شول.

شیردل خان چي کله بیرته د کندهار پر خوا روان وو،په لاره کي ناروغ او د محرم میاشتي په (ق۱۲۴۲) (۱۸۲۶م) کي وفات شو. دده مړیني د سند او کابل دواړو حالات ګډوډ کړل. په سند کي سندیانو افغانی حاکم وشاړه او استقلال یی اعلان کړ. په کابل کي دوست محمد خان د سلطان محمد خان حکومت د خپل ځان د محرومیت او همدارنګه په مرکز کي د پیښوری اوکندهاري سردارانو د اغیز د زیاتوالي لامل ګاڼه، ځکه یی نو پرکابل حمله وکړه ، بالاحصار یی ونیوی او سلطان محمدخان یی له هغه ځایه وایستی . لدی نه وروسته ، ددی دپاره چی دشیردل خان سره پخوانی پریکړی هم په پام کی نیولی شوی وی او د وړونو

---

[۱] ـرشتیا،افغانستان در قرن ۱۹، ص ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ دوستانه حالات بیرته منخته راشی ، په ۱۲۴۲ هق کی یی د ولایتونو دویش په اړه یوبل تړون پکار واچاوه . پدی تړون کی د وړونو او وراره ګانو هر یوه دپاره خپل حق وټاکل شو . ددی تړون اصلی نسخه د کابل موزیم د خطی اسنادو په ډله کی ساتل کیږی چی منځپانګه یی په لاندی ډول ده .

## د ۱۲۴۲ هق کال د تړون له مخی دهیواد دولایتونو بیا ویش :

کله چی دوست محمد خان کابل ونیوی نو د کابل حکومت یوار بیا د ټولو بارکزی وړونو د پام وړ وګرځید . ددی دپاره چی دلانورو وینی توئیدنی او مخالفتونو څخه مخنیوی شوی وی ، دوست محمدخان ټول وړونه راوغوښتل څو یوار بیا غونده وکړی ، دهرچا د واک سیمی وټاکی او پدی اړه یو تړون لاسلیک کړی . داتړون په ۱۲۴۲ هق یا ۱۸۲۶ م کی لاسلیک چی بربنسټ یی نواب عبدالصمدخان د کورنۍ مشر وټاکل شو . په تړون کی د وړونو دپاره د دوی دحاکمیت سیمی په لاندی ډول ومنلی شوی :

« دا مهال د ۱۲۴۲ کال د ربیع الاول د میاشتی په لومړی لسیزه ده . تر هغه وروسته چی زموږ وړونو ترمنځ یو لړ شخړی او ناخوالی منځته راغلی او په پایله کی یی سردار دوست محمدخان دکابل دارالسلطنه اشغال کړه ، له همدی کبله موږ ټول وړونه او وراره ګان دسولی او خپلی کورنی دخیر پخاطر سره راټول ، د دولتی چارو دسمون او دخپلی کورنی دبنسټ دټینګښت په موخه مو پریکړه وکړه چی د کوهات او انکو اړوندی سیمی به نواب صمد خان ، پیښور ، هشنغر ، خالصجات او اړوندی سیمی به یارمحمدخان او وړونو ته یی ، کابل ، کوهدامن ، خالصجات او ورسره تړلی سیمی به سرادر دوست محمدخان او دده سکنی ورور سردار امیرمحمدخان ، دغلجییو قومونو ( دکابل شاوخوا سیمی تر لغمان پوری ) مالیات به نواب جبارخان ، دجلال اباد او دلغمان تاجکی سیمی به نواب زمانخان او دده وړونو ته ، د لوګر حکومت ، څرخ ، میدان او غوربند به سردار حبیب الله خان او دده ورور سردار اکرم خان ته او کندهار به کندهاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړونو ته وسپارل شی. »[1]

په ترون کی راغلی دی : « د نوی کال دپیل څخه به سردار دوست خان د نواب عبدالصمدخان په ضمانت د کابل د مالیاتو څخه هرکال یو لک روپی سردار یارمحمد خان ته په میاشتنی قسطونو باندی ورکوی . داچی نواب عبدالصمدخان سپین ږیری او د ټولو وړونو مشر دی ، هغه به د نورو د اصلاح او دکورنی دخیر په موخه د دوست محمدخان سره یوځای په کابل کی اوسیږی . که چیری سردار یارمحمدخان یا سردار سلطان محمدخان یا سردار محمد سعید خان یا سردار پیرمحمدخان او یا ددوی اړوند کسان په هغو سیمو کی چی و سردار عبدالصمدخان ته ځانګړی شوی دی ، لاسوهنه وکړی ، یا داچی سردار دوست محمدخان هڅه وکړی د سردار یارمحمدخان اړوند کسان په ښکاره یا پټ ډول و دی ته وهڅوی چی دده څخه مخ واړوی یا یی په مال کی لاسوهنه وکړی ، نو د عهد ماتونکی په توګه به د خدای او رسول ، ټولو وړونو او وراره ګانو دښمن وګڼل سی ، وړونه او وراره ګان به یی په وړاندی و دریږی او هر څوک چی یی په وړاندی نه دریږی ، هغه به هم دخدای او رسول دښمن وی . د نوموړو یو لک روپو په اړه باید دا هم وویل شی چی دوست محمد خان دا خبره منلی څو داپیسی به په میاشتنی قسطونو سره و سردار یارمحمدخان ته پر ټاکلی وخت رسوی . که دا کار ونکړی نو دی به عهد ماتونکی ، د خدای او رسول او ټولو وړونو دښمن وی او ټوله وړونه باید دښمنی ورسره وکړی او که څوک دښمنی ورسره ونکړی نو هغه به هم د خدای او رسول دښمن وی . که چیری کندهاری وړونه دغه ترون او دسیمو منل شوی ویش و نه منی او یا له هغه څخه تیری وکړی ، ټوله وړونه به په ګډه د کندهاری وړونو په وړاندی دریږی او دښمنی به ورسره کوی . که چیری سردار یارمحمدخان وغواړی خپلو نوکرانو او اړوندو کسان ته چی په کابل کی اوسیږی ، دده پرځمکو باندی د کار له کبله تنخواه ورکړی ، د هم هغو یو لک روپیو په حساب یی ورکولای شی . که چیری زموږ د وړونو یا وراره ګانو له ډلی نه کوم څوک پدغه ترون کی دټاکل شوی

---

[1] ـ کهزاد، در زوایای تاریخ معاصر افغانستان، ص ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویش څخه تیری وکړی یا یی و نه منی ، دخدای په لعنت دی ککړ او درسول د نفرت لامل دی وګرځی ، د جناب مصطفی د دین څخه دی بیګانه ، کافر مطلق او په څلور مذهبه دی نامسلمان وی . موږ ټول وړونه او وراره ګان ددغه تړون پر بنسټ یو دبل سره دوستان او هغه دښمنی او ناخوالی چی لدی نه مخکی زموږ تر منځ را پیدا شوی وی ، پسله دی نه موږ ورڅخه تیر او نور یو دبل سره په دوستی او صمیمیت کی ژوند کوو . دا څو کلمی د تړون په توګه په قلم سره ولیکلی شوی . ربیع الثانی سنهٔ ۱۲٤۲هجری قمری[۱] »

څرنګه چی لیدل کیږی د دی تړون اصلی هدف اوموخه د دوست محمدخان او د پیښوری سردارانو ترمنځ بیرته اعتماد راژوندی کول دی. دا تړون وسردار دوست محمدخان دومره موقع په برخه کړه چی بالاخره دخپل امارت او د محمدزو سلطنت په کابل کی اعلان کړی.

بله خبره داچی ، امیر دوست محمدخان د ۱۸۱۸ ــ ۱۸۲۶ م پوری په کابل اوشاوخوا سیمو کی یی خپل اغیز په کرار کرار دومره زیات کړ چی دخبل امارت د اعلانولو دپاره یی لاره په ښه توګه پرانیستل . ده ددی دپاره چی هم یی ځان پاچا اعلان کړی وی او هم یی خپل کندهاری او پیښوری وړونه ځان ته په قهر کړی نه وی ، په ۱۸۳۶م کال یی د دینی علماوو په فتوا سره د پیښور دبیرته نیولو په موخه د سیکانو په وړاندی د جهاد ناره پورته کړه . دا پدی خاطر وو چی د فتوا د انفاذ دپاره د امیرالمومنین پرمقام باندی د امیرالمومنین شتون اړین وو . ده ځانته دا مقام ظاهرا د جهاد د فتوا اخیستلو پخاطر وټاکه او نورو وړونو ته چی پر دی مقام باندی یی دی مستحق نه ګاڼه ، داسی وښودل چی دخپل ځان د پاره یی دا کار نه دی کړی . ددی سره سم د یوشمیر کسانو په بدرګه پر آس باندی سپور، په سیاه سنګ کی د عیدګاه مسجد ته ورغی . د مرحوم میرواعظ زوی میرحاجی چی دښار یو ډیر متنفذ سړی وو، د اوربشو وږی یی دشاهی جیغی ( تاج ) په توګه دده پر لنګوته کښیښوده او د امارت خطبه یی قرائت کړه .حاضرو کسانو یو موټ پیسی دده پر سر وپاشلی او دتاج

[۱]- کهزاد، در زوایای تاریخ معاصر افغانستان، ص ۲۵ -۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایښودلو مراسم د توپ دفیر پرته په ډیر ساده ډول تر سره شول .

امیر دوست محمد به عزم جنگ و جهاد
کمر به بست و بزد سکه ناصرش حق باد

د دوست محمد خان دلومړی ځل ( ۱۸۲۶ م ـ ۱۸۳۹م ) په امارت کی د کابل دسلطنت قلمرو د هندوکش څخه تر غزنی او زرمت او دبامیان څخه دخیبر تر غرونو پوری پراختیا درلوده . پدغه وړوکی قلمرو کی د امیر دوست محمدخان زامنو حکمرانی کول او هغه پدی توګه وه : سردار محمد افضل خان په زرمت کی ، سردار محمداکبرخان په جلال اباد کی ، سردار محمد اکرم خان په بامیان او بهسودو کی او سردار غلام حیدرخان په غزنی کی، د دوست محمدخان دسکنی ورور امیرمحمدخان زوی سردارشمس الدین خان په کوهستان کی حکومت کاوه . ددغو ټولو سیمو مالیات په ګډه تر ۲۵ لکو روپیو نه زیاتیدل .

دهیواد په نورو سیمو کی حالات راز راز وه : په کندهار کی سردار کهندلخان او سردار مهردلخان ، په هرات کی سدوزی شاهزاده کامران د خپل زورور وزیر یارمحمدخان الکوزی سره حکومت کاوه . د هندوکش په شمال کی میرمرادبیګ ازبک د کندز څخه پراخی سیمی اداره کولی . ده دخپل زوی شاه مرادخان په مت پربدخشان او تالقان او دخپل ورور محمودبیګ لخوا یی پریوشمیر شمال لودیزو سیمو لکه فاریاب او جوزجان باندی حکومت چلاوه.[1]

[1]ـ کهزاد ، بالاحصار کابل و پیشامد های تاریخی . ج ۱ ، ص ۲۲۲ ـ ۲۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم فصل

## ( دنوزادی ژباړه )

## کندهاري سرداران او دهغوی د حاکمیت سیمي

درشل :

ما پنج برادران کـه ازیک پشتیم
دردست زمانه همچوپنج انگشتیم
چــون فرد شویم درنظرهاعلمیم
چون جمع شویم بردهانـها مشتیم[1]

دسردار پاینده خان د شلو زامنو له ډلي نه پنځه تنه د غلجي ( هوتک ) مور نه زیږیدلي وه لکه شیردل خان ،پردل خان ،مهردل خان ،کهندل خان او رحمدل خان . داچي دوي په کندهار کي سره راټول وه ، د اغیز سیمي یی د ارغنداب ، ترنک او هلمند د رود څنډی وی ، ځکه نو په تاریخ کي د «کندهاري سردارانو» پنامه یاد سویدی . ددغه نوم له کبله ، دوی د یوی بلي ډلی ناسکه وږونو څخه چي د اغیز سیمه یی پیښنور وو او د «پیښنوری سردارانو» پنامه یادیدل ، جلا کیدل.

پدی کي شک نسته چي د ۱۹پیړۍ په افغانستان کي د با رکزي وږونو لوړتیا او پرمختګ په ټولیز(کلي) ډول یوه د پام وړموضوع ده. دا هغه وخت دی

---

[1]- سراج التواریخ، ۲جلدد ۲۰مخ وروسته؛ بنایی دا څلوریځه به د سردار مهردل خان (مشرقی) وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي واکمني د یوی کورنی(سدوزیانو)څخه وبلي کورني(محمدزیانو) ته په کرار کرار لیږدول کیده ، هیواد یی د بهر او دننه څخه په ژورو او اوږدوستونزو اخته کړ. ددغو ناوړو ستونزوله مخي په هیواد کي ملوک الطوایفی منځته راغله، ختیځ، جنوبی او جنوب لویدیز ولایتونه یو دبل څخه بیل شوه.

یود ډیرو په زړه پوري اثار وڅخه چي پدی وروستیوکي دیوه هڅاند کندهاري ځیرونکي محمد معصوم هوتک په قلم په ۲۶۸مخونوکي لیکل شوی او د علامه رشاد د خپرندویه مرکزلخوا چاپ سویدی د « کندهاري وړونو» پنامه یادیږي. پدغه کتاب کي د پنځو وړونو د هر یوه شجره په څو جدولونو کي راوړل سویده . د دی سردارانو و کارنامو ته په لاندي کرښوکي پام اړول کیږي:

## د کندهاري سردارانو د اغیز (نفوذ ) سیمه:

تر هغه وروسته چي وزیر فتح خان په هرات کي د کامران پلاس ړوند شو (۱۸۱۸م)، شیردل خان او پردل خان دهرات نه پښی سپکی او وتښتیدل. ځانونه یی خپلو قومونوته په ګرشک کي راورسول او د فتح خان د غچ اخیستني په موخه یی د خپل قوم او نورو خواخوږو له منځ نه جنګیالي راټول کړل. ډیر ژر یی د شاه محمود د نایب الحکومه کل محمد خان پوپلزي دلاسه کندهار وایست. دهمدغي نیتی څخه په کندهار او د هغه په اړوندو سیمو کی دکندهاري سردارانو اغیز مخ په زیاتیدو شو. او د واک چاري د سردار شیردل خان پلاس ورغلی[1]. داهغه وخت دی چي یو شمیر نورو بارکزي وړونو لکه سردارمحمد عظیم خان اوسردار دوست محمد خان د ختیځ له خوا دکشمیر څخه پاڅون پیل کړی وو.،کابل یی د سدوزي شاه محمود له واکه وکیښ اوهغه یی دهرات په لور و تیښتي ته اړ کړ. پدی توګه کابل او ختیځ ولایتونه د دوی پلاس ورغلل.

شیردل خان د کندهار تر نیولو وروسته خپل وتلي جنګیالی کسان ونازول ،هغوی ته یی سوغاتونه اومقامونه وسپارل. له دی ډلي نه یو هم میرداد خان

---

[1] ـسراج التواریخ،چاپ ۱۳۳۱-۱۳۳۳هق،ج۱، ص۱٤۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



بارکزی ووچې په جنګ کی یی توره کړی وه د«ایشیک اقاسې»مقام ورته ورکړه شو[1].

دی د لویناب شیردل خان بارکزي پلار وو چې کورنی یی د امیر دوست محمد خان او امیر شیرعلي خان ددولت په ټینګولو کي ډېر خدمتونه او سر ښندنی کړی وی. پدی اړه به وروسته بشپړه یادونه وشي.

په ۱۸۲۲م (۱۳۳۸هجری)کی شاهزاده کامران پر فراه حمله وکړه ، هغه یی ونیوله او پر کندهار باندي د برید په لټه کي شو. شیردل خان ددی خبر په تر لاسه کولو سره دیوشمیر مشرانو په ګډون لکه عبد الله خان اڅکزی، تاج محمد خان بارکزی، نایب ملا مومن خان غلجی، رمضان خان هوتک، هوت خان غلجی، یونس خان بارکزی، میرزا احمد خان عمله باشي او نورو په ګډون دری زره تنه سپاره زره پوښ او ۱۵۰۰ پیاده د ۷میله توپونو سره فراه د بیرته نیولو په موخه ولیږل . کامران هرات ته وتښتید او خپل زوی سلطانعلي یی په فراه کي پریښود. ده هم د مقابلی توان په ځان کي ونه لید او هرات ته یی پښی سپکی کړی. شیردل خان چې د خپلو لښکرو په مخ کي روان وو، دفراه ښار یی بیله جنګه ونیوی. دفراه خانان او مشران ورته راغلل ، اطاعت یی وکړ او مالیات یی ورکړل.

کندهاري وړونه پخپلو کی جرګه شول، ځینو وړاندیز وکړ چی په فراه کی یو حاکم وټاکي اوبیرته کندهارته وګرځي. مګر شیردل خان فکر کاوه چی د فتح خان د غچ اخیستلو د پاره همدا ښه فرصت دی څو د کامران غوړونه تاوسي. نورو وړونو او خانانو دده د نظر تایید وکړاو د هرات په لور وخوځیدل.

دبلي لوري د هرات خانان اومشران چې د کامران شاه او دده د زوی شاهزاده جهانګیرد بی باکیو او ظلم څخه تر سرمو راغلي وه ، جهانګیر یی د ښاره وایست او پرځای یی حاجي فیروزالدین د هرات حاکم وټاکه. کله چې کامران د فراه څخه په تښته هرات ته ورغی ، هغه ته یی د ننوتلو اجازه ورنه کړه. کامران څه موده په شاهي باغ کي پاته سواوکله چې د کندهار دلښکر په

---

[1] ـمعصوم هوتک، کندهاری ورونه، ضمیمه اخیرکتاب ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راروانيدو خبرشو، ډير په تشويش کي ولويد. ده شمان اخوندزاده د شيردل خان خوا ته د منځګړيتوب په خاطر وليږه، اخوندزاده د فرا ه په خاک سفيد کی شيردل خان ته ورسيدی، دسولی وړانديز يی وکړ او ياده يی کړه چي کامران حاضردی د فراه کلا ودوی ته پريږدی، پدی هکله سوګند وخوري، سل زره روپي ددوی د لښکر لګښتونه د(نعل اسپ) پنامه ورته ورکړي اوددی نه برسيره خپل يو زوی هم هغوی ته د يرغمل په توګه پلاس ورکړي. پدی ډول يی غوښته چي يو سولي قرارداد لاسليک سي څوله مخي يی پسله دی نه ددښمنی نه لاس واخيستل سي.

کندهاري وړونو ورته وويل چي وزير فتح خان او موږ ټولو وړونو دده د کورني په خدمت کی دهيڅ ډول سر ښندونو څخه ځان نه وو سپمولي، مګر دوی څه ورسره وکړه ؟ ددی ټولو خدمتونو په بدل کي دوی وزيرفتح خان ړوند او په وحشيانه ډول وواژه. ددی ټولوسره سره دکامران پر وعدو باندی باورکول بيځايه کار او يوازی توره ده چي د جنګ په ډګرکي به پدی هکله پريکړه وکړي. شمان اخوند زاده وهرات ته تر راګرځيدو وروسته کامران د حال نه خبر کړ،هغه ډيروارخطا دلاښ او جوين دقلعه په لور وتښتيدی. دهرات خانانو او قومي مشرانو پخپل وار وکندهاري سردارانو ته وړانديز وکړ چي سردار کهندل خان په هرات کي پريږدي، دهرات ټول ماليات به څلور برخي سی ، دوی برخی يی و فيروزالدين شاه، دريمه برخه به يی په هرات کي اميرانو او څلورمه برخه به يی وکهندل خان ته ورکړل شي . کندهاری سرادارانو دا وړانديز ونه مانه او تصميم يی ونيوی څو د جنګ د لاری هرات ونيسي[۱].

کله چي کندهاری سرداران اسفزارته ورسيدل، د بنيادبيګ هزاره لخوا شيردل خان يود ښه راغلاست ليک تر لاسه کړ.هلته ظاهراً ده دهرات په نيولو کي خپل د ملاتړ وعدی ورکړی وی، خوپه پټه يی نوري موخي درلودی چي تر لاسه يی نه کړای شوی. ده داهڅه هم کړی وه چي د هرات خانانو سره پټی اړيکي پدی هکله ونيسي،مګر هغوی ورته ويلي وه چی موږ ستا پر وعدو باور

---

[۱] ـ ميرزا عطا محمد ښکارپوري،نوای معارک ص۶۱-۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای نشو. بنیادبیګ بله چاره ونه لیدل بیله دی چي د کندهاریانو سره یوځای شی.

هغه وو چي په میرداود کي د هغوی مخ ته ورغی او ورسره یوځای شو. دده لښکرو په (پل مالان) کي سنګر ونیوی او د کندهار لښکري دهرات کلا په ختیځ کی ددوی په نیم فرسنګ واټن کي ځای پرځای شول. حاجي خان کاکړی ته یی دنده وسپارل، څود ښار د ځنډوځخه خلک په جنګ کي د مرستي د پاره راوبولي. وروسته یی د شپی په تیارو کي دښار د هري دروازی په وړاندي دتوپک دیوه فیر په واټن د مراقبت برجونه جوړکړل چي ددغو ځایونو څخه وهرات ته د ښاریانود ننوتلو او وتلو مخه ونیسي.

دهرات ښار په دی توګه د کندهاریانو لخوا ۴۰-۵۰ورځي محاصره پاته شو، دشپی پر مهال به کله ناکله تیت او پرک جنګونه هم د دواړو خواوو ترمنځ سرته رسیدل . پدی وخت کي دمحمود خان کوهي پنامه یوه خان کندهاري سردارانو ته یوپیغام ولیږه او ورته ویلی یی وه چي که چیري دوی بنیادبیګ ونیسي او دوی ته یی وسپاري، دی به هم د ښار د دروازو کلی دوی ته ورکړي. نوموړي خان همدارنګه د کندهاري سردارانو په ویاړ یوه میلمستیا جوړه کړه اوغوښته یی چي پدی توګه دوی ونیسي، مګر شیردل ددوی ددی نیت نه خبر او د ۵۰۰ تنو جنګ ازمایلوعسکروسره وهغی میلمستیا ته د ګډون د پاره ولاړ. ده ځان د هری غیر منتظره پیښی دپاره تیار کړی وو. کوهي ونه کړای شوه چي خپله نقشه عملي کړي، نو یی خپل کسان ولیږي سیموته دقوتونو د راټولولو په خاطر ولیږل.

کندهاری سرداران ددی د پاره چي غافلګیر نشي، خپل توپونه یی د تخت سفر څخه د میر داود خواته ترشاه کړل، اوپر ښار باندی یی د حملی تیاری ونیو. پدی وخت د کندهار څخه خبر راورسیدی چي سمندرخان بامیزی او ګل محمد خان پوپلزی کندهار محاصره کړی، که ډیر ژرمرسته ور ته راونه رسیږي نو دا امکان سته چي کندهار ددښمنانو په لاس ورسي. ددی خبر په اوریدو سره شیردلخان مجبور شو هرڅه ژر کندهارته ځان ورسوي. کندهاري اردو د شیندنډ و اسفزار ته په رسیدو خبر شول چي د کامرانشاه زوی سلطانعلي و اسفزارته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلي، قوتونه یی ټول کړي، غواړی چي هرات ته ولاړشي اوپردوی حمله وکړي.داچي دلته یی د مقابلی توان په ځان کی ونه لید، دشاوخوا غرونوته وتښتیدل. شیردل خان ددی خبرپه اوریدو سره یو بلد سړی ورسره واخیست او دشپی یی سلطانعلي تعقیب کړ. ډیر ژرپی دوی په یوه دره کي په خوب ویده پیداکړه اوسخته حمله یی ورباندي وکړه. سلطانعلي د ډیری وارخطایی نه لوڅي پښی په غره کي په تښته سو، په لویدو او پورته کیدو سره تر هغه ځایه ورسیدی چی نورنو د تلو لاره نه وه. ده ولیدل چي د شیردل خان دعسکرو تر تعقیب لاندی دی او نیولوته یی ډیر وخت ندی پاته، د مجبوری نه دی اړسوچي فریادونه یی پورته کړی ، دخپل ځان د ژغورلو پخاطر قرانکریم یی شفیع کړ. شیردلخان د قران مجید د دررناوي پخاطر دده دنیولو څخه تیرسو ، خودده ټول مالونه یی تر لاسه کړه، ښارته را وګرځیدی او دا مالونه یی دخپلو کسانو تر منځ وویشل. وروسته دفراه پرخوا روان شو. دفراه د رود څخه د تیریدو پر وخت یی آب بازان وګمارل چی هغه څو کڅوړي پیسی پیدا کړي چی هرات ته د تلو پر وخت ورڅخه په فراه رود کي لویدلی وی. هغه پیسی یی پیداکړی او مخ پر کندهار رهي سول . کندهارته ددوی په رارسیدو سره دکندهار محاصره ماته اوکندهار وژغورل شو[1].

## دکابل په چاروکی دکندهاري سردارانو لاسوهنه:

هغه بی شمیره شتمني چي سردار محمدعظیم خان خپل زوی سردار حبیب الله خان ته په میراث پریښی وو،اود کابل په بالاحصار کي ساتل کیده، هم یی دکندهاري سردارانو ، هم یی د پیښوري سردارانو اوهم یی د کابلي سردارانو او په ځانګړي توګه ددوست محمد خان پام د کابل خواته اړولی وو.له دوی نه پرته ایوبشاه او زوی یی شهزاده اسماعیل هم دی شتمنیوته سترګی نیولی وی څودخپل قدرت په ټینګولو کي هغه وکاروي.

په کندهارکي دهغو پیښو له مخي چي یادي موکړی، کندهاري وړونه د

---

[1] ـنوای معارک،ص۶۱-۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرات په نیولو ونه توانیدل اوبیرته کندهارته راوگرځیدل. پیښوری سردارانو لکه سلطان محمدخان او یار محمدخان د رنجیت سیگ لخوا په پیښورکی حکومت کاوه. سردار حبیب الله خان او ایوبشاه هر یوه د کابل واکمنی ته ځان تر نورو مستحق گاڼه او یو دبل پرضد یی ددښمنی څخه لاس نه اخیست. کندهاری وړونه هم لاس تر زني نه وه ناست او د فرصت انتظاریی کیښ. هغه وو چی دسردار حبیب الله خان په غوښتنه پردلخان دخپل وررور مهردل خان سره کابل ته راغلل. دایوبشاه زوی شهزاده اسماعیل چي لاسونه یی د سلطانعلی په وینوهم لړلي وه، پلاریی یو په بل پسی تحریکاوه څو د پردلخان تر رسیدو د مخه د حبیب الله خان سر ور پریکړي او شتمني یی ترلاسه کړي[1].

پردلخان کابل ته په رارسیدو سره، سمدستي دایوبشاه سره د لیدو غوښتنه وکړه او شاه دده غوښتنه پدی شرط ومنل چي یوازی به راځی اوبل څوک به ورسره ملگری نه وي. کله چي د بالاحصار دروازه پرانیستل شوه، دپردلخان یوشمیر ساتونکي هم ورسره ننوتل اود (محله عربها) پنامه ځای یی اشغال کړ. د شاه د اوسیدلو په ځای کي هم د دروازی په خلاصیدو سره همداکار ترسره شواو پردلخان دشاه دربارته هم د دخپل ساتونکوسره یوځای ننوت. ایوبشاه او زوی یی هرکلي ته انتظارکیښ. ددوی تر منځ عادي خبري په لوړ ږغ پیل شوی. دسردارانو او ورسره کسانو ترمنځ ځینواشارو پلار او زوی لا نورشکمن کړل. داچي دوی دهري پیښي د پاره پوره تیاری نیولی وو، سمدستي شهزاده اسماعیل د خپل توپک میل د سردارپردلخان پرسینه برابر کړ. سردارپردلخان په چټکی سره دده دتوپک میل پربلی خوا ټیله کړ چي له کبله یی دپذیرائی سالون په یوه قتلگاه واوښت. دیوه بل ساتونکو دفیر له کبله د سردارانو یوساتونکی مړاو یو زخمي شو. حالات گډوډ شول اوسرداراو ساتونکی پرشاه او شهزاده حمله وکړه. اسماعیل ځای پرځای مړ اوپلار یی اسیر،او دبالاحصار په زندان کي پریوت. ده ته یی ډول ډول شکنجی ورکړي ترڅو یولک روپی پردلخان ته ور کړه اوخپل آزادی ورڅخه ترلاسه کړ.

[1] - الایس پریس،عروج بارکزی، ص۱۲۹-۱۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته د حاجي علي پنامه یوه نفر په بدلو جاموکي، هغه د بالاحصار دمحبس نه وقلعه وزیر ته بوت. وروسته د نواب محمد زمانخان په مرسته وپنجاب ته ورسیدی. پدی کارسره دسدوزو دکورني اخیری څراغ د پردلخان په لاس مړسو[۱].

دا خو تر لمر سپینه ده چي دسدوزیو د سلطنت پای ، دکابل وتخت ته د رسیدو په خاطر محمدزو ته لاره خلاصه کړه . مګر که داکار هرڅه ژرترسره شوی وای ، دهیواد په ګټه تمامیدی. له بده مرغه پردلخان ددی پرځای چي د هیواد عمومي ګټي په پام کي ونیسي اوپه کابل کي دیوه متمرکز سلطنت بنسټ کښیږدي، دسردارمحمد عظیم خان دښتمنیو څخه د خپلی یوی برخي په اخیستلو بسنه وکړه، حبیب الله خان یی د ایوبشاه پرځای کښیناوه، بیله دی نه چي د سلطنت ستونزه حل کړي، د کندهار پر خوا وخوځیدی او په لوی لاس یی د ملوک الطوایفی دپاره لار خلاصه کړه.

حبیب الله خان چي کله میدان خالي ولید،تر وسه وسه یی د ایوبشاه ماموران دکاره وایستل او خپل شخصي اندیوالان یی پرځای ورته وټاکل. ان داچي نواب جبارخان او امین الله خان لوګری چي یوه اوکاردان اوازمایل شوی کسان وه هم یی دځانه لیری کړل. دپلاره څخه ورپاته دبی شمیره شتمنیوپه مټ حبیب الله خان وعیاشیوته او بی باکیو ته ملاوتړل. خودی کار ډیر دوا م ونه موند. دوست محمد خان چي دده د پلار سره یی هم دکابل پخاطر جنګونه کړی وه، دیوه زورور رقیب په توګه سر راپورته کړ. دی دا وخت چی په پیښنورکي د خپل یوه واړه جاګیر سره اوسیدی، دکابل د مساعد حالت نه یی ګټه پورته او را روان شو. حبیب الله خان د ده د را رسیدو ښه هرکلی وکړ، مګر دلومړی سرنه دا معلومه وه چي هریو خپلی نقشی په سرونوکي لري. ډیرژر د دوست محمدخان پرشا وخوا یو زیات شمیر پلویان راټول شوه. حبیب الله خان تصمیم ونیوچي هغه ونیسي اوړوند یی کړي. کله چي دوست محمد خان د بالاحصار تالار ته ننوتی، حاجي خان کاکړی خپلي ګوتي پرخپلو سترګو کښیښودی او پدی

---

[۱] - عروج بارکزی، ص ۱۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښه اشاره سره يې دی د حاله خبر کړ. دوست محمدخان چې په اصلي موضوع خبر شو، لمړی کوهستان او بيا د هغه ځايه غزنی ته ولاړ اود هغه ځايه يی پرکابل بريدونه پيل کړل[1].

دا دوه رقيبان چې کاکا او وراره وو، ځوځلی يی دجنګ په ميدان کې ديوبل و وژلوته ور ودانګل، ترڅو چې د ځينو مقتدرو کسانو په ملاتړ لکه نواب جبارخان او امين الله خان لوګري، ددوست محمد خان پله درنه شوه. په همدی وخت کي د حبيب الله خان او دده د ورور اکرم خان په غوښتنه دکندهار څخه سردار شيردل خان دکابل و سياسی ميدان ته رانئوت.

شيردل خان د جدی تصميمونوسره کابل ته راغلی وو. ده غوښته چې دواړه رقيبان د ميدانه وباسي اودکابل واکمني پخپله ترلاسه کړي. طبيعی ده چې د هيواد په دغه څپڅپانده حالت کي دده نقشه د هيواد په ګټه وه، ځکه چې ده غوښته هر ورور ته خپله برخه ورسيږي، د دښمنيو څخه لاس واخيستل شي او د خارجي تهديدونو په وړاندي د هيواد توان زيات شي.

تر سردار محمدعظيم خان وروسته، شيردلخان تر ټولو نورو وړونو باتوره ، هوښياراو مدبر سړی وو. کله چې يی وليدل چی حبيب الله خان او دوست محمد خان دواړه د اصلاح وړتيا نلري، لمړی يی دواړه په بالاحصار کي وزندان ته واچول او وروسته يی دواړه را خوشي کړه. حبيب الله خان يی د خپل ماما خداينظرخان په ضمانت لوګرته وليږه او دوست محمد خان ته يی د محمدعظيم خان دشتمنيو څخه يولک روپی ورکړی، دکوهستان، غزني او ميدان حکومت يی ورته وسپارل او هغه يی پدی کارسره خوښ کړ. ددی سره سره ستونزی په بشپړه توګه حل نشوی. لکه څنګه چي مخکي ياده شوه، دده او دوست محمد خان تر منځ يو لړ شخړی منځ ته راغلی. هغه وو چی دنواب محمد زمان خان د پريکړي له مخي سردار شيردلخان د ټولو بارکزی وړونو مشر ومنل شو او د هري دلي سکني وړونو دپاره ددوی دحاکميت سيمی وټاکلي شوی. لدی نه وروسته سردار شيردلخان بيرته د کندهار پرخوا روان شو.

---

[1] ـ کهزاد،رجال ورويدادهای تاريخي افغانستان، نشرشده دررسانۀ نی اګست ۲۰۰٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرکندهار باندی دشاه شجاع حمله اودکندهاری وړونو دفاع:

کندهاري سردارانو د سردار محمد عظیم خان تر مړیني او د سردار حبیب الله خان د ځایناستي کیدو وروسته، لکه څنګه چي یادونه وشوه، دکابل په چاروکي هم ځان وردننه کړ. لومړی پردلخان اومهردلخان اوبیا پخپله شیردلخان دکابل په سیاسي ډګر کي راښکاره اودیوه تړون له مخي یی دهر ورور د پاره دهغه د سکني وړونو سره ددوی د واک سیمی و ټاکلی. په پای کي دوست محمدخان پدی وتوانیدی څو دکابل سلطنت د ځان د پاره خوندی کړی(۱۸۲۶م).

داچي د دوست محمدخان امارت د سردار شیردلخان لارنقشه ګډوډه کوله، ترهر څه دمخه کندهاري وړونه ورته په قهر شول او پردلخان د خپلو قواوو سره دکابل پرخوا وخوځیدی. دی دغزني تر قره باغه پوري رارسیدلی وو، چي دوست محمدخان یی مخامخ کیدوته را روان شو. پدی وخت کي د وبا ناروغی د دواړو خواوو په عسکروکی په چټکي سره مخ ته ولاړه چي له مخی یی دواړو وړونو د جنګ نه لاس واخیست. پردلخان ودی ته اړسو چي په کابل، غزني او کوهستان کي ددوست محمد خان واکمني په رسمیت سره ومنی [1].

دامهال د دوست محمد خان لومړنی هیله هم داوه چي کندهاری او پیښوري وړونه یی دده د حکومت سیمی ومني او د تجاوز څخه لاس واخلي. دوست محمد خان د خپل واک د ټینګښت او پراختیا د پاره هلي ځلی کولی. ده غوښته چي دیوی خوا تر زرمت او بنګښ پوري اود بلی خوانه ترتګاو، بالاباغ او جلال اباد پوری سیمي تر خپل واک لاندي راولي. لومړی یادی سیمی یی دخپل وزیر حاجی خان کاکړي په مرسته او دوهمي سیمی یی د نواب جبارخان په مټ دځان تابع کړي اود بالاباغ حاکم یی تر باج لاندی راوست[2].

پدی ترخ کي ددوست محمدخان دوه وړونه لکه یارمحمدخان په پیښوراو پردل خان په کندهارکي دیوه کال په واټن یو په بل پسي وفات او په حق و

[1] - عروج بارکزی ،ص۱۲۴-۱۲۳
[2] - عروج بارکزی ،ص۱۲۴-۱۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسیدل (۱۲۴۴هجری، ۱۸۲۹م) او (۱۲۴۵هجری ، ۱۸۳۰م). پدی توګه دده د واک سیمه پراخه اووړونه یی په ختیځ کی د رنجیت سنګ او لودیز کي دکامران تر تهدید لاندی راغلل. لدی نه وروسته ، ده څو کاله نسبتاً په ارامۍ کی تیر کړل، تر څوچي په (۱۲۴۸ ق/ ۱۸۳۲م) کی شاه شجاع یی پر کندهار لښکر مارش کړ.

په (۱۲۴۸هجری،۱۸۳۲م)کي شاه شجاع دکابل د تخت د لاسته راویستلو په موخه د رنجیت سنګ سره خبری اتری پیل کړی. دیوه تړون له مخي یی هغه ته وعده ورکړه چي پیښوربه په ۱۸۳۳م کي ده ته سپاري. ددی سره سم یی پرسند باندی برید وکړ،هغه یی ونیوی او دسند دمیرانو څخه یی مالیات ترلاسه کړه، وروسته یی د معصوم هوتک دلیکني له مخي د (۱۲۵۰هجري) کال د محرم په میاشت (۱۲۳۴م) بارکزي وړونه په کندهارکي قلعه بند کړه[1].

میرغلام محمد غبار د شاه شجاع د عسکرو شمیر ۲۲زره تنه ښودلی دی[2]. د(نوای معارک) لیکونکی بیا وایی چي دا شمیر تر ۷۰زروتنوپوري رسیدی چي د انګریزی افسرانو د خوا سوق اواداره کیدل. دوی په نیغه پر کندهار حمله وکړه او په زاړه ښارکي یی سنګر ونیوی. کندهاری وړونو جنګ او مقاومت ته دوام ورکړ اودسردار دوست محمد خان څخه یی مرسته و غوښته. دوست محمدخان پوهیدی چي د کندهار وروسته دده نوبت دی، ځکه یی نو د کهندلخان د غوښتني پرته هم د خطر د مخنیوی دپاره تیاری ونیوی . ده د وړونو او وراره ګانو د اطمینان په خاطر یوه لویه غونډه راوغوښتل. دپیښور حاکم سردارسلطان محمدخان او د جلال اباد حکمران نواب محمدزمانخان یی هم پدی جرګه کي د ګډون دپاره کابل ته را و بلل. دوی دواړو بهانی وکړی اوخپل زامن یی وجرګی ته راولیږل. په پایله کي دوست ماحمدخان ددی پرځای چي د کندهار پرخوا وخوځیږي د جلال اباد پرخوا یی عسکر مارش کړل. دخپل زوی محمداکبرخان په مټ یی نواب محمد زامانخان ونیوی او کابل ته یی راوست.

[1] ـ معصوم هوتک،کندهاري وړونه ،ص۶۷
[2] ـ غبار ،افغانستان درمسیر تاریخ ص۵۱۶،فرهنګ ۱ج،ص۲۳۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال اباد یی په کابل پوري وتړی. خپل ورورسردار امیرمحمد خان یی د جلال اباد حکمران وټاکه، محمدزمانخان ته یی دکاله۱۵۰زره روپی دجاګیر پنامه امتیاز ورکړ او بیرته کابل ته راستون شو ترڅود شاه شجاع د مخنیوي دپاره کندهارته ولاړشي[1] .

کهندلخان، رحمدلخان او مهردلخان نژدی دوی میاشتي په نوي ښار کي قلعه بند وه ترڅوچي د (۱۸۳۴م)په جولای کي ددوست محمد خان قوتونه کندهارته ننوتل . دشاه شجاع قوتونه ددی ویری چي ددوي پرلښکر باندی اوبه بندی نکړي، دزاړه ښاره ووتل او ښارته نژدی په باغونوکی ځای پرځای شول. دوست محمد خان دلودیز دخوا د ښار محاصره ماته کړه او وړونه یی وژغورل. میداني جنګ پیل او کندهاری سرداران هم له ښاره راووتل او جنګ ته یی سنګر ونیوی. ددوی د ډلی نه سردار رحمدلخان دخپلو قواوو( سپرواو پیاده) سره د باباولي د کوتل دلاری تیرشول، دجلیران، مرغان، ګوندیګان له لوری یی ددښمن د شاخواته سنګر جوړکړ[2] .

یوځل دوست محمدخان پراس سپور او مخ په وړاندي یی اس په ټوپ واچاوه تریوه واټن وهلو وروسته یی شاته وکتل. ددی مانور څخه دده موخه داوه چي خپل د عسکروجنګي مورال وازمایی. سردار اکبرخان او سردار افضل خان هر یوه د پلار لاره ونیوله، سمدستي یی د شاه شجاع پر عسکروچي د کهندل خان په باغ کی یی سنګر نیولی وو، برید وکړ. خونړی جنګ زور واخیست . سردار افضل خان پرشاه شجاع حمله یووړه .پداسی حال کي چي د شاه شجاع قواوو په سختی سره مقاومت کاوه ، سردار اکبرخان انګریزي جنرال کمپبل پخپله توره سره زخمي او ویی نیوی. نوموړي جنرال دځان له ویري سمدلاسه کلمه وویل او مسلمان شو. امیر دوست محمد خان د شیرمحمد نوم ورباندی کښیښود، هغه یی وبخښی او خپل په خدمت کی یی ومانه. دشاه شجاع قواوو ماته وخوړل او پخپله شاه شجاع دهرات په لور لاښ او جوین اوسیستان ته وتښتیدی. سردار دوست محمد خان بیله دی چي د خپلو وړونو څخه څه

---

[1] ـ کهزاد ، در زوایای تاریخ معاصر افغانستان، عروج بارکزایی ،ص۱۴۸ـ۱۴۷
[2] ـمعصوم هوتک ،کندهاري وړونه،۶۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترلاسه کړي، سمدستي کابل ته حرکت وکړ[1]. دوست محمد خان دوو شیانو ډیر مایوس او په تشویش کی واچاوه : یوداچي د شاه شجاع ترماتي وروسته دده څخه په تر لاسه شوومالونو کی یی د(کلوداوید)له خوانه یولیک وموند چي د شاه شجاع څخه د انګریزانودملاتړ ښکارندوی وو. دی کار د انګریزانو څخه دده نفرت لا نور هم زیات کړ. بله خبره داوه چي دشاه شجاع سره د امیر دوست محمدخان د جنګونوڅخه رنجیت سنګ فرصت ترلاسه کړی وو او پیښوریی دده د ورورسلطان محمدخان دلاسه ایستلی وو.

## پر هرات باندی د ایرانیانو د برید تکل (۱۸۳۷م):

په (۱۸۳۰م) کال کي ارتور کونولی(Arthor conoly) دبرتانوي هند دڅارګري اداری ځوان افسر دستراتیژیکو مالوماتو د راټولولو دپاره منځنی اسیا ته لیږل شوی وو. دقفقاز د لیدو وروسته خیواته ورتلی چي د بخارا حالات د نژدی نه وڅاري. دی دخپل سفرپرمهال په لاره کي دغلوسره مخامخ شو. هغوی وغوښتل چي دی ووژني اومالونه یی لوټ کړي، خوهغه خپله پټه شتمني ودوی ته وښوده اوله مرګ نه یی ځان خلاص کړ. لدی نه وروسته یی د خیوا څخه صرف نظر وکړاود استراباد دلاری مشهد ته راغي. دهمدی کال په سپټمبر کي هرات ته راورسیدی.هلته دری هفتی پاته اود هند په نیت دکندهار پرخوا روان شو. کونولی چي د ښاغلي ډاکتر زمانی د مالوماتو له مخي د(ستري لوبی) داصطلاح منځته راوړونکی دی، بشپړاو ګټور مالومات یی پرهند باندی د روسانو د احتمالی حملی په هکله چي په څه ډول اود کومي لاري ترسره کیدلای شی، دبرتانوی هند چارواکوته وړاندی کړي دی .

دکونولي د مالوماتو له مخي روسانو کولای شول د دوولاروڅخه پرهند باندي په بری سر حمله وکړي. لومړی لاره دا وه چي روسان به تر هر څه دمخه خیوا ونیسی، وروسته به تر آمو رود را واوړي اوبلخ به ونیسي، بیا به د هندوکش نه راتیر ، دستر سکندر ( سکندر کبیر ) پشان به پر کابل هجوم

[1] - نوای معارک،ص ۱۰۶-۱۰۱،عروج بارکزایی، ص۱۵۱-۱۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي، دجلال اباد د وادي د لاری به دخیبر د کوتل نه راتیراو پیښورته به را ورسیږي. لدی وروسته کولای شي د سیند د رود نه را واوړي اوپر هند حملی پیل کړي. کونولی دا لار ډیره اوږده ، دستونزو اوجنګي خطرونوڅخه ډکه بللی وه چي دده په اند به ددی ټولي لاري پای کول دوه دری کالوته اړتیا ولري. دوهمه لاره د روسي جنرالانو د پاره د هرات نیول ، دهغه ځایه د کندهار د لاري بیا کویټی ته ځان رسول دی چی له دغه ځایه بیا د بولان د لاري پر هند بریدونه کولای سي.

کونولي وایی : روسان کولای سی ایران ورسره یوځای کړي، د وچی د لاری دکسپین څخه داستراباد نه تیرسي او هرات ته ځانونه ورسوي. که چیري یوځل هرات د روسانو لاسته ورسي اوبیا ایران پخپلی خاوري پوري ونښلوي ، بیانو د دوی اردو کولای سي داوږدو کلونو دپاره هلته سوق الجیش وکړي او خپلي ټولی اړتیاوي دهغه ځای نه پوره کړي. هرات یاني د منځني اسیا د غله دانو ګدام . دخوراکي توکو او نورو لوژستیکي چار ودبرابرولو دپاره دلته بشپړ امکانات شتون لری[1] .

کونولی ټینګار کړي چي هرات نباید دایرانیانو یا روسانو لاسته ورشي. په هر حال د روسانو د حملی په وړاندي افغانستان دریږي. دی وایی چي افغانان د روسانوڅخه هیڅ د خیر هیله نلري، مګر د روسانو د متحدینو یاني ایرانیانو سره بیاد مذهبي توپیر له مخي کرکه اودښمني لري. کونولي زیاتوی : « داسي افغانان چي له هغوی نه ګټه تر لاسته کړي، ډیر لږ مګرستاسو د ویرولو دپاره خورازیات دی. دوی د هغوکسانو په وړاندي چی د روسانو سره اړیکي لري لکه ایرانیان ، له حده زیاته کرکه اودښمنی کوي . که چیري افغانان د یوه ملت په توګه عزم وکړي چي د یوه یرغل په وړاندی ودریږي، پدی حالت کی به یرغلګرته داسي ستونزي پیښی کړي چي د حل توان به یی ونلري. دوی به دخپلي وروستي سلګي پوری مقاومت وکړي اوتر اخیرني څاڅکي ویني پوري به وجنګیږي. ددښمن پرکتارونو به حملی کوي څو د خوراکی توکو زیرمي یی

[1]- بازی بزرګ، پیترهاپکرک،ترجمه محمداسحق توخي،ص۱۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



له منځه یوسي او د شا دخوا داړیک ولاري پري بندی کړي. [۱]»

که چیري افغانان سر وپاشل سي (لکه څنګه یي وروسته همداسي وسوه) ، بیا نو روسان په اسانی سره کولای شی چي یوه ډله یی د غوړو وعدواو نورو مادي امتیازاتو په ورکولو سره دبلي ډلي پرضد ودروي. کونولي سپارښتنه کوي او وایی، مخکي لدی نه چی هرات ددغو دوو زورورو کسانولاسته ورشی، باید دکامران سره دوستانه اړیکي تینګي سي. بیله دی نه به دهند په لور دروسانو لاره پرانیستی پاته وي. کونولي ددی د پاره چي انګریزي چارواکي یی دهرات ونیول وته هڅولي وي ، وایی چي په هرات کی ټول پدی پوهیږي چي کامران د انګریزانو پلوی دی[۲].

امیر دوست محمد خان پسله دی نه چي لښکر یی دسیکانو سره تر جنګ وروسته د خیبر دلاري بیرته راستون شوی وو ، دهند وایسرا لارد اوکلیند ته یی چي تازه پردنده باندي ګمارل شوی وو (۱۸۳۶م) یولیک ولیږه . دهغه نه یی پردنده باندي دګمارلو په اړه د مبارکي ویلو په ترڅ کي غوښتنه وکړه چي د پیښور په بیرته ترلاسه کولو کي، دده د دولت اود رنجیت سنګ ترمنځ په جنجال کي مداخله اوددغي ستونزي په حل کي ورسره مرسته وکړي. ده همدارنګه د ایران شاه ته یولیک واستاوه ،هلته یی په پیښورکي د مسلمانانو په وړاندي دسیکانو بیشرمانه کړنو اوظلم زور څخه یادونه کړیوه. ده همدارنګه لدی نه وړاندي په پطرزبورګ کي روسي امپراتورته یولیک لیږلی وو. پدی لیک کی یی چی د میرزا محمد حسین پلاس یی استولی وو، دنوموړي امپراتورڅخه د سیکانو دلاسه د پیښور په آزادولوکي د مرستي غوښتني کړیوی.

انګریزي جاسوس موهنلال چي د امیر دوست محمد خان په دربارکي یی د انګریزي هیات د رئیس الکساندربرنس دمنشي دنده درلوده ، لیکي: «امیردوست محمدخان داسي فکر کاوه چي د هندوستان کلي دده په لاس کي ده، که چیری یوبل رقیب هم راپیداسي نو انګریزان به داکلي دده څخه په ډیره لوړه بیه رانیسي. په همدی هیله ده د هندی چارواکو، ایرانیانو او روسانو سره

---

[۱] - بازی بزرګ، پیترهاپکرک، ،ص۱۰۸

[۲] - هم دغه اثر، ،ص۱۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکي ونیولی څوځان وروپیژني. داهغه وخت دی چی دده مشر وروړسلطان محمدخان د پیښور حکمران ژوندی وو، دکوهاټ اواشنغر سیمي چي د پیښور برخي وی، دسلطان محمدخان په موافقه، رنجیت سنګ لاندی کړیوی. په دغسی یو حالت کي چي د امیر دوست محمد خان دواړو رقیبانو، سلطان محمدخان او رنجیت سنګ دده څخه کرکه اوډار درلود، دی د پیښور دنیولو اوترلاسه کولو په فکرکي سو. په همدی موخه یی د درو لوړو یادو سوو دولتونو مشرانو ته لیکونه ولیږل او د پیښورپه بیرته ترلاسه کولوکي یی دهغوی څخه دمرستي هیله وکړه . ده پخپلو لیکونو کي هغوی ته دا یادونه هم کړی وه چی که چیري دده سره مرسته وکړي، نودی به هم که اړتیا پیداشی، دهغوی سره به د اړیني مرستي څخه ځان ونه سپموي [1]».

## دکندهاري سردارانو تلواري اقدامات:

دکندهار سرداران چي د امیردوست محمدخان وړونه وه، کله چي د لیکونو دلیږلو په اړوند د امیر د کړنو څخه خبر شول ، د سؤتفاهم له مخي پرځان وډاریدل، سمدستي یی د ایران شاه اود روسیی امپراتورته لیک واستاوه اوځانونه یی دایران تر ملاتړ لاندي(تحت الحمایه) اعلان کړل . ددی سره سم د ایران استازی قمبر علیخان کندهارته راورسیدی اود سردارانو سره یی موافقه لیک لاسلیک کړ. پدی موافقه لیک کي راغلي وه چي که چیري ایران پر هرات حمله وکړي اوکندهاري سرداران پدی حمله کي دایران سره مرسته وکړي، نو ایران به هرات، دهرات د نیولو وروسته و کندهاري سردارانوته وسپاري.

ددی موضوع نور جزییات داسي وه : کله چي د ایران قاجاري شاه ودربار ته د امیردوست محمدخان او کندهاری سردارانو لیکونه راورسیدل، دفارس دولت سفیر قمبرعلیخان د امیر د استازي محمد حسین خان سره کندهارته راغلل. کندهاری سرداران چي د امیردوست محمدخان سره یی حسادت اوهم یی ډار ورڅخه درلود، دایران سفیر یی پری نبنود چي د کابل دربارته

---

[1] - زندگی امیر دوست محمدخان، تالیف موهن لال کشمیری ،جلد اول ، ترجمه دکترخلیل الله هاشمیان، ص۲۲٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړسي. دوی نیت درلود چې د ایران دسفیر سره دیوه تړون دلاسلیک له مخې دایران دولت نه هغه ټول خیالی امتیازونه یوازې دوی ترلاسه کړي. موهن لال دنوموړي تړون منځپانګه داسې ښودلې ده :

« زه قمبر علیخان د ایران د پاچا اعلیحضرت محمدشاه (قاجار) په استازیتوب د محترموسردارانو کهندلخان ،رحمدلخان او مهردلخان سره لاندې تړون لاسلیک کوم :

که چیري سرداران صاحبان یو تن له خپلو زامنو څخه داعلیحضرت ودربار ته ولیږي، ددوی ددی کار په وړاندې زه دوی ته وعده ورکوم چې :

۱. دهرات قلمروکه دفارس دقواووپه مټ اویا هم پخپله د سردارانو دلښکرو په زور ونیول شي، په دواړو حالاتو کې به د سردارانو په اختیارکې پریښنول شي اوشاهنشاه به دسردارانو څخه ددی کار په بدل کې دهیڅ شي غوښتنه ونکړي، مګر داچې د شاهنشاه خدمت او اطاعت وسي. شاهنشاه به همدارنګه په افغانستان کې ددوی په قومي چارو یا هیواد کې مداخله ونکړي.

۲. اعلیحضرت شاهنشاه به دافغانانو سره که دهر قوم اوقبیلی څخه وي که لوی یا وړوکی قوم وی، د ائتلاف جوړولو څخه ډډه وکړي.

۳. اعلیحضرت شاهنشاه به هیڅکله هم د شاهزاده کامران او یارمحمد خان سره دوستانه اړیکي ټینګې نکړي.

٤. دفارس ودربارته دسردار کهندلخان د زوی په رارسیدوسره به اعلیحضرت وخپلو قواو وته امر وکړي اودهرات پرخوا به یی مارش کړي. که چیری شهزاده کامران دکندهار د نیولو عزم وکړي، شاهنشاه به دخپل حضور په مرسته د هغه دحملی مخنیوی کوي او که چیري دوی دا ونه مني، شاهنشاه به پخپله وهرات ته شخصا راشي.

٥. شاهنشاه به کندهاری سردارانو ته د ۱۲زره نفری سپاره او پیاده لښکرو لګښتونه د ۱۲پایو توپونوسره پرغاړه واخلي. شاهنشاه به همدارنګه دهرات د نیولو په موخه دلښکرو اضافی لګښتونه ورکړي اوکه جنګ د اوږده وخت د پاره دوام وموند، ټول لګښتونه چې ددی کار دپاره ضروری وی حتما به یی ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦. که چیري ددغه جنګ له اثره دسردارانو په قلمرو کي ځمکو ته زیان ورسیږي، شاهنشاه به پخپل هیواد کي دنوموړي زیانمني شوی ځمکی معادل تاوان سردارانو ته ورکړي.

٧. دغه تړون چی ما همدا اوس لاسلیک کړ، پکارده چي د اعلیحضرت شاهنشاه د خوا منظورشي. همدارنګه ددی دپاره چي د سردارانو اطمینان او باورترلاسه شي، دغه قرارداد به د حاجي میرزا اقاسي، میرزامسعود(دخارجی چارو وزیر) ،د روسیی دسفیراو د انګلستان دسفیر د خوا هم لاسلیک شي. قمبرعلي.[١]»

## کندهار او کابل ته دقاجاري دولت د سفیر رارسیدل:

دقاجاري دولت مقاماتو، قمبرعلیخان ته د راتګ نه مخکي لاندي پټي دندي سپارلي وی :« کله چی تاسی قمبرعلي دکیانیان(موخه یی سیستان دی) له سرحدونو تیرشي، هرځای ته چي رسیږي، لاندی مالومات به د خپل یاداښت په کتاب کی لیکي، اود بیرته راستنیدوسره سم به یی په تهران کي د اعلیحضرت حضورته وړاندي کړي: دښارونو او کلیو حالات ،هلته داوسیدونکو تخمیني شمیر، پدی هکله ستاسو خپل دسترګولیدلی حال، دهرقوم اوقبیلی قدرت لکه سیستانیان، بلوڅان، پښتانه ، قزلباشان، دخلګو عایدات او لګښتونه، دښارونو تولیدات او د کلیو مهم زراعتي توکي، دمالیاتو کچه، هغه تجارتي شیان چي له بهرنه واردیږي، ایاسړکونه کندوکپر دی یا هوار اویا غرني دي چي تیریدل یی دلاری ستونزمن وی(صعب العبور).

کله چي تاسي د بلوچستان څخه تیریږي، باید داعلیحضرت د عطوفت ، سخاوت اوبخششیو په هکله د خلګو ترمنځ تبلیغ وکړي څو د بلوچستان اوسیستان خانان وهڅول شي. که چیري نوموړي خانان د کامران پلویان وي، باید تشویق سي چي له هغه نه ځانونه لیري اود فارس حکومت ته خدمت

---

[١]- زندګي امیردوست محمدخان، تالیف موهن لال کشمیري،جلد اول،ترجمه ډاکترخلیل الله شمیان،ص٢٢٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. دوي ته باید اطمنان ورکړه شي چي د فارس دحکومت سره به یی اړیکي په بشپړه توګه پټي وساتلي شي. په ځانګړي ډول د اعلیحضرت دسخاوت څخه به علیخان(سیستانی) ته زیری ورکړي او ورته ووایاست چي دده د خدمتونو خبر اعلیحضرت ته رسیدلی دی. ټول خانان باید سره یوځای شي، خپل جنګیالي اوتجهیزات باید داسي اماده کړي چی د شاهنشاه د بری راوړونکي لښکر په رارسیدو سره سمدستي دهغه سره یوځای اوپه لیکو کي یی ورګډ شی.

تاسي به په کندهار کي د اعلیحضرت شاهنشاه له خوا نه فرمان، جامي اوافتخاري نښانونه وکهندلخان اود هغه وړونو ته ورکړي اود اعلیحضرت وسخاوت ته به دوی نورهم تشویق کړي. تاسي هڅه وکړي چي ځان کهندلخان ته نورهم نژدی اوتری نه پوښتنه وکړي چي د هغه مخکني لیک تر رسیدو وروسته مو ولي خپل ورور یا زوي تر اوسه پوري د اعلیحضرت دربارته ندی لیږلي؟ کهندلخان باید لومړی خپل ورور را ولیږي. پدی خبره باندي دی وپوهوي چي که چیری دی پر خپل دغه موقف باندي پاته شي نو د اعلیحضرت د لښکر انتظاردی ولري. دی باید خپل پوځ تیار او اماده کړي، هرڅومره سپاره کسان چي راټولولای شي، راټول دی یی کړي، ځکه پرهرات باندی به دی حمله وکړي. کهندلخان ته ووایاست چي که د فارس دولت ته د خدمت پرمهال وده ته تاوان ورسیږي، هغه ټوله د فارس دولت پرغاړه اخلي. تاسي به هلته د ټولو اغیزمنو کسانو سره دوستي ټینګه کړي. په ځانګړی ډول د پښتنو او قزلباش خانانوسره او په کلي ډول د ټولو شعیه ګانو سره اړیکي ونیسی اوهغوی د شاه وخدمت اود هغه له خوا وامتیازونو ته تشویق کړي. که د هغوی سره د شعیه او سني ترمنځ د مذهبي توپیر څخه ډار او تشویش وي، تاسي ډاډ ورته ورکړی چي اعلیحضرت به هیڅکله هم داسي و نکړي چي ستاسي په هکله دمذهبي توپیر له مخي عدالت ترپښنولاندی کړي. په عمومي ډول دا ستاسي دنده ده چي افغانان د اعلیحضرت وخدمت ته راوبولي اوتشویق یی کړی.

ترهغه وروسته چي په کندهار کي مو لوړي موخي ترلاسه کړی، بیانو کولای سي د کابل پرخوا حرکت وکړي. په کابل کي به دوست محمدخان ته دغه درکړل شوی پیش قبضه د اعلیحضرت دعطوفت دیوی بیلګي په توګه هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي. نواب جبارخان ته به داعلیحضرت لخوا منظورشوی افتخاري نښان تقدیم کړي. دوی ته به د اعلیحضرت د سخاوتونو په هکله اطمینان ورکړي اوورته ووایاست چي د اعلیحضرت د پوځ تر رارسیدووروسته چي دغي سیمي ته راورسیږي، تاسي ته به بی شمیره انعامونه او سوغاتونه درکړل شي.

په ظاهره به تاسي هغوی ته داسي وښیاست چي ګویا ستاسي دماموریت اوکابل ته د راتلو اصلي موخه دامیردوست محمدخان د عریضي د ځواب راوړل دی، کومه چي ده اعلیحضرت ته لیږلی وه اوهمدارنګه داعلیحضرت لخوا د منظور شوو جامو اوافتخاری نښانونو تقدیمول دي. اما تاسي به په پټه په خصوصي مذاکرو کي امیر دوست محمد خان ودی ته تشویق کړي چي د فارس دولت سره یو ځای شي. پدی هکله ډیراصرار او تاکید وکړي او هغه ته ووایاست چي که د خدای غوښتنه وه داعلیحضرت عطوفت به د دوست محمدخان په باره کی خورا ډیر وي اوله مخي به یی ټول قلمرو دده تر تسلط او اداری لاندی راشي او دی به کامل کنترول ورباندي ولري.

تاسي به دوست محمدخان ته ووایاست چي که چیري دی د فارس ددولت سره دپټو(محرمانه)اړیکو د ساتلوغوښتونکی وي ، باید خپل یو ورور یا زوی داعلیحضرت دربارته ولیږي . داکار به دده دپاره خورا ګټور تمام شي . لنډه داچي باید امیر د فارس ددولت ومرستوته تشویق شي اوپدی خبره باندي باید دی وپوهول شي چي دده د نجات یوازنی چاره دفارس دولت دی. پرده باندی باید ډیر تاکید وشي ځوځپل فوځونه تیار او اماده کړي اوپه پسرلي کي دی د اعلیحضرت راتلو ته سترګي په لاره اوسي. که چیري امیر ستاسي څخه دیوه داسي سند غوښتنه وکړي چي له مخي یی د فارس سره دهغه یوځایوالی تایید کړی، تاسي کولای سی ده ته داسي سند ورکړي څودهغه پر بنسټ باندي سیکان وډاروي چي دده د تعقیب او ازارولو څخه لاس واخلي » .

هغه وخت چي قمبرعلیخان دکندهاري سردارانوسره په مذاکرو بوخت وو، ده په ډیر مهارت د محمودخان بیات اونوروشعیه فارسی بانانوسره چي هم یی نفوذ درلود اوهم د امیردوست محمدخان د اعتماد وړوه، د اړیکو ور پرانیست. ده ددوی د ډلي نه یو شمیر کسان د جاسوسي په موخه جذب کړه څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهیواد د عایداتو د سرچینو اوپه ځانګړي ډول د نظامي تجهیزاتو او زیرمو په هکله اړین مالومات راټول کړي. قمبرعلیخان همدارنګه د کندهار د شعیه او فارسیوان سوداګرو اوشتمنو کسانوسره اړیکي ونیولی او دهغوی نه یی وغوښتل چي د محمدشاه لښکرو ته د اړتیا پر مهال د خوراک اړین توکي او لوازم تهیه کړي. ده شتمنو او اغیزمنو کسانو ته د ایران د پاچا لخوا غوړي وعدی ورکړي ځودده وخدمت ته یی تشویق کړي. ده وسوداګرو اونورو کسانوته چي د شاه ملاتړ یی کاوه ، د شاه لخوا د دستور نامي یوه یوه کاپي ورکول کومه چي دشاه او صدراعظم په لاسلیک ښکلی شوی وه . ده به هغوی ته ویل چی دغه سند ورسره وساتي تر څو په ښودلوسره یی د قاجاري شتمن دولت له مقاماتو څخه د خپل ملاتړ په خاطر امتیازونه تر لاسه کړي. دکندهار ددی ډول سوداګرو په منځ کي یوهم ملانسو(نصوح) وو. دی هم شتمن سوداګر اوهم د کندهاری سردارانو د اعتماد وړمشاور وو. ده هم د نوموړي دستورنامی یوه کاپی تر لاسه کړیوه. ده ددغه سند یوه کاپي د موهن لال و جاسوس محمدطاهر ته سپارلی وه چی د قمبر علیخان اصلی دنده اوصلاحیتونه ور څخه برملا کیدل. [1]

کله چي محمد حسین خان دامیر استازی پدی پوه سو چي کندهاری سرداران دده سره وقمبرعلیخان ته دتګ اجازه نه ورکوي اوله هغه نه وروسته چي د نوموړوسردارانوسره دده د قراردادونو څخه خبرشو، نوپه پټه له کندهاره ووت، ځان یی کابل ته ورساوه اوامیر یی دحاله خبر کړ. امیر دوست محمد خان یو د ګیلونه ډک لیک په کندهارکي خپلو وړونو ته ولیږي. ده ګیله کړی وه چي ولي یی دده دربارته دقمبرعلیخان دراتلو مخنیوی کړی دی او ولي یی امیر ددغه تړون دګټوڅخه له پامه غورځولی دی. په هر حال محمدحسین خان دفارس دشاه فرمان( ځواب) وامیردوست محمدخان ته ورساوه او ورته تقدیم یی کړ.

## کندهارته دروسی قیصر د استازي ویکوویچ رارسیدل:

---

[1] ـ همان اثر ، ج۱، ص۲٤٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروسیی استازی ویکوویچ[1] کندهارته تر رارسیدووروسته، دسردارنو سره په خبرو اتروکي وویل : دفارس پادشاه دبرتانیی د سفیر ومشوروته هیڅ اهمیت نه ورکوي. ځکه چي ځان په بشپړ ډول په روسیی پوري تړلی ګڼي. روسیه هم په ښکاره ډول او هم په پټه د هغه سره هر راز اړین کمکونه کوي. پدی هکله میجرلیچ داسي ګزارش ورکړیدی :

« مهردلخان دهغه روسي صاحب منصب په هکله چي همدا اوس په کابل کي دی ،ماته وویل چي د امپراتور لخوا یی لاندي پیغامونه ده ته سپارلي دی :

۱. که چیری کندهاري سرداران د امیردوست محمد خان سره یوځای

[1] -(هم هغه د موهنلال کتاب، ۲۶۸مخ)

پدی ځای کي یوه یادونه اړینه ده : « هنری راولینسن ځوان انګریزي افسر چي وروسته یو وتلی ځیرونکی شو، دی د امیرپه دربارکي د پطرزبورګ د استازي بشپړ نوم تورن (یان ویکوویچ) ښودلی او وایی د ارینبورګ د ګارنیزون یو افسروو،په خته لیتوانیایی ، په انګریزي او فرانسوي ژبو روان ږغیدی .دی وایی چي د لومړي ځل لپاره یی د۱۸۳۷م کال د نوومبر په لومړۍ نیټه دی هغه وخت ولیدی چي دشاه کمپ ته ور روان وو او ویتکوویچ د څو تنو روسي قزاقانو سره د ویالی پرغاړه د سهار ناری کاوه .دا هغه وخت وو چي د ایران شاه پر هرات باندي د حملی په موخه د تهران نه په سل ګونو کیلومتره لیري کمپ وهلی وو. راولینسن د انګریزي سفیر (مکنیل) له خوا د شاه د پاره یو پیغام اخیستی وو. کله چي دشاه کمپ ته ورسیدی ، هو اتیاره او شپی وزرغوړولي وو .ده باید په همدی شپه دشاه سره لیدلي وای. کله چي په کمپ کي شاه ته ورغی ، شاه دده په لیدوسره وویل: « ماته یی سوغات راوړیدی » . وروسته له دی خبری نه یی زیاته کړه چي روسي تزار دا سوغات د کابل د امیر د پاره رالیږلی دی. راولینسن خبر ترلاسه کړ چي د روسیی سفیر سیمونیچ د ویتکوویچ د ډلی د تیریدواجازه د کابل د دربارپه لور د شاه څخه په لاس راوړی وه . ددی سره سم یی تصمیم ونیوی جي هرڅه ژر تهران ته راوګرځي. کله چي د شاه د خیمی څخه د راوتلو په حال کي وو، د ویتکوویچ د ډلی سره مخامخ شو.هغوی هم نیت درلود چي ځانونه په کمپ کي ترشاه پوری ورسوي. ویتکوویچ په انګریزي ژبه ځان راولینسن ته ور وپیژندی اوسترې مشي یی وکړه . ده هلته په دښت کي د ویالی پر غاړه د ناری په وخت دراولینسن په وړاندی د ساړه برخورد له کبله بخښنه وغوښته .ویتکوویچ د روسي، انګریزي او فرانسوي ژبو برسیره به ترکي اوفارسی ژبو په ښه ډول ږغیدلای شو. یو دبل سره ددغو دووتنو زیرکو اجنټانو مخامخ کیدل ، دلوبي د هراړخ د پاره ځانګړی مانا او مفهوم درلود (بازی بزرګ،ص ۱۴۰ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سي، روسیه به مرسته ورسره وکړي چي دسیکانو سره وجنګیږي ،ملتان او دیره جات ورڅخه بیرته ترلاسه او ان د سند په بیرته نیولو کي به هم مرسته ور سره وکړي.

۲. دفارس پادشاه دروسیی څخه یونیم کرور روپی پوروړی دی. روسیه اماده ده چي دفارس دولت ته حواله ورکړي څو دغه پیسی یی په برابر ډول د سردارانو او امیر تر منځ وویشي.

۳. دروسیی دولت به دجنګیالو قوتونو مرسته ورسره ونه کړي، مګر پرځای به یی د اړتیا وړ وسلی ورکړي. ددی ټولومرستو په مقابل کي روسیه یوازي دا غواړي چي سرداران د روسیي اطاعت (فرمان برداری) وکړي او استازی یی په خپل دربار کي ومني.

٤. تاسي (سرداران ا و امیر) چي هر وخت مو زړه وغواړي ، کولای سي جنګ پیل کړي، مګر د سولي او اوربند په هکله باید د روسیي امپراتور سره مشوره وشي او نظر یی واخیستل شی .[۱] »

## دکندهاری مشر ، سردار کهندل خان دیاره د قاجاری محمد شاه فرمان:

« الله داد خان زموږ کمپ ته راورسیدی او ستاسي غوښتني یی زموږ حضورته وړاندي کړي. په همدی خاطر د شاه مرحمت ستاسو په هکله زیات شو.هر څوک چي پرما باور وکړي او ځان ترماپوري راورسوي، زموږ عطوفت اومرحمت به ترلاسه اوخپلو موخوته به ورسیږي. که تاسي تر دا اوسه پوري پر خپله وعده باندي په صداقت ولاړیاست نود شاه لخوابه موعطوفت په برخه وي. تاسي تل ماته خپلي موخي، غوښتني او هیلي ولیکې او باور ولرې چي دا ټوله به تر سره شی.[۲] »

---

[۱] ـ همان اثر،ج ۱،ص ۲٦۸

[۲] ـ دموهن لال هم هغه کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کهندل خان ته د جنرال بروسکي لیک:

«عبدالواحد بیک اوالله داد خان د قمبرعلي خان سره یوځای راورسیدل اوستاسي د موخو په هکله یی ماته گزارش راکړ . هغه څه چي کپتان ویتکوویچ تاسي ته ویلي او ستاسو د سوکالۍ ، هوسایي ، خیر اوامن دپاره گټور وه ، در پیاد کړي . لدی نه پرته نور څه هم لرم چي ستاسي سره یی شریک کړم . تاسي ډیر پرځای کار وکړ چي دفارس له دولت نه مو مرسته وغوښتل. ستاسۍ استازي الله داد خان له مانه وغوښتل چي د لیک ځواب مو درته ولیکم .دی دلته زما له نفوذ نه خبر دی او هر څه یی پخپلو سترگو لیدلی دي. دی د شاه له تاوده هرکلي او مرحمت سره مخامخ شو. شاه له ده نه وپوښتل چی کندهاری سرداران له شاه څخه څه هیلي لري؟ دشاه سره ستاسي یوځای کیدل بیله گټي تاسي ته هیڅ تاوان نلري. ددی کار گټه تاسي ته دومره زیاته ده چي په قلم یی لیکلای نشم. تاسي یقین ولري چي دشاه دپاره ستاسي خدمت د هر اړخ نه ستاسي په گټه دی. شاه هر څوک د هغه د مقام او ارزښت له مخي نازوي. ستاسي مقام او ارزښت هغه ته تر ټولو لوړ دی. خپل زوی محمد عمر خان هرڅه ژر او حتما راولیږئ . دده څخه به په مهربایي سره تود هرکلی وشي. پدی هکله ښاغلی (م.گوټ).دروسیي سفیر میلمه او همدارنگه حاجي اقاسي تاسي ته لیکلي دی. په کندهار کي د قمبرعلیخان لخوا لاسلیک شوی تړون هم تایید شویدی.

دشاه د ویاړلي نیت له مخي میمنه ،هزاره جات او چارادینک لکه څنگه چي هیله وه ،په بشپړ ډول تسخیرسویدی. د اصف مشهد د محراب خان والي زوی ، د شیرمحمد خان اوگل محمد خان ورور او یو شمیر نور کسان هم د شاه خدمت ته راځي (دگروگان په ډول) . دفارس هیواد اوس هغه پخوانی هیواد ندی. زما هیله او دعا داده چي ستاسي یوځایوالی د فارس د دولت سره هرڅه ژر تر سره سي. اعلیحضرت محمدشاه د هرات پر مسلمان اولس باندي د ترحم په خاطر د هغه ولایت د اشغال څخه تر اوسه پوري منصرف دی، مگر د پروردگار په مرحمت او د شاه د بخت د ستوري سره سم به هرات ډیرژر اشغال شی. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت به نو ټولي چاري تر اوس ډيري ښی شي. پدی توګه به دا ډير پرځای کار وي چي خپل زوی محمد عمر بیله ځنډه راولیږي[1].

زه به د فارس حکومت ته لیک واستوم څو ستاسي د زوی د ورتګ په هکله هر ډول خنډونه له منځه یوسي. هغه به په عزت سره د شاه له خوا ومنل شي .... ستاسي دا ډول اړیکي به د شاه سره بیله ښیګڼو هیڅ تاوان ونلري. دابه تاسي ته دومره ګټي ولري چي قلم به یی د لیکلوڅخه ناتوانه وی. باورولري چي دشاه په وړاندي به ستاسي خدمت ، تاسي ته د هر ډول ګټو لاره پرانیزي....[2] »

## <u>قاجاری شاه سره د کندهاری سردارانو ددوستی په هکله د روسیی د سفیر سیمونیچ تضمین لیک:</u>

« زه دفارس دشاه په دربار کي دروسیی ځانګړی استازی اوسفیر د اعلیحضرت محمدشاه اوکندهاري سردارانو ترمنځ د لاسلیک شوي تړون دشرایطو په اړوند په لاندي ډول تضمین کوم :

۱. دهرات ولایت به د شاه لخوا د کندهاري سردارانو د صادقانه خدمتونو پخاطر چي د هغه د پر تخت کښیناستلو راهیسی یی تر اوسه پوري سرته رسولي دی ، نوموړو سردارانوته دانعام په ډول ورکړ شي،

۲. هغه سیمی او قومونه چي همدا اوس د کندهاري سردارانو په تصرف کي او د دوی تابع دي،بیله دی څخه چي لاس وهنه پکښي وسي او یا کمښت پکښی راشي ،دپخوا په شان به ددوی تر تسلط لاندی پاته شي.

۳. دفارس دولت به هیڅکله دافغاني قومونو څخه کوم قوم که لوی یا وړوکي وی ، دخپلو اتباعو سره ګډ نکړي، همدارنګه به افغانان په هغو کارونو کي چي په دوی پوري اړه نلري،به کار او خدمت ونه ګمارل شي. ټولي چاري او

---

[1] ـ هم هغه اثر ،۲۵۸ مخ

[2] ـ شوهاز،د بلوڅو فرهنګي مجله ، ۱۹۸۹م کال لومړی ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاملې چې په افغاني سيمو پورې اړه لري، د فارس د دولت لخوا به کندهاري سردارانو ته وسپارل شي.

٤. شهزاده کامران او دده وزير يارمحمد خان به د فارس دولت د ټولو رسمي مراسمو څخه محروم وګڼلي شي.

٥. که چيري شاه شجاع الملک، انګريزان او يا د کابل امير دکندهار په وړاندي په کوم دښمنانه عمل لاس پورې کړي، شاه به د کندهاري سردارانو سره د هغوپه وړاندي مرسته وکړي.

٦. که چيرې د کهندلخان زامن يا وړونه ديوه فرعي قوت سره دشاه کمپ ته راشي، دوی ته ، ددوی مالونوته او ددوی سره راغلوکسانو ته به هيڅ ډول زيان ونه رسيږي او هيڅوک به يې د يرغمل په ډول ونه نيول شي. د کهندلخان يو زوی به ددي وعدې څخه بيل وي چې هغه به د تل لپاره د شاه په خدمت کي دلته وساتل شي.

٧. کندهاري سرداران به يو ١٢ زره کسيز سپور نظام پوځ د ١٢ توپونو سره د هرات د اشغال د پاره را واستوي. ددغو قواوو معاشونه اوټول لګښتونه د سردارانود خوا ورکول کيږي اوکه لازم وګڼل شي دغه فوځ به د شاه خدمت هم کوي.

٨. وکندهارته ددغه قرارداد درسيدو، تصويب او لاسليک سره سم به بيله ځنډه محمدعمرخان فوراً دشاه حضورته د شرفيابي پخاطر وليږل شيَ ( ددغو تشريفاتي جملو تر پوښ لاندي اصلي موخه داوه چې د کهندلخان نوموړی زوی به د ايران په دولت کي ديرغمل په توګه پاته وي. که چيري کهندلخان د خپلي هوکړي څخه تير او ترخپلي کمبلی پښی اوړدی وغځوي يا سرکښي وکړي، نو د زوی سربه يی غوځ کيږي. پښتو ژباړونکی)،

٩. دشاه په حضور کي ددغه شهزاده تر شرفيابي وروسته به شاهي کمپ ته د سپاره نظام د تنظيم په خاطر داړتيا وړ پيسی وليږل شي. ددی کار په ترسر ه کولو سره به د فارس دولت او کندهاري سردارانوترمنځ داعتماد او باور فضا را پيداشي او د فارس دولت به دسردارانو څخه دبل هيڅ شي غوښتنه ونکړي بيله نظامي خدمت نه. که چيري شاه ددغه تړون د هري برخي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسره کولو کي پاته راشي اويا يی د ترسره کولو څخه سرپيچي وکړي، زه به د روسي دولت د فوقالعاده استازي په توګه ،په هرشکل او د هري لاري څخه وي چي اړينه وګڼل شی، دی به مجبوره کړم څو د دغه تړون ټول شرايط مراعات اوعملي يی کړي[1].

دښاغلي غبار د قوله، کندهاري سرداران ترکابل دمخه د( م.کونټ ) سيمونيچ او د ويتکوويچ په دام کښيوتل، دهغه تړون پر بنسټ چي په ايران کي د روسيی سفير تضمين کړی وو، دايران سره يی خپل يوځايوالی ومانه او پر هرات باندي يی د ايرانيانو په بريد کي څلورزره تنه عسکر د ايراني قواو ومرستي ته وليږل اودکهندلخان زوی محمدعمرخان يی په تهران کي دشاه په غوښتنه هلته واستاوه[2] (ترڅو د يرغمل په توګه هلته پاته شي .ژباړونکی)

## پر افغانستان باندي د انګريزانو تيری اوايران ته د سردارانو تښتيدل:

کله چې دفارس دولت د هرات د نيولوعزم وکړ،افغانستان پدی وخت کي د قدرت پر يوه مثلث ولاړوو: چي دوی څنډی يی ، کندهاراوکابل د محمدزی سردارانو په لاس کي او دريمه څنډه يی دسدوزی شهزاده کامران تر واک لاندي وه . دغه دريمه څنډه دلومړيو دوو څنډو سره په مخالفت اودښمنی کي ولاړه وه. طبيعي ده چي دا حالت د هغو کسانو د پاره چي په هيواد کي د سياسي اونظامي مرکزي واک غوښتونکي وه ، خواشينونکی وو.

هغه وخت چي د روسيی استازی ويتکوويچ د روسيی د تزار پيغام امير دوست محمد خان ته په کابل کي وړاندي کړ،انګريزان پدی تشويش کي ولويدل چي ګويا د روسانو ديپلوماسي تر دويی مخکي ده. دوی ويريدل چي په ايران کي به روسان دخپل نفوذ له مخي د هرات په نيولو وتوانيږي او پدی سره به کندهار هم لاندي کړي . ددی پايله به دا وي چي د کندهار او کابل د لاري به پر

[1] ـموهنلال ،همدغه اثر، ۱ج ، ۲۵۹ـ۲۴۸ مخونه
[2] ـ غبار، افغانستان در مسير تاريخ، ۵۲۱ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



برتانیوي هند بریدونه پیل کړي. ځکه یی نو ددی کار د مخنیوي په خاطر یو منفور او ضعیف النفسه سړی( شاه شجاع) چي تیر دیرش کاله هلته سرگردانه گرځیدی ، را پیدا کړ . دی یی د درانیانو د تاج او تخت د وارث په توگّ ومانه او پرشا یی وښکاوه . وروسته یی د یوه دری اړخیز تړون له مخي په ځان پوري وتاړه . داتړون د (۱۸۳۸م) کال د جون د میاشتي په ۲۶ نیټه د هند د وایسرا استازي مکناټن ، دپنجاب واکمن رنجیت سنگ اوشاه شعاع تر منځ لاسلیک شو.

شاه شجاع باید د تړون سره سم د افغانستان ځیني سیمي د یو لړ نور امتیازونو سره رنجیت سنگ ته پری ایښي وای . ده د اتیا زره کسیز وژونکي اوخوړونکي پوځ ترشا چي د پنجابیانو، هندیانو او انگریزانو څخه جوړو ، حرکت وکړ. دی پوځ د (۱۸۳۹م کال) په پسرلي کي د سند او بلوچستان د لاري پر کندهار یرغل یووړ. د کندهار د نیولو وروسته یی پرکابل حمله وکړه اوشاه شجاع یی د خپل لاسپوڅي په توگه په بالاحصار کي پرتخت کښیناوه ( داگسټ ۷ د همدی کال) چي هندي او اروپایانو یی ساتنه کول.

هغه وخت چي شاه شجاع د نوموړي پوځ ترشا دکندهار په لور روان اوراڼژدی کیدونکی وو، کهندلخان د کندهار واکمن دخپلو وړونو مهردلخان او رحمدل خان په مرسته د کندهار څخه ودفاع ته تیاري ونیوه، خو د یو لړبی اتفاقیو او ملي خیانتونو په پایله کي انگریزي پوځ بری وموند. کندهاري سردارانو د گرشک په لور و پشت رود ته مخ ونیوی. داچي تر تعقیب لاندي وه ، نویی ایران ته پناه یووړه اوځلور کاله هلته پاته شول.

## وطن ته دسردارانو بیا راگرځیدل او د واک بیا ترلاسه کول:

د انگریزانو د ماتی په پایله کی دهند څخه د امیردوست محمد خان دبیرته راگرځیدو او د سلطنت د دوهم ځل ترلاسه کولووروسته، سردار محمداکبرخان یو د زیري لیک په ایران کي کندهاري سردارانوته ولیږه او هغوی ته یی د انگریزانو د ماتي او شړلوڅخه خبر ورکړ.دوی یی بیرته وطن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوبلل اوهغوى هم سمدستي راغلل[۱].

دامير دوست محمدخان ددوهم ځل سلطنت په لومړي كال (۱۸۴۳م كال) سردار سلطان احمد خان د سردار محمدعظيم خان زوى چي د امير زوم هم كيدى ، دامير د دوهم ځل سلطنت سره يى مخالفت وښود. سردار محمد اكبرخان ورسره پدى هكله څوځلى خبرى وكړى خو كومه ګټه يى ونكړه. ښايى ددى لامل د امير لخوا د سردارمحمد عظيم خان دكونډې مجبوروول وه چي دده سره واده وكړي. امير په كابل كي دا كار د خپل قدرت پر مهال دسردار محمدعظيم خان د شتمنيو د ترلاسه كولوپه خاطر كړى وو.

په هر حال سلطان احمد خان د امير ددوهم ځل پرتخت كښيناستو څخه څو مياشتي وروسته كابل پريښود او كندهار ته ولاړ.هلته يى كندهاري سردارانو ته ځان ورساوه چي كاكا ګان يى وه. هغوى په عزت سره دده تود هركلى وكړ. سلطان احمدخان په كندهار كي سرداران د امير پرضد تحريک كړه. پنځه مياشتي وروسته د پنځو زرو عسكرو سره دسردار مهردل خان او سردار رحمدل خان په ګډون دكابل په لور د امير دوست محمد خان سره د جنګ په نيت وخوځيدل. امير چي ددى موضوع څخه خبر سو، په غزني كي يى سردارغلام حيدرخان ته هدايت وكړڅو مخنيوى ته يى ورودانګي او سردار محمد اكبر خان يى هم ديوه اردو سره دكابل څخه مرستي ته وروليږى. هغه وو چي د مقرد سرچشمه په سيمه كي دواړي خواوي يو دبل سر مخامخ شوي. څو ورځي دواړو خواوو د يوه خونړي جنګ دپاره تيارى ونيو . نابېره د سردارانو لخوا محمد اكبر خان ته د سولي وړانديز وشو. ده هم وړانديز ومنى اود سلطان احمدخان هلوځلو ځاى ونه نيوى. دكندهاريانو پوځ بيرته د كندهار پرخوا روان شو. سردار مهردلخان د محمداكبرخان سره كابل ته د امير حضورته راغى او بخښنه يى وغوښته. دواړو خواوو موافقه وكړه چي مقر به ددوى ترمنځ سرحد وټاكل سي[۲].

---

[۱]ـ نواى معارک، ۱۸۸ او۲۷۰ مخونه

[۲]ـفيض محمد كاتب ، سراج التواريخ،ج۱ ،۱۹۹مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي معصوم هوتک لیکي چي د امیر ددوهم ځل دسلطنت په لسم کال یاني په (۱۸۵۳م کال)په کندهار کي توخي او هوتک قومونو دکهندلخان پرضد قیام وکړ.امیر دوست محمد خان خپل زوی سردار شیرعلیخان د غزني حاکم په کندهارکي د ښورښ کوونکو وځپلو ته ورولیږی. شیرعلیخان د زیاتو تلفاتوپه منلو سره چي پخبله هم زخمي سو، دقلات د کلا په نیولو سره وتوانیدی د ښورښ کوونکوڅخه مالیات راټول اوکابل ته یی ولیږل. دشیرعلیخان پدی کارسره کندهاري سرداران په قهر شول او دایی د خپل حاکمیت پر سیمه باندي تیری وباله. وروسته یی څلور زره کسیزپوځ دڅو عراده توپونو سره مهردلخان په مشري قلات ته ولیږل . کله چي امیر خبر شو،شیرعلیخان ته یی په غزني کي امر وکړچي ولاړسي قلات ونیسي او مهردل خان له هغه ځایه وشړي. سردار مهردلخان د شیرعلیخان پر خوا د توپ فیر وکړڅو ور وښیی چي غواړی د قلات نه دفاع وکړي. ددی خبري به اوریدلو سره چي مهردلخان غواړي مقاومت وکړي ، امیر د خپلو وړونو نواب جبارخان ، سلطان محمدخان ، پیرمحمد خان او سردار سعیدخان سره یی دقلات پر خوا حرکت وکړ. ددغو نوو قوتونو په راتلو سره د نواب جبارخان په منځګړیتوب د دواړو وړونو تر منځ سوله وشوه. او د بیځایه ویني تویولو څخه مخنیوی وسو. ددواړو خواوو قوتونه پر خپله لاره ولاړل[1]، لدی نه وروسته د کهندلخان د ژوند ترپایه د وړونو ترمنځ نوري شخړي پیښني نه شوی.

سردار کهندلخان په ټولنیز ډول ۲۲کاله په دوو پړاونو کي پر کندهار حکومت وکړ. لومړی ځل د (۱۸۳۱م کال) د جون څخه دسردار پردلخان د مرګ وروسته د ( ۱۸۳۹م کال) تر اپریل پوري چي انګریزانو پرکندهار حمله وکړه . دا پړاو یی ټول ۹ کاله وو. دوهم ځل د (۱۸۴۳م کال ) څخه چي د ایران نه را ستون شو او واګي یی پلاس کي واخیستی ، تر ( ۱۸۵۵م کال) پوري ټولټال ۱۳کاله د کندهار واکمن وو.

دسردار کهندل خان په حاکمیت کي دده د وخت ټولنیز حالت دده د معاصر

---

[1] ـ معصوم هوتک، کندهاری ورونه، ص۱۷٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر حاجي جمعه بارکزي په لاندي شعر کي په بيله توګه انځور سويدی :

اوس نوبت دکندل خان دئ سـره وې نغـښت کـندهار
ودانی یـې کـړی خـرابې عـالمـونې کـــړه نـاتـار
درست وطن یې په حصه کړ سرې واخيست چار برار
دربـدره یی مخـلـــوق کـړ مـال و ملـک یی کړ سرکار
په وطن کی یی پری نښوو یــــو درم و یـــو دیــنار
ســرو بــریې سره وخوړ لا دوی وړی دې نـــهـــار
که بانه یی سوه در پـوری نـور پـرېږده ملک و مزار
سرتورسر پښی پبلی درومه ګـــوره مـــه لیل و نـهـار
که دی خپل سرځنی خلاص کړ شـکـر کـاږه پـه بـار بـار
یوخـیـرات هم پرځـان وکـه کـه په پـور وی که پـه دار
نه اثــر لــری پـه زړو کـی نــه لـــه خـدایـه څـخه ډار
دا عالـــم بـه وی خـاونــده لا تـرکـومه پوری خـوار
نیک وبد یی دواړه خپل دی ورســـره یی خـپل کـردار
جمعه خپل مقصود وغواړه څــه دی کار د دوی په کار

## دکندهارې سردارانو بې اتفاقي او د حاکميت زوال يې:

سردار مهردلخان او سردار کهندلخان په ( ۱۲۷۱شمسي يا ۱۸۵۵م کال) يوازې د څومياشتو په واټن يو په بل پسې وفات شول (اول يی د جمادی الثاني په ۲۷ اوبل يی د هم هغه کال د ذيحجه په ۸ نيټه ) . دکهندلخان مړينی د کندهاري سردارانو ترمنځ درز را پيدا کړ او د حاکميت ستني يی سستي شوي. ددغومشرانو وړونو تروفات وروسته دچارو واکي د سرداررحمدل خان پلاس ورغلی. دده لا دوی مياشتي د واکمني څخه تيری نه شوی چي وراره يی سردار محمد صديق خان دکهندلخان زوی ځان د حکومت وارث وګڼه ا و مخالفت يی پيل کړ.

دسراج التواريخ په روايت ، دکهندلخان تر وفات وروسته د رحمدلخان سره د کهندلخان د زامنو سردار محمد صديق خان ، سردار سلطانعلی خان ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار عبد الله خان ،سردار محمد عمر خان اوسردار محمد عثمان خان مخالفتونه را پیدا شول. محمد صدیق خان او رحمدل خان هر یوه ځان د حکومت دپاره مستحق او وارث گاڼه. پدی وخت کي سردار غلام محی الدین خان د دهراود اوتیرین حاکم هم د خپل پلار له مرگه خبرسو او کندهار ته راغی او د خپلوووړونو سره یوځای شو. دکهندلخان زامنو د ارگ په دننه د خپل پلار په کورکي ځای ونیو. دوی د نورو سردارانو سره چي د رحمدلخان پلویان وه اوهمدارنگه په ارگ کي دده په کورکي اوسیدل ، په جنگ اخته او یو د بل په وژلو یی لاس پوري کړ. دبل پلو نه سردار رحمدلخان د خپل یو شمیرو زامنو لکه سردار محمد علم خان او سردار غلام محمدخان طرزی د ارگ د ننه څخه ،سردار میر افضل خان ، سردار عبد الرسول خان او سردارعبد الاحد خان د پردلخان زامن ، سردار خوشدلخان ،حاجی منوردلخان او سردار شیرعلیخان د سردار مهردل خان زامن او سردار غلام محمد خان د سردار میر افضل خان زوی چي دا ټول د سردار رحمدلخان پلویان وه او ارگ ته یی په نژدی کورونو کي ژوند کاوه، د ارگ د بهر نه یی دخپلو کورونو د بامونو څخه په ارگ کي پر هغوی فیرونه کول. پدی توگه د کاکا او وراره گانو تر منځ شخړي رواني وي. په دغو شخړوکي ددواړو خواووڅخه نژدی ۴۰۰ تنه ووژل شول. دسردارانو سپین ږیرو، علماؤ او ساداتو د افغاني دود له مخي دا مقام د سردار رحمدلخان حق باله او پدی هکله یی یوه پریکړه لاسلیک کره، مگرسردار محمد صدیق خان دا پریکړه نه منل. سردار غلام محمد خان د میر افضلخان زوی هم پدغه جنگونو کي ووژل شو[1].

دکندهار ښاریان دسردارانو ددغه ناوړوعمل څخه تر پزي پوري په تنگ راغلل. یوشمیر علماؤ او مشایخود د درودونو په ویلو او نارو سره قران شریف پر سر ونیوی ، دواړو خواووته یی مخ واړاوه او دوی یی ددغه وحشیانه کارو څخه منع کول. په پای کي دواړو خواو د پریکړي صلاحیت وامیردوست محمد خان ته وسپاره او هغه ته یی کابل ته یو لیک ولیږه . لدی وروسته محمد صدیق

[1] ـمیرزا علی قلی تاریخ و واقعات و سانح افغانستان ، ۱۳۷-۱۳۵ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان ، محمد عمر خان او محمد عثمان خان د پشت رود پر خوا وګرشک ته ولاړه چي د دوست محمد خان تر راتګ پوری هلته واوسي.

کله چي امیر دوست محمدخان ددی شخړي څخه خبر شو ، خپل زوی یی سردار شیرعلیخان چي د غزني حاکم وو، وکندهارته ولیږه اوپخپله یی هم د زیاتو قواوو سره د کندهار پرخوا حرکت وکړ چي د کندهاري سردارانو له خوا یی تود هرکلی وشو. سردار شیرعلیخان خپل قوتونه د کندهار په شمال لودیز کي د انګریزانو په چوڼي کي ځای پر ځای کړه. وروستته یی په ډیر مهارت سره هره ورځ دسلو څخه تر درو سوو نفرو پوري دځانه سره ښارته ننه ایستل او کله چي د شپی د خوا بیرته چوڼي ته راګرځیدی ، یولږ شمیر به یی ورسره بیرته راویستل اوپاته کسان به یی هلته په ښار کي پریښودل. پدی توګه یی اته سوه وسله وال کسان د ښار په دننه کي ځای پرځای کړل .په همدی ډول یی شپږ عرادی غاطري توپونه (هغه توپونه چي د غاطرو په مټ لیږدول کیږي ) هم ښار ته ور دننه کړه .پدی وخت کي کندهارته د امیر دوست محمدخان د راتلو خبر راورسیدی. امیر د خپلو قوتونو سره قلعه اعظم ته ولاړ. سردارانو او مشرانو د امیر کبیر هرکلی وکړ. لدی نه وروسته امیر (ده خواجه ) ته ولاړ. بله ورځ یی قاضی محمد سعید خان بارکزی چي په ( خان علوم ) مشهور و او دا مهال دکاره لیری شوی وو، خپل تخت روان ته د ځان څنګ ته را وغوښت ،هغه ته یی ارزښناک سوغاتونه ورکړل .دکندهار د قاضي په توګه یی وټاکی او د ځان سره یی پر تخت روان باندی کښیناوه ، جارچی یی وګماری څو په ښار کي اعلان وکړي چي قاضي محمد سعید خان د قاضي ملا غلام پر ځای ټاکل سویدی.

وروسته یی سردار رحمدل خان ته احوال ولیږه چي غواړي د کهندل خان او مهردل خان د فاتحی د اخیستلو پخاطر ښارته ننوځي. امیر کبیر د خپلو ټولو زامنو، لمسیانو اونورو سردارانو له منځ نه یوازي سردار محمد یوسف خان ورسره واخیست او ښارته ننوت. دده زوی سردار شیرعلیخان هم په ښارکي دخپلو قوتونو سره دده هرکلي ته راغی. وروسته د سردار رحمدل خان کورته ولاړل. تر فاتحی وروسته دی بیرته د خپل اردو کمپ ته راغی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرعلی خان یی په ښار کي پریښود . کندهاري سردارانو د دروازو ټولي کلي ګاني د امیر کسانو ته ورکړی او سردار شیرعلی خان د ټولو دروازو ساتنه خپلو وسله والو ته وسپارل .

په راتلونکی ورځ امیر دوست محمد خان د کندهار سرداران ټول خپل حضورته راوغوښتل او د هر یوه دعوا او غوښتنی واوریدی. سرداران بیرته خپلوکورونو ته ولاړل او امیر یوه موده نورهم منتظر پاته شو،داچي ددوی کشالی لا حل سوی نه وی، امیر سردارانو ته خبر وکړ چي هوا سړه شوه او ټولي لاری په واورو پوښلي دی، لدی کبله نو په دغسي یوه حالت کي زما بیرته تګ کابل ته دا مهال نا ممکن ښکاري. ځکه نو ښه به داوي چي ارګ زما د اوسیدولو په خاطر خالي کړي ،څو ستاسو تر منځ سوله ایز ژوند دلته په خپلو سترګ وووینم. سردارانو ارګ خالي کړ اوامیر ارګ ته ننوت او سمدستي یی اعلان کړه چي کندهار پسله دی نه د کابل د سلطنت یوه برخه ده ، د اردو معاشونه او لګښتونه به دکندهار د مالیاتو حخه تر سره شي. هغه اندازه د مالیاتو پیسي چي تر نوموړو لګښتونو وروسته پاته کیږي هغه به د کندهاری سردارانوته ورکړلی شي.

پدی توګه په ( ۱۲۷۲ شمسي یا ۱۸۵۶م کال) کندهار او اړونده سیمی یی د کندهاری سردارانو له لاسه ووتلی او د امیر دوست محمد خان تر واکمني لاندی راغلی. دا کار دهیواد د بیا سره ټولولو او د یوه متمرکز سلطنت د جوړولو به لاره کي یو ستر قدم ووچي باید ډیرپخواترسره سوی وای.

کندهاري سردارانوچي د خپلو بی اتفاقیو له مخي یی د نور ویلو د پاره څه نه درلودل ، مجبوره شول د امیر د تصمیم اطاعت وکړي . امیر لدی نه وروسته امر وکړ چي د دفتر د معلوماتو پر بنسټ دکندهار د مالیاتو کچه مالومه کړي او وروسته یی د اردو د معاشاتو او لګښتونو سره انډول کړي .محاسبی وښودل چي یوازی ۱۶ لکه روپي زیاتي پاتیږي. دغه پیسی امیر د سردارانو تر منځ ددوی د مرتبو په پام کي نیولوسره ددوی تر منځ داسي وویشلی : پنځه لکه روپی سردار رحمدل خان ته ،دوه لکه سردار میر افضل خان ته ،یو لک او اویا زره روپی سردار خوشدل خان ته ،یولک او دوولس زره روپی و سردار

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلام محی الدین خان ته ،یولک او دوولس زره روپی سردار شیرعلی خان ته ،یولک سردار سلطان علیخان ته او اویا زره روپي و سردار منوردل خان ته و ټاکلی شوي چي هرکال به ورکول کیږي. شپږ لکه اوشپږ دیرش زره پاته روپي نورو سردارانوته په یوه ټاکلي کچه په پام کي ونیولي شوی. لدی نه ورسته یی فرمان ورکړ چي سردار محمد صدیق خان او سردار محمد عثمان خان د ګرشک نه دده حضورته راشي، مګر دوی رانه غلل او د فراه په لور لاړل .

سردار رحمدل خان پدی هیله وو چی دکندهار چاري به ده ته وسپارلي شي،ځکه نو ددی پریکړي څخه ناراضي پاته شو. دهمدی کبله یی یوه ورځ امیرته د ګیلی په توګه یاده کړه :هغه خولۍ چی یی پر سر درلوده ، دماشومانو په بازیو کي یي له سره ولویدل، تاسي ته مي درخواست وکړ چي له کابل نه راشي اودغه د سره لویدلی خولي مي بیرته پر سر را ته کښیږدی، خودادی وینم چي زما د هیلو په خلاف هغه خولي ټوټه ټوټه شوه او هره ټوټه یی دبل چا په لاس ورغله، لدی نه پرته دا کار په کندهار کي ستاسی د پاته کیدو لامل هم شو .

امیر دوست محمد خان په ځواب کي ورته وویل : دا خولي په ربښتیا هم تاسو به ماشومانه بازیو کي ځیری کړه ،خو که چیري زه په کندهار کي پاته شوی نه وای، ښایی چي تاسي په پخپله هم دهمدی خولي په شان د خپلو واوره ګانو پلاس ټوټه ټوټه او له منځه تللی وای .

لدی نه وروسته سردار رحمدل خان ، سردارمیرافضل خان او سردار غلام محی الدین خان د ښوراوک پر خوا وتښتیدل او مخالفتونه یی پیل کړل. امیر دوست محمد خان و ولیعهد سردار غلام حیدرخان ،سردار محمداعظم او د سردار محمد عظیم خان زوی سردار سلطان احمد خان ته امر وکړ څو هغوی تعقیب او وینسی.

نوموړی کسان د ښوراوک پر خوا وخوځیدل .مخالفان یی د هلمند په څنډو کي ګرمسیر او ملخان ته ولاړل .امیر کبیر سمدستي وخپل بل زوی سردار شریف خان ته یی چي د ګرشک حاکم وو هدایت ورکړ څو د وزیراکبر خان د زوی سردار جلال الدین خان سره یوځای د پشت رود (ګرشک)څخه ، ګرمسیر اوملخان ته د خپلو قوتونو سره حرکت وکړي ا و د یاغي شوو سردارانو لاسونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وتړي . ياغيان د ملخان په كلا كي محاصره شوه او د مقاومت جنګ يی كاوه .سردار شريف خان هغوی ته پيغام وليږه چي كه د ياغيتوب نه لاس واخلي ، ټول هغه حقوق چی امير ورته ټاكلی وه ، بيرته به ورته وركړل شي. په پای كي دوی له كلا نه راوتل ، مګر سردار شيرعليخان ، سردار محمدعلم خان او سردار سلطان عليخان درو واړو د ايران پر خوا مخ ونيوی . باقي پاته كسان د سردار شريف خان سره كندهارته راغلل او دده د شفاعت له مخي امير دوی عفوه او د خپل معاش په تر لاسه كولو بريالي شول[1].

دا هغه څه دي چي په سراج التواريخ كی راغلی دی ،مګر مرحوم كهزاد وكندهار ته د امير دوست محمد خان د تلوڅخه يادونه نه كوي او په كابل پوری د كندهار نښلول يوازي د شيرعليخان د ښه تدبير پايله بولي. دی ليكي: «سردارشيرعليخان د بري په پايله كي سردار رحمدلخان د معروف خواته ولاړ.سردار محمد صديق خان د سرداركهندلخان زوی د فراه خواته مخ ونيوی. دمهردلخان زوی سردار خوشدلخان ،سردار سلطان عليخان د سردار كهندلخان زوی دپوشنج خواته وتښتيدل.ځينو نورو بيا ديخوا ها خواته ليري او نژدی ځايونو ته پناه يووړه .خو سردار شيرعليخان هغوی تعقيب كړل.هغه وو چې سردار جلال الدين خان ،سردار محمد صديق خان په فراه كي ونيوی. په لاره كي يوځل بيا وتښتيدی او د ګلستان اوغور خواته ولاړ او وروسته يی ځان و امير كبير ته ورساوه . سردار رحمدلخان د هيواد په بيلابيلو سيمو كي لكه :آب ايستاده ،سليمان خيلو او كاكړو كي هلي ځلی وكړی خو د سردار غلام حيدر خان د وعدو او منځګړيتوب له مخي په كابل كي د امير حضورته راغی. لدی نه وروسته د كندهاری سردارانو د اولادونو سره لاهم د كندهار د واكمني هيله پيدا نشوه او لاسونه يی ددی هيلو څخه واخيستل [2].

دكابل سره د كندهار د نښلولو وروسته د سردار كهندلخان اولادونه تر ډيره په ميوند اوپښت رود (ګرشک) كی ميشت شول. چي تر دا اوسه هم هلته

[1]ـ سراج التواريخ ۲جلد، ۲۱۸ـ ۲۲۱ مخونه

[2]ـكهزاد ،رجال و رويداد های تاريخي ۱۲۲ـ۱۲۰مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کوي .د خدای بخښلي استاد رشاد له قوله ،دسردار کهندلخان اولادونه د میوند دسردارانو پنامه پيژندل کيږی[1] .

## دکندهاري سردارانو څخه پاته شوی کسان:

دکندهاري سردارانو د زياتو شجرو په پام کي نيولوسره ، د معصوم هوتک په ارزښناک کتاب کي راغلی چي د سردارانو زامن او د هغوی ر اپاته کسان خورا ډير دی چي شمير يی زرګونو تنو ته رسيږي. زه اوس د دی شجرو بيا د سره تنظيم کول خو لاپريږده ، ان د رانقلولو وس يی هم نه لرم .مينه وال کولای سي په نومړي کتاب کي يی وګوري. زه به دلته يوازي د ښځوو وړونوسردارانو او د هغوی د اولادونو نومونه ياد کړم :

۱. دسردار پردلخان اولادونه : مير افضل خان ، سلطان محمدخان ، مقصود خان ،عبدالرسول خان ، عبدالواحدخان او خوشدلخان .

دسلطان محمد خان زوی محمد رسول خان دی چي له ده څخه قدسيه او ډاکتر امان رسول زيږيدلی دی .

دعبدالرسول خان زامن -عبدالغفار،عبدالرشيد ،عبدالکريم او عبدالظاهر دی . د خوشدلخان زوی شريندلخان دی .ميرمن بلقيس بيا دده لور ده چي د امير عبدالرحمن خان د زوی سردار امين ميرمن وه. د عبدالواحد خان زوی عبدالسميع نوميږي.

ميرافضل خان ۱۳ ميرمني درلودی چي په ګډه يی ۱۵ زامن او ۱۱لورګاني زيږولی وی . د زامنونومونه يی محمدنعيم، عبدالله ، غلام محمد ،عبدالوهاب ،عبدالواحد، عبدالطيف، محمد اعظم ، عبدالرحمن ، عبدالحکيم، نور احمد ،فتح الله ،عبدالقادر، حبيب الله ، امين الله ،عبدالحميد او عبدالشکوردی. دلورګانو نومونه يی دادی : بی بی نوره ، رابعه، نوشابه سلطان ، رقيه سلطان ، امينه ، عايشه ، فرخ سلطان ،فاطمه سلطان ، سارا، بی بی همدم او بی بی مريم. ددوی دډلي نه عايشه د امير شيرعليخان تر ټولو ګرانه ميرمن وه .

[1] -معصوم هوتک،کندهاری وړونه ، ۵۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرافضل خان د امیر شیرعلیخان په سلطنت کي د کندهار اوفراه والي وو چي خورا لوړ معاش اوامتیازونه یی درلودل. دامیر عبدالرحمن خان د سلطنت پر مهال ایران ته ولاړ او ډیر وخت یی هلته تیر کړ. دعمر په پای کي د مفلسی اوبیوزلي سره لاس او ګریوان شو اوتر (۱۸۸۸م) پوری ژوندی وو. دده زوی سردار عبدالوهاب خان د سردار ایوبخان د پلویانو څخه وو او د میوند د جنګ پروخت د هرات والي و. کله چی دسردار ایوبخان د نورو پلویانو سره ایران ته ولاړاو په تهران کي میشت شو . دده د پلار د مړیني وروسته ،قاجاری چارواکو غوښته دده لور د سلطنتي کورني یوه غړي ته واده کړي، مګر ده ونه منل. پدی خاطر دی هلته تر فشار لاندی راغی او مجبور شو هند ته کډه وکړي . دامیر حبیب الله خان په سلطنت کي چي افغاني فراریانو ته دبیرته راتګ اجازه ورکړل شوه ، سردار عبدالوهاب خان هم د خپلي پلرني کورني سره کابل ته راغي او دامیر حبیب الله خان لخوا د (امین المکاتب) په توګه وټاکل شو. وروسته په مزارشریف کي د ترکستان نایب الحکومه او د امیر د ژوند تر پایه هلته پاته شو. دده زامن سردار عبدالرحمن خان او سردار عبدالحبیب خان د دوهم مشروطه غوښتونکو زبردست غړي وه چي په اماني دولت کي یی دپام وړ دندي درلودی . سردار عبدالرحمن هغه څوک ووچي د استقلال په جنګ یی د اوربند سند د پیښوره څخه وکابل ته د اس پرشاه را ورساوه ، دشاه امان الله منظوري یی تر لاسه او انګریزانو ته یی په پیښور کی ابلاغ کړه. ده د شعر ویلوسره هم مینه درلوده .دده زوی احمد رحماني چي د ماګه رحماني پلاروو، د ډیرو سرسختو امانیستانو په ډله کي راتلی . ده د هاشم خان په زندان کي ۱۷کاله تیرکړه او د زندان څخه تر راوتلو وروسته په لنډ وخت کي وفات شو(۱۳۲۵ش).

۲. دسردار شیردلخان اولادونه: دسردار شیردلخان څخه دوه زامن زیږیدلی ، یو یی نورالله په وړکتوب کي ومړ اوبل یی سردارمیراحمد خان. هوتک صاحب لیکي چي دمیراحمد خان داولادونو په هکله مالومات نشته .

۳. دسردارکهندل خان اولادونه : سلطان محمد خان ، محمدصدیق خان ،عبدالله خان ، محمد عثمان خان ،غلام محی الدین خان او محمد عمرخان .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمحمد صدیق خان زامن گل محمد خان اونورمحمد خان دي. دگل محمد خان ځخه محمدنسیم ،محمد کریم ،محمد امین ، خدایداد ، محمد هاشم او محمد یحیی زیږیدلی دي .

د غلام محی الدین خان ځخه احمد زیږیدلی دی چي عبدالرحمن ، حبیب الله ، عبداقادر، محمد امین ، عبدالعزیز ، محمد عمر ،عبدالله ، محمد یوسف ،محمد هاشم او معصوم خان بیا دده زامن دي. [١]

٤. دسردارمهردلخان اولادونه : سردار خوشدلخان ، منوردلخان او شیرعلیخان دده زامن دی .

دخوشدلخان زامن شریندل خان ، حسن خان ، محمدانورخان او معصوم خان دي. د حسن خان زامن سید احمد خان او نظرمحمد خان دي.اولادونه یی د پنجوایی د سردارانو پنامه یادیږي چي خرمدل خان ، عبدالرحمن خان ، عطامحمد خان او روشندلخان یی زامن دي. خرمدل خان ته د امیر حبیب الله خان په دربارکي ډیر درناوی کیدی. په ۱۹۱۳م کي کندهار ته راغي اوتر ۱۹۲۴م پوری په گرشک کی میشت وو[٢].دده اولادونه اوس هم په گرشک کي ژوند کوي.

محمد انورخان چي د شیریندل خان زوی وو، دده ځخه عبدالباقی خان او حکمران محمد رفیق خان زیږیدلی دی. محمدرفیق خان دوه زامن درلوده : عبدالخالق خان رفیقي او عبدالقدوس خان رفیقي چي دوی دواړولوړي زده کړي درلودی. محمد رفیق خان ځو وخته دکندهار حاکم اوبیا د گرشک حکمران پاته شویدی. دده زوی عبدالخالق خان په هند کی تر لوړو زده کړو وروسته د مالیی په وزارت کي کار کاوه .وروسته یی په کندز ،بامیان او ننگرهار کي د والي دندي تر سره کړیدی چي د ثور د کودتا په لمړي ورځ د جنرال یونس خان سره یوځای ووژل شو[٣].

دحاجی منوردل خان زامن ــ فیض محمد ، گل محمد ( مدیرگل محمد

---

[١] ـ معصوم هوتک، کندهاری ورونه، شجره نامه ص٦٢ وبعد از آن دیده شود.
[٢] ـ معصوم هوتک ،کندهاری ورونه،ص١٩٤،١٩٣ دیده شود
[٣] ـ معصوم هوتک ،کندهاری ورونه،ص٢٠٦ـ ٢٠٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرقي)، حاجی شاه محمد ، عطامحمد، عبدالرؤف او سید محمد وه . ددی کورني اوه اولادونه دسرپوزی اشوغی دمحمد زیانو پنامه یادیږي.[1]

د والي شیرعلیخان زامن- شهنواز ، محمد علي ،حیدرعلي ، مهرعلي ، فضل احمد ،محمد ایاز،نیک محمد، نورعلي، غلام نبي ، محمد عزیز او عبدالله دی.

دشهنوازخان زامن – نیازمحمد ،سکندر او محمدشاه دي.

دنورعلیخان زامن – فتح علي، محمد علي ، محمد موسی،محمد یوسف او عبدالاحد دي .

معصوم هوتک په کندهار کی دوالی شیرعلی خان د اولادی څخه مالومات ندی ترلاسه کړي. والی شیرعلی خان هغه څوک دی چی دانګریزانو لخوا د کندهار والی ټاکل شوی وو او ددوی په پلوي یی د سردار محمد ایوب خان په وړاندي جنګ ته تر ګرشک پوری ځان ورساوه ، مګر جنګ یی ونه کړای شو ځکه چي ټول پوځ یی د سردار ایوب خان پرخوا شو. دی بیرته کندهارته راستون او د انګریزانو ترشړلو وروسته هند ته ولاړاو هلته مړشو.

<u>٥. دسرداررحمدل خان اولادونه</u>: غلام حیدرخان ، محمدقلی،ګل محمد درانی ،محمد سرور، غلام محمد خان طرزي، محمد علم ، تاج النساء او محمد اعظم چي دغه اته واړه زامن یی د بی بی حوا نومي میرمني څخه زیږولی ، کومه چي د سردار رحیمداد خان لور او د حاجي جمال خان لمسي وه .

دسردار محمد علم خان زامن- ګل محمد ، تاج محمد ، نظرمحمد ( په سل کلني عمر په کندهار کي وفات شو) ، داد محمد خان ، فتح محمد ، سلطان علی او محمد انور دی.

دسردار غلام حیدر خان زامن- غلام صدیق خان او غلام علی خان دي.

د غلام غلي خان اولادونه –حسین خان ،حیدرخان ، ملک اراء او ګوهر بیګم دی.

<u>دغلام محمد خان طرزی اولادونه</u>- محمد زمان ، عبدالله ، ګل محمد،

---

[1] - معصوم هوتک، کندهاری ورونه،ص۱۹٤،۱۹۳ دیده شود

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالخالق، محمود بیګ ، محمد امین ،عندلیب ، ساهره ، منوره ، همدم ،عایشه اوخورشید دی. دسردار غلام محمد خان طرزی کورني دټولو کندهاری سردارانو تر منځ د علم او فرهنګ له مخي ډیره روښانه کورني وه .دهنر ،شعراو لیکوالي سره ددی کورني د غړو اړیکي ډیری دی. له همدی کبله به لږ وروسته د نوموړي کورني په هکله جلا یادوني او خبري وسي.

## دکندهاري سردارانو فرهنګي اړخ ته یوه کتنه:

سره ددی چي کندهاری سراداران دسیاست اونظامي چاروسره پخپل ټول وخت کي لاس او ګریوان وه ، د فرهنګي چاروڅخه هم ډیرلیری ندی پاته شوي. ددوی د پاته شونوڅخه ښکاري چي د شعری ذوق او د ښکلي خط لیکلو (خطاطی ) سره یی خپلي اړیکي ساتلي دي او داکار یی د ستاینې وړ دی .

په فرهنګي اړخ کي ددوی وړتیا کولای سي ددوی دسیاسي اړخونو نیمګړتیا ورته پوره کړي. ددوی دغه وړتیا یی دوی له پیښوری او کابلي سردارانو څخه بیلوي اوپدی ارزي چي افغانی ټولني ته ور وپیژندل شی.

ددوی وسیاسي اړخ ته په پام اړولو سره داسي فکر کیږي چي دوی ټول عمر په سیاسي تربګنیو ، زور ازمایلو او دقدرت په غوښتلو کي په فیوډالی رقابت اوسیالیو بوخت وه . مګر دوی سره له دی ټولو پخپل بیکار وخت کی شعر ویل ، نستعلیق خط لیکل او د نورو د شعرونو دیوان تنظیمول هم له یاده ندی ایستلی .

ددوی دډلی نه داسی کسان د یادولو وړ دي چي شعري اوهنري استعدادونه یی درلودل لکه سردار مهردلخان اوسردار غلاممحمد خان طرزی او دده زامن لکه محمود طرزي د نستعلیق خط زبردست ماهر ، دغلام محمد طرزی ددیوان لیکونکي (خطاط) او د یو شمیر نورو لیکوالانو د لسګونو ادبي کتابونو مهتمیم.

ښاغلی معصوم هوتک د خپل کتاب (کندهاری وړونه )په ۲٦۸ مخ کي لیکي :« د(کندهاری وړونو) سیاسی رول چی هر راز و، ښه او که بد، هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتاریخ په کتابونوکی په تفصیل سره بیان سوی او ما یی هم پخپله همدی لیکنه کی یوه اندازه جاج اخیستی دی. خو له دی واقعیت څخه هیڅوک انکار نسی کولای چی په دی کورنی کی دسردارمهردلخان مشرقی غوندی عارف شاعر، د سردار غلام محمدخان طرزی غوندی کثیرالابعاد شخصیت او دپارسی ژبی دویاړ شاعر، دعلامه محمودطرزی په شان پرافغانیت مین سیاستمدار، لیکوال، شاعر، ژورنالیست ... تیرسوی دی چی دافغانی تاریخ او فرهنگ ویاړلی شخصیتونه دی. ماهڅه کړی ده چی د دغی کورنی فرهنگی او سیاسی شخصیتونه خپلو وطنوالو ته دخپلی مطالعی په حدود کی وروپیژنم. » .

دلوړکتاب لیکونکی د کندهاری سردارانو د نیکه حاجي جمال خان بارکزي په را پیژندلو سره کتاب پیل کوی . دسردار پاینده محمدخان د ورور ، سردار هارون خان یادونه کوي چي د فارسي ژبي یو ښه شاعر تیر شویدی او د شعرونو دیوان یی د ۴۵۰۰ بیتونو سره را پاته دی. معصوم هوتک په خپل کتاب کي د کندهاری وړونو له ډلي نه دفرهنگي شخصیتونو ستاینه کوي او د داسي سیاسي څیری لکه دشاغاسي کورني په هکله د پام وړ مالومات د لوستونکو مخ ته ایږدي. په لاندي کرښو کي به د یو شمیر کسانو څخه ددغو سردارانو له ډلی چی شعری او هنري استعدادونه یی درلودل یادونه وشي :

## سردار هارون خان :

دی د حاجی جمال خان زوی او د کندهاري سردارانو کاکا وو. د (۱۱۵۰ش یا/ ۱۷۳۷م) په شاوخوا کي زیږیدلی او تر (۱۷۸۶م ) پوری ژوندی وو.کله چي د جمال خان وروسته پاینده محمد خان دبارکزی قوم مشروټاکل شو،هارون خان ته د ګرشک د حکمران دنده وردغاړي شوه . ده برسیره پردی چي په کابل ، کشمیر ،سند او هرات کی یی هم دندی درلودلی دی خو د ژوند ډیره برخه یی په ګرشک کي تیره کړی ده. دی په فارسي ژبه یو دیوان لري چي د بیتونو شمیر یی ۴۵۰۰ ته رسیږي . په غزل کی دی د حافظ پر لاري روان دی . دغزل یوه بیلګه یی داده :

(c) ketabton.com: The Digital Library



چو آرم در خیال خود شب آن لب های میگون را
بجای باده نوشم تا سحرگه ساغر خون را
شود خورشید تا از شرم در ابر سیه پنهان
مهٔ من دورکن از چهره یکره زلف شب گون را
روی ای سرو قامت تا بسیر بوستان روزی
بخاک تیره بنشانی زشوخی سرو موزون را
شبی گر بگذرد در دل، خیال برق رخسارت
چراغان از شرار آه سازم سقف گردون را
بروز عید قربان میکنم قربان ترا گفتی
سرت گردم مده از دست خویش این روز میمونرا
ز احوال رقیبان یک بیک از ناز پرسیدی
نمیپرسی چرا؟ ای سنگ دل احوال "هارون" را

## سردارمهردلخان مشرقی :

دی د کندهاري سردارانوکشرورور وو چي په کړو وړوکی یی دمعنوي شخصیت پله تر سیاسي درنه وه . دی په افغانستان کي د ۱۹پیړي په هندی سبک کي د فارسي ژبي پیاوړی شاعر ګڼل کیږي. پښتو شعرونه یی هم ویلي دی. ځانته یی د «مشرقی» تخلص ټاکلی وو. دی د دری هومره قوی شاعر وو چی د مولوی مثنوي بیتونه یی په شعري ژبه شرح کړیدی. د مولانا د شعرونو څخه دده تعبیرونه ډیر ژور او داسي هر اړخیز دی چي پدی اړوند یی د خپل عصرد فارسی ژبي شاعرانو لاسونه تر شا ور تړلي دی .ده نیت کړی ووچی د مولوی د بیتونو شرح په همدی سبک کي تر پایه ورسوي. له بده مرغه یی دا ارمان پوره نشو.ده وکړای شوه چي د (شاه او مینځي ــ شاه وکنیزک)تر کیسی پوري په زرو بیتونو کي د نوموړی مثنوی شرح په شعري ژبه وکړي. خپل دا اثر یی د ( شرح بیتین مولوی) یا د مولوي د بیتونو شرح

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنامه ياد كړيدى. ده په تصوف كي د(جمع الجمع) په نامه يوه رساله هم ليكلى ده .ده همدارنګه د (اشارات و موازات ميا عبدالحكيم كاكړ) (دميا عبدالحكيم اشارى اورمزونه ) پنامه يوه رساله شرح كړيده



مشرقي په نثر او نظم كي د هندي سبک پلوى ووچي په فارسي ادبياتو كي دا يوخورا مشكل سبک دى.خداى بخښلى علامه حبيبي وايى:« مشرقى په رښتيا سره په هندي سبک كي دبيدل د سبک پلوى دى. مګر دده مثنوى ګاني د مولوى د شعر خوند لري. [١]»

معصوم هوتک يادونه كوي چي دسردار مهردل خان كور به تل دپوهانو د اندونو د ادلون بدلون مركز وو. پدى مركز كى دپښتو شعر وتلي شاعران لكه ميرزا حنان باركزى ، حاجى عبدالله پوپلزي، حاجي جمعه باركزي ، ملا ميران ، صديق اخوندزاده هوتک، سردار غلام محمد طرزى او نور د هغه مهال اديبان راټوليدل. سردار مهردل خان د خپل وخت د پيژندل شوو پوهانو لكه علامه حبيب الله كاكړ(حبو اخوند زاده ) او قاضي غلام محمد خان هوتک سره هم علمي او عرفاني اړيكي درلودى. لكه څنګه چي علامه حبو اخوند زاده د (نقد القات فى التزييف الموضوعات ) پنامه خپل يو اثر دسردار مهردلخان په غوښتنه ليكلى دى [٢].

ددى د پاره چي د غزل په برخه كي دمهردلخان مشرقي د تخيل په توان باندي پوه شو، داځو غزل به يى د بيلګي په توګه راواخلو:

## غزل

بس كه از شور دوعــالم درد سر داريم ما
زاضطراب هستى خـود كى خـبر داريم ما

---

[١] ـ معصوم هوتک، كندهارى ورونه، ص١٧٥
[٢] ـ معصوم هوتک، كندهارى ورونه، ص١٧٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزگاری شد که اندر وادی صحرا بشوق
رفته از خویشیم و سودای دگـر داریم ما
آب چشم از دیدهٔ خونبار ریزان هـرنفس
ز انفعال هستی خود چـون سحر داریم ما
تا قیامت شب نگـیرد دامـن صبح امـیـد
گـرنــقـاب از ماه روی خویش برداریم ما
مشرقی ازسیل چشم خون فشان ما مپرس
مـوج طـوفان دگر از چشم تـر داریم ما

<u>دا هم دده یو بل غزل</u>

برق آهم سوخت امشب سبـزهٔ کشمیر را
آب چشمم کـرد ویـران خــانه تعمیر را
ماه من درمکتب چشم سیاهت روز وشب
نیست جـــزدرس تحیر دیـدهٔ نخجیر را
باغبان من بیا از سعی بی جا دست کـش
آب نتوان داد هـرگـز غنـچـهٔ تصویر را
معصیت گرکردهٔ واعظ نخـواهم روسیاه
سرخ رو گشتم چـو نوشیدم می تقصیررا
ما که با پـیریم از رنج دوعـالم رسته ایـم
ای صبا بـرگـو حکایـت مردم بی پـیر را
مهردل،تاچند گـردی بـهـر روزی دربدر
کـس دگر گون کی تواند نسخهٔ تقـدیر را

<u>یو بل غزل یی</u>

سـرو آزاد است گـویا مصرع مـوزون ما
بـوی گـل شد منفـعل از نـگهت مضمـون ما
زاده شد چون کهربا گوهرزخجلت درصدف
تا بیرون از بحـر دل شـد گـوهـر مکنون ما
می توان دانست خاک بی کسـان از داغ دل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاله شمع روشن است بر تربـت مجنون ما
یک سرمـــو با خبـر از نـشـهٔ مـعنی نشد
گربخـون چون داد می بنشست افـلاطون ما
زخــم ها بر دل زنوک نـاوک مژگان کیست؟
کین چنین گلگون شد از خون دلـم هامون ما
چاره ام نبود بغیر از جان سپاریهای خویش
لشکرغـم" مشرقی" بگـرفته پـیرامون ما [1]

او دا هم دده د نثر یوه بیلګه :

"... چنین گوید ذرهٔ بیمقدار خاکسار بستهٔ اغلال وسلاسل تعلقات این عالم آب وگل اعنی مهردل بسمع ملازمان کمال کامل که مهردل از تنعمات ذخارف عاجل برتافته، بتحصیل سعادات آجل شاغل و مایل شده اند، میرساند، مدتی میشود که خوشه چینی خرمن این طایفهٔ علیه یعنی صوفیه را که فی الحقیقت فرقهٔ ناجیه ایشانند، مینماید وبحکم :من تشبه بقوم فهومنهم، امید که بواسطهٔ پیروی ایشان بایشان محسوب ومحشور شود. دراین زمان باستصواب رأی موافق واستدعای احباب صادق اتفاق افتاد که بر بیتین مثنوی مولوی معنوی شرحی بقئر وسع برهمان بحر در سلک نظم آورده شود.بعد از حصول این مامول چون در معنی باز بود لاجرم سلسلهٔ سخن دراز شده تا اینکه تمامی ابیات آنجناب را تا ابتدای قصهٔ شاه و کنیزک باتمام رسانید مبعونه وتوفیقه.سوال از جناب ارباب قبول آنکه اگرسهوی وخطائی مطلع شوند د اصلاح آن کوشند و پردهٔ عفو پوشند. [2]"

دمولوي د بیتونوشرح ښاغلي مشرقي په لاندي بیتونوسره پیل کړیدی:

ابـتـــدای نـام دانـــای قـــدیـم — شـد زبسم الله الـــرحمن ورحـیم
ذات پاک او زبس بی چـون بـود — شرح اوصافش زحـد بـیرون بـود
قـل هــــوالله آیــتی در شــأن او — زانـکه وصف خویش گویدخود نـکو

---

[1] ـ معصوم هوتک، کندهاری ورونه، ص۱۸٤
[2] ـ معصوم هوتک، کندهاری ورونه، ص۱۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



بر بـــزرگی جلال و بـــرجمـــال | خـود بخـود زیبد ثـنای ذوالجـلال
زان زبان نـــاطـــقه گـــردید لال | در ثـــــــنای ذات پاک ذوالجلال
تا نگـــویـد خود ثنای خویشتن | مـــی نـیابد وصـف او از ما و من
زان سبب در وصـف ذات کبـریا | شـــد دلــــیـل عجزلا احصی ثـنا[1]

سردار مهردلخان مشرقي د ۱۲۱۲ش د محرم په میاشت یا( ۱۷۹۸م جون)په کندهارکي سترګي پرانیستی او د ۱۲۷۱ کال د جمادی الثاني په میاشت کی چی د( ۱۸۵۵م کال دمارچ د اتمي نیټی سره سمون لری )، لدی فاني نړي نه سترګي پټي کړی او د حضرتجي بابا په زیارت کي خاوروته وسپارل شو.

## سردار خوشدل خان کندهاری :

دی د سردار مهردلخان زوی وو چي په دری ژبه یی د شعرویلو ښه استعداد درلود . دا هم دده د شعر یوه بیلګه :

بسی تپـیـدم، الـم کـشیدم،رُخت نـدیـدم، در این جـدایی
غمت خـریدم، بـدل گـزیـدم، بجـان رسـیـدم، اگـر نیایی
قسم برویت، بتارمـویت، که من بکـویـت، بجستجویت
اگربسویت، رسم بـبـویت، زبیم خـویـت، کـنم گـدایی
بخال هندو، بـدام گیسو، بـچشم آهـــو، بـقـوس ابـرو
زدی بهرسو،خـدنگ جادو، بت پری رو،چـه دلـربـایی
برم نشستی، بعـین مستی،زبـزم جستی، زجملـه دسـتی
دلم شکستی،بزلـف بستی، بغمزه خستی، چه جانـگزایی
زجورهجران،شدم پریـشان، به آه سوزان،بچشم گریان
بروی جـانـان، زدرد هـجران،کنم صد افغان،اگـر نیایی
باین شمـایل، نمودی مایل،ربوده یی دل،بگوچه مشکل؟
اگربه خوشدل، بلطف شامل، بـشوق کامل،نظر نمایی[2]

---

[1] ـ معصوم هوتک، کندهاری ورونه، ص۱۷٦، برای اطلاع بیشتر به کتاب "کندهاری ورونه" رجوع شود.
[2] ـ معصوم هوتک، کندهاری ورونه، ص۱۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار خوشدلخان د ( ۱۸۷۸م کال) د اپریل پر ۲۷ وفات شو. دده د کاکا زوی سردار غلام محمد طرزي دده په مړيني سره لاندي ويرنه (مرثيه ) ويلی ده :

چنان درغمش خونم از دل بر آمد — که موجش ز دامان قاتل برآمد
زبس خاک غم ریخت غربال گردون — سراپای این بحرساحل بر آمد
چه نسرین ودرو چه گل های رنگین — که از لای این دهر پرگل برآمد
مجو میوهٔ خوشدلی از درختم — که نخل امیدم زحاصل بر آمد
چسان غنچهٔ خوشدلی گل برآرد — کزین باغ سردار خوشدل برآمد
فغان، زیرگِل رفت پای گل من — بگلشن اگرچه گُل از گِل برآمد
بماه ربیع دوم روز شنبه — مهی مهردلجو زمنزل بر آمد
ز مه بود بیست وسوم آنکه ناگه — میان پردهٔ مرگ حائل بر آمد

چنین گفت طرزی بتاریخ فوتش
که ازچاه اندوه خوشدل برآمد[1]

## سردار غلام محمد خان طرزی :



دی دسردار رحمدل خان زوی او د سردار پاینده محمد خان لمسی دی چي په (۱۲۴۵ش يا ۱۸۲۹م کال ) کي په کندهار کي زيږيدلی دی . سردار غلام محمد طرزی د علامه محمود طرزی پلار دی. په هندي سبک کي د فارسي ژبي یو وتلی او زورور شاعر او د ښکلی خط ليکلو په چارو کي يی لوی لاس درلود چی ډير ښکلی خط يی وو. دی کندهاری سردار چي ښکلی ذوق يی درلود، يو صوفي ډوله هنر پال وو. دخپل کاکا سردار کهندل خان د واکمني

[1] - کندهاری ورونه، ص۱۹۲،آقای هوتک مادهٔ مرگ خوشدلخان رابحساب ابجد ۱۲۹۵ق حساب کرده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمهال یی په شعر ویلو او ښکلی خط لیکلو (خوش نویسی) باندي وخت تیراوه او د سیاسی او نظامي چاروسره یی هیڅ ډول مینه نه درلوده .لدی سره سره به کله ناکله ودی ته اړوت چي د کاکا د زامنوسره پخپل منځي شخړو کي د خپلي کورني د عزت او شرف څخه د دفاع په موخه لیڅي راونغاړي ، هغه وخت چي کندهار په کابل پوری وتړل شو او پلار یی سردار رحمدل خان ایران ته ولاړ، دی په کندهار کي د خپل پلار د جایداد دوصي او وارث په توګه پاته شو.

ده په ډیروچارو کي د امیردوست محمد خان سره مرسته کول چي له کبله یی د هغه پام او درناوی ورته کیدی. امیر په دی خاطر د ( ارجمند دانشمند) ښنامه یاداوه . دځانه سره یی کابل ته بوت او د کاله یی ۱۲۰ زره روپي مستمري معاش ورته وټاکه . ویل کیږي چي طرزی د امیر دوست محمد خان سره په هغه جنګ کی هم ګډون درلود کوم چي دسلطان احمد خان څخه د هرا ت د نیولو او په کابل پوري د هغه نښلولو پخاطر په ۱۸۶۲م کال کي ونښت. د امیر دوست محمد خان تر مړیني وروسته امیر شیرعلی خان ، سردار محمد افضل خان او سردار محمد اعظم خان هم د غلام محمد خان طرزی عزت او درناوی کاوه. مګر د امیر شیر علیخان د دوهم ځل سلطنت پر مهال دی د امیر د پام نه ولوید او ان څه موده زنداني هم شو. دزندان څخه تر راوتلو وروسته پر کور کښیناست او تقاعد شو[1].

پر هیواد باندی د انګریزانو ددوهم ځل تجاوز وروسته کله چي د کابل د واکمني په خاطر د سردار محمد ایوب خان او سردار عبدالرحمن خان تر منځ تربګنی او رقابت روان وو،غلام محمد خان طرزی د سردار ایوب خا ن پلوی کول. هغه وو چی غلام محمدخان یی و هند ته تبعید او دده ټول جایداد یی مصادره کړ. ویل کیږي چي دامیر عبدالرحمن چارواکو دغلام محمد طرزی کورني د خپل ۳۶ تنوغړو سره په بیرحمانه ډول و کویټی او کراجي ته تبعید کړل .

وایی چي د امیر جاسوسانو وامیر ته راپور ورکړی وو چي ګویا غلام

---

[1]- کندهاری وړونه ، ۷۵-۷۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد طرزی په یوه مجلس کي یوه هراتي ته ویلی وه : « تاسي انتظار وباسي چي سردار محمد ایوبخان به ډیر ژر د ایران څخه بیرته راستون شي » په همدی خاطر امیر دی او دده کورنی د هیواده وشړل او هغه هراتی یی په یوه قفس کي واچاوه . دغوریانو په سرحدی سیمه کي یی پر یوه ونه و زړاوه اوورته یی وویل چي دلته منتظر اوسه څو د ایوبخان لښکری ووینی چي څنګه به د ایران څخه بیرته راګرځي .

دغلامحمد خان طرزی د تبعید پر وخت دده د کورنۍ په ډله کي دده نوی زلمی زوی ۱۶ کلن محمود هم ورسره وو چي لوړ فرهنګي استعداد یی درلود . دوی د ۱۸۸۱ څخه تر ۱۸۸۵م پوري په کراچي کي اوسیدل او وروسته په کښتۍ کي بغداد او له هغه ځای نه په ۱۸۸۶ کي دمشق ( سوریه) ته کډه شول.

معصوم هوتک لیکي چي سردار غلام محمد طرزی دکندهاری وړونو په کورني کی داستعداد ،میراني، اخلاق،علم اوادب کي دبرلاسي له مخي دخپل وخت تر ټولوسردارانو وړاندي وو . ده په شعر او ادبیاتو کي لوی لاس درلود چي ددیوان په لوستلوسره یی ددی خبري رښتینوالی ترلاسه کیږي. دده د علم اوفضل انګازی هغه وخت تر هندوستان، ایران، عراق اوترکستان پوري رسیدلی وی. داشعارو دیوان یی ډیرپنډ کتاب دی. په ۱۳۰۹ق – ۱۸۹۱م په کراچي کي چاپ شویدی. ددی دیوان خطاطي دده زوی محمد زمان خان کړی او د چاپ چاری یی دده وراره محمد انورخان پر غاړه اخیستی وی. غلام محمد خان طرزی دخپل زوی محمود طرزی پلاس د سیدجمال الدین افغان د پاره یوپیغام واستامبول ته لیږلی او یوه قصیده یی دنسیم په ستاینه کي او د سیدجمال الدین د صفاتو په هکله ویلی چي خورا په زړه پوري اوخوږه ده . دادی هغه قصیده:

## دسیدجمال الدین افغان په ستاینه کی :

نسیم صبح در گلشـــن وزید از جانب صحرا
عبیر آمیزو عنبربیز و روح انگیز وجان افزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



طراوت بخش روی گل، پریشان سازبوی گل
موافــق همچــو خــوی گل ، بطبع مردم دانا
ازو طبع چمـن تازه ، وزو بر روی گل غـازه
چوبوی لاله جان پرورچوعطرگل روان پرور
دمادم گلستان پــرور،ســراسر بوستان پــیــرا
حبیب ویاور گلشن، رقـیـب و رهـبــر گلشـن
خطیب منبــر گلشن، حسیــب دفــتر صــحــرا
ازو طبع چمن تازه، و زو بر روی گال غازه
ازو درگلشن آوازه، وزو در بوستان غـوغـا
بطـــــفل غنچه او دایه، بچنگ لالـه او مـایه
بفــــرق زاغ او سایه، بــدوش بــاغ او کـالا
بسوری رنگ وآب ازوی بسنبل پیچ وتاب ازوی
شده سرمست خواب ازوی دوچشم نرگس شهلا
بطرف باغ کوشیده،بگل چون رنـگ جوشیده
بقــــــد شــــــاخ پوشیده زغـنچه دیبهٔ دیـبا
رخ چـون گل عرق کرده جواهر درطبق کرده
قبای غنچه شـــق کرده چو جیب لالهٔ صحرا
بشاخ سرو وتخت گل، نشسته قـمـری وبلبـل
یکی در شیــون وغلـغـل، یکی درنـاله و آوا
رخ گل دربهارستان بدانسان کـرده کارستان
که مانی در نـگارستان، زنـقش دلکـش زیـبا
بجسم لالهٔ نعمان،چنان از لطـف بخـشد جـان
که برطـبع خرد منـدان ، کـلام نـغـز مولیـنا
جمال الدین نام او، سخن فهم و سخـن پـرور
خردمند هنر گستر، فلک قـدر و ملـک سیما
فلاطـون ازغم رویش کند تب لرزه درکویش
اشارات دو ابرویش، شــفــای بــوعلی سینــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترا طـرزی ثـنا گـوید،هزاران مرحبا گوید
بصدق دل دعا گوید چه در سّرا، چه درضّرا
توئی عالم توئی عامل توئی عارف توئی کامل
توئی فاضـل توئی باذل توئی عاقل توئی دانا
فصاحت را توسبحانی، بلاغت را تو حسانی
عـرب را شیــره جـانی ، عـجـم را دیـدهٔ بینا
توئی کشف نـکوکاری توئی برهان دینـداری
توئی فرهنگ هشیاری توئی قاموس استغـنا
توئی برسالکان رهبر توئی برکاملان مـهـتـر
توئی برسروران سرور توئی برخواجگان مـولا
توشـــــــــمع بـزم ایقانی، دلیل راه ایمانی
تو اندر بحــر عـرفانی درخشان گـوهر والا
کدامین قطـره آبستی، که رشـــک دُرِنابستی
نـکوتر زآفتابــستی،چــه باشد لوء لـوء لا لا
نـه ماه روم وشامستی که خورشید تمامسـتی
قبول خاص وعامستی، بجا بلـقـا و جابـلـسا
تونورستی جهان اخگر،توعودستی جهان مجمر
توجانستی جهان پیکرتوروح استی جهان اعضا
الا تا نوبهــــــارآیـد درخت گل بــه بـار آید
زخاک مرغــــزار آید، شمـیـم عنــبر سارا
بهار خـاطـــرت خــرم،مبــرا از خـزان غم
چوبوی نـافهٔ مشکین چوبوی غنچه روح افزا
(کلیات طرزی ، از قسم قصاید صفحه ۱۷ )

لکه څنګه چي وینو ، په لوړه قصیده کي تخیل په لوړه کچه کارول سویدی چي په قصیده ویلوکي دده لوړ استعداد ښیی . لاندي به دده دوه غزل

(c) ketabton.com: The Digital Library



راواخلو چي دابوالمعاني بيدل په سبک یی لیکلی اوپه نازک خيالي کي دشاعر دزورورو مټآنو ښکارندوی دی:

بگلشن چون زشوخی آن چـــمن پرواز می آید
چو بــلبــل گـــل ببال غنچه در پـــرواز می آید
زشرمش رنگ وبوی گل بپهلو میخوردهردم
که درگوش ازشکست رنگ وگل آواز می آید
ز رفـــت و آمـد ذوق تمـاشایم چه می پرسی؟
باستقبالــــش ازخـــود رفـتن مـــن باز می آید
چو چشم او اشارت کرد سویم با سرمـــژگـان
بشارت ســوی دل بـردم که اینک باز می آید
بروی رنگ گل نگهت چو شبـنم آب میگـردد
مگــــرســـوی گلستان آن بـهـار نـاز می آید
زمـــرغ دل نـــیم واقـف ولی باز اینقـــدر دانم
که ازبال پـــرشـــــاهین بگوش آواز می آید
بطرف گلشن از باغ عـــدم بـــردامـن گلچـیـن
بذوق دیـــدن او دیـــده چـــشم بـــاز می آید
مگر"طرزی" چو بیدل ذوق گردپای او دارم
که مشت خاک من چون چشم در پرواز میآید
(دیوان، صفحه ۳٦٥)

دا هم دده یو بل غزل :

ازین زمانهٔ پـــرفـتـنه جای فـــریاد است
که هرکه هرچه کند در محل ایراد است
اگر نماز کنی گـــویـــدت کـه صوفی شد
وگرقـــمار کنی گـــویـــدت که نـراد است
به بتکده چـــو روی گـــویدت که کافر شد

(c) ketabton.com: The Digital Library



به صومعه چو روی گویدت که شیاد است
بدست سبحه چــو گیری بیکــدگــر گویند
که سبحه نیست برم دام ودانه بنهاد ست
چــو با سلام روی گــویــدت کــه طامع شد
چــو بی سلام روی گویدت که شداد است
چـــو بخششی نکنی برکسی هــمی گــوید
که این خسیس عجب دادممسکی داداست
چــو خلعــتـــش بدهی از منافـقت صدجا
سحر بخنده بگــوید که دست بر باد است
چو کهنه پـــوش شوی از قفا همی گوید
که این حـریف نگرسخت تر زفولاد است
خوش آنکسیکه ز رد و قبول خلق جهان
بسان "طــرزی افغان" بکـلی آزاد است[1]

سردار غلام محمدخان طرزی د ۱۳۱۸ق/ د برات د میاشتی په ۱۵ نیټه چي د ۱۹۰۰م کال دډیسمبر د ۲۸ سره سر خوري دجلا وطني پرمهال په دمشق کي دنړۍ نه سترګي پټي کړی اوهم هلته ښخ شو. ده یوولس زامن درلوده : محمد زمان، عبد الله ، گل محمد ، عبد الخالق، محمود بیک، محمد امین ، عند الیب، او شیرمحمد . دشپږو تنو لورگانو نومونه یی همدم ، ساحره، منوره، عایشه اوخورشید دي.

د معصوم هوتک په کتاب کي دده د ټولو اولادونو بشپړه شجره د جزئیاتوسره راغلی ده[2].

د دغی کورنی غړی ټوله د شعر او ادب او مطبوعات اوصحافت سره ئی مینه در لودل اود هر یو څخه علمی او ادبی آثار پاته سوی دی.

---

[1] ـ معصوم هوتک، کندهاری ورونه، صص ۹۴ـ ۹۵
[2] ـ معصوم هوتک، کندهاری ورونه، ص ۸۷، ۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library





## علامه محمود طرزی :

دی د پلار د مړيني پر مهال ۳۵ کلن وو.په ادبیاتو، حقوق ، سیاست، ټولینزو علوموااو طبیعي علومو کي یی پراخي زد کړی اومطالعی کړی وی. دی یو زورور سیاست پوه، قوي شاعر اوبرلاسی لیکووال وو. د دري او پښتو برسیره یی ترکي ،عربي ، اردو اوفرانسوي ژبي هم ښه زده وی. محمود طرزی په ۱۹۰۲م کال کي کابل ته راغی او په ۱۹۰۵ کال کي دامیر حبیب الله خان د ژباړني چارو د اداري رییس وټاکل شو اود ترکي ژبي څخه یی فارسی ته د قوانینو( نظامنامو) په ژباړلو پیل وکړ. وکابل ته تر راتګ وروسته دی په محمود بیګ مشهور شو. نه میاشتي یی په کابل کي تیري کړی.

داچي دی دامیر حبیب الله خان په اجازه راغلی وو نود خپلي کورني د راوستلو پخاطر بیرته دمشق ته ولاړ او په ۱۹۰۵م کال کي د خپلي کورني سره بیرته کابل ته راوګرځیدی.

کابل ته دده دبیرته راتګ وروسته ، دده دوی لورګاني دامیر حبیب الله خان د دوو زامنو، شهزاده عنایت الله (۱۹۴۶-۱۸۸۸) او شهزاده امان الله خان (۱۹۶۰-۱۸۹۲م) ته په نکاح او واده شوی. پدی کار سره محمود طرزی په دربار کي دپام او اعتبار وړځای وموند او ددغي لاری یی دا امکان ترلاسه کړچي د « سراج الاخبار» جریده په کابل کي نشر کړي.

سراج الاخبارپه کال ۱۲۹۰دمیزان میاشتي په۱۶ نیټه (د ۱۹۱۱ میلادی کال داکتوبر په اتمه) خپل دنشریدوچاري پیل کړي .ددی جریدی موخه (ځوانوترکانو) ته ورته وه چي نیشنلیزم یی دپان اسلامیزم سره ګډ په پام کي نیوی او د استعمار پرضدیی مبارزی ته داولسونو رابلل وه . برسیره پر دی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



معارف( پوهني) پراخول ، دخرافاتوو پرضد مبارزه اوپه پښتو ژبه یی هم د جریدی په اصلي موخو کي راتلل.

## دسراج الاخبار ځانګړتیاوی

دمحمود طرزي تر مشری لاندی دسراج الاخبار په جریده کي د اخبار لیکني ډیري ځانګړتیاوي او ارونه (اصول) په پام کي نیول کیدل. ټولو نشر شوو ګڼو یی د سرمقالو او د منځپانګي د سرلیکونو یو لړلیک (فهرست) درلود. فارسي شعرونو ته به په اړینو مخونو کي مهم ځای ورکول کیده .خبرونو په جریده کي اړینه برخه درلوده . طنزونو ، ټوکو او کاریکاتورونو ته لږ ځای ورکړه شوی وو او ډیره پاملرنه نه ورته کیدل.

جریده په لومړي کال په نستعلیق خط سره چاپیدل او وروسته په نورو کلنو کي یی خط چاپی سو.ددوهم کال په لومړي کي ، د عکسونو چاپول هم په سراج الاخبار کي رواج شوه .دجریدی لوستونکي تر ډیره حده د دولت باسواده کارکونکي وه. دسراج الاخبار دفتر ته په فارسي ، اردو ، ترکي ، عربي ، انګریزي او روسي ژبو د نورو هیوادونو نشریی رارسیدلی چي منځپانګو به یی د نوموړي جریدی په پاڼو غبرګون موندی.

په جریده کي د نثر ځرنګوالی داسي وو چي د پخواني فارسي او په افغانستان کي د مروجي فارسي یوه ګډوله( مخلوط) یی جوړول. دایران ا و ماوراء النهر فارسي او همدارنګه د عربی لغاتونو اغیز هم تر سترګو کیدی، هلته لغاتونه په ډیروښکلو ترکیبونو سره کارول شویدی، لکه دل اګاه ، ترقی ګستر، نکته دان ، هیچ مدان ، فسون انګیز ، رزمګاه ، بود وباش او نور.

## وطن او وطنپالنه د محمود طرزی له نظره:

په ۲۰۰۸م کال ،ښاغلی ډاکتر سپنتا چي په هغه مهال د افغانستان اسلامي جمهوریت د خارجه چارو وزیر وو، په نړیواله کچه د محمود طرزی د خدمتونو په اړه دیوه لیکوال ، ژورنالیست ، پوه سیاستوال او د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړنی د خارجي وزیر په توګه یوه یاد غونډه جوړه کړه . دغه یاد غونډه د افغانستان د استقلال د بیا تر لاسه کولو د ۸۹ کلیزي او همدارنګه په افغانستان کي د خارجي چارو د وزارت د بنسټ ایښودلو د ۸۹ کلیزي سره په یوه وخت کي برابره شوی وه. ددی غونډي جوړول یو ډیر پرځای کار وو او په دی هکله یی باید ښاغلی سپنتا ته شاباسی وویل سي.

البته پدی غونډه کي د تبعید د وخت نه تر بیرته راتلو او په وطن کي د علامه محمود طرزی د مطبوعاتي او سیاسي فعالیتونو ، ددوهم مشروطیت بنسټ ایښودني چي پایله یی د سیاسی استقلال بیا تر لاسه کول وه ، په اړه پوره خبري وشوي. پدی یادوونو کی هغي موضوع ته خورا ډیر پام واړول شو چي دمحمود طرزی د ژوند ، کار او فعالیت بنسټیزه برخه جوړوي. دا د وطنپالني هغه درسونه دی چي طرزی به روڼ اندو ( روشنفکرانو) او مشروطه غوښتونکو ته ورکول.

په افغانیه سراج الاخبار کي چی د« اسرافیل صور» (د اسرافیل شپیلۍ) حیثیتی لرله، د نورو بیلابیلو ټولنیزو ، سیاسي او اخلاقی موضوعاتو تر څنګ ځانته جلا ځلا درلوده . هلته د «وطن» او «وطنپالني» پر کلمو باندي ډیر فشار اچول کیدی تر څو د ازادي او ملي حاکمیت په غیږ کي ددی کلمو بیلا بیلي برخي روښانه شوی وای .

دسراج الاخبار د لوستونکو څخه دا په ډاګه څرګندیږي چي محمود طرزی خپله ټوله پوهه، تجربه او ما لومات د وطن او وطنپالني د قدسیت د ځلیدو په لار کي په کار اچولي وو ، تر څو د ځوانانو په وینه کي د وطنپالني ارزښت ،د وطن ساتني او وطندوستي احساس او د استقلال دتر لاسه کولو قدر و روزي . دده چي څومره توان وو، پدی اړه به یی لیکني کولی او داسي شعرونه به یی ویل :

چـو گشت حب وطــن، جای در دل ملت
عــدو به لـرزه فتد، میشود هـلاک وطن
وطن به حب وطن قایمست وهم محفوظ
کــه هست حب وطن تیر سهمناک وطن

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحفظ وحب وطن لحظۀ مشو بیباک
بنوش بادۀ حب وطن ز تاک وطن
زحق نیاز کند عاشق وطن " محمود"
که دشمنان وطن باد زیرخاک وطن

محمود طرزی پدی باور وو چي : که څوک د خپل وطن سره مینه لري، هغه د خپل دین سره مینه لري، څوک چي د خپل دین سره مینه لري، هغه د خپل وطن سره مینه لري او وطن ورباندی گران دی. د طرزی په اند «ناسیونالیزم ، اسلامي اصلاحات ،عصری کول ، پان اسلامیزم ، پان اسیائیزم او د امپریالیزم ضد چاري باید د اصلاحاتو په ذله کي ترسره شی. [1]».

علامه پوهاند عبد الحی حبیبی په مننی سره د خپلي یوی خاطري یادونه داسي کوي : په کندهار کي د لومړۍ مدرسی د پرانیستلو وروسته (۱۳۰۱ش) چي ما هلته لوست زده کړ او باسواده شوم ، دلومړي ځل لپاره د وطن پالني په مفهوم د طرزی د لیکونو څخه پوه شوم ،هغه احساس تردا اوسه چي ۷۵ کلن یم ،هم راسره ژوندی دی چي له کبله یی ورڅخه منندوی یم . طرزی ویلي وه :

ای خاک پاک و ای وطن خوش زمین من
معشوق من حبیب من و دل نشین من
شبها به یاد وصل تو، بیخواب مانده ام
در روزها بفکر تو در تاب مانده ام
پس عشق توچسان زسر من بدر شود
با شیر اندرون شد و با جان بدر شود[2]

[1] -ریاتالي ستیوارت ، اتش در افغانستان ،ترجمه نورمحمد کوهسار کابلي،د پیښور چاپ ،۲۰۳مخ.
[2] - دپوهاندحبیبی ،جنبش مشروطیت در افغانستان ،چاپ ۱۳۶۳ کابل، ۱۱۶مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محمود طرزي سره لدی چي يو آزاد روڼ اندی سړی وو، ده په فارسي ژبي کي د احساس نه ډک شعرونه هم ويلي دی. د «وطن مينه » (عشق وطن) پنامه دده د ښکلی مثنوي دده د وطن پالني احساسات څرګندوي او په هر لوستونکي کي همدا احساس راپاروی. دنوموړي مثنوي څو بيتونه دادي:**

**ای خاک پاک، عاشق افتادۀ توام**
**با جسم و جان فدائی و دلدادۀ توام**
**مجبور حب تست حواس و قوای من**
**عشقت ز بهرهرمرض من دوای من**
**عشق وطن حواس و دل وجسم وجان من**
**مربوط کرده است بخود با هزار فن**
**چون فطرت و نسب و قوم و ملتم**
**چون جسم و جان ورنگ وزبان شکل وهیئتم**
**چون آب و جد وجده ومادر زهفت پشت**
**از تست و در تو بوده ودرخاک تو بخفت**
**پس عشق تو چسان ز سر من بدر شود**
**با شیر اندرون شد و با جان بدر شود**
**شد سال ها که داغ جدائی و فرقتت**
**میسوخت همچو شمع دل و جان عاشقت**
**شب ها بیاد وصل تو بیخواب مانده ام**
**در روز ها بفکر تو در تاب مانده ام**
**هرعلم وفن که خوانده وتحصیل کرده ام**
**نیت برای خدمت و نفع تو بوده ام**
**ای خاک پاک وای وطن خوش زمین من**
**معشوق من، حبیب من و دل نشین من**
**مسعود باش و شاد بزی تا ابد بمان!**
**درحفظ و در ترقی و معموری و امان**
**رشک آور بلاد تمدن نشان شوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



درشرق همچوشمس درخشان عیان شوی

طرزی پخپل یوه شعر کی هم وطن د یاده ندی ایستلی . ان په هغو شعرونو کي چي ده د پسرلي او پاچا په سلطنت کي هم ویلي دی ، ده د وطن مینه یی ورسره ګډه کړیده . په هغه لیکلي شعر کي چی ده د قاآني دیوه شعر پر اقتفا(پیروی) ویلی په هلته یی وامیر ته د وطن په اړه داسي اشاره کړیده :

بیا ببین که در جــهـان چـگونه گشته کارها
جهان جـهان ریل شــد، زمـان زمـان تــارها
چه بحرها که بـرشد، چه خـشکه ها بحارها
چه کوه ها شگاف شد،گذشت از آن قطار ها
جهان جهان علــم وفــن، زمان زمان کار ها
بس است صید بـودنــه، میان کشت زار هـا

***

درین زمــانـه هـر طرف، به فـن سراغ داردا
زبحــر راغ مـلک خـود، هــوای بــاغ داردا
پی تــرقی خـودش، بکـــف چـــــراغ داردا
برای ضبط ملـــکـهـا چـــه در دمـاغ داردا !
خورند روم و فـــــرس را، بـمـا بلاغ داردا
تو وقت را عبث مکن، به میله و شکار هـا

***

حیات را چــه میکنم وطــن حـیات من تویی
بـرای هـرسعادتـم وطـن ، بـرات مــن تویی
اگر تو رفتی از کفــم وطن ممات من تویی
برای دین وهم شـرف وطن همات من تویی
وطن تو کعبهٔ منی، وطن صلوات من تویی
محبتــت بجان مـن، چو پـــودها به تـــارها

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه بل ځای کی طرزی داسي وایی:« وطن ونه ده او ملت یی میوه ده ، وطن سترګه ده او ملت یی د لیدلو توان ، وطن کښت دی او ملت یی غله داني، وطن خزانه ده او ملت یی ارزښت دی. لکه څنګه چي ونه بی میوه ،سترګه بیله لیدو ، کښتونه بیله غله دانو او خزانه چي د ارزښت اود ګټی د معاملو څخه بی برخي وي. همدارنګه وطن د ملت پرته او ملت د وطن پرته هیڅ معنا نلري »[1].

طرزی همدارنګه «دوطن مانا او د وطن فلسفه »(وطن و معنا و فلسفه وطن) یوه رساله لیکلی او د سراج الاخبار د شپږم تلین په ویاړ یی د ۱۲۹۶کال د سرطان (چنګاښ) پر ۲۰ نشر کړیده چي ډیره روزنیزه او ګټوره ده .

د محمود طرزی د وطن پالني کچه کولای سو دده د لیکونو دمنځپانګي نه اټکل کړوچي د وطن او استقلال په تړاو یی لیکلی دی. دده د شخصیت معنوی لویوالی او دده ملي او علمي دروندوالی دده د لیکونو څخه ښه څرګندیدلای شي چي سراج الاخبار دده د وطنپالني یوه ډیره روښانه هنداره ده .

طرزی اولسونه راویښوی او یون (حرکت) ته یی رابولي . د ۱۲۹۴کال د جدي په ۱۶ نیټه د سراج الاخبار په ګڼه کي د (حی علی الفلاح) مقاله ډیره روزونکی او د استعمار ضد ښه لري. د سراج الاخبار دغه ګڼه سمدستي د دولت د خوا سانسور شوه. د مقالی په یوه برخه کي لولو :

## "حی علی الفلاح !

.... ای ملت نجیبه افغانیه! شرافت ملی، عظمت قومی خود را محافظت کنید! استقلال وحاکمیت دولتی خود راصیانت نمائید! افغان که به دیانت و دینداری، به شجاعت و بهادری، بغیرت و ناموس شعاری در تمام دنیا مشهور و معروف شده باشد، آیا این را بر وجدان و ایمان و شرف و ناموس خود چسان گوارا کرده می تواند که نام حمایت و تابعیت دولت اجنبی غیر دین و غیر ملت براو باشد ؟

[1] ـډاکتر روان فرهادي .د محمود طرزی مقالی په سراج الاخبار کي،۲۸۲ او ۳۳۴ مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاشا ! حاشا ! کُلاً کُلاً! افغان به بسیار آسانی و خوشگواری مرگ را قبول کرده میتواند، ولی هیچگاه، به هچ صورت قطعاً، قاطباً کلمات متعفنهٔ معده بشور آورندهٔ تابعیت و حمایت را هضم کرده نمی تواند، معنی صاف و صریح تابعیت و حمایت اینست که، یک دولتی بدیگر دولتی بگوید : بغیر از من، دیگری را نشناس! بغیر ازمن، بادیگر دولتی حرف مزن ! بغیر از من با دیگر دولتی عقد معاهدات یا رابطه مناسبات و معاهدات مکن ! بغیر از من، بدیگر دولتی نه سفیر بفرست و نه سفیر قبول کن ! معنی صاف و صریح استقلال تامه و آزادی کلمه نیز اینست که، هردولت در همه چیزهایی که در بالا مذکور گردید، مستقل و آزاد باشد ...تا به حال هرچه که بود، بود! هرچه که شد، شد! لیکن بعد از این افغان آن افغان نیست که از حقوق خود چشم پوشی بتواند .... [۱] »

ژباړه : « .... ای د افغانستان سپځلي ملته ! دخپل ملي شرافت او اولسي عظمت ( لویوالی) څخه ساتنه وکړه ! خپل استقلال او دولتي حاکمیت گران وبوله. هغه افغان چي په ټوله نړۍ کي په دیانت او دینداری ، په میرانه او زړه ورتوب ، په غیرت اوناموسداری باندی پیژندل شویدی، ایا دابه پر خپل وجدان، ایمان شرف او ناموس څنګه ومني چي د خپل دین اوملت څخه پرته دبل دولت تر تابعیت اوحمایت لاندي ژوند وکړي.

حاشا حاشا ! کلا کلا ! افغان په اسانۍ او خوښي سره مرگ منلای شی مګر هیڅکله هم په هیڅ بڼه د پردیو د کرکي او نفرت وړ تابعیت او حمایت قبلولای نشي. د پردیو د تابعیت او حمایت رڼه او ښکاره مانا داده چي یو دولت وبل دولت ته ووایی : بیله ما څخه بل څوک په رسمیت مه پیژنه ! بیله ما څخه د بل دولت سره خبري اتري مخ ته مه بیایه ! بیله ما څخه د بل دولت سره تړونونه مه لاسلیک کوه او اړیکی مه ورسره ټینګوه ! بیله ماڅخه به نه بل دولت ته سفیر لیږي ا و نه به د هغه سفیر مني ! د بشپړ استقلال او ازادي دکلمو رڼه او ښکاره مانا داده چي یو دولت د ټولو کړنو په هکله چي لوړ یی یادونه وشوه مستقل او ازاد وي .... تر اوسه چي هرڅه وه هغه وه ، چي څه

[۱] ـ مقالات محمود طرزی در سراج الاخبار ، ص۳۷۷ ـ ۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



شویدی هغه شویدی، مګر له دی نه وروسته افغان نور هغه افغان ندی چي د خپلو روا حقوقو څخه سترګي پټي کړي» .

طرزی پخپلو لیکونو کي د استعمار په وړاندي په دومر څرګنده لهجه ښودلو سره امیر حبیب الله خان ولرزاوه او د هغه پام یی د روڼ اندو او خلګو په منځ کي د استقلال غوښتني و احساس ته راوګرځاوه . له همدی کبله وو چي د سراج الاخبار دغه ګڼه سمدستي سانسور شوه او پخپله طرزی یی د ۲۶زرو روپیو په ورکولو محکوم کړ. امیر په همدی اړه وویل : هغه چرګ چي بی وخته اذان وکړي سر یی د پریکولو دی.[1] ».ښکاره خبره ده چي هغه وخت ۲۶ زره روپي خورا ډیري پیسی وی او طرزی یی د ورکولو وس نه درلود، ځکه نو دده زوم شهزاده امان الله د خپلي شخصي شتمني څخه نوموړی پیسي د طرزی جریمه تحویله کړه.

دسراج الاخبار دلیکونو له مخي محمود طرزی لومړی سړی وو چي دژبي مسله یی دسیاست په غیږ کي مطرح کړه. دی لیکي:« زموږ په ښوونځیوکي باید د زده کړي په موخه د پښتو ژبي زده کولو ته ډیره پاملرنه وشي. د پښتو ژبي زده کړي ته باید تر انګریزي، اردو ، ترکي او ان فارسي ژبي اهمیت او لومړیتوب ورکړل شی . زما د کمزوري فکر سره سم د ( انجمن عالی معارف) یوازنی دنده باید دا وي چي په وطني ملي افغاني ژبه اصلاحاتو او پراختیا ته پام واوړي» .

په دربار کي د طرزي اندونو او نظریاتو ډیر اغیز او پلویان درلوده ، دده اندونو و دولتي سیاست ته د ورننوتو لاره پرانیستله . له هر څه نه یی زیات اغیز موږ کولای شود هغه وخت په درسي نصاب کي ووینو. نوی والی او پرمختګ ،د پوهني عام کول ، د پوهني پراختیا ، د مدرسو پرانیستل ، دجهالت او خرافاتو په وړاندي مبارزه ،دا ټول هغه څه دی چي د سراج الاخبار په پاڼو کي لوړ ځای لري.

د محمود طرزی صادقانه او وطنپال کوښښونه او د ده مدبر شخصیت

---

[1] حبیبی ، جنبش مشروطیت ۸۲مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهلو ځلو د سراج الاخبار تر نشریدو وروسته لاره ودی ته پرانیستل چي په هیواد کي د مشروطیت غورځنګ منځ ته راشي . په ۱۹۰۹م کال کي ددی غورځنګ ټول غړي په وینو کي ولمبیدل او زندان په ډک شوچي بی شمیره قربانیان یی درلودل. دمشروطیت (مشروطه غوښتني) د غورځنګ په بیا را ژوندی کولو کي د محمود طرزی هوښیاری اوویښتوب دا وو چي دی پدی کار وتوانیدی ځو د سلطنتي کورني په دننه کي ددی غورځنګ زڼي شیني کړي. پدی توګه په دربار کي د بدلون خوښوونکو کسانو په منځ کي دا اندونه وروزل شوه او وروسته یی لمن د دربار د باندي وغځیده . ددی غورځنګ د غړو د هلو ځلو پایله داوه چي د هیواد بشپړ استقلال ترلاسه شو. دمحمود طرزی د غوښتنو او نظریاتو سره سم دشاه امان الله او نورو ټولو مشروطه غوښتونکو نظریات د انګریزانو ضد سیاست پر محور باندي راڅرخیدل. پدي ډول د استقلال او ازادی غوښتونکو ږغ د ښاری روڼ اندو څخه نیولی بیا تر کوچیانو او کلیوالو پوري د هر ستوني څخه را وتي. محمود طرزی چي پر دوهمو مشروطه غوښتونکو باندی یی د استادۍ حق درلود ، د مشروطه غوښتونکو په لومړي حکومت کي د خارجي چارو د وزیر په توګه وټاکل شواو د افغانستان د استقلال د بیا تر لاسه کولو په خبرو اترو کي ( د ۱۹۲۰م کال د اپریل میاشت) یی چي د هند په میسوری او په (۱۹۲۱م) کال په کابل کي ترسره کیدی ،د افغانی ډلي مشرتوب پر غاړه درلود. ده په لندن او پاریس کي د افغانی سفارتونو خښته کښیښوده او د افغانستان د خارجي سیاست اساسي ټکي یی په ګوته کړه. ده خپل ځای ناستي او شاګردان ددغسي سیاست د پاره و روزل . له بده مرغه دغه پر وطن مین شخصیت د خپلو وطنپالو د ښورښ په پایله کي د هیواد څخه په وتلو محکوم او په پای کی د ترکیی په استامبول کي د ۱۹۳۳م کال د نومبر په ۲۲ ( ۱۳۱۳ د عقرب ۳۰) د ۶۸ کلني په عمر د وطن څخه لیري سترګي پټي کړي. دغه پر وطن مین د ژوند تر اخرنی سلګی پوري وطن له یاد ه نه وو ایستلی او ویل به یی :

مرغ دلم ز کوی تو دوراست وروز وشب

فــــریاد میکند که خدایا وطــن وطـــــن !

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محمود طرزی لیکلی اثار :

علامه محمود طرزی په سراج الاخبارکي دزیاتو مقالو برسیره خورا زیات کتابونه لیکلی او ژباړلی دي. ډاکتر روان فرهادی دده چاپ شوو او نا چاپو اثارونوم لړد هغي رسالی په پای کی راوړی چي ( په سراج الاخبار کي د طررزی د مقالو ټولګه ) نومیږي. ددغو اثارو شمیره و ۳۱ ته رسیږي چي تر ټولو مهم یی په لاندی ډول یادولای شو :

ا : مجموعه صنایع (گزیده اشعار استادان سخن) ،
۲ : منتخبات اشعار سردار غلام محمد طرزی به کتابت نستعلق محمود طرزی ،
۳ : مجموعه اخلاق ، ٤ : از هردهن سخنی ،
٥ : روضه حکم ، ٦ : معلم حکمت ،
۷ : مختصر جغرافیای عمومی ،
۸ : بیست هزار فرسخ در زیر بحر،
۹ : جزیرهٔ پنهان ، ۱۰ : سیاحت در جو هوا ،
۱۱ : ترجمه تاریخ حرب ،
۱۲: سیاحتنامه استانبول
۱۳ : دیدنی ها و شنیدنی ها ،
۱٤ : سیاحتنامه منظوم ،
۱٥ : افغانستان (جغرافیای منظوم )،
۱٦ : تو حید ، ۱۷ : ادب در فن ، ۱۸ : پراکنده ،
۱۹ : ترجمه ناول های ژول ورن ،
۲۰ : ژولیده و پژمرده (خاطرات)،
۲۱ : ترجمه رومان علمی ،
۲۲ : سراج الاطفال ، ۲۳ : فلسفه وطن ،
۲٤ : علم و اسلامیت ، ۲٥ : آیا چه باید کرد؟ ،
۲٦ : سراج الاخبار افغانیه و برخی آثار دیگری که تا کنون بچاپ نرسیده اند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چي محمود طرزی خپل ټول ژوند فرهنګي خدمتونو او په هیواد کي د ځوانانو او اولس و راویښولوته وقف کړی وو. ترڅو چي ژبي او قلم یی کار کاوه ، ده د وطنپالو ځوانانو روزنه او د استعمار پر ضد د هغو د عقیدی او ایمان ټینګول خپله دنده ګڼل . ده انګریزي استعمار د هیواد ډیر پخوانی دښمن ګاڼه .

بیله شکه په سراج الاخبار کي د انقلابي مقالو لیکل ددی لامل شوه چي د بدلون غوښتونکو کسانو او هڅیدلو ځوانانو ولولی را وپاریږي . ددی کار پایله د مشروطیت غورځنګ بیا را ژوندي کول او بشپړ استقلال تر لاسه کول دي.

پریږدی چي د علامه محمود طرزی نوم د مشرطیت غورځنګ د مخکښ په توګه دتل د پاره زموږ د حق پیژندونکو هیواد والو په زړونو او خاطرو کی ژوندی پاته او د وطن ځوان نسل د هغه ویاړلي کارنامی پخپل ژوند کي د ځان لپاره لارښود وګرځوی! ددي ستر شخصیت یاد دی تلپات وی !

## د محمود طرزی اولادونه :

محمود طرزی پنځه زامن درلودل چي نومونه یی :عبدالوهاب طرزی ، عبدالقادر ، عبدالعزیز ، عبدالتواب او عبدالفتاح طرزی دی . ده همدارنګه شپږ لورګاني درلودي :خیریه ، حوریه ، ثریا ، امنه ، روحیه او عزیزه . ددوی د ډلی نه ثریا د شاه امان لله ملکه او خیریه د شهزاده عنایت الله خان میرمن وه . امینه سردار عبید الله خان د شاه امان الله سکني ورور ته واده شویده .عزیزه د سید قاسم خان میرمن ، حوریه چی ( بی بی حوریه ) یی بلل ، د عبدالروف طرزی ( د حبیب الله طرزی زوی) میرمن وه چي وروسته دده ښځه جلاشوه او د غلام صدیق چرخي د خارجه چارو وزارت د کفیل سره یی واده وکړ. لا نور زیاتو مالوماتو په خاطر ( کندهاری وړونه ) کتاب ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل

(دنوزادی ژباره)

## دسدوزي او بارکزي دراني قومونو تر منځ ددوستي او دښمني ټولیزي( کلی ) پایلی

**دتیرو فصلونو لنډیز او پایله :**

**سدوزي او بارکزي هغه دوه دراني قومونه دي چي د افغانستان په معاصر تاریخ کي د ټولواک په توګه د دراني احمدشاه د ټاکلو په اړه ، ددوی تر منځ دوستي او ګډ کار د هیواد د چارو په سمون او اداره کي د ازمایلو څخه بریالی راووت .**

**حاجي جمال خان د بارکزی قوم مشر پخپل ټول توان سره د دراني احمدشاه ټولواکي ومنل ، دهغه ملاتړ یی وکړ او د عمر تر پایه یی نژدی اړیکي ورسره وساتلي. احمد شاه بابا هم په خپل ټول توان سره د هغه قدر او عزت په ډیره ښه توګه وکړ. جمال خان هم د یوه نژدی سلاکار په توګه د ګټورو مشورو د ورکولو څخه ځان نه سپماوه. تر احمد شاه بابا او حاجی جمال خان وروسته د دوی زامنو تیمورشاه او پاینده محمد خان د خپلو پلرونو لاره پرمخ بیول. داچي پاینده محمد خان د پام وړ خدمتونه کول، نو د تیمورشا لخوا د «سرفراز خان» لقب ورته ورکړل سو او پر بارکزي قوم برسیره د غلجي قوتونو مشری هم ده ته سپارل شوه .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتیمورشاه تر وفات( ۱۷۹۳م کال) وروسته ،سردار پاینده محمد خان د دولتي نظام د ښه پر مخ بیولوپه موخه د تیمورشاه د ۲۴ زامنو له منځه د تر ټولو لایق او هوښیار شهزاده زمان څخه ملاتړ وکړ. چې د پلار پر تخت کښیني. تر څو چي پاینده محمد خان ژوندی وو، د نورو شهزاده ګانو لکه همایون او محمود د سلطنت دعواو ځای ونه نیوی . پدی توګه د شاه زمان د ټولواکي ستني ورځ تر بلي ټینګیدی او ویی کړای شوه د ګاوندیانو او اروپایایی مداخله کونکو په وړاندي خپل رول ولوبوي. له بده مرغه پداسي وخت چي د سدوزو او بارکزي قومونو دوستي او ګډ کار د هیواد د ټیکاو او پر مختیا د پاره ډیر اړین ښکاریده نا ببره یوه پیښه را منځ ته شوه او هر څه یی ګډ وډ کړه .

شاه زمان د سردار رحمت الله خان په غوره کولو سره دخپل پلار او نیکه د نظریاتو په خلاف و دی پایلی ته رسیدلی وو چي تر وسه وسه د قومي مشرانو اغیز کم کړي او د یوه غښتلی مرکزي دولت و جوړولو ته ملا وتړي. ښکاره خبره ده چي دا کار د قومي مشرانو په ګټه نه وو، ځکه چي د دود له مخي دوی قومي ملاتړ درلود او دا ملاتړ یی په دی کار سره کمزوری کیدی. دهمدی کبله د شاه زمان د نوموړو کړونو سره دوی همږغي کیدای نشوه. پدی توګه د دوی او شاه زمان تر منځ اوبه د خړي کیدو پر خوا تللي او دوستانه اړیکي سړی دي .

سردار پاینده محمد خان د خپل رقیب رحمت الله خان سدوزي چي شاه زمان خپل وزیر ټاکلی وو اود «وفادار خان » لقب یی ورکړی وو ، په وړاندي خپل صلاحیت او اقتدار مخ په کمیدو وګاڼه ، زمانشاه هم حالات په پام کي نیولي او پدی پوهیدی چي قومي مشران راضي نه ښکاري . داچي خپل پلان ورته مهم ښکاریدی ، ددوی نارضایت ته یی ډیر اهمیت ورنه کړ. ددی کار پایله داشوه چي څو تنه قومي مشرا ن د پاینده محمد خان پر شاوخوا راټول شول ،څو یوه نوي لاره ددي ډار څخه د خلاصون په موخه ولټوی . دوی پدی نظر شول چی شاه زمان را وپرځوي او پرځای یی د لنډ وخت د پاره دهغه ورور شاه شجاع وټاکي. وروستي نقشه یی دا وه چي میراثي ټولواکي له منځه یوسي او شاهي یوه انتخابي سیستم ته واړوي. البته پدي کار سره ددوی اهمیت او قتدار لازیاتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدی. ودغي موخي ته د رسیدو د پاره دوی په کندهار کي دیو شمیر قومي مشرانو یوه پټه انجمن جوړه کړه. مګر ددوی د نقشي څخه زمانشاه خبر شو، هغوی یی سمدستي ونیول او یو شمیر یی د پاینده محمد خان په ګډون د زمانشاه په امر اعدام شول . دی کار په هیواد کي د غچ اخیستني داسي اوربل کړچي لمبي یی څولسیزي پورته کیدي .

دپاینده محمدخان په اعدام سره دده شل زامنو د خپل پلار د غچ اخیستني په خاطر د شاه زمان په وړاندي په پاڅون لاس پوری کړ. د پاڅون په پایله کي زمانشاه زنداني او په سترګو ړوند کړل شو. د ده پر ځای شهزاده محمود پر تخت کښیناست او فتح خان یی وزیر و ټاکل شو. له دغه ځایه د سدوزو او بارکزو تر منځ دوستي او ګډ کار یووار بیا دسره پیل شو. دشاه زمان په ګوښه کیدوسره داسي بد بختي راغله چي د یوی خوا سدوزي شهزاده ګانو لکه محمود ، شجاع ، فیروزالدین ،کامران او قیصر په کابل ،پیښور ، کندهار او هرات کي د پاچهي خوبونه لیدل او دبلي خوا نه فتح خان د خپلو وړونو په مرسته دومره توان تر لاسه کړي وو چي ملاتړ یی د هر شهزاده دپاره دتخت ضمانت کولای شو. لکه څنګه چي شاه محمود دوه ځله او قیصر یو ځل د سلطنت پر تخت کښیناستل. نورو بیا لکه شاه شجاع ،فیروزالدین او کامران دده سره د مخالفت له مخي ډیر څه دلاسه ورکړه . دا هغه وخت دی چي دافغانستان په سیاسي ډګر کي سدوزي شهزاده ګان ورځ په ور ځ کمزوري کیږي او محمد زي سرداران ورځ تر بلي زور اخلي ، خولا تر اوسه پدی ندی توانیدلي چي د ځان دپاره دسلطنت غوښتنی په فکر کي شي.

کله چي د وزیر فتح خان په ملاتړ شاه زمان د شاه محمود لخوا زنداني او په سترګو ړوند شو ( ۱۲۱۶ش- ۱۸۰۱م) ، پر تخت باندی د شاه محمود دکښیناستلو سره سم وزیر فتح خان ته د «شاه دوست » لقب ورکړل شو او د هغه د وزیر (صدراعظم) دنده ورته وسپا رل شوه.

دپیښور او هرات څخه د زمانشاه د ورور شاه شجاع او دده د وراره قیصر مخالفتونه، دکابل د اوسیدونکو ناراضی والی اوتعصب ، داستعماری سیاست اغیز او د ایران او هند له لوري د هغوی هڅوني (تحریکات) او د شاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود بی کفایتي دسلطنت حالات دومره ځپځپانده (بحراني) کړل چي د وزیر فتح خان او وړونو هلو ځلو یی کومه ګټه ونـکړای سوه. شاه شجاع د کندهار د لوري را وخوځید او کابل یی ونیوی، په بالاحصار کي پر تخت کښیناست(۱۲۱۸ش-۱۸۰۳م ). شاه محمود په بالاحصار کي زندان ته ولوید. فتح خان د دوست محمد خان سره کندهار او فراه ته پر شا ولاړل .

شاه شجاع د خپلي تولواکي په لمړۍ دوره ( ۱۸۰۳- ۱۸۰۹م)کی پدی پوه شو چي د فتح خان او وړونو ملاتړ یی دسلطنت د ټینګښت دپاره مهم رول لري. په همدي خاطر وو چي دسلطنت د پیل نه یی تر پایه پوري د فتح خان د ملاتړ تر لاسه کولو دپاره هلي ځلی کولي او ځو ځلي هم په کابل، کندهار ،غازیخان دیره ، ګرشک او سند کي دوی سره یوځای او بیا به بیرته سره جلا شول. د فتح خان نور وړونه په ځانګړي ډول دوست محمد خان چي تل به دده سره تر ځنګ ولاړ وو ، د شاه شجاع سره به یوځای کیدو او جلاکیدو کي د فتح خان سره همږغی وه .

دسدوز ي د کورني بل شهرزاده چي فتح خان پدی وخت کي ډیره مرسته ورسره کړیده ، هغه د شاه زمان زوی شهزاده قیصر وو. مګر د هغي بی باورۍ له مخي چي د دوی ترمنځ د نورو غرضی خلګو په تحریک سره چاغیدله ، بارکزي وړونو او سدوزي شهزاده ګانو ونـه کړای شوه د اوږده وخت د پاره په دوستانه اړیکو کي سره پاته شي. همدغه حالت هیواد ته ډیر زیانمن تمام شو.

دشاه محمود د دوهم ځل سلطنت په دوره کي(۱۸۰۹- ۱۸۱۸-م) چي لس کاله یی دوا م وموند ، د دواړو کورنیو تر منځ د ګډ کار او دوستانه اړیکو امکانات زیات شول. داچي فتح خان د خپل دښمن شاه زمان او د هغه د سکه ورورشاه شجاع سره جوړیدلای نشو، نو د هغه د رقیب شاه محمود سره همږغی شو، ځکه نو د شاه محمود د دوهم ځل سلطنت پر مهال چی د فتح خان د ملاتړ پر بنسټ تر لاسه شوی وو، داسي امیدونه وتوکیدل چي د ملګریتوب او دوستي اړیکي به دوا م وموومي. داځکه چي ددی مهال لویه بد بختي د دوی ترمنځ بی باوری وه. رقیبان لکه شاه زمان چي اوس ړوند شوی او دهغه سکنی ورور شاه شجاع د وطن نه شړل شوی وو، دا امکانات منځ ته راغلی وه ځود

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سدوزو او بارکزو تر منځ ملګریتوب او د دوستي متقابل اعتماد دسره ټینګ شي. په دا ډول ملګریتوب سره په ختیځ کی د رنجیت سنګ او په لویدیز کي د حسن علي سپین سترګي او جسارت کمیدی .**

**وزیر فتح خان ته چی د شاه محمود په لومړی دوره سلطنت کی د«شاه دوست » او په دوهمه دوره کی د« اشرف الوزراء» یاني صدراعظم لقب او مقام ورکړل سو، ددي سره سم د چارو ټول صلاحیتونه ورته وسپارل شوه. ددغه صلاحیت پر بنسټ ده خپل ټول وړونه ددولت پر حساسو چوکیو باندی وګمارل . یار محمد خا ن په پیښور، کهندل خان په کندهار، شیر دلخان په غزني ،نواب اسد خان په دیره جات او زوی یی نواب زمان خان په جلال اباد ، نواب صمد خان په سند او رحمدل خان په بلوچستان کي ځای پر ځای شول.دوست محمد خان د فتح خان سره پاته شو. پاته وړونو یی هم د تاکل شوو وړونو په اړه مخالفت نه درلود.**

**وزیر فتح خان پدی دوره کي عطا محمد خان بامیزی له کشمیر لیری او پر ځای یی خپل ورورسردارمحمد عظم خان وټاکی او د رنجیت سنګ سره یی چی شاه شجاع د پنجاب د نایب الحکومه په توګه ټاکلی او اوس یی یاغیتوب ته ملا تړلی وه ، د اټک رود په څنډو کي جنګونه وکړل اود هیواد په دننه کی یی ښورښونه یوپه بل پسی ارام کړل. داټک د قلعه دترلاسه کولو په موخه یی دوهم ځل درنجیت سنګ په وړاندی د جنګ په خاطر قوتونه مارش کړل. ده د اردو د لګښتونو دپاره د خپل ورور څخه د کشمیر مالیات چی ۱۶لکه روپی کیدی وغوښتی. مګر محمد عظیم خان ددی پیسو د ورکولو څخه ډډه کول. لدی کبله نژدی وو چی د دوو وړونو تر منځ جنګ پیل سی. خو د دوست محمد خان د منځګړیتوب له مخي دواړو خواپه ۱۳ لکه روپیو قناعت وکړاو د جنګ نه مخنیوی وشو.**

**دا وه د ختیزو ولایاتونو حالات . په لودیز کی د هرات په ولایت کی د مشهد والی حسن علی میرزا دفتح علی شاه قاجار په امر په (۱۲۳۳ش ۱۸۱۷م)کی پر هرات باندی د حملی تکل وکړ . دشاه محمود ورور حاجی فیروزالدین چی د هرات حاکم وو، دشاه محمود نه مرسته وغوښته. فتح خان د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلوځو تنو وړونو لکه دوست محمدخان ،کهندلخان ، شیردلخان اوپردلخان سره په بیره د سند د رود د څنډونه دکابل پر خوا وخوځیدل اودهغه ځایه یی د غزنی او کندهار دلاری دهرات په لور مارش وکړ.

وزیر فتح خان په اسانی سره پر هرات باندی د ایرانیانو دحملو مخنیوی وکړ. وروسته یی په هرات کی یوه بله ناوړه پیښه منځته راغله چی د ایرانیانو په وړاندی یی د افغانانی سردارانو تر بری وروسته د هیواد دولتی قدرت دخپلو افغانانو لخوا د چلنجونو سره مخامخ او کمزوری کړ .

دیوشمیر سدوزی وړونو مخالفتونه لکه شاه محمود او حاجی فیروزالدی چی یوه یی په کابل او بل یی په هرات کی حکومت کاوه ، د شاه محمود زوی کامران میرزا د وزیر فتح خان په وړاندی چي دده د پلار په دربار کی یی درنښت او اقتدار ورځ تر بلی په زیاتیدو وو ، همدارنګه د دوست محمد خان لخوا د حاجی فیروزالدین شتمني تر لاسه کول ، دده په حرم کی د دوست محمد لخوا دښځو څځه ددوی زیورات په زوره اخیستل اوپدی هکله د ښځو د شکایت ږغ پورته کیدل، دا ټول هغه څه دی چی د یولړ نورو لاملونو سره یی د شاه محمود او فتح خان د کورنیو تر منځ خپل منځی شخړي را وزیږولی. ددغوشخړو له مخي د بازګزیانو او سدوزیانو د قومونو ترمنځ داسي جنجالونه را وزیږیدل چی په ټول هیواد کی یی د غم داسی یو اور بل کړ چی ستره ابدالی امپراتوری یی ټوټه ټوټه او ددی په لمبو کی وسوزیدل .

ددی پیښي بشپړجزییا ت داسي وه : وزیر فتح خان په هرات کی مخکی لدی نه چي د ایرانیانو دبرید ومخنیوي ته تیاري ونیسی ، حاجی فیروزالدین د هرات حکمران یی د مرکزي دولت دیوه سست عنصره اومضر شخص په نامه ونیوی او زندان ته یی واچاوه. لدی نه وروسته د ایرانیانو په وړاندی جنګ ته ور ووت .هغوی یی پر شاه وتمبول اوخپله هرات ته راوګرځیدی. دلته د هرات د چارو په سمبالولو بوخت شو. دوست محمدخان چي د فیروزالدین په حرمسرای کی د ښځوځخه په زوره ددوی زیورات اخیستی اوبد سلوک یی ورسره کړی او وروسته یی په کشمیر کی خپل ورور سردار محمدعظیم خان ته پناه وړي وه . فتح خان پدی پیښه باندی ډیر غمجن سواو محمد عظیم خان ته یی امر وکړچي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست محمد نظربند کړي. کامران میرزا چي تل یی غوښته د فتح خان د اقتدار کمولو د پاره یوه بهانه پیدا کړي، ددوست محمد خان دی کار ده ته ښه بهانه په لاس ورکړه او کوښښ یی وکړ چی ټول مسؤلیت یی د فتح خان پر غاړه واچوی. دلته مهمه خبره داوه چي دفیروزالدین په حرم کی دکامران میرزا خورهم ناسته وه ،ځکه چي هغه د فیروزالدین زوی ملک قاسم ته واده وه . کامران میرزا دی پیښي ته لانور ښکرونه ورکړل اوتر خپل پلار شاه محمود پوری یی د ښځو دا شکایتونه ورسول. پدی توګه یی شاه محمود د هغه چا په وړاندی په قهر راوست چي دوه ځله یی دی پر تخت کښینولی وو اودده دسلطنت په ټینګښت کی یی د هر ډول قربانیو څخه مخ نه اړاوه .

شاه محمود چي په عیاشیو کی سرتر نوکه ډوب وو او د هیواد دخیر او شرتوپیر یی نه شو کولای ،په قهر شواو د کندهار پر خوا را وخوځیدی .حاجی فیروزالدی چی فتح خان بندی او دکندهار زندان ته یی رااستولی وو، وکامران میرزا ته یی مشوره ورکړه څو وکندهارته دده د پلار تر رارسیدو دمخه ، دی هرات ته ولاړسی ، ده همداسی وکړه .

دغه غیرمنتظره کار په هرات کی یوه تراژیدی منځته راوویستل.هغه داوه چی فتح خان د شهزاده کامران په لاس ړوند کړل شو. هغه اور چي په ۱۲۱۴شکال کی په کندهار کی د شاه زمان په لاس د پاینده محمد خان په وژلو سره بل شوی او د شاه محمود د سلطنت پر وخت دمړکیدو په حال کی وو، دادی پدی کار سره یی یووار بیا لمبی اسمان ته پورته شوی اوله هر څه نه مخکی پخپله سدوزی چارواکی د هغه په لمبو کی وسوزیدل.

دفتح خان ړندولو او د هرات په ارګ کی دهغه بندی کولو سره هغه دښمني دسره راژوندی سول چي شل کاله مخکی د پاینده محمد خان په وژلو سره منځته راغلی وه . د فتح خان وړونو غچ اخیستلو ته ملا وي وتړلي .ځینی یی د ګرشک په نادعلی کی دفتح خان د مور لویه ادی پر شاوخوا راټول شول . محمد عظیم خان په کشمیر کی غچ اخیستلو ته راپورته شو، ده لومړی په لودهیانه کی شاه شجاع ته لیک واستاوه اوهغه یی د کابل پرتخت وکښیناستلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وهڅاوه. دوست محمد خان یی له بنده راوایست اود یارمحمد خان ترڅنګ یی د ۴۰۰۰ جنګیالیو سره دپیښور او کابل په لور واستاوه .

دفتح خان د ړندولو د خبر په اوریدو اود محمدعظیم د لیک په را رسیدوسره دشاه شجاع امیدونه وټوکیدل ،خپل زوی تیمور یی د ۵۰۰ جنګیالوسره دسند د نیولو د پاره وښکارپورته ولیږه .پخپله یی د شاه محمود حکمران سمندرخان بامیزی ددیره جات څخه وشاړه اوپرځای یی د نواب خان زوی نواب زمان خان د حکمران په توګه وګماره او پخپله یی د محمد عظیم خان د غوښتنی سره سم دپیښور پر خوا حرکت وکړ.

دوست محمد خان او یارمحمد خان چي له دوی نه مخکی پیښورته رارسیدلی وه ،هلته یی د تیمورشاه زوی شهزاده ایوب د افغانستان دپاچا په توګه وټاکه اوپخپله د کابل پرخوا وخوځیدل. ښکاره خبره ده ، دشاه شجاع په رارسیدو سره دهغه او شاه شجاع ترمنځ جګړه وشوه چي ایوبشاه یی د پیښورنه وایست. محمد عظیم خان پدی وخت کی د کشمیر چاری وخپل ورور نواب جبارخان ته سپارلی وی او پخپله دپیښور خواته پر لاری وو. ایوبشاه د شکایت د پاره په چچ هزاره کی دده مخته ځان ورساوه .هغه ته یی شکایت وکړ ستا وړونو زه د شاه په توګه وټاکلم ، خوشاه شجاع بیرته له ښاره وایستلم. محمد عظیم خان چی شاه شجاع یی پخپله دپاچا کیدو په خاطر راغوښتی وو، حیران پاته او نه پوهیده څه چل او چاره وکړی. په پای کی یی شاه شجاع ته احوال ورواستاوه چي غواړی په خصوصی ډول ورسره ووینی. شاه شجاع دا غوښتنه ونه منل او د دواړو خواوتر منځ بیله خبرو اترو څخه جګړه وشوه. محمد عظیم خان دوی میاشتی په پیښور او شاه شجاع په خیبر کی پاته وه. داچي یوپر بل یی باور نه درلود ،ترمنځ یی روغه جوړه نشوه کیدلای. تردی نه وروسته شاه شجاع د اسماعیل خان دیری او ښکارپور ته ولاړ. په دغه فرصت کی چی سرداران ، شهزاده کان او سدوزی شاه محمود یو دبل سره په جنګونو اوشخړو اخته وه ، رنجیت سنګ د موقع نه ګټه پورته کړه د اټک د لاری مخته ولاړ او کشمیر یی ونیوی. دشاه محمود سره د فتح خان د وړونو دشخړو په پیل کی هرات ، کندهار او کابل د شاه محمود، دهغه د ورور ، د هغه د لمسي پلاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی وه. بازګزی وړونه یوازی په نادغلی او پیښورکی سره راټول شوی وه .دغچ اخیستلو جنګ لومړی د ختیځ څخه محمد عظیم خان پیل کړ. ده تصمیم نیولی وو ، په هر ډول چي کیږي باید شاه محمود له تخته کوز کړل شي . وشاه شجاع ته یی د لیک پرته ، همدارنګه ولوګری امین الله خان ته هم دری لیکونه ولیږل.

دوست محمد خان او یارمحمد خان د پیښور څخه وکابل ته په رارسیدو سره ،د کا مران میرزا د زوی جهانګیر اوعطا محمد خان بامیزی سره په جنګ کی مخامخ شول. داچی عطامحمد خان د شاه محمود خان په سلطنت کی دفتح خان لخوا د کشمیر د حکومت څخه لیری شوی وو، ځکه نو د فتح خان او شاه محمود دواړو څخه خوابدی وو. پدی خاطر یی په هرات کی د فتح خان په ړندولو کی لاس درلود. دوست محمد خان چی دی ښه پیژندلی وو، دپیښورڅخه یی لیک ورته را واستاوه او لیکلی وه چي که غواړی د فتح خان په ړندولو کی دده جرم وروبخښل سی ، نو باید د کابل په نیولو کی مرسته ورسره وکړي. داچی عطامحمد خان د شاه محمود خان په فرمان سره د کشمیر د حکومت څخه معزول شوی وو، په زړه کی یی بد ورڅخه وړل ، دلیک په رسیدو سره یی سمدستی د جهانګیر سره د مرستی کولو څخه لاس واخیست . کله چی دوست محمد خان دلیدلو د پاره راغی بیله ځنډه یی سترګي ورڅخه وکښلی او ړوند یی کړ. جهانګیر هم تر شل ورځي محاصری او جنګ وروسته د بالا حصار څخه وتښتیدی.

دوست محمد خان د بالاحصار دترلاسه کولو سره سم بیله دی چی د خپلو نورو وړونو سره ویوی پریکړی ته انتظار وباسي، سمدستی یی د تیمورشا بل زوی شهزاده سلطانعلی پر تخت کښیناوه او پخپله یی ځان دهغه وزیر وټاکه .

وکندهارته د جهانګیر د رارسیدو سره سم، شاه محمود نایب ګل محمد خان پوپلزی ته د کند هار حکومت وسپاره او پخپله یی د کا مران په ملتیا د یوه لوی لښکر سره د کابل په لور حرکت وکړاو په سترګو ړوند فتح خان یی ورسره واخیست. د وردګو په سیداباد کی یی فتح خان تر فشار لاندی ونیوی چی خپل وړونه د یاغیتوبه څخه راوګرځوی. فتح خان دده خبره ونه منل اوسخت منفی ځواب یی ورکړ. پدی کار سره شاه محمود او کامران په قهر راغلل، ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلو د قومونو مشرانو ته یی امر وکړچی دا زړه ور او پیژندل سوی سیاستوال ټوټه ټوټه کړي (۱۲۳۴ش، ۱۸۱۸م) دده تر مړکیدو وروسته قاضی سعید بارکزی د هغه جسد واخیست ،غزنی ته یووړاو د شیخ رضی الدین علی لالا دزیارت څنګ ته یی ښخ کړ.

ددی ستر شخصیت قتل، یو نه بخښونکی جنایت دی ،ځکه چی هیواد یی د خپل یوه لایق او زړه وړ بچي څخه محروم کړ. دملت د پاره ددی جنایت زیان تر هغه ډیر زیات وو چي د پاینده محمد خان په اعدام سره ورته ورسیدی. ځکه چي په سنګر کی ناستو دښمنانو ددی څخه ډیره ګټه واخیستل او هیواد یی په کشالو کی راګیرکړ.

وزیر فتح خان د عمر له مخي خپل تر ټولو وړونو مشر نه وو. داشرف الوزرا لقب هم یوازنی شی نه وو چی د هغه وزن یی تر نورو وړونو زیاتوی. دده لویوالی پدی کی وو چی یو هوښیار سیاستوال وو او هیله یی درلوده دخپل پلار د قتل وروسته هم داسي لاری ولټوی څو د یوه سدوزی شهزاده په پاچا کولو سره ، په هیواد کی یوموټی ا و زورور سلطنت منځته راسي او پدی توګه د خارجی دښمنانو د مداخلو مخنیوی وکړي. په همدغه هیله ده د خپلو وړونوپه مرسته دوه ځلی شاه محمود دکابل پر تخت کښیناوه .دهغه د مخالفانو په وړاندی وجنګیدی څو دده مرکزی سلطنت سست او کمزوری نسي او خارجی مداخلو ته لاره بنده سي. له بده مرغه بی پروا او عیاش شاه محمود دده دا ټول خدمتونه هیر کړل او د خپل حسود زوی کامران به هڅونه یی هغه ړوند او وواژه چی دی کار وطن د سترو بدبختیو سره مخامخ کړ او ددښمنانو غوایی ورته لنګه کړه .

دفتح خان په وژنی سره د سدوزی او بارکزی دوو درانی قومونو تر منځ یووار بیا رامنځته سوی ملګریتوب دمنځه ولاړ، او دا دوی ستری کورنی یی داخل داسي سره جلا کړی چي د بیا یوځایوالی امکانات دتل د پاره ورک شول. که دغه جنایت ترسره سوی نه وای ، افغانی ستره امپراتوری به د ډیر وخت د پاره په اسیا کی ځلیدلای.

په هر حال د سدوزیانو او بارګزیانو دواړو کورنیو غوښتنو د ملی ګټو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوند توپیر نه درلود . دغه ګټی ددوی په ملګریتوب او کډکار سره ساتل کیدلای سوای او هیواد یی دښمر څخه برخمن کیدلای شو.

شاه محمود او زوی یی کامران د فتح خان تر وژلو وروسته دیوه لوی لښکر سره د کابل پرخوا حرکت وکړ. ددی خوا دوست محمد خان د خپلو لښکروسره دده مقابلی ته راووت . دواړی خواوی د (هندکی) او چاراسیاب په سیمو کی سره مخامخ شوي. پدی وخت کی دوست محمد خان یو نظامي چل په کار واچاوه او د ړوند کړل سوی عطامحمد بامیزی څخه یی ګټه واخیستل. دده له خوا یی دده یوه ورور ته چی د شاه محمود سره یوځای وو، یولیک واستاوه. دلیک وړونکی یی د شپی په تیاره کی دشاه محمود د اردو کمپ ته ولیږه .پدی توګه یی لیک تر شاه محمود پوری ورساوه. شاه محمود د لیک څخه پوه شو چي قوماندانانو یی د دوست محمد خان سره جوړ جاړی کړیدی او غواړي شاه محمود ونیسي او لاس تړلی یی دوست محمد خان ته وسپاری. ددی درواغو چل شاه محمود وډاراوه ،بیله دی نه چي خپل همکاران خبر کړي، دشپی په تیاره کی دخپل زوی سره د کمپ نه ووتل اود کندهار پر خوا روان شول. داچی کندهارته ددوی د رسیدو دمخه کندهار هم دلاسه وتلی وو، ددهراود دلاری د فراه او هرات پر خوا ولاړل او د کندهار حکومت کندهاری وړونو ته پاته شو. تردی وروسته د هرات نه پرته چی یوه موده نورهم دسدوزی کورنی سره پاته سو، نور په ټول هیواد کی بارګزی وړونو (محمدزیانو) واکمنی وغوړیدل. داچی ددغو وړونو شمیر زیات و او له بده مرغه دپاچا په توګه یی د خپل منځ نه د کوم نفر واکمنی منلای نه سوه ځکه نو ودی ته اړوتل چی د سدوزی کورنی څخه یو کمزوری شهزاده پیدا او دشاه پنامه یی وټاکی. نورټول کارونه پخپله مخ ته بوزی.

سردارمحمد عظیم خان ټولو وړونوته احوال واستاوه هغوی یی راوبلل ځوپه ګډه د خارجی خطر مخنیوی وکړی. محمد عظیم خان د سند میرانو په غوښتنه دغزنی او کندهار د لاری د سند په لور وخوځیدی. دوست محمد خان چی د ده د پلانونو سره مخالفت درلود دنوروړونوسره یی په پیښنورکی اړیکی ونیولی او پخپله هم دمحمدعظیم خان پسی د سند پر خوا روان سو. که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدعظیم خان د شاه شجاع په وړاندی هلته بریالیتوب تر لاسه کړی وو، مګر دسند میرانو دوه اړخیزه لوبه کول، دمالیاتو د کمولو په موخه یی د وړونو تر منځ درزونه او مخالفتونه راپیښ کړل .دوست محمد خان ، پیر محمدخان او پردلخان د محمد عظیم خان څخه بیل سول او کندهارته ولاړل .محمد عظیم هم له ناچاریه په یولک روپیو مالیاتو قناعت وکړ او د هغوی پسی روان شو .دوست محمد خان تر محمد عظیم خان دمخه کابل ته را ورسیدی. سره ددی چی ایوب شاه لاپر تخت ناست وو، ددغو دوو وړونو تر مینځ په ځینو برخو کی لکه کوهستان ،کوهدامن ،کابل او غزنی کی څو ځیل نښتی وسوی. رنجیت سنګ چی حالات یی له نژدی څارل ددوی ددغه خپل منځی بوختیاوو څخه یی ګټه پورته او د پیښور د نیولو نیت یی وکړ( ۱۸۲۲م /۱۲۳۸ق). یارمحمد خان چی د محمد عظیم خان له خوا په پیښورکی حکومت کاوه ، دده څخه یی د مرستی غوښتنه وکړه.سردار محمد عظیم خان چی ستره شتمنی یی ټوله کړیوه او د هغی ساتنه تل ورته د سر درد جوړ کړی وو، له کبله یی د خپل ورور یارمحمد خان ومرستی ته ونه رسیدی. دبلی خوانه رنجیت سنګ یارمحمد خان ته غوړی وعدی ورکړی وی چی د پیښور د نیولو وروسته دی هلته حاکم پریږدی. ددی وعدو په امید یارمحمد خان هم بشپړه مقاومت ونکړ .پدی توګه پیښور د رنجیت سنګ لاسته ورغی او د دوست محمد ورور یار محمد خان یی د څه مودی دپاره نور هم هلته د حاکم په توګه پریښود. دی کار د یارمحمد خان او محمد عظیم خان تر مینځ اړیکی خرابی کړی. دمحمد عظیم خان تر وفات وروسته ، دهغه زوی حبیب الله خان دده ځای ناستی شو، ایوب شاه ده ته د یوه رقیب په سترګه کتل .دوی دواړه یودبل د ټکولو په فکر کی وه. دا مهال یارمحمدخان او سلطان محمد خان د رنجیت سینګ د مامورانو په توګه پیښورکی حکومت کاوه او دوست محمد خان د هغوی تر سیوری لاندی شپی تیرولی. کندهاری وړونه بیا په دی وخت کی سدوزی شهزاده څخه د هرات د نیولو تکل وکړ،خو بریالی نه شول .

د حبیب الله خان او ایوب شاه تر منځ اوبه لانوری هم خړی شوی. ددی د پاره چی د حبیب الله خان د پلاره ورته پاته شوی شتمنی تر لاسه کړي، ایوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه تصمیم ونیوی د خپل زوی شهزاده اسماعیل په لاس هغه ووژنی. په دغه نازک وخت کی پردلخان د کندهار څخه کابل ته راورسیدی او د کابل کشاله یی یو طرفه کړ .شهزاده اسماعیل یی مړ کړ او ایوب شاه یی د تخت نه راکوز چی پدی کار سره دهیواد په مرکز کی د سدوزی سلطنت سلسله پای ته ورسیده . حبیب الله خان نور بیغمه پر کابل باندی حکومت کول پیل کړه اوپردلخان بیرته کندهارته ولاړ. پدی وخت کی د بازکزی کورنی د پاره د سلطنت تر لاسه کولو په اړه ټول امکانات برابر او هیڅ خنډ شتون نه درلود. بیله هراته نور هیواد په بشپړه ډول د بارکزی وړونو په لاس کی وو. مګر د کندهاری سردارانو په لاس لومړی د سردار پردلخان اوبیا د شیردلخان د خوا د هیواد ولایتونه په لاندی ډول د بارګزی وړونو تر منځ وویشل شول:

داچي پیښور د پنځو سکه وړونو سردارانو د پاره کافی نه وو ، نو د خپلو سیمو سره یوځای عطا محمد خان اوسید محمد خان ته پریښودل شو. یارمحمد خان ا و سلطان محمد خان ته یی کابل وسپاره .دوست محمد خان په کوهستان او سکه ورور یی امیر محمد خان په غزنی کی حکومت کاوه ،لغمان د نواب جبارخان په برخه او دیره جات پاتی برخی یی نواب اسد خان په لاس ورکړی. شیردلخان ، پردلخان ،کهندلخان او مهر دلخان په ګډه کندهار اداره کاوه .رحمدل خان ته سند ، د نواب اسد خان زوی نواب محمد زمان ته جلال اباد او حبیب الله خان ته د لوګر د حکومت اداره په لاس ورغله . تر دغی پریکړی وروسته سردار شیردلخان کندهارته ولاړ او کابل یی د پریکړي سره سم یارمحمد خان ته پریښود .کله چی سردار عطا محمد خان د پیښور حاکم وفات شو ، یارمحمد خان او سلطان محمد خان په ګډه پرکابل حکومت کاوه . پدی وخت کی سندیانو ښورښ وکړ، ورسره سم لومړی رحمدل خان او ورپسی شیردلخان د سند په لور حرکت وکړ. مخکی له دی نه چی شیردلخان سندته ورسیږي ورور یی رحمدل خان د سند ښورښ ارام کړی وو اود واګو چاری یی د الله داد خان زوی نایب سلطان خان ته سپارلی وی . شیردلخان وکندهارته د بیرته راګرځیدو پر وخت په لاره کی وفات شو (۱۲۴۲ یا ۱۸۲۶م ) . دده مړینی د سند او کابل دواړو حالات ګډود کړل. په سند کی سندیانو هغه ټاکل سوی افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاکم وشاړه او خپل استقلال یی اعلان کړ. په کابل کی دوست محمد خان د سلطان محمد خان حکومت د ځان د بی برخي کیدو او د کندهاری او پیښوری وړونو د اقتدار دزیاتوالی لامل ګاڼه. ځکه یی نو سلطان محمد خان دکابل څخه وتلو ته مجبور کړاو بالاحصار یی په لاس راوړ. ددی د پاره چی نور وړونه ډیر ونه قهروي اوبیرته دوستانه فضا منځته راولی .دشیردلخان د پریکړی په دوام یی د یوه بل تړون له مخي د هر یوه د پاره د هیواد یوه برخه وټاکل او نسبی رضایت یی ترلاسه کړ(۱۲۲۲ربیع الثانی). ددی تړون اصلی نسخه دکابل په موزیم کی سته او کاپی یی مخکی دلته رانقل شویده .

د تیمورشاه له وخته بیاتر ۱۸۲۶پوری چی کابل د محمدزی کورنی د سلطنت بنسټ ایښودونکی دوست محمد خان په لاس ورځی ، د تاریخي پیښو لنډه یادونه ښیی چی د سردار پاینده خان بارکزی کورنی د سدوزی دولت په پرمختیا کی څومره لوی تاریخی رول لوبولی دی .سره له دی چی د زمانشاه په تیروتنه د سردارپاینده محمد خان تر وژنی وروسته نژدی وو د بارګزی وړونو د پاڅون له مخي د سدوزی سلطنت ریښی وخیژی ، خو د پاینده خان د زیرک زوی فتح خان د هوښیاری له کبله یووار بیا د دواړو کورنیو تر منځ د ملګریتوب او ګډ کار دپاره لاره خلاصه شوه او د احمد شاهی امپراتوری سرترپایه کی امنیت ټینګ او دولتی قدرت متمرکز شو . له بده مرغه د حسود او کم عقله شهزاده کامران په هڅونه او تحریک وزیر فتح خان دهغه د عیاش او بی پروا پلار شاه محمود په امر ړوند اوبیا ووژل شو. دی کار د سدوزیانو په ټوله امپراتوری کی داسی اور بل کړچی نه یوازی یی د سدوزی کورنی وسلطنت ته د پای ټکی کښیښود ،بلکه د افغانانو په وینو سره جوړه سوی امپراتوری یی هم ټوټه ټوټه کړه ، په سنګر کی ناستو دښمنانو لومړی سیکانو او بیا انګریزانو د ستری امپراتوری د بدن نه یو یو غړی د ځان د پاره ترینه پریکاوه او له مینځه یی یووړه .

دوست محمد خان د بارکزی وړونو تر مینځ تر ټولو زیرک او هڅانده سړی وو ، د فتح خان تر مرګ او اوږده اړودوړ وروسته دده د هلوځلو په پایله کی دی پدی وتوانیده چی د سیکانو دلا نور پرمختګ مخنیوی وکړی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدزیو د سلطنت د بنسټ ډبره کېښېږدی. ده پدی خاطر چی ځان امیر اعلان کړی ، دسیکانو پر ضد یی د جهاد ږغ پورته کړ. دا ځکه چی د امیر یا پاچا پرته د جهاد د فتوا جواز نه درلود . که څه هم د سدوزی د کورنی اخیرنی پاچا شاه شجاع هڅه وکړه دسیکانو او انګریزانو په مرسته د کابل پر تخت باندی کښینی او ځان د افغانستان د تاج وتخت رښتینی وارث اعلان کړی ،مګر داچی د پردیو تر سیوری لاندی وو ، د سیکانو او انګریزانو سره یی خاینانه تړون لاسلیک کړی وو، افغانانو ته د منلو وړ ونه ګرځیدی. په پای کی د سردار زمانخان د زوی شجاع الدوله پلاس له منځه ولاړ. دده زامن فتح جنګ ، صفدر جنګ ،تیمور او شاپور څومیاشتی نورهم د انګریزانو تر وزر لاندی په کابل کی پاته شوه ،خو داچی دخپل نوم بدی پلار په خاطر یی د خلکو تر منځ ځای موندلای نشو، دانګریزانو د وتلو سره سم دوی هم له افغانستانه ووتل او هند ته یی پنا یووړه. لدی نه وروسته د سدوزو له کورنی څخه هیچا د پاچهی فکر په سرکی درلودلای نشو.[1]

لنډه داچی افغانانو تر هغه وخته پوری چي خپل اتحاد او یووالی یی ساتلی دی، هیڅ یوه قدرت هم دا جرات ندی کړی چی د دوی و خاوری ته په بد نظر وګوری او ددوی په ملی حاکمیت باندی دتجاوز نیت په سرکی راوګرځوی. مګر هر کله چی د پردیو په دسیسو او پخپل منځ کی دځان د غوښتنو او نورو خیانتونو ښکار ګرځیدلی اود افغانی وروړګلوی اړیکی یی شکیدلی دی، د ورور وژنی په جنګونو کی یی یودبل مری پریکړی دی ، دی حالت ددوی د دښمنانو غوا لنګه کړیده . په سنګر کی ناستو دښمنانو د افغانانو دداسی بی اتفاقیو او ورور وژنو څخه ګټه پورته کړیده . ددغه ناوړ حالت یوه سوچه بیلګه په هیواد کی ددوو سترو درانی کورنیو( سدوزو او بازکزو)ترمنځ اوږدی شخړی او کورنی جنګونه دی (۱۸۱۸- ۱۸۳٤-م) چی غملړلی پایلی یی د افغانستان څخه د کشمیر ، پیښور او ملتان دلاسه وتل دی. همدارنګه نوری ورته بیلګی .

دکتاب پای

---

[1] - دسراج التواریخ لیکونکی وایی : دشاه شجاع اولادونه په لودهیانه کی دسلج په ختیځ کی چی د پنجاب یو نهر دی اوسیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دکاندید اکادمیسین محمداعظم سیستانی لنده بیوگرافی

(دآریا په قلم)

په تیرو پینځو لسیزو کې کاندید اکاډیمیسین سیستاني د افغانستان په رسنیو او فرهنګي ټولنه کې یوه پیژندل شوې څېره ده ؛ د هغه د څېړنېزو لیکنو لړۍ ، ۱۹۶۰ ز (و) کلونو ته ورګرځي چې په هغه مهال کې د ادبیاتو د پوهنځي محصل وو.




سیستانی دخپل کورنی سره په هغه محفل کی چی د ده دفرهنگی خدمتونو په خاطر دمالموپه شار کی دافغانانو لخوا تدویرسوی وو. دسیستانی چاپ شوی آثار د دوی په مخ کی لیدل کیږی. ۲۵/ ۱۲/ ۲۰۰۶/سویدن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تولد اوکورنی:

ما د ۱۳۱۷ لمریز کال د وري د مېاشتې په لومړۍ چې د (۱۹۳۸ز کال ۲۰د مارچ) له مېاشتې سره سمون خوري د نیمروز په ولایت کې د محمد یوسف خان بارکزي په کلي کې په یوې بزگرې کورنۍ کې سترگې په نړۍ وغړولې ؛ زما نوم یې د هغه وخت د دود پر بنسټ چې په نوي ماشوم به یې د زوکړې په دریمې یا شپږمې نوم ایښوده ، محمد اعظم غوره کړ او ښایي شیریني یې هم ویشلې وي. زما د پلار نوم شیراحمد خان وو ، نیکه مې محمد یوسف خان د فیض محمد خان بارکزي زوی او د فراه د"نو ده " له کلي څخه وو.

## د کورنۍ پېښت او سرچینه :

د کورنۍ د سرچېنې په اړه کټ مټ هغه خبرې را اخلم چې له خپلو مشرانو مې اوریدلي دي : گرشک ته نږدې د هلمند ولایت د " زنبولي" په کلي کې د " شاهو" او " دادو" ( یعنی شاه محمد او داد محمد) په نومونو دوه وو ورونو د هیلمند د سیند پر غاړه د کرهنیزو ځمکو په لرلو آرام او بډایه ژوند درلود. د ژوند په لړ کې د دواړو ورونو د وروگلوۍ اړیکې خړې پړې او شاهو اړ کېږي چې له خپلو ښځو او زامنو سره یوځای له گرشکه ووځي او په فراه کې دېره شي. ملک شاهو درې ماندېنې درلودلې ، یوه یې بارکزۍ ، بله یې غلزۍ او دریمه یې مندېزۍ ( مندوزۍ) وه. شاهو له بارکزۍ ماندینې څخه د جبار او نایب په نومونو دوه زامن درلودل. له غلزۍ ماندینې څخه یې د شیر او پاچا په نومونو دوه زامن درلودل او له مندوزۍ ماندېنې څخه یې هم د کلان او حاجي په نومونو دوه زامن درلودل. کله چې نوموړي ورونه لوی شول ، د ښځو او ماشومانو څښتنان شول نو د شیړو واړو ورونو زوزات یا اولاده د خیل په نومونو یاد شول لکه : کلان خیل ، حاجي خیل ، جبارخیل ، نایب خیل ، شیرخیل او پاچاخیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کلان خیلو له پښته د بېلګې په توګه کولای سوپه نیمروز کې د کرنیل محمد عمر خان او د هغه د ورونو ( غفورخان ، محمد یوسف خان ، کجیرخان ، محمد علم خان ، محمد نعیم خان ، محمد اعظم خان او محمد حسین خان) نومونه یاد کړو چې په قلعه فتح کې میشته دي.

د شیرخیل له پښته د فیض محمد خان (کومیدان) نوم یادولی شم ، فیض محمد خان کومیدان (د محمد یوسف خان، محمد ایوب خان ، او محمدیعقوب خان په نومونو درې زامن درلودل.) د دغو ورونو زامن په لاندې ډول ول :

د محمد یوسف خان بارکزي له پښته چې د دغو کرښنو د لیکوال نیکه هم دی د ( شیر احمد خان ، نصرالله ، حبیب الله او محمد علم ) په نومونو زامنو سترګې په نړۍ وغړولې. د شیر احمد خان له پښته د : حاجی میراحمد خان ، محمد اعظم (سیستاني ) ، احمد خان ، حاجي ګل احمد خان او نثار احمد په نومونو پینځو زامنو سترګې په نړۍ وغړولې. د محمد ایوب خان له پښته : حاجی عبدالعزیز ، عبدالحکیم خان او محمد خان په نومونو درې زامن پاتې شول. ( د محمد ایوب خان او محمد یوسف خان اولاده په نیمروز کې دیره او هلته دکنګ په ولسوالی کی ژوند کوي)

د محمد یعقوب خان له پښته ، محمد هاشم خان پاتې شو چې د نومورړي له پښته د ( محمد انور ، محمد اکبر او عبدالقدوس) په نومونو زامن پاتې شول چی دفراه په نوده کلی کی میشته دی.

په نیمروز کې د جبار خیل له پښته : شیرعلي خان بارکزی وو ، شیرعلي خان د لومړیو مشروطه غوښتونکو غړی او د حاجي مهر علي خان او حاجي امان الله خان پلار وو ( حاجي امان الله خان د ولسي جرګې په دیارلسمې دورې کې د چخانسور د خلکو استازی وو چې د غوایي له کودتا وروسته ونیول او ووژل شو.)

دشاهوزامن (کلان خیل،نایب خیل،جبارخیل،شیرخیل، پاچاخیل، حاجی خیل) چی اکثریت ئی اوس د"نوده" په کلی کی میشته دی، زرګونوته رسیږی .

د مشرانو د روایاتو پر بنسټ تر ۱۳۲۵ لمریز کال پورې چې صدراعظم شاه محمودخان د فراه او نیمروز له ولایتونو څخه کتنه وکړه ، د زنبولي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکو مالیه د ملک شاهو په نامه حواله کیدله او د شاهو زامنو راتوله شوې مالیه خزانې ته سپارله. په همدغه کال کې کرنیل محمد عمر خان د دفراه د« نو ده » د بارکزیو په استازیتوب په ګرشک کې په شاهو پورې تولې اړوند او تړلې ځمکې خپل د اکا زامنو یعنې د ملک دادو خان اولادې ته وبخښلې او په دې تړاو یې د شاه محمودخان فرمان هم تر لاسه کړ؛ په دې توګه د ځمکو مالیه په رسمي ډول د شاهو له نامه څخه د دادو خان د اولادې په نومونو ولېږدول شوه. د ملک دادو خان له پښته ، حاجي امیر محمد خان او د هغه زوی حاجي قادرخان بارکزی پاتې دي چې لا تر اوسه د ګرشک په زنبولۍ کې په نامتووالي او درنښت ژوند لري.

زما نیکه،محمد یوسف خان بارکزی، د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهۍ پر مهال د فراه د «نو ده » له کلي څخه د خپل تبر له سل تنو سپرو سره یوځای نیمروز ته ولاړ او هلته یې د سرحد دار په توګه دنده تر سره کړه ، وروسته یې په نیمروز کې د ایران کرښې ته ورڅېرمه د کنګ په ولسوالۍ کې د هیلمند د سیند د دوه وو څانګو ( د ابراهیم آباد د رود او سیخسر د رود) په منځ کې ځانته ځمکه واخیستله ، ځمکه یې خړوبه او ښیرازه کړه اود هغه پښت لا تراوسه په هماغه کلي کې ژوند کوي.

## زده کړې او مأموریت :

لومړنۍ زده کړې مې د نیمروز ولایت د کنګ په ولسوالۍ کې تر سره کړې او په ۱۳۳۵ لمریز کال کې د زده کړو د دوام لپاره کابل ته ولېږل شوم.درې کاله مې د ابن سینا په منځني ښوونځي کې زده کړې وکړې ، له هغه وروسته لومړي دارالمعلین ته شامل شوم او وروسته د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کې شامل شوم ، د پوهنځي له فراغت وروسته مې د ۱۹۶۶ز کال په پیل کې د ښوونکي په توګه دنده پیل کړه. د ۱۹۶۸ز کال په پای کې په نیمروز کې د ابو داؤود سجستاني د لیسې د مدیر په توګه و تاکل شوم او په ۱۹۷۰ز کال کې د هلمند د ولایت د معارف د مرستیال په توګه تبدیل شوم. په ۱۹۷۳ ز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال د کرهنې او اوبو لګولو په وزارت کې د نباتاتو د ساتنې په ریاست کې د اداري مدير په توګه په دنده و ګومارل شوم او د غوايي تر كودتا پورې مې دغه دنده پر مخ بوتله. د غوايي له کودتا ( ۱۹۷۸ز) وروسته له نوموړي وزارت څخه اضافه بست شوم. د ۱۹۸۰ز کال په وروستيو کې د افغانستان د علومود اکاډیمۍ د ټولنيزو علومو د څيړنو د مرکز د تأريخ او اتنو ګرافۍ په انستيتوت کې و منل شوم.

د ۱۹۸۶ ز کال پای وو چې ما هم د کابل پوهنتون ، د علومو د اکاډیمۍ او د هیواد د نورو علمي بنسټونود پوهانو او استادانو په کتار کې ځان د ټولنيز علومو د پوهانو کړۍ ته کاندید او د « مالکیت ارضی و جنبش های دهقانی درخراسان قرون وسطی » په نامه کتاب له نورو (مقالو او رسالو په ګډون) خپرو شويو آثار سره يوځای د علومو د اکاډیمي رياست ته وسپارل. په پای کې د ټاکل شوې کمیټې له پلوه ماته د « سر محقق» (پوهاند) د رتبې ترڅنګ د «اکاډیمیسن د کاندید» علمي درجه (چې د پوهاندۍ او اکاډیمیسنۍ ترمنځ يوه رتبه ده) راکړل شوه او د هیواد د ( تأريخ او ادبياتو) د شلو تنو پوهانو په کتار کې راته ځای راکړل شو. له ۱۹۸۶ تر ۱۹۹۱ ز کال پورې مې د افغانستان د علومو په اکاډیمۍ کې د ټولنيزو علومو د څيړنو د مرکز د رئیس په توګه دنده تر سره کړه. ما تل هڅه کړې چې خپله فکري خپلواکي وساتم او هیڅکله مې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند او یا نورو ګوندونو غړیتوب نه دی ترلاسه کړی ؛ تر پایه پورې خپلواک او غیر ګوندي پاتې شوی یم. په ۱۹۹۲ زکال کې کله چې د هیواد پر برخه لیک د جهادي تنظیمونو واکمني خپره او په ټول هیواد کې اله ګوله او وژنه را وپاریدله دې ته اړ شوم چې له هیواده دباندې ووځم او د سويډن هيواد ته کډوال شوم ؛ تر دغه دمه په دغه هیواد کې له خپلې کورنۍ او ماشومانو سره ژوند کوم.

## فردي خصوصیات او ټولنيز خصلتونه :

له هرڅه مخکې باید ووایم چې له اقتصادي اړخه مې له منځنۍ کچې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښته ژوند کړی دی ، هېڅکله مې ځانپالنې ، غاړه ټيټېدنې او غوړه ماليو ته غاړه نه کښته کړې. د خپلو دوستانو په کړی کې مې د پوهې او قلم په ګوتوشمار څو تنه دوستان غوره کړي دي ، د هغوی ليدنو کتنو او خبرو به زما ستړي دماغ ته لا نور ځواک او پياوړتيا ورکوله. د بېلګې په ډول : کانديد اکاډيميسين داکتر اکرم عثمان ، اکاډيميسين عبدالشکور رشاد ، کانديد اکاډيميسين انور نوميالی ، ډاکتر عبدالله مهربان او څو تنه نور. ځوانمردي ستايم ، له درواغو، چلوټو او دوکو ، کږوالي او نادرستۍ څخه کرکه لرم. په ملګرتوب کې مې سپيڅلولۍ او صداقت ډير خوښ دي ، د دوستانو پر وړاندې مې هېڅکله د صداقت او رښتونلۍ له کرښې پښه نه ده غځولې. د يوه دوست له دوستۍ څخه زړه مې ترهغه مهاله نه دی جلا کړی چې په دوستۍ کې مې له هغه څخه کلکه خطا نه وي ليدلې. پرهغه دسترخوان چې ما ډوډۍ خوړلې د هغه پاس مې ساتلی دی ، هڅه مې کړې په هغه چا خپله ډوډۍ هم وخورم چې ما يې ډوډۍ خوړلې ده. له هېڅ چا مې ځان لوړ نه دی بللی او نه مې چاته ځان لوړ کړی ، تر هغې کچې مې ځان ور ښودلی دی چې په رښتيا يم. په افغاني همت او مېړنتوب کې مې ځان له چا ټيټ نه دی بللی. د ملي او کورني پت ساتنه او دفاع مې پر ځان فرض ګڼلې ده. د کنسکتوب او بـُخـُـل حس راباندې نه دی بريالی شوی. هېڅکله مې د چا په شتمنتوب رخه او سخه نه ده راپارېدلې او بُخـُل مې نه دی کړی. ترخې خبرې او تور لګول مې ډير کلک ځوروي او په يوې سکالو کې زما د فکري تمرکزد ګډوډۍ لامل کېږي.

په ليکنه او ليکوالۍ کې ډير وسواسي يم ، دغه وسواس ترهغه مهاله را سره وي ترڅو په يوه ليکنه کې د هرې غونډلې يا جملې او پاراګراف سموالی د محتوی ، بڼې او درونډوالي له اړخه راته نه وی سم شوی. خپل هيواد او ټاټوبې را باندې ډير ګران دی اوبل هېڅ ځای به تر هغه لوړ ونه ګڼم. د هيواد آبادۍ او ښېرازۍ ته هيله مند يم. د خپل ولس په بدمرغۍ ځوريږم ، د هغوی په سوکالۍ کې ځان سوکاله بولم. د هيواد اوتولنې وروسته پاتې والې مې کړوي خو تقدير او برخليک ته موږ بدلون نه شو ورکولای. کاشکې داسې ورځ په سترګو ووينم چې له هيواد څخه مې د بېوزلۍ ، لوږې او ورور وژنې تغر د تل لپاره ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. د سولې او نیکمرغۍ څپې او پلوشې زما د هر هیواد وال په کورنۍ ، زما د هیواد پر هر کلي ، گودر او گوټ کې خپرې شي ، د هیواد د ځوریدلو بچیو پر وچو شونډو د خوښۍ د ځلاندې موسکا غوټۍ و غوړیږي او تنکي کړېدلي زړونه یې د مینې په سپیڅلو ډیوو روښانه شي. ماتل خپله فکري خپلواکي او د بیان آزادي ساتلې ده او له همدې امله مې په هېڅ سیاسي گوند کې د غړیتوب هېله نه ده کړې ، خو په ټولنه کې مې له ډیموکراسۍ ، ټولنیز عدالت ، د قلم او عقېدې له آزادۍ ، د نورو حقونو ته له درنښت او د نارینه وو او ښځو ترمنځ د حقونو له برابروالي څخه مې دفاع او ننگه کړې ده. تراوسه مې په هېڅ گوند یا د یوې ښې او کېڼې سیاسي ډلې غړیتوب نه دی درلودلی او نه یې لرم.

د ډیموکراسۍ په لسیزې کې کیڼ لاسو بنستپالو او ښي لاسو بنستپالو ډلو سرونه راپورته کړل ، په هماغه وخت کې انگېرل کیدل چې دغه ډلې ټپلې هره یوه یې په یوه بهرني هیواد پورې تړلې ده او مشران یې هم د ټولنې له تل څخه نه ول راپورته شوي ، له دې امله مې ځان له هغوی څخه لېرې ساتلی دی. د وخت تېرېدلو په زباد ورسوله چې په پردیو پورې ځان تړل د هیواد له ملي گټو سره سمون نه خوري. له همدې امله ده نه ښایي چې څوک دې په پردیو یا ښي لاسو او کیڼ لاسو بنستپالو ایډیالوژیو پسې ولاړ شي. د ډیموکراسۍ په لسېزې کې او له هغې وروسته پیر کې د هیواد یو شمیر ټولنیزو شخصیتونو د سالمو او ملي گوندونو د رامنځته کولو لپاره هڅې او هلې ځلې وکړې خو دغو هڅو هم ونه شو کولای ځانته لاره پرانیزي او د هیواد په کچه یې گټور او ولس منلی دریځ تر لاسه نه شوای کړای. ځکه ددغو ډلو مشرانو په ملي او ولسي کچه مخورتوب او ولس منلی نوم نه درلود او یا یې ونه کړای شوای چې دغه نوم د ولسونو په زړونو کې ترلاسه کړی. د هیواد په کړکیچن او پیچلي چاپیریال کې د گاونډیو او نورو گټه لرونکوهیوادونو لاسوهنې په کلکه غندم او په هیله مندۍ غواړم د هغوی د لاسوهنو جرړې له بیخه وباسم. د هیواد هغو سپیڅلو بچیو ته د نېکمرغۍ له هیلې سره جوخت د درنښت سر ټیټوم چې د هیواد د پت او د ولس د ژغورلو لپاره یې په میړانې د جهاد پر ډگر گام

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښیښود ، خپل غیرتي ټټرونه یې د هیواد د دښمنانو پر وړاندې ډال کړل او زموږ د پلرني ټاټوبي دښمنان یې د هیواد له کرښو دباندې وایستل ، هغوی د تلپاتې سرلوړې او نیکمرغۍ ارزښت لري. ترهغو چې وسه لرم د هغوی له کارنامو څخه به په درنښت یادونه وکړم ، هغوی ته دې زما سلامونه او درودونه وي او په هغوی ویاړم.

واده مې کړی دی ، دوه زامن او څلور لوڼې لرم چې ټول یې د لوړو زده کړو څښتنان دي او د نورو پلرونو په څیر خپل ماشومان راباندې ډیر ګران دي. پای.

## زما آثاراو تألیفات :

د ۱۹٦۲ زکال، یعنی دکابل دپوهنتون دتحصیل ددویم کال څخه تر ۲۰۰۹ میلادی کال ترپایه ، دا لاندنی تحقیقی آثار می و نشرته سپارلی دی :

### الف ـ چاپ شوی مستقل آثار :

۱ ـ نظام بهره برداری از زمین درافغانستان قرون وسطی ( ۱۰۰صفحه ) طبع کمیته دولتی طبع ونشر، ۱۳٦۱=۱۹۸۲م

۲ ـ مالکیت ارضی و جنبشهای دهقانی درخراسان قرون وسطی ( ۷۰۰صفحه ) چاپ اکادمی علوم افغانستان ، کابل ۱۳٦۲=۱۹۸۳م (این کتاب پس ازتجدید نظرو افزودن دوفصل جدید زیرنام «مالکیت ارضی و شیوه های بهره برداری از زمین در خراسان قرون وسطی » درسوئد در سال ۲۰۰۲نیز به تعداد محدودی بچاپ رسیده واخیراً در پورتال افغان- جرمن آنلاین گذاشته شده است.

۳ ـ سیستان ، سرزمین ماسه هاو حماسه ها ( جلد اول ٦۰۰صفحه ) طبع اکادمی علوم افغانستان ،کابل ۱۳٦٤=۱۹۸۵م

٤ ـ سیستان ، سرزمین ماسه ها وحماسه ها ( جلددوم ۹۰۰صفحه )

(c) ketabton.com: The Digital Library



شامل : جغرافیای طبیعی ، جغرافیای تاریخی و جغرافیای اقتصادی سیستان در قرون وسطی، طبع اکادمی علوم افغانستان،۱۳٦۷=۱۹۸۸

۵ - سیستان ، سرزمین ماسه ها وحماسه ها (جلدسوم ۴۱۲صفحه) شامل : اوضاع سیاسی و اجتماعی سیستان تا تاسیس دولت سدوزائی افغانستان در۱۷٤۷م، طبع اکادمی علوم افغانستان ،۱۳٦۷ =۱۹۸۸م

٦ - سیستان ، سرزمین ماسه ها وحماسه ها ( جلدچهارم ۳۰۰صفحه ) شامل : سرگذشت سیستان ورودهیرمنداز ۱۷٤۷ تا ۱۹۷۳ م ، طبع اکادمی علوم افغانستان ، ۱۳٦۸=۱۹۸۹م . ( قابل تذکر است که مواد ومطالب این چهار جلد کتاب در مورد سیستان ، از سال ۱۳٤٤ببعد مورد پژوهش قرارگرفته بود، ودر اکادمی علوم افغانستان برای چاپ در سال ۱۳٦۳ سپرده شده بود.

۷ - مردم شناسی سیستان ، شامل: اتنوگرافی تاریخی مردم سیستان ، رسوم وعنعنات، باورهاو معتقدات ، ضرب المثل ها، سرودهای عامیانه ، لهجه بومیان سیستان ( گویش زابلی) ، افسانه های مردم سیستان (۲۷۰صفحه ) طبع اکادمی علوم افغانستان، ۱۳٦۸=۱۹۸۹م

۸ - بررسی اوضاع سیاسی و اجتماعی افغانستان از ۱۹۰۱ تا ۱۹۱۹م ( رساله ، ٦۵صفحه )با انضمام دو مقاله دیگر از پوهاند هاشمی و داکتر عبدالله مهربان ، طبع وزارت اطلاعات وکلتور ۱۳٦۸=۱۹۸۹م

۹- قیام های مردم خراسان وسیستان در سه قرن اول هجری ( ۱۱٦صفحه ) طبع وزارت اطلاعات وکلتور، ۱۳۷۰=۱۹۹۰م ( این اثر نیز قبل از خروج از مطعبه در آتش بمباران مجاهدین سوخت )

۱۰ - قیام های مردم افغانستان بر ضد نادرشاه افشار( ۷۵صفحه ) طبع وزارت اطلاعات و کلتور، ۱۳٦۸ =۱۹۸۹م

۱۱ - سیمای رستم در شاهنامه (۲۱٤صفحه ) طبع اکادمی علوم افغانستان ، ۱۳٦۹ =۱۹۹۰م

۱۲ - مناسبات ارضی و شیوه های برخوردبه مسأله زمین وآب در افغانستان سال های ۷۰ و۸۰ قرن بیستم ( ۲۰۰صفحه ) طبع اکادمی علوم افغانستان ، ۱۳۷۰ =۱۹۹۱م

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ - مقدمه یی بر کودتای ثور وپیامدهای آن در افغانستان ، (۴۲۰ صفحه) طبع ۱۹۹۶، سوئد ،این کتاب در پشاور پاکستان نیزپس از سال ۲۰۰۰میلادی تجدید چاپ شده است.

۱۴ - قیام های مردم افغانستان از قرن هشتم تا هژدهم میلادی (۳۰۰ صفحه) طبع ۱۹۹۸، سوئد( این اثر از طرف صالح محمدصالح به زبان پشتو ترجمه ودرپاکستان چاپ شده است.)

۱۵- دو نابغه سیاسی - نظامی افغانستان در نیمه اول قرن ۱۹م ، (۴۰۰ صفحه) طبع ۱۹۹۹، سوید (این کتاب در زمستان ۱۳۷۸ ش درایران و در ماه حمل ۱۳۷۹ ش در پشاور پاکستان نیز تجدید طبع شده است.)

۱۶ - یک نگاه انتقادی برجلد اول ودوم افغانستان درمسیرتاریخ (رساله ۱۰۰صفحه) طبع جون ۲۰۰۰م درپشاور ومجدداً در سال ۲۰۱۰ در پورتال افغان- جرمن آنلان نیز به شنر رسیده است.

۱۷ – پاکستان، پرورشگاه تروریسم، چاپ دانش خپرندویه تولنه، پشاور ۲۰۱۱

۱۸ - نگاهی بر اوضاع اجتماعی افغانستان از طاهریان تا تیموریان ،(۳۱۰صفحه) نشر در سایت افغان- جرمن آنلاین

۱۹ - علامه محمودطرزی ، شاه امان الله ونقش روحانیت متنفذ ، (۳۷۷صفحه) چاپ ۲۰۰۲، سوئد و چاپ ۲۰۰۴ پشاور

۲۰ - سی مقاله سیستانی ، (۳۵۶ صفحه) چاپ اکتبر ۲۰۰۲ ، سوئد

۲۱ - سیمای زن افغان درتاریخ افغانستان ،( ۱۸۵ صفحه ) ، جنوری ۲۰۰۴، سوئد

۲۲ - پشتونستان و زخم ناسورخط دیورند،مجموعه مقالات، (۳۱۸صفه ) اکتوبر ۲۰۰۵، سوئد

۲۳- حماسه قیامها یا دوقرن مبارزه بخاطر ازادی، (۳۴۰صفحه)سوید، ۲۰۰۴،چاپ دوم، دانش خپرندویه موسسه، ۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲٤- رستاخیزقندهار وفروپاشی دولت صفویه در ایران،(۱۳۲صفحه) چاپ مرکزنشراتی دانش پشاور۲۰۰۵=۱۳۸٤(این کتاب ازطرف صالح محمدصاله به زبان پشتو نیز ترجمه واز طرف دانش نشراتی موسسه چاپ شده است.)

۲۵- ظهور افغانستان معاصر واحمدشاه ابدالی، (٤۲۱صفحه)چاپ پشاور، ۲۰۰۷=۱۳۸۶،ونیزدرافغان-جرمن آنلاین قابل دسترسی است.

۲۶- آیا افغانستان یک نام جعلی است؟(مجموعه بیست مقاله تحقیقی (٤۱۸ صفحه) چاپ، پشاور ۲۰۰۷=۱۳۸۶

۲۷- افغانستان،مرکز ثقل بازی بزرگ،(۳۲۷صفحه) سایت افغان- جرمن آنلاین، ۲۰۰۹

۲۸- جشن نوروز ومنزلت آن درمیان ملل آریائی،(۱۵۵صفحه) پورتال افغان- جرمن آنلاین، مارچ ۲۰۱۰، ونیز چاپ دانش خپرندویه موسسه ۲۰۱۱

۲۹- برخی شخصیت های فرهنگی - اجتماعی کشور،(٤۲۵صفحه)، پورتال افغان- جرمن آنلاین،۲۰۱۰ ونیز ازطرف دانش خپرندویه تولنه درکابل به چاپ رسیده است.

۳۰- ملالی جویا، اسطورۀ شجاعت روزگارما،(۳۹۰ صفحه)، پورتال افغان- جرمن آن لاین، ۲۰۰۹، نیز درسال ۲۰۱۰در پشاور به طبع رسیده است.

۳۱- بیست مقالۀ تاریخی- تحقیقی، (٤۲۳صفحه)، پورتال افغان- جرمن آنلاین،۲۰۱۰

۳۲- وضعیت حقوقی زن افغان از استقلال تا حکومت کرزی،(۲۰۰ صفحه) چاپپورتال افغان جرمن آنلاین؛۲۰۱۱

۳۳- سیمای امیر آهنین، امیر عبدالرحمن خان در تاج التواریخ ،۲۰۱۱،پورتال افغان جرمن آنلاین(۲۵۰صفحه)

۳٤- پاکستان، طالبان و معضلۀ خط دیورند،(۳٦٤صفحه)، آماده چاپ

۳۵-تحقیقی در باره سه خاندان تاریخی قندهار،(۲۲۰ صفحه)چاپ ۲۰۱۲، پورتال افغان جرمن آنلاین

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۶- نقش تاریخی وزیرفتح خان وخاندان او در دولت سدوزائی افغانستان،(۲۷۰ صفحه) نشر پورتال افغان جرمن آنلاین، ۲۰۱۲

۳۷- نقش تاریخی وزیر اکبرخان و۸ تن دیگر از سران ملی در قیام کابل،(۳۸۵ صفحه)،نشر در پورتال افغان جرمن آنلاین، ۲۰۱۲

۳۸- دفاع از استقلال ،وجیبۀ ملی افغانهاست (۳۲۰صفحه) نشر شده در پورتال افغان جرمن آنلاین ۲۰۱۱

۳۹- نقش سیستان در تکوین حماسه های ملی (۳۰۰ صفحه) نشر شده در پورتال افغان جرمن آنلاین ۲۰۱۱

۴۰- مسالۀ اصلاحات ارضی در افغانستان سالهای ۷۰ و۸۰ قرن بیستم.چاپ دانش خپروندویه موسسه ،پشاور،۲۰۱۱

## ب / نا چاپ آثار خو دمینخ تللی :

۱- سهم سیستان در معارف اسلامی( ۴۰۰صفحه )شامل: شرح حال محدثین ، محققین علوم عقلی و نقلی، شعراء ، و مشاهیر سیستان از صدر اسلام تا پایان قرن هژدهم میلادی. متاسفانه این اثرپس ازهجوم مجاهدین برکابل، درضمن غارت اثاثیه منزل مولف تباه شده است .

۲- پنج نمایشنامه ( شامل : زمین ، ضربه سوم ، رسوائی ، پشیمان، وکاسه صبر) در حدود ۳۰۰صفحه. این مجموعه نیز قبل از چاپ ، همراه با غارت منزل مولف تباه شده است .

## ج/ نشر ۳۹۰ مقاله ورساله من تا این تاریخ درسایت انترنتی افغان جرمن آنلاین وصدهای مقاله در سایت های دیگر افغانی

۸http://www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?

## د/اشتراک فعال درسیمنارها و سمپوزیم های ملی وبین المللی :

پس از عضویت در اکادمی علوم افغانستان ، در تمام سیمنار ها و سمپوزیم های ملی وبین المللی ایکه با علوم اجتماعی و بخصوص تاریخ ارتباط

(c) ketabton.com: The Digital Library



داشته است، فعالانه اشتراک ورزیده ام وبا نگارش مقالتی و شرکت در بحث ها وتوضیحات علمی سهم عملی داشته ام. از آن جمله در سیمنار های علمی - تحقیقاتی ذیل فعالانه سهم گرفته ام

۱ -سیمنار بین المللی بزرگداشت از هزارمین سال تالیف کتاب « حدودالعالم من المشرق الی المغرب» تالیف در ۳۷۱هجری قمری، که به عنوان منشی سیمنار، کار تدویر آن را بر عهده داشتم و مقالتی برای خوانش در آن سیمنار نوشتم و خواندم وبه سوالات دانشمندان اشتراک کننده پاسخ گفتم. (۱۳۶۲)

۲ - اشتراک در سیمنار تحقیقاتی بمناسبت تجلیل از« مختوم قلی» شاعر ترکمن در قرن هژدهم میلادی.مقالتی راجع به اوضاع اجتماعی و سیاسی عصر شاعرکه مصادف به ایام فرمافرمائی نادرشاه افشار بوده،نوشتم وخواندم.

۳ - اشتراک در سمپوزیم ملی تجلیل از هزاره سرایش شاهنامه که مدت یک هفته در دانشگاه کابل، برگذارشده بود و من مقالتی تحت عنوان « بازتاب بر خی واقعیت های تاریخی سیستان در حماسه فردوسی» نوشتم وآنراخواندم که مایه دلچسپی و جر وبحث مفصل دا نشمندان شامل در سمپوزیم شد.

٤ -اشتراک در سمپوزیم بین المللی تاریخدانان شوروی وافغانستان که برای سه روز در هوتال آریانا برگذار شده بود. اعتراضات و انتقادات من بر شیوه کارو ترکیب کمیسیون مشترک تاریخدانان افغانستان و شوروی، سبب شد تا بر ترکیب این کمسیون تجدید نظر شود و سه نفر از اعضای انستیتوت تاریخ و اتنوگرافی، بشمول خودم در آن عضویت بیابند.

۵ - اشتراک در سمپوزیم بین المللی تحقیقاتی تاریخدانان شوروی و افغانستان، پیرامون تاریخ و جامعه شناسی افغانستان، که در شهر دوشنبه تاجکستان ( ۱۹۸۷) برگزارشده بود.

٦ - اشتراک فعال در سمپوزیم بین المللی تاریخدانان افغانستان و شوروی که در سال ۱۹۸۸ در کابل تدویریافته بود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- اشتراک درسیمنار بین المللی « متودلوژی تاریخ » که از طرف مرکز علوم اجتمای اکادمی علوم در هوتل آریانابرای دو روز برگذارشده بود. مسؤلیت تدویراین سیمنار در سال ۱۹۸۹ بدوش من بود.

۸ - اشتراک در مذاکرات روی پروبلم های قابل مطالعه در تاریخ افغانستان با دانشمندان شرقشناسی اکادمی علوم مسکو درسال ۱۹۸۸

۹ - تدویر سیمنار ملی پیرامون مشکلات ووضع تعلیم و تر بیت در مکاتب افغانستان که با اشتراک وزارت تعلیم و تربیه و استادان فاکوته تعلیم وتربیه پوهنتون کابل، در سال ۱۹۸۹ در هوتل آریانابرای سه روز برگذار شده بود.

۱۰- اشتراک فعال در درسیمنار بین المللی بزرگداشت از امیر علی شیر نوائی، در سال ۱۹۹۰که از جانب اکادمی علوم برگذار شده بود.

۱۱- اشتراک فعال درسیمنار ملی تجلیل از ۲۷۰مین سال تولد احمدشاه درانی که در ۱۹۹۰برگذار شد.

۱۲- سهم گیری در کنفرانس های علمی تجلیل از استقلال افغانستان، بخصوص هفتادمین سالگرد استرداد استقلال کشور.

۱۳- اشتراک در سمپوزیم ملی « کابل درگذرگاه تاریخ » که از طرف انجمن نویسند گان افغانستان در هتل انتر کانتی ننتل برگذار شده بود.

۱٤- اشتراک در سیمنار بین المللی: پژوهش در زبان و فرهنگ باستان ایران ، منعقده شهر گوتنبرگ سوئد،(۲۳-۲۹ سپتامبر ۲۰۰۰)

۱۵-اشتراک درکنفرانس علمی ۸۵ مین سال استرداد استقلال کشور در هر کلن المان در سال ۲۰۰۴

۱۶- اشتراک در کنفرانس علمی سیصدمین سال خیزش هوتکیان در قندهاربرهبری میرویس خان هوتکی در آلمان در ۲۰۰۵

۱۷اشتراک درکنفرانس علمی بزرگداشت از نهضت ایمل خان اپریدی در شهر کلن المان در ۲۰۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دی کتاب عمومی ماخذونه


[۱] - اوستا، گزارش وپژوهش جلیل دوستخواه، انتشارات مروارید،تهران، چاپ سوم،۱۳۷۵

۲- افغانستان در مسیر تاریخ، تألیف میرغلام محمد غبار، طبع ۱۳۴۶، کابل

۳ -بیست و پنج سده مالیات ، تالیف عنایت الله شاپوریان ،چاپ دانشگاه تهران ، ۱۳۵۰ ش

٤ -تاریخ اجتماعی ایران، تألیف مرتضی راوندی، چاپ موسسه انتشارات امیر کبیر، تهران، ۱۳۴۴

۵ -تاریخ ایران نوشته گروهی از مورخان شوروی، ترجمه کریم کشاورز، طبع تهران

٦- تاریخ جهانگشای جوینی ،(۳جلد)به تصحیح و اهتمام محمد بن عبدالوهاب قزوینی ، چاپ ۱۳۲۹

۷ -تاریخ قرون وسطی، کاسمینسکی، ترجمه صادق انصاری و باقر مومنی چاپ ۱۳۴۸، تهران

۸ -تاریخ وصاف ، از ادیب عبدالله شیرازی ، باهتمام محمد مهدی اصفهانی ، چاپ ۱۲۹۶ هجری قمری ، بمبئی هند

۹ -تاریخ مختصر افغانستان ، تالیف پوهاند حبیبی، چاپ اول ۱۳۴۹ کابل و چاپ سوم ، پشاور پاکستان ،

۱۰ - تحریر تاریخ وصاف ، بقلم عبدالحمید آیتی ، طبع انتشارات بنیاد فرهنگ ایران ، ۱۳۴۶

۱۱ -تاریخنامه هرات (تاریخ سیفی) از سیفی هروی، به تصحیح پروفسیر محمد زبیر صدیقی، چاپ کلکته و چاپ افسیت ایران

۱۲ -جامع التواریخ ، تالیف رشیدالدین فضل الله، بکوشش دکتر بهمن کریمی، (۲جلد) طبع تهران

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳-جغرافیای تاریخی سرزمین‌های خلافت شرقی، تألیف گ، لسترنج، ترجمه محمود عرفان، طبع ۱۳۳۷

۱٤ -حدود العالم من المشرق الی المغرب (تالیف در ۳۷۲ هـ) چاپ دکترمنوچهر و چاپ پوهنتون کابل (ترجمه پوهاند میرحسین شاه)، ۱۳٤۲

۱۵ -دولت نادرشاه افشار، تالیف خانم م، ر، ارونووا، ز، ک، اشرافیان، ترجمه حمیدمؤمنی، طبع ۱۳۵۲،

۱٦ -دستور الکاتب فی‌تعیین المراتب، تألیف محمدبن هندوشاه نخجوانی، به تصحیح ع. ع، علیزاده، جلد اول طبع ۱۹۶۴، جلد دوم طبع ۱۹۷۶ مسکو

۱۷ -زین الاخبار گردیزی، از عبدالحی بن ضحاک گردیزی، به تصحیح و تحشیه پوهاندعبدالحی حبیبی، طبع تهران

۱۸ -سازمان اداری حکومت صفوی با تحقیقات و حواشی و تعلیقات مینورسکی بر تذکره‌الملوک، ترجمه مسعود رجب‌نیا، چاپ ۱۳۳۴، تهران

۱۹ -سیاست‌نامه یا سیرالملوک، از خواجه نظام الملک، چاپ محمد قزوینی و چاپ عبدالرحیم خلخالی، تهران

۲۰- صورت الارض ابن حوقل، ترجمه دکترجعفر شعار، بنگاه ترجمه و نشرکتاب،تهران

۲۱ - فتوح البلدان بلاذری، ترجمه آذر تاش آذرنوش، طبع ۱۳۵۳ تهران، متن عربی طبع بیروت.

۲۲ -کشاورزی و مناسبات ارضی در ایران عهد مغول، تألیف پطروشفسکی، ترجمه کریم کشاورز، چاپ ۲۵۳۵ شاهنشاهی

۲۳ - مالکیت ارضی و جنبش‌های دهقانی، تألیف محمد اعظم سیستانی، طبع، ۱۳۶۲، اکادمی علوم افغانستان ،کابل

۲٤ - مسالک و ممالک اصطخری، باهتمام ایرج افشار، چاپ بنگاه ترجمه و نشر کتاب، تهران

۲۵ - مقدمه ابن خلدون، ترجمه محمد پروین گنابادی، طبع ۱۳۳۶ (۲ جلد)

۲٦ -ظفرنامه ، از شرف الدین علی یزدی ، چاپ تهران ، ۱۳۳٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷ -مالک و زارع ، تالیف خانم دکتر لمتون ،ترجمه امیری ، چاپ ۱۳۴۴،تهران
۲۸ -مکاتبات رشیدی ،به تصحیح و اهتمام محمدشفیع لاهوری ، ۱۹۴۷
۲۹ -نزهت القلوب، از حمدالله مستوفی (تألیف در حدود ۷۴۰ هـ) باهتمام محمد دبیرسیاقی، ۱۳۳٦
۳۰ -تولدی دیگر، شجاع الدین شفا، چاپ ۱۳۷۹(۲۰۰۰ میلادی)
۳۱ -ملاحظاتی درتاریخ ایران ، علی میرفطروس ، چاپ سوم
۳۲- سیفی هروی (سیف بن محمدیعقوب الهروی)،تاریخنامه هرات ، چاپ پروفسور محمد زبیر صدیقی ، ۱۹٦۲ کلکته ونیز چاپ افسیت ایران، ۱۳۵۲
۳۳- تاریخ کامل ابن اثیر، ترجمه عباس خلیلی، از انتشارات موسسه مطبوعاتی علمی، تهران
۳٤- تاریخ گزیده از حمدالله مستوفی، طبع ۱۳۳۹ ، تهران
۳۵- ابن بطوطه، سفرنامه، ترجمه دکتر محمدعلی موحد، طبع ۱۳٤۸ ، بنگاه ترجمه و نشر کتاب ، تهران
۳٦- علی میرفطروس،دیدگاه ها ،چاپ اروپا
۳۷- تاریخ ایران،نوشته گروهی از مورخین شوروی، ترجمه کشاورز، طبه تهران
۳۸- مرتضی راوندی ،تاریخ اجتماعی ایزان، ج ۲
۳۹- لکهارت، انقراض سلسله صفویه ،ترجمه عماد،تهران۱۳٦٤
٤۰- سیستانی، قیام‌های مردم افغانستان بر ضد نادرافشار، طبع ۱۳۶۸.
٤۱- دکتر محمود افشار یزدی ، افغاننامه ، ج ۱،طبع ایران
٤۲- گنداسنگه ، درانی احمدشاه، ترجمه پشتو از نصرالله سوبمن، ۱۳۶۶، اکادمی علوم افغانستان
٤۳- ظفرکاکا خیل، پشتانه دتاریخ په رناکی، طبع۱۹٦۵،پشاور
٤٤- پوپلزایی، عزیزالدین وکیلی، تیمورشاه درانی،چاپ ۱۳٤٦(دوجلد)
٤۵- الفنستون، افغانان، ترجمهٔ آصف فکرت، چاپ مشهد ایران،
٤٦-فریه فرانسوی،تاریخ افغانها، ، ترجمهٔ سهیل سبزواری،سایت آریائی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤٧ـ فرهنگ، میر محمدصدیق، افغانستان در پنج قرن اخیر، دوجلد ، طبع ایران
٤٨ـپیرس، عروج بارکزائی، ترجمه پژواک وصدقی،طبع انجمن تاریخ، ۱۳۳۱ش،
٤٩ـ تاریخ سلطانی،سلطان محمد بارکزائی،طبع۱۲۸۹هجری= ۱۸۸۱ بمبئ
٥۰ـ کهزاد،در زوایای تاریخ افغانستان، طبع انجمن تاریخ افغانستان،۱۳۳۱ش
٥۱ـ الفنستون،دکابل سلطنت بیان،ج۲،ترجمه پشتو از داکتر حسن کاکر،طبع ۱۳٦۱ اکادمی علوم افغانستان
٥۲ـ ۸۱ـ فیض محمد کاتب،نژاد نامۀ افغان،طبع ۱۳۷۲، ایران، بکوشش عزیز الله رحیمی، تحشیۀ حاج کاظم یزدانی
٥۳ـ حبیبی،تاریخ مختصر افغانستان،طبع انجمن تاریخ افغانستان، ۱۳٤۹،
٥٤ـ موهن لال، زندگی امیردوست محمدخان،ج۱،ترجمه داکترسیدخلیل الله ، طبع سالهای ۲۰۰۳ و۲۰۰٦امریکا
٥٥ـ تاریخ احمدشاهی، از محمودالحسینی، طبع پشاور، به اهتمام پوهاند همایون
٥٦ـ کهزاد، رجال و رویدادهای تاریخی افغانستان،کابل ۱۳۳٥ش،
٥۷ـ محمدحیات خان، حیات افغانی، ترجمه فرهادظریفی وعبداللطیف طالبی،طبع وزارت امور سرحدات، ۱۳۷۰
٥۸ـعزیزالدین پوپلزائی، دره الزمان فی التاریخ شاه زمان، طبع ۱۳۳۷ش کابل
٥۹ـعزیزالدین وکیلی پوپلزائی، تیمورشاه درانی، چاپ ۱۳٤٦ش،ج۲،
٦۰ـ الفنستون ، افغانان،ترجمه آصف فکرت،چاپ مشهد ایران،
٦۱ـ علیقلی میرزا، تاریخ وقایع وسوانح افغانستان، ص٦۱، چاپ۱۳۷٦تهران
٦۲ـ شاه شجاع درانی،واقعات شاه شجاع، ۱۳۳۳ش، انجمن تاریخ افغانستان
٦۳ـ کهزاد،بالاحصارکابل وپیش آمدهای تاریخی، ج۲،طبع انجمن تاریخ
٦٤ـموهن لال،زندگی امیردوست محمدخان،ترجمۀ محمدعالم،علمی
٦٥ـ میرزا عطامحمد شکارپوری،نوای معارک،چاپ ۱۳۳۱ش،انجمن تاریخ ،کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٦- عبدالباری جهانی، هرات، پشتانه او ستره لوبه ،چاپ پشاور
٦٧- حمید کشمیری،اکبرنامه، ۱۳۳۰، انجمن تاریخ
٦٨- ویب سایت: http://www.royalark.net/Afghanstan/herat-barakzai۲
٦٩- سیستانی، دونابغۀ نظامی – سیاسی افغانستان در نیمه اول قرن نزدهم، طبع مشهدایران، ۱۹۹۹
۷۰- اولاف کارو، پشتانه(پتانز)، ترجمه پشتوازجنرال شیرمحمدکریمی،طبع ۱۳۷۸، پشاور
۷۱- اولیورروی، اسلام ونوگرائی سیاسی درافغانستان، ترجمه سرومقدم،چاپ مشهد، ص۹۱-۹۰
۷۲-سید قاسم رشتیا،افغانستان در قرن ۱۹، ص ۲۵
۷۳- فیض محمدکاتب،سراج التواریخ،چاپ ۱۳۳۱-۱۳۳۳هق،
۷٤-معصوم هوتک، کندهاری ورونه، طبع پشاور، ۲۰۱۰
۷۵- بازی بزرگ، پیترهاپکرک، ترجمه محمداسحاق توخی، چاپ مارچ ۲۰۰۰ پشاور
۷٦- شوهاز،مجلۀتحقیقی وفرهنگی بلوچ،شماره اول،سال ۱۹۸۹
۷۷- حبیبی، جبنش مشروطیت در افغانستان،کابل۱۳٦۳
۷۸- ریاتالی ستیوارت، آتش در افغانستان،ترجمه نورمحمد کوهسار کابلی، چاپ پشاور
۷۹- داکتر روان فرهادی،مقالات محمود طرزی در سراج الاخبا، طبع کابل ۱۳۵۵
۸۰- اعظم سیستانی، علامه محمودطرزی، شاه امان الله وروحانیت متنفذ،چاپ ۲۰۰۴، پشاور
۸۱-عبدالحمید محتاط، تاریخ تحلیلی افغانستان،چاپ ۲۰۰۵
۸۲-معصوم هوتک،دناوی دانشور،دکندهارمنور،دزنگاوات مخور،کندهار دعلامه رشاد دخپرندویه تولنه، ۱۳۹۱/۲۰۱۲ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفحه چارم پشتی

## کاندید اکادمیسین محمداعظم سیستانی: ۱۹۳۸



سیستانی در سن ۷۰ سالگی

دافغانستان دعلومو اکادمی پخوانی غړی،دتاریخ او ټولن پوهنی او دزمکی دمناسباتو په چاروکی ډیر آثار لری. دهغه ځینی تالیفات دادی :

* - مالکیت ارضی و جنبشهای دهقانی درخراسان قرون وسطی، چاپ اکادمی علوم افغانستان، کابل۱۳٦۲=۱۹۸۳م.

*- سیستان ، سرزمین ماسه هاو حماسه ها (٤ جلد) طبع اکادمی علوم افغانستان ،کابل۱۹۸۵م -۱۹۸۸

*- مسالهٔ اصلاحات ارضی در افغانستان دههٔ ۷۰ قرن ۲۰،چاپ۱۳۹۰ش کابل

*- مردم شناسی سیستان ، طبع اکادمی علوم افغانستان، ۱۳٦۸=۱۹۸۹م

*- مقدمه یی بر کودتای ثور وپیامدهای آن در افغانستان ،چاپ ۱۹۹٦، سوئد

* - دو نابغه سیاسی - نظامی افغانستان در نیمه قرن ۱۹م ، چاپ۱۹۹۹، سوئد

*- رستاخیزقندهاروفروپاشی دولت صفویه در ایران ، چاپ ۲۰۰۵ پیشاور

*- علامه محمودطرزی ، شاه امان الله ونقش روحانیت متنفذ ، ۲۰۰۴پشاور

*- سیمای زن افغان درتاریخ افغانستان ، چاپ ۲۰۰٤، سوئد

*- آیا افغانستان یک نام جعلی است؟(مجموعه مقالات) چاپ،پشاور ۲۰۰۷

*- ظهور افغانستان معاصر واحمدشاه ابدالی،چاپ پشاور، ۲۰۰۷

*- سرگذشت سیستان و رود هیرمند(از۱۷٤۷ تا۱۹۷۳)چاپ ۱۳٦۹ش کابل

*-نقش تاریخی وزیرفتح خان وخاندانش در دولت دسدوزائی ، ۲۰۱۳،کابل

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**